# انسانی انا اوپوهه

له
حمزه
شنواری



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

11971

د

# دروند پښتون

خان محمد حسن خان

په نوم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ورمبۍ خبرې

دبنیادم د فطرت مطالعه او تجزیه د هر دور د عالمانو او فلسفیانو غوره مشغله پاتې شوې ده - په نفسیاتو زرګونه کتابونه لیکلی شوي دي - خو د بنیادم د نفس غوټې دومره تاو راتاو او پېچیده دي - چه یو سر ئې سپړې نو بل ئې غوټه کیږي - د غه وجه ده - چه د علم نفسیات "PSYCHOLOGY" دومره زیات مکاتیب فکر په وجود کښې راغلل د دې علم څانګې اګرچه ډیرې لوئې او نورې شوې - خو د تګ اصل ته ئې لاتر اوسه څوک سم او نه رسیده ئې، څوک لوږه اصل ګڼړي - څوک ئې جنس او څوک قوت او اقتدار

د شر منبع هم دا نفس دې او د خیر کور هم، ولې نوعیت ئې لاتر اوسه چا سم نه دې پېژندلے - او بیا په دا سې وخت کښې چه دنیا په شدید روحانی بحران کښې مبتلا ده - د مادیت تېرې په ذهنونو راخورې دي - د عقیدو بنیادونه سائنس لړزوي - نوې نسل ته چه د حیاتیاتو ( BIOLOGY ) کوم تعلیم ورکولې شي - د هغې بنیاد هم د انسان د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تقدس یا شال کوئنگ د ډاروِن پنظریه ارتقاء دے . نو په دا سې
حالاتو کښې به دغه نفس ادراک څوک حاصل کړی . کوم چه د مادے
او سائنس نه پورته یو حقیقی وجود لری -

د حضرت علی کرم الله وجهه قول دے چه "مَنْ عَرَفَ نَفْسَهٗ
فَقَدْ عَرَفَ رَبَّهٗ" - یعنی چا چه خپل نفس او پیژندهٔ، گویا هغهٔ خپل
رب او پیژندهٔ - نو د رب پیژندنه د هر چا د وس کار نهٔ دے - نمونږ
د اسلامی تصوف تاریخ مونږ ته ښائی چه د حقیقت په تلاش کښې مسلمانانو
صوفیانو کوم کوم ریاضتونه کړی دی - او د نفس کوم مظاهر د سره
چه د مجاهدے په وخت مخ شوی دی - که چرے د خپلو کاملو مرشدانو
پرِ نظر نهٔ وے - نو هغوئ به هم لکه د یورپ د بے دینه فلسفیانو په رنګ
تیر وتی وے - او نن چه څهٔ لږه ډیره روحانی رڼا زمونږ په ذهنونو
کښې ده - دا به هم د مادیت د تیرو ښکار شوی وه - خو دا د خدائے تعالیٰ
فضل دے چه د حمزه صیب په شان یو نیم مثال پهٔ هر وخت کښې ژوندے
ساتی - چه مونږ پرِ د خپل روحانیت مزل کولے شو -

چونکه د رب پیژندنے دپاره د خپل نفس پیژندهٔ ضروری
دی - نو دغه صوفیانو نفس د ضبط په کلکو زنځیرونو تړلے، وهلے
او ټکولے دے - ولے دے سرکش نفس په هر رنګ کښې د رام کیدو نه
انکار کړے دے - تاریخ ګواه دے چه زمونږ کوم صوفیانو دا نفس د
قابو لاندې راوستے دے - د حقیقت بام ته پرِ رسیدلی دی - صوفی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هر وخت دخپل نفس سره په جنګ وی - دنفس واګې دروح په
مضبوطو لاسونو کښې وی - نو که دا سرکش نفس په هر لور اوړی راوړی
نو دده دلاسو نه نۀ شی خلاصیدے - نفس چه څومره بازۍ اړوی -
په څرنګه مظاهرو کښې ځان څرګندوی - و لے دوئ ته دوکه نۀ شی
ورکولے - هم دغه وجه ده چه یو صوفی دبنیادم په نفسیاتو څومره
پوهیږی - دومره ئې بل څوک نۀ پیژنی - عام بنده نو هر قدم د
نفس په نغوته بدی - په دے لړ کښې ئې خپله اراده لګه چه په نشت
حساب وی - اودا ځکه چه دبنیادم لاشعور دهر قسمه خواهشاتو
حیوانی جبلتونو نه ډکه یوه تورۀ تاخانه ده - نو بنیادم چه څۀ کوی.
دا ظالم، هوښیار او مکار لاشعور ئې پرې کوی - هم دا لاشعور د بنیادم د
فطرت دعمارت بنیاد ګڼلے شی - په دے تیرۀ لاشعور کښې چه نفسانی خواهشی
کوم اوربلیږی - هغه یا خو نیغ په نیغه بهرته راووځی - او اراده ئې ډیرے
کړی - یا د شعور د محتسب له ویرے څۀ رنګ بدل کړی - چه شعور پرې هم
خبر نۀ شی - او دے خپل کالوم ترسره کړی - زمونږ په لاشعور کښې چه کوم
خواهشونه ګرځی - هغه د محتسب له ډاره چونکه اکثر شکلونه بدلوی - نو
ځکه زمونږ اعمال په مختلفو علاماتو کښې سرزدکیږی - دا علامتونه
د ژوند د ډیرو مختلف تمثیلونه دی - خو و لے مونږ ته حقیقت
ښکاری - نو ځکه چه صوفیان سړے لمتوی - د دے علامتونو په شا
هغه معنوته ګوری - ګوره چه په لاشعور کښې په خپل اصلی رنګ کښې موجود وی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مونږ خو د نفس ګوږاکی یو - چه څنګه د دے غواړی هم هغسے مؤګړۍ وی - نو که چرے مونږ د نفس د دے جغ نه ځان آزاد کړو - هله به د حقیقت په لاره قدم کیږدو - او چه د حقیقت په لاره روان شو - نو پوهه به شو چه بنیادم social animal نه دے - چه یواځې د حیوانی جبلت په تقاضو ژوند تیروی - بلکه په دے مادی بنیادم کښے یو عنصر داسے هم شته - چه تړون ئے یوه داسے ذات سره دے - کوم چه نه فناکیدونکے او نه بدلیدونکے دے - د بنیادم ظاهری وجود که هرڅو د هغے مادے نه جوړ دے - کومه چه هره لمحه په تغیر کښے ده - او په هر قدم د فنا په لور روانه ده - خو په دے مادی وجود کښے یو داسے غیر مادی څیز هم دے - کوم چه د دے تغیر نه بالاتر دے - او د دغه عنصر عرفان چه چا ته حاصل شی هغه خپل ځان او پیژنی - او چه ځان او پیژنی نو خدائے تعالیٰ ئے د خپل ذات په معرفت سرفرازکړی -

دا نه بدلیدونکے او غیر مادی څیز څه شے دے؟ د دې وضاحت په دے کتاب کښے امیر المتغزلین امیر حمزه خان شنواری کړے دے - چه هغوی ورته د انسان "انا" وائی -

زمونږ په دے دور کښے حمزه صیب یو داسے باعمله صوفی دے چه وخت په وخت راته د معرفت په لار د تلو تلقین کوی - د لته زما په شان بنده که نو دا نه شی ویلے چه ګنی حمزه صیب ته به د خپل ذات او خدائے پوره عرفان حاصل وی - ځکه چه د دے تعلق د یو وجدانی ادراک

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سره دے ۔ او په هغه ادراک به هغوئ پخپله خبر وی ۔ نو په دے پوهیږم چه د ژوند او کائنات په حقله د حمزه صیب خپله مخصوصه نظریه شته ۔ او دغه نظریه هله قائمیدے شی ۔ چه بنده د یو پوخ یقین په کور مقیم شی ۔

حمزه صیب پخپله د اسلامی شریعت کلک پابند دے ۔ او خپل علم ئے د اسلامی احکامو او کامل پیر د تعلیماتو په رڼا کښے حاصل کړے دے ۔ ورسره د اسلامی تصوف د سختو ریاضتونو او مجاهدو نه هم تیر شوے دے ۔ نو دا وجه ده چه د خپل ذات د عرفان په باب کښے د خپل ادراک نه مطمئن دے ۔ او نه یواځے پخپله مطمئن دے ۔ بلکه په کوم دلیل او ثبوت چه خپله شاهده بیانوی نو بل هم مطمئن کوی ۔

په دے کتاب کښے حمزه صیب د خپل استدلال په پوره زور دا ثابته کړے ده ۔ چه د ژوند او علم ټول دارومدار په انسانی "انا" دے او دغه انسانی انا چونکه د انائے اکبر جزو دے ۔ نو ځکه د دے د رڼا پلوشے چه د کائنات په کوم څیز غورزیږی ۔ د هغے حقیقی عکس پرِوینی.
حمزه صیب وائی چه

"دغه انسانی انا د بنیادم په مادی وجود کښے یو غیرمادی عنصر دے ۔ په کوم کښے چه د علم حاصلولو استعداد بالقوه موجود دے۔"

هغوئ وائی چه ماده څو هره لحظه په تغیر کښے ده ۔ د ارتقاء ذا یون څه په دا رنګه دے ۔ چه د کوم څیز شکل اوس څنګه دے ۔ د تغیر نه پس بیا هغه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه وی لکه یو نوے شکل اختیار کړی. نو د بنیادم حافظه چه د علم خزانه ده. که د مادی وجود حصّه ده. نو دا به هم وخت په وخت تغیر موی. بیا دا څنګه کیدے شی چه اوس په حافظه کوم عکس پریوزی. د بدلون نه پس به بیا هم د هغه عکس هم هغسے پاتے شی. پکار خو دا دی چه د تغیر نه پس دا عکس هم متغیر شی. او د څه څیز یاد به هغه رنګ کښے یاد پاتے نهٔ شی. چه څنګه وو. نو د یاد ساتلو دا طاقت خو د مادی حافظے صفت نهٔ شی کیدے.

هغه څیز کوم چه دا یاد ونه او علمونه محفوظ ساتی. هغې ته حمزه صیب "انا" وائی. او د دغه انا تشریح ئے په دے کتاب کښے په وضاحت سره کړے دے. ورسره ئے دا هم ثابته کړی ده. چه چونکه دا انا یو غیر مادی عنصر دے او کیدے هم یو غیر مادی عنصر شی) چه د مادے په څیر د تغیر له جبره آزاد دے. دا انا د زمان او مکان د پابندیو نه پورته دیوهٔ داسے آئین پابند ده کوم چه د دے کائنات د قوانینو او تنظیم لا دے متعین کوی.

په آدم کښے د حیوان خویونه هم شته
بیائے هله آدم بویه چه آدم شی
(رحمٰن بابا)

راج ولی شاه خټک

ډاک اسمٰعیل خیل
۷-۲-۸۲

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بسم الله الرحمن الرحيم

# ورومبئ باب

## "انا" او د پوهے اړے

انساني "انا" څه شی دی؟ او ماهیت یې څه دی؟ په دې کښې د مادینو او روحانینو همیشه اختلاف راغلی دی - او تر اوسه موجود دی - نو په دې روانه صدۍ کښې ځینې داسې مادیون هم پیدا شول چې هغوی په دې حقله د روحانینو نظریې ته ترجیح ورکړه - لکه فرانسوی دانشور سارتر چې بېله د خدائې د وجود نه منکر دی خو سره د دې هم وائي چې په انساني وجود کښې یو داسې عنصر هم موجود دی چې هغه د مادي کائنات جزو نه دی - او زمونږ هم دا خیال دی چې که چرې یو انسان په یو حقله روحاني یا غیر مادي نه وي نو مونږ به هیچرې دا موجوده علوم او فنون نه وې حاصل کړي - ځکه چې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا نو یو ځلانده حقیقت دی چه د انسان مادی وجود د مادی کائنات جزو دی.
او څرنګه چه د مادی کائنات هر جزو هره لمحه په تحول او تغیر کښې دی -
انسانی جسم هم ترې مامون نهٔ دی - او که چرې په انسانی وجود کښې یو داسې
عنصر موجود نهٔ وی چه د انسانی حواسو مدرکات ئې محفوظ نه شوی ساتلې
نو عالم بشریت به تر اوسه د هر علم او فن د حصول نه محروم وه - ان تر دې
چه د ریاضی غوندې یقینی اصول به هم وهمی او غیر یقینی وی - او مونږ به
هیڅ کله د دې قابل نهٔ وو چه دؤ او دؤ ته څلور اووایو - دا ځکه چه د یو
مفهوم د حاصلیدو نه پس به په جسم کښې تغیر او تحول واقع کیدئ او د دې
تغیر او تحول په وجه به هغه حاصل شوی مفهوم قائم نهٔ شو پاتې کیدئ
اګرکه د دې په حقله مادیون هرڅومره دلائل وړاندې کړی او علم ته د تجربې
پیداوار اووائی خو په دې خبره منلو مجبور دی چه په انسانی وجود کښې
د یو داسې عنصر وجود تسلیم کړی چه د اول پسې د تجرباتو نه حاصل شوی
علم محفوظ اوساتی - او د مادی جسم د تغیر سره ئې محو کیدو ته پرې نهٔ ږدی
او که هغه حاسه یا عنصر هم مادی وی - نو بیا د هغه د نه متغیر کیدو کوم
ضمانت دی - او چه متغیر کیږی هغه علم به هم ضرور محو کیږی کوم چه د
تجرباتو نه حاصلیږی - ځکه چه انسانی وجود چه د هغوی په خیال محض
مادی دی او ماده هره لحظه متغیره ده - نو هغه حاسه به هم ارومرو تغیر
موی ځکه چه هغه هم مادی ده - لیکن سره د دې چه هغه علم محفوظ ساتی
نو معلومه شوه چه هغه عنصر یا حاسه مادی نهٔ ده.

دا انسانی اناد یو مادی وجود په حیث چه د انسانی حواسو کوم پرتو د نقوش
کوئ نو چه د هغو عکسونو یا پرتوونو د حفاظت او ترتیب د پاره یو داسې عنصر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه دئ چه هغه ځیله په بنیادي ډول د تغیر او تحول نه پاک دئ - نو انسان به تر اوسه حیوان پاتې وه - بلکه د عام حیوان نه به هم پست وه - ځکه چه د مادي جسم تغیر خو یو روښانه حقیقت دئ - او په دې صحال کښې به د حواسو ادراکات یقیناً د مادي جسم د تغیر په وجه محو کیدئ .

د دې یو مثال دا دې چه زید په وړومبي ځل د بکر سره ملاقات اوکړو او بیا په دې ملاقات دوه درې کاله تېر شول - او بیا د دې نه پس زید د بکر ځائ ته ورغئ - نو بکر ورته دوئیل چه شاید مونږ یو ځل ځوامم دیو بل سره لیدلي وو - زید تری تپوس کوی چه تا ته څرنګه معلومه شوه چه مونږ یو ځل ځوا هم سره لیدلی دی - نو بکر جواب ورکوی چه زما په حافظه کښې ستا د کړو وړو عکس موجود دئ - بکر ته زید وائي چه ته خو دا عقیده لرې چه انسان کټ مټ مادي دئ - او دا هم منې چه ماده هره لحظه په تغیر او تحول کښې ده - او په دې دوه درې کاله کښې به یقیناً دیر تحول او تغیر پکښې راغلی دی - او ستا په عقیده خو انساني حافظه هم مادي ده - او یقیني ده چه په هغې کښې به هم تغیر راغلی دی - او زما د شکل او صورت عکس به هم ضرور متغیر شوئ بلکه محو شوی دی - نو یکار وو چه اوس زه ستا د پاره یعنې اجنبي وی او تن د بیا را سره د ابتدا نه پیژندګلو شروع شوې وئ .

نو اوس او وایه چه هغه کوم عنصر دئ چه تر اوسه ئې زما د کړو وړو عکس محفوظ ساتلئ دئ - که څه هم زما او ستا د واړو مادي اجسامو په دې دومره موده کښې پوره تحول او تغیر موندلئ دئ :

دا یو مثال وه - او د دې نه دا خبره جوته شوه چه زمونږ د علم او

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یو هم علت خارجي عکسونه دي . که څه هم زمونږ بالقوه او فطري یو هم ځان ته مستقل حیثیت لري - چه اکثر هم د دے خارجي عکسونو په ذریعه د قوت نه فعل ته راځي - ځکه چه انسان بالقوه د ځان سره یو هم راوړے ده چه هغه د معقولاتو په حیث ده - چه بیان به ئے وروستو راځي - لکه چه ارسطو وائي " د حواسو په ذریعه د جزیاتو یا فطري شیانو علم حاصلیږي - د تجرید او تعمیم نه تصورات حاصلیږي - نوکوم تعلق چه د فطري شیانو زمونږ د ادراک سره دے - هم دغسے تعلق د تصوراتو هم زمونږ د ذهني مفهوماتو سره دے - که مونږ دغه شیان حقیقي منو - کوم چه مونږ په خپلو حواسو محسوس کوو نو بیا هیڅ وجه نشته چه مونږ تصورات حقیقي او نه ګڼړو نو ځکه مونږ د تردید د ویرے نه بغیر ویلے شو چه تصورات حقیقي موجودات دي - او د موجود تصور چه پخپله د موجود نه زیات حقیقي وي - د نمر تصور د دے نمر نه زیات حقیقي دے کوم چه مونږ ته په آسمان کښے ښکاري ."

او دا ښکاره خبره ده چه عکسونه یوازے لطیف او روښانه عنصر محفوظ ساتلے شي - او بلیده چه دا لطیف عنصر نه یوازے دا چه د علم او شعور خاوند وي - بلکه د دے سره سره هغه په وجود دي او بنیادي توګه د تحول او تغیر نه پاک وي - او مونږ هم د دے عنصر ته انساني " انا " وایو چه صوفیاء ورته روح انساني او نفس ناطقه هم وائي -

اوس نو د انساني وجود دوه حیثیته شول - یو مادي او دویم روحاني انسان د یو مادي جسم د حامل په حیث د مادي کائنات یو جزو دے - او هغه د مادي فطرت د قوانینو د لاندے مجبور دے - او د نورو حیواناتو غوندے د مادي فطرت د قانون نه د باندے نه شي وتے - لیکن په دویم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حیثیت هغه د مادي کائنات د جبر نه بالاتر دئ - هغه د فطري قانون په لاس کښې ګوډاګئ نه دئ - بلکه په فطرت باندې د تسلط حاصلولو قدرت لري - هغه فطري تقاضو ته غوږ نه دئ ورا چولئ شي - او د نورو حیواناتو غوندې د جبلت غلام نهٔ دئ - حیوانات د تندې په وخت کښې په اضطراري ډول اوبو ته مخه کوي - د لوږې په حال کښې د خوراک په شیانو یرغل کوي - او هغوئ مجبور دي چه د خپل جبلت او مادي فطرت په تحریک روان شي - لیکن انسان د دې نه بیخي مختلف دئ - هغه چه تږئ شي هم مصلحتاً اوبه نهٔ چښي - چه وږئ شي هم خوراک نهٔ کوي - انسان د مادي فطرت تقاضې د عقل او پوهې په رڼا کښې پوره کوي - نهٔ ګورئ چه مسلمانان ټول ورځ روژه وي - نهٔ څه خوري نه څه چښي - په خپل جسم کښې تصرف کوي - د ځان د پاره د مستقبل پروګرام جوړوي - د مستقبل د امورو د سرته رسولو د پاره فیصله په "حال" کښې کوي - ځکه چه د هغه په وجود کښې یو داسې عنصر دئ چه هغه مادي نهٔ دئ - او چه مادي نه دئ نو د مادي فطرت جبر ته ماتې هم ورکوئ شي - که څه هم د ماتې ورکول د څه وخت او ضرورت د پاره وي - د جسم د ژوندي ساتلو د پاره د مادي فطرت غوښتنې پوره کول ئې لازمي وي نو د عقل او فکر په رڼا کښې - او که انسان کټ مټ یو مادي حیوان دئ - نو هغه هیڅرې دا قدرت نه درلود چه د فطري قانون د تحریک په خلاف ئې قدم پورته کړئ وئ - لکه د نورو حیواناتو به هغه هم ګویا یو مشین وئ او هیڅ اختیاري حرکت به ئې نهٔ شو کولئ - نو مونږ وینو ګورو چه نهٔ یوازې دا چه انسان فطري غوښتنو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ته غورځندئ ورانچولئ شی بلکه هغه په فطرت باندے ورځ په ورځ تسلط هم حاصلوی - او دا دئ نن هغه دے حد ته رسیدلئ دئ چه مخالفو عناصرو ته ئے ماتے ورکړے ده او د سپوږمۍ د پاسه ئے قدم ایښئ دئ - مریخ ته ئے لاکتونه رسیدلی دی - او خداے زده چه په مستقبل کښے به چرته چرته اورسیږی - او دا ځکه چه نن صبا د سائنس پوهان هم په دے خبره قایل دی چه مادی کائنات چه له کومو کومو عناصرو څخه عبارت دئ - هغه ټول عناصر چه شمیر ئے دسلو نه زیات بنئ ټول په یوه خاصه اندازه په انسانی وجود کښے شامل دی - او د انسانی وجود نه بغیر بل هیڅ داسے شے په کائنات کښے نشته چه دا ټول عناصر ئے د وجود په ترکیب کښے شامل وی -

کیدئ شی چه څوک اووائی چه د انسان دا شرافت او د ترقی په لوړ ځغل او کامیابی صرف د عقل په وجه ده - او هم په دے وجه هغه د نورو ژوو نه وړاندے او د هغو حاکم بلکه د کائنات حاکم دئ - او مونږ هم ورسره متفق یو - خو سوال دا دئ چه عقل پخپله څه شے دئ؟ نو که د عقل تعریف د مادیت په رنګ کښے وکړے شی - او که د روحانیت په رنګ کښے - خو دا حقیقت به په هر رنګ کښے ښکاره وی - چه عقل صرف د انسان د لار مشعل دئ - رهنما دے - فعال نهٔ دئ - فعال یوازے انسانی "انا" ده او عقل د هغے په لاس کښے دیوه - که انسانی انا د غلا او شوکے د پاره ځی - نو هم دا دیوه ورته لاره روښانه کوی - او که جماعت ته د عبادت د پاره ځی نو هم د دے کار صرف لاره روښانه کول دی - آمریت او فعلیت یوازے د انسانی انا کار دئ او بس -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

انسان شپږ پنځه حواس ظاهري دي - او پنځه باطني - او هم د دغو حواسو په ذريعه علم او پوهه حاصلوي خو دا ياد لرل پکار دي چه د دغو ټولو حواسو ادراک جزوي دئ - باصره يواځې د خارجي شيانو عکس حاصلوي - نور يې هيڅ علم نه لري - سامعه د آواز ادراک کوي - خو د آواز د ماهيت هيڅ علم نه لري - ذائقه خوند محسوسوي - د امتياز نه لري چه کيفيت يې څه دئ ؟ شامه د بوئ ادراک کوي - او لامسه د مساس طاقت لري - چه نرم گرم پوست يخ او سخت څيز معلوموي - چه مثال يې دا دئ چه باصره د اونې ديو بناخ د پاسه يو گل ويني - د شامې قوة يې د بو نهي ادراک اوکړي - او لامسې يې سختي او نرمي محسوسه کړي - نو د حواسو دا ټول مختلف مدرکات په يوه باطني حاسه کښې راجمع شي چه هغې ته د حکماء په اصطلاح کښې حس مشترک وائي - او عقل د دې قايل دئ چه د دغو مختلفو حواسو د مختلفو ادراکاتو د پاره يوه داسې حاسه يقيناً پکار ده - چه دا ټول پکښې جمع شي - او هم دغه حاسه په پنځو باطني حواسو کښې د رومبي حاسه ده - نو بيا د انسان دويمه باطني حاسه متفکره د حس مشترک نه دا مدرکات را واخلي او د هغو نه يوه کليه جوړول شروع کړي - او په دې دوران کښې د حافظې حاسه ورته مدد ورکوي - چه دا دريمه باطني حاسه ده - چه په هغې کښې د انسان ليدلي او ريدلي څيزونه محفوظ وي - او هم دغه شان د خيال قوت په دې دوران کښې کار کوي او متفکرې ته مدد ورکوي چه دا څلورمه حاسه ده - او کوم وخت چه متفکره په خپل عمل کښې چرته پياتې راشي نو د حافظې نه مرسته غواړي - حافظه ورته د هغه څيز عکس

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وړاندې کوي. او که د هغه څيز عکس د حافظې په حاسه کښې موجود نه وي. نو بيا متفکره د خيال د جاې په امداد په خپل اساس د هغو مدرکاتو ترتيب جوړوي. او بيا ئې د خيال قوت واخلي. د خيال قوت ئې ښکته حاسې ته ورکړي چه هغې ته واهمه وائي. خو دا ياد لرل پکار دي چه د واهمې حاسه هغه د عوامو مزعومه واهمه نه ده. بلکه واهمه د عقل کچوړه ده. د متفکرې او قوتِ خيال هغه مرتب شوي کليه چه واهمې ته راشي نو واهمه ورته يو معنوي وجود ورکړي. يو مفهوم تر جوړ کړي او د واهمې په دې جوړ کړي مفهوم کښې الفاظ او اشکال (صورتونه) ښکاري نه وي. صرف مفهوم يا معنیٰ وي. او واهمه ئې بيا عقل ته وړاندې کړي. چه دا عقل د انساني انا يو صفت دې. عقل پرې تنقيد وکړي. او د تنقيد نه پس انساني انا ته د هغې د افاديت يا غير افاديت شوي ورکړي قبلول يا ردکول ئې د انا وظيفه وي. خو چه انا ئې قبوله کړي نو خلق ورته عقلي نظريه وائي او چه رد ئې کړي نو وهمي نظريه بللې کيږي. خو دا ضروري نه ده چه د عقل قبوله کړې هغه نظريه دې ارومرو صحيح وي. ځکه چه د لسه هيڅ عقلي نظريه نشته چه هم د دې عقل له خوا ئې ترديد ممکن نه وي. د لته يو څيز بل هم دې چه د عقل نه بالاتر دې. او هغه دې انساني وجدان. چه خالص د انساني انا بنيادي صفت دې. او اکثر دا سې کيږي چه انساني وجدان د عقل د رائې نه مخالف وي او هغه دستر کو په رپ کښې د رد يا قبول فيصله کوي. چه هغه په حقيقت کښې د انساني انا فيصله وي.

د وجدان په حقله به د دمره عرض وکړو لکه مثلاً مونږ د شپې په تيارهٔ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې يو ځائے ناست يو - او ډول ډول ميوے راته پړتې وی - او موږ چه هره ميوه اوخوړو فورًا ئے دخپل خوند او ذائقے په وجه اوپيژنو خو که څوک رانه تپوس اوکړی چه د مڼې او انګورو په ذائقه کښې څۀ فرق دے - نو دا فرق موږ هيڅ رے په الفاظو کښې نۀ شو بيانولے - خو صرف دومره جواب به ورکړو چه دواړه راواخله او دا په واره ئے اوڅکه - د ذائقے فرق به ئے درته معلوم شی - او که اوائے چه وجدان هم د ږله پيے تجربے نه دغو مختلفو ذائقو کيفيت معلوم کړی دی - نو خبره صحيح ده - خو د وجدان د دے تجربے تعلق د مختلفو ذائقو د نامزدګولو سره دی . نۀ د محض ذائقے سره که د مختلفو ميوو مختلف نومونه نۀ هم وی - وجدان د دا ذائقے محسوس کولے او په ټولو پوره فرق او امتيازے پکښې کولے شو - د انسانی انا د وجدان په حقله يو بل مثال وړاندے کوو - او هغه دا چه تاسو به ضرور هغه مشين (کمپيوټر) ليدلے وی چه د مختلفو اعدادو حاصل جمع ښکاره کوی - يو انسان ورته کښېنی او ډير مختلف اعداد پرے ټائپ کړی - او بيا چه يو خاص پرزه کښے منډی نو د هغو ټولو مختلفو اعدادو حاصل جمع راوزی ګويا هغه يوه پرزه داسے وی چه د ټولو اوهر ډول اعدادو د جميعت ځان ته امتزاج لری او په دجدان کښې د هر څيز حقيقت بالقوه موجود وی که داسے نۀ وی نو بالفعل کيد ونه چس به ئے د ذائقے او آوازونو وغيره انفراديت محفوظ نۀ شو ساتلے - بلکه د تغير په وجه به محو شوی وه -

علامه اقبال په خپله وړومبی خطبه کښې د برګسان په حواله ليکی چه " نو زما په خيال دا خبره صحيح نۀ ښکاری وجدان د انسانی انا ادراک دی او فکر د ظاهری حواسو د جزوی ادراکاتو راغونډوونکی - او

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ترتیب ورکونکی قوت دئ - او چه هر کله فکر یوه کلیه مرتبه کړی نو د قبلولو یا ردکولو کار ئے وجدان کوی -"

او دا زمونږ د هغه بیان نه مخالف نهٔ دئ په کوم کښے چه مونږ وئیلی دی چه د فکر د قوته نه پس ئے واهمه ته ورکوی او واهمه ئے عقل ته ورکوی - او عقل چه څه فیصله وکړي د هغے قبلول یا ردکول د انسانی انا کار وی - او ښکاره ده چه وجدان د انسانی "انا" هغه آخری صفت دئ چه د ظاهری باطنی ټولو حواسو نه اوچت او آخري او حتمی فیصله کوونکئ دئ

د علم او پوهے په سلسله کښے باید چه په انسانی حافظه هم رڼا واچولے شی - ځکه چه د احساسه د علم او پوهے په ادراک کښے ډیر اهمیت لری - او که چرے انسانی حافظه هم د انسانی جسم پشان مادی وئ - نو انسان به هېڅ وخت علم نهٔ دے حاصل کړی - ځکه چه د مادی څیز دا تعریف دئ چه هغه به اول مرو جسم وی - او د جسم دا خاصه ده چه هغه طول و عرض او عمق لری - او بیا ضروری ده چه یو جسم چه په یو مکان کښے موجود وی په بل مقام کښے به موجود نهٔ وی ( لطایف دد ے نه مستثنٰی دی ) بیا دا هم ضروری خبره ده چه که مونږ د یو جسم د پاسه یو نقش جوړ کړو او بیا بیرِ د پاسه برله بیے نور نقشونه جوړ وو نو نتیجه به ئے دا وی چه هغه ټول نقشونه به دا سے سره خت مت او ګډ وړ شی چه یو نقش به هم په خپل حقیقی صورت پاتے نهٔ شی - او مونږ به هیچرے د څه علم یا پوهے د حاملولو قابل نهٔ شو - ځکه چه د حافظے نه به مونږ یو نقش هم په خپل حقیقی صورت نهٔ شو حاصل کولی - خو تاسو فکر او کړئ چه په حافظه کښے په زرګونو نقشونه موجود وی - نو د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یو بل سره ګډ وړ کېږی نه - ځکه چه لطائف په خپلو کښې تصادم نهٔ کوی تاسو وګورئ چه کوم دخت دریږ یو نه یوه مشاعره نشر کېږی - او یو شاعر ته نورو شاعران داد ورکوی - نو د هغو ټولو آوازونه فضا سته لاړ شی او ټول په فضا کښې په یو بل کښې مدغم شی ځکه چه لطائف دی - او لطائف د یو بل سره تصادم نهٔ کوی - لیکن دا مشاعره چه خلق آوری نو د هر شاعر غږ جدا جدا اوری - د هر شاعر د آواز انفرادیت په خپل ځائے موجود وی -

کټ مټ هم دغه حال د حافظے دے - په هغے کښې بے شماره عکسونه موجود وی نو ځیرے په خپلو کښې تصادم نهٔ کوی - او نهٔ د کوم عکس انفرادیت محو کېږی - او که چرے څوک ماډیین بیا هم انسانی حافظه یو مادی څیز ګڼی - نو د دے تصفیه هم اسانه ده - او هغه دا ده چه که حافظه مونږ یوه مادی تخته فرض کړو او وائی په وائی نمبر په نمبر د شیانو عکسونه ثبت کړو - نو د هغو آوازونو دپاره به په دغے تخته کښې کوم مقام وی - چه د نورو مادی شیانو پشان عکسونه نهٔ لری - که څه هم آوازونه هم صورت لری - او سائنسدانان د دے قایل دی - د آوازونو د ثبت کولو دپاره به څهٔ طریقه وی - لیکن حافظه د مختلفو شیانو آوازونه هم محفوظ ساتی - او د دے نه هم تعجب دیخنه ګرمیه یادیخنے او حرارت کیفیت یاد ساتل دی چه د آواز د هیولا نه هم د هغو ساتل مشکل دی - نو چه انسان یو آواز داوری او ئے پیژنی - چه د فلانکی آواز دے - نو ګویا حافظه د آوازونو هیولا ګانے هم محفوظے ساتی چه د نورو عامو عکسونو نه بیخی بل شان وی - چه مونږ ئے څه صورت نهٔ شو محسوس کولے لیکن حافظه ئے پیژنی -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا به هم پرېږدو او فرض به کړو چې راقم د یو سړي نذیر سره په ۱۹۶۶ء کښې لیدلی وو - او د دې ملاقات نه پنځوس کاله اول چې د راقم حافظ ته څو مره عکسونه منتقل شوي وو - هغه به هم په نظر کښې اوساتو. نو چې په ۱۹۶۹ء کښې د نذیر د صورت عکس په حافظه کښې رابرسیره کول اوغواړم او د تذکر قوت به کار واچوم نو باید چې د پنځوس کاله پخوانو عکسونو نه په ښکته کار شروع کړم او وار په وار د نویو عکسونو نه راتیر شم او د نذیر عکس ته را ورسېږم - او دا هم باید فکر اوکړو چې د پاس نه چې ښکته د راتلو عمل کوي دا څوک دې - اے - دا لټون چې کوي - د انسانی انا نه بغیر بل څوک کېدې شي؟ نو موږ ګورو چې هیڅ انسان د یو نقش د رایادولو په سلسله کښې داسې نه کوي - هر کله چې خوښه وي د حافظې د زېرو او نورو نقشونو نه د خپلې خوښې نقش رابرسیره کړي - او ځان پرې پوهه کړي - او بیا په دې سلسله کښې یو بل عجیبه حقیقت دا دې چې کله کله زموږ نه د یو دوست نوم هېر شي - ډېر فکر کوو خو نه رایادېږي - او بیا یو داسې وخت راشي چې پخپله راته یاد شي.

امام فخرالدین رازی د دې کیفیت ته حیران وو - هغه به وئیل چې که زما د فلانکی دوست نقش زما په حافظه کښې موجود وه - نو ما ئې لټون ولې کولو - خو را اخستی به ئې وه - او که په حافظه کښې موجود نه وه نو زما لټون یعنې بې حاصله وه - خو اوس چې را ته یاد شو نو حیران یم چې له کومې راغې -

د غه شان د نفسیاتو د یو بل عالم سپنسر هیلن د یو کتاب ترجمه زما له نظره تېره شوې ده - هغې د تذکر د دې قوت څه نه څه تجزیه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړے وه - نو به د ے نهٔ وه قادره شوے چه صحیح اسبابٔ بیان کړی - چه زما د دوست نوم چه زما نه هېر وه - اوس و لے راته رایاد شو -

دا بحث ځان ته وخت غواړی نو بیان به ئې پسته راشی ځکه چه دد ے بحث تعلق د انسانی شعور، تحت الشعور او لاشعور سره د سطحو سره دیٔ او په د ے کښے اکثرو پوهانو تیند کونه خوړلی دی - ان تر د ے چه فرائیډ په باقاعده طور دد ے علم ابتدا اوکړه - او دائے علمی ذکر ته راوړیت نو د هغه د اتحقیق هم ابتدائی ده - او د هغه نه پس د هغه شاګردانو هم د هغه د اکثرو نظریاتو سره اختلاف کړیٔ د ے - او د نفسیاتو تحقیق ئے تر ډېره حده مخ په وړاند ے بوتلیٔ دی - او بیا د فرائیډ د شاګردانو نه پس هم د نفسیاتو اکثرو پوهانو په د ے سلسله کښے لاور پسے اضافه کړے ده - او دا اضافه لا روانه ده - او زمونږ په خیال تر اوسه چه په د ے ډګر کښے څومره فکری شغل شویٔ دیٔ - هغه ډېر کم دیٔ - او بیخی ابتدائی دیٔ - خدا یزده چه د انسانی نفسیاتو په د ے بوهه کښے به لا څومره اضافه کېږی - ځکه چه څرنګه چه انسانی شخصیت او د هغه حقیقت یو افاقی حیثیت لری - دغه شان د هغهٔ صحیح پېژندنه هم ډېره لر ے ده - ځکه چه څرنګه چه وویئیل شول انسان د کائنات د ټولو بنیادی عناصرو ځان ته وجود دیٔ - او قدرت ځکه د ټولو عناصرو د امتزاج نه پیدا کړیٔ دیٔ - چه هغه ته د کائنات د نظم او نسق کار حواله شوی دیٔ او تر څو چه د هغهٔ د وجود په اساس کښے د ټولو کائناتی عناصرو امتزاج نهٔ وی هغه به د ے نهٔ شو قادر ېدیٔ چه د کائنات په نظم کښے لاس اولګی شی - ځکه چه هغه به د کائناتی عناصرو د عرفان نه پا ے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ده - او په دې وجه به هغه د کائنات د علم او تسخیر نه پاتې وه - او د قدرت منشاء به ئې نه شوه پوره کولې - کوم چه د کائنات د نظم وضبط په سلسله کښې د هغه د ذمه دارۍ سره متعلق وه - آن تر دې چه د خپل وجود د پوهې نه به هم قاصر وه - نو د کائناتي عناصرو د پوهې نه څه سوال نه شي پيدا کيدې - که څه هم انسان تر اوسه هم د خپل وجود په کامله پوهه کښې پاتې راغلې دې - ځکه چه د هغه توله توجه خارج ته ده.

تر څو چه زما خيال دې په دې سلسله کښې د فلاسفو په مقابله کښې د صوفياء علوم ډير وړاندې دي - ځکه چه صوفياء د هر څه نه اول د خپل نفس پيژندنه ضروري گڼي - هغوئ د خارجي شيانو د معرفت بنياد په داخلي نفسياتي رښتيا ږدي - او د دې رښتيا د حصول د پاره تولـه مجاهده د انساني انا د ازادولو او خپلواکه کولو د پاره کوي - ځکه چه د حقيقي علومو سرچينه هم دغه انا گڼي - او تر څو چه هغه د مادي بندونو آزاده نه وي - خپل صلاحيتونه د قوت نه فعل ته په پوره توګه نه شي برسيره کولې - او صوفيا په ظاهري حواسو هم ډير اعتماد نه کوي ځکه چه د احواس اکثر تيروزي - مثلاً د لاسې حاسه واخلئ - که موږ يو لاس په جيب کښې کيږدو او دويم بهر او ساتو - نو لږ ساعت پس به زموږ يو لاس گرم او دويم يخ وي - او س چه موږ دواړه لاسونه د اوبو په يو ډک جام کښې ننه باسو - نو د لاسې هم دې يو قوت ته به په يو لاس کښې اوبه گرمې او بل ته به يخې محسوس شي - گويا حواس هم د خارجي مالغاتو په وجه غلطي کوي - هم دغه حال د ذائقې دې - چه د تبې په حال کښې ورته خوږ شيان تراخه معلوميږي - نو ځکه صوفياء

د علم او پوهې بنیاد زیاتره په باطني حواسو او داخلي رڼا باندې دی.

اوس به راشو ځینو نورو پوهانو ته چه هغوئ دانساني رڼا او پوهې په حقله څه وائي.

اسپینوزا دالله تعالیٰ د پیژندنې په حقله لیکي.

" هر تعریف یو قسم تحدید وي. ځکه نو ټول لوئ لوئ انبیاء[۴] او اولیاء" په دې قایل او پوه ځُله دي چه مطلق ذات د فهم نه اوچت دئ. او هیڅوک یې کنه نه شي بیانولې. علم، څرنګه چه موږ ته معلومه ده. یو داخلي خارجي نیست دئ. نو موږ د هغه عرفان څرنګه حاصلولئ شو چه نه داخلي دئ او نه خارج. او نه د دې دواړو باهمي نیست".

داکتاب عشکینې وائي.

" که چرې انسان محض یو مادي وجود وي. نو د هغه د ژوند اصول به یوازې د قوت او صحت قایم ساتل وو (لکه چه نور حیوانات دي) او د کوې لارې چه انسان د دې مقصد ته رسولئ. هغه به یوازې جسماني قابلیت لاروئ. نو په دې سره به هغه د نورو حیواناتو نه ممتاز نه وه. دانسان امتیازي وصف دادئ چه هغه یو باشعوره او د عقل خاوند نفس لري. نو ځکه باید د هغه د ژوند مقصد د عقلیت او شخصیت اصلاح کول او ترقي وي".

(اسلام کا نظریہ حیات)

زه وایم چه ارسطو هم د دې تائید کوي او وائي.

" سرت هغه دئ چه عقلي وي او هم دغه دانسان حقیقي منصب دئ".

مادیین وائي چه د جسم اجزا بدلیږي او دیرش کاله پس د زید ځواني جسم بیخي له منځه ځي. خو ښکاره ده چه زید او د زید انا نه بدلیږي. خو

ځینې مادیین داهم وائي چه د جسم ساخت او ترکیب نه چه کوم اجتماعي حالت پیدا کیږي خلق هغه ته روح وائي - خو دوی ته جواب دادی چه -

"کوم څیز چه مختلف صورتونه او کیفیتونه قبلوي - هغه پخپله د هغو صورتونو او کیفیتونو فرد نهٔ وي - مثلاً جسم چه مختلف رنګونه قبلوي - او تور سپین او تور کیدی شي - ضروري ده چه د ذات په مرتبه پخپله بیخي ساده وي - او خپل هیڅ رنګ او نهٔ لري - ګنې نور مختلف رنګونه به څنګه قبول کړي؟ او چه دا حقیقت دے چه روح د ټولو شیانو تصور کولې شي او د هر صورت د ادراک قوت لري - نو ځکه ضروري ده چه هغه عرض نهٔ وي - ګنې د عرض په اقسامو کم و کیف وغیره کښې به په یو کښې داخل وي - او عرض داسې څیز دے چه د جسم د پیدا و بنت نه پس ظاهریږي - او د هغه مرتبه کمه ده نو دا نه شي کیدې چه کوم څیز چه په ټولو اعضاؤ، اجزاؤ، قواء او باطني ظاهري حواسو حکومت کوي پخپله غیر مستقل او عرض وي -"

د هر جسم داخاصه ده چه ترڅو تر یو صورت زایل نهٔ شي بل صورت نهٔ اخلي - نو انسان چه د یو څیز ادراک کوي او د هغه څیز صورت ئې په نفس کښې قائم شي نو هغه وخت د بل څیز ادراک هم کولې شي - او څومره چه څیزونه زیاتیږي - ادراک ئې هم زیاتیږي - دا ټول صورتونه په یو څیز کښې قائم شي - او څرنګه چه مونږ په تیریدو کښې بنودلې دي معلومه شوه چه نفس یا "انا" مادي نهٔ دئ - او څرنګه چه مونږ ویلي دي - د حواسو ادراک مختلف وي - او بیا حواس پخپله د خپل ادراک نه خبر هم نهٔ وي حواس د بل طاقت د پاره کار کوي - بیا دد ے مختلفو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څو اسو مختلفو مدرکاتو ته ترتیب څوک ورکوي ؟ نو معلومه شوه چې دا مرتب کوونکی ملا ی نه دی - چه پخپله یو ادراک بل ادراک ته ترتیب نه شي ورکولی - نو ددے جواب هم موجود تحقیق ورکوي - او هغه دا چه " دا کار د دماغ دی " لیکن دا هم منی چه په دماغ کښے د هرے حلے دپاره جدا جدا مقام وي - او د دماغ هره حصه یا هر ځائے د یو خاص قوت منبع ده - خو په دماغ کښے د هغه خاص قوت هیڅ مقام نه شي ثابت کولی کوم چه په دے ټولو قوتونو حاکم دی - د کوم دپاره چه دا ټول قوتونه د آلے په ډول استعمالوي. په تجربه ثابته شوے ده چه کوم جسم وي او د جسم برخه وي د هغه حیثیت د آلے نه زیات نه وي ځکه نو هغه څیز چه د دے ټولو آلو او قواءنه کار اخلی ضروری ده چه د ټولو نه بالاتر وي - او جسمانی نه وي که چرے جسمانی شی نو بیا نو هغه هم یوه آله شي - او کار به ئے خاص او محدود وي، او دا خو حقیقت دی چه ادراک عرض دی - او هغه د یو دا سے ذات یا جوهر سره قائمید ے شي چه د جسماني صفاتو نه بیخي پاک وي .

مادیین وائي چه ژوند په یو خاص سمت کښے حرکت کوي - ددے دپاره چه فنا نه شي - او بیا ورسره دا هم وائي چه د ژوند هیڅ مقصد نشته نو چه مقصد ئے نه وي - نو د ژوند دا جدوجهد په قول د " پال " بیخي بے معنے شي - چه هغوي تصور ئے نه شي کیدلی - او مقصد بغیر د یو عاقل او مشعر نفس نه هغوي پیدا کیدای نه شي - نو ځکه پال دارتقاء د مسئلے په مخ کښے لیکی .

" ارتقا هغوي ممکنه کیدلی که شي نو په دے صورت چه هرنای او ژوندی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځینې د ژوند د قائم ساتلو دپاره ځکښې روان وي - او جد وجهد کوي. دد خصوصیت له کبله د غو شیانو ته Dynamic وائي خود Dynamic کیدو په وجه دا هم لازمه ده چه د هغو توانائي لګیا وي هغوئ یو خاص سمت ته بیائي - ځکه چه که د هغو د حرکت او عمل د پاره یو خاص سمت یا طرف متعین او ټاکلئ نهٔ وي - نو هیڅ ضروري نهٔ ده چه د هغو دد حرکت نتیجه دِ ارومرو ارتقا وي - د بې طرفئ یا عدمِ سمت په وجه کیدئ شي چه دا ټوله توانائي هسې په دورئ ګردش کښې ضائع شي ."

د شیانو د پیژندنو د پاره دیو ډلې دانشورانو دا خیال دئ چه -

" دا شیان په خارج کښې موجود دي - او هر شئ یو خاصیت لري ."

نو د دویمې ډلې خیال دادے چه .

" په خارج کښې نه کوم شئ موجود دئ او نهٔ پکښې څهٔ خواص موجود دي - دد ے شیانو وجود هم زمونږ انا پیدا کړئ دئ - او خواص هم ورته هم دے انا منسوب کړي یا ورکړي دي ."

نو تر کومه چه د علم د ذریعو سوال دئ نو یوه ډله وائي چه -

" زمونږ مشاهدات او تجربات د علم اِکې یوه ذریعه ده - "

نو دریمه ډله وائي چه -

" د علم ذریعه استدلال دئ - چه مفهوم ئې دادئ چه باید مونږ یو څو مسلمات د اصول په ډول تسلیم کړو - او بیا د د غو مسلماتو په رڼا کښې د حواسو په ذریعه د حاصل شوو مسلماتو نه نتیجې واخلو - تر څو چه دا مسلمات په طور د عقیدے تسلیم نهٔ کړئ شي - د سائنس علم هم وړاندے تلئ نهٔ شي -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په دې دویمه ډله کښې یوه ډله د اسلمات د منطق په روئ سره ثابتوي نو د دویمه ډله وائي چه د اسلمات د ریاضي د دنیا سره تعلق لري - چه انساني نفس بغیر د څه دلیل نه صحیح تسلیم کړې دي - او ښکاره ده چه ټول کائنات په دغو اصولو پوره روان دي - نو معلومه شوه چه د انساني نفس او کائنات سرچینه اِکې یوه ده -

پروفیسر جوډ لیکي .

" د مزکې په مخ انساني آثار تقریباً یوارب شل کروړه کاله مخوا ظاهر شوي وو - او انساني ژوند تقریباً لس لکه کاله مخوا ظاهر شوې دي او انساني تهذیب تقریباً درې زره کاله مخوا پیدا شوې دي - په دې حساب دا او ګڼه چه کله چرې د مزکې په مخ د ژوند ظهور د سلو کالو دي. نو د انساني ژوند وخت به یوه میاشت وي - او د انساني تهذیب عمر دوه ګنټې د مستقبل ته او کتۀ شي - نو د طبیعات د علماء په نزد چه د څومره موده راتلونکې ژوند موجود دي - د دې نه یو په زره زیاته موده پورې د مزکې په مخ د آبادۍ امکانات شته - نو او س څپله اندازه اوکړئ چه په دې دوه ګنټو کښې انسان څه معلوم کړي دي او لا به څومره معلومات حاصلوي."

د علم په حقله یو بل د فکر مکتب دی چه استناجیت بللې کیږي. د دې مکتب ما حصل دا دی چه مونږ هیڅ نۀ پوهیږو - او نۀ پوهیدې شو. چه حقیقت څه شي دي - او مطلق صداقت څۀ ته وائي - البته په تجربه چه کوم څیز پرله پسې مفید ثابت شي - هغه ته بۀ وایه شي - د صداقت نه مراد دا دې چه هغه مونږ د خپل مقصد په ترڅ کښې مخ په وړاندې بیائي که نه ؟ او د هر څیز محک انسان دي - یکن سوال دا دے - چه د دې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مکتب پوهانو ځنې د مفید او غیرمفید څه علم دئ؟ هغوئ چه وائی چه موږ هیڅ نه پوهیږو۔ نو مفید څرنګه پېژندئ شي۔ او دا ورته ځینې او نیکه دی چه د هر ځیز محک انسان دئ۔ دا خو ښکاره تضاد دئ۔ او هغوئ په غیرشعوری ډول د علم د حصول د امکان قایل دی۔ موږ منو چه هغوئ چه صداقت هغه ته وائی چه نفع رسوونکئ وی۔ صحیح ده۔ خو د انسان د پاره نفع په کوم ځیز کښې ده۔ اصل سوال خو دا دئ۔ او دا سوال د اخلاقیاتو سره تعلق لری۔ د استناجیت د فکر مکتب هم د علم ذریعه پرله پسې تجربه ګڼی۔ او هغه د یو فانی او غیرمتغیر انا یا نفس قائل نه ښکاری۔ چه د دے حقیقی وجه دا ده چه د دے ډول خلق د ذاتِ باری منکر او په دے وجه د هیڅ ډول د اخلاقو قایل نه دی او هم دا وجه ده چه د تضاد نه په هیڅ حال کښې ځان نشی خلاصولئ۔

تاسو به لوستی وی چه ماډیین په دے متفق دی چه د یرش کاله پس هیڅ انسانی جسم بغیر د تبدیلۍ نه نشی پاتے کیدئ۔ یعنی د یرش کاله پس ئې جسم نوئ شی۔ نو ښکاره ده چه د یرش کاله پخوانی جسم چه د پرله پسے تجربو په وجه کوم علم حاصل کړئ وی۔ هغه به یقیناً محوشوئ وی۔ او که نه هغه پخوانئ علم دے نوی جسم ځنې هم موجود وی نو بیا د انسانی انا د نه متغیر کیدو لونه بدلیدو ثبوت د دے نه زیات څه کیدئ شی پخپله راقم ته د ښ نه (چه اویا و کالو ته ئې عمر نزدے دئ) د ښځوس شپیته کاله پخوانی حاصل شوی علم مُدرک دئ۔ او شاید چه لوستونکو دا خبره عجیبه ښکاره شی چه زۀ او وایم چه ما ته د هغې زمانې خبرے هم یادے دی چه عمرے دوه دوه نیم کاله وه۔ او چه په دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عمر کښې مې والده وفات شوې وه او کوم دغم کیفیت چې را باندې راغلی وه ـ نن ورځ غوندې مې یاد دی ۔

د وړومبي لوئې جنګ (۱۹۱۴ء) په زمانه کښې به چې روزنامه زمیندار راتلو او خلقو به پکښې د جنګ خبرونه لوستل او د مړو او زخمیانو نومونه به ئې پکښې اخستل ـ تر اوسه مې یاد دي ـ خو دا مې شک دئ چې هغه اخبار زمیندار وه ـ که بل کوم اخبار وه ـ او غالب خیال مې دادئ چې زمیندار وه ـ آخر دا څه شئ دئ ـ چې د ځواني جسم د مکمل تحول او تبدیلئ نه پس ئې هم هغه واقعات محفوظ ساتلی دي ـ دا انساني انا ده ـ که نفس ورته وائې او که روح ـ خبره یوه ده ـ او همدغه جوهر دئ چې صوفیاء ئې د صحیح علم او پوهې سرچینه ګڼي ـ او د علم په حصول کښې تول انحصار په حواسو نه ګڼي ـ ځکه چې څرنګه چې ودسیل شول حواس اکثر تیر وزي ـ مثلاً یوه روپۍ چې تاته ګرده ښکاري ـ که یو طرف نه په ترڅ ورته ګورې د اګې غونې به درته ښکاره شي نو ګویا اشیا چې څرنګه چې دي ذره ئې راته نه ښکاري هم هغه شان راته ښکاري ـ او که زړه په نورو خیالاتو کښې ډوب وي ـ نو ته به ګلاب راته سور ښکاره شي او نه به ئې خوشبوئي محسوسه شي ـ ما به چې کله کله شطرنج کولو او خواؤشا به خلق په خبرو بوخت وو ـ ما ته ئې هیڅ خبره نه اوریدې ـ ځکه چې د زړه او دماغ د دواړو توجه شطرنج طرف ته وه او په کامل محویت کښې هډو آواز نه اوري ـ پروفیسر وائټ هیډ دې تائید کوي او وائي چې هر څه زمونږ په زړه کښې دي ـ پوهه هم نشته او ځنې مفکرین لکه ودسیل شول علم د استدلال نتیجه ګڼي : مثلاً یو سړئ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

داوینی چه په یو مکان اُورلګېدلۍ دۍ - دا مشاهده ده - او بل سړۍ د
فایر بریګېډ بر آواز اورې نو پوهه شي چه چرته اور لګېدلۍ دۍ - او موږ
هم د استدلال او مشاهداتي علم قایل یو - خو سوال دا دۍ چه که دا علم
په هر ډول حاصل شوۍ دی - د ېرش کاله پس د جسم د تبدیلۍ باوجود
دے موجود وی ؟

که حافظه مادي وی - او د جسم د تبدیلۍ په وخت وړه وړه هغه
هم د جسم د تبدیلۍ سره تبدیلی موی - نو څومره چه تبدیلی موی
د هم هغې تبدیلۍ په مناسبت انداز به ئې هغه پارشوی نقشونه هم
محو کېږي - نو که اوس هغه نقشو یو بل دا ے محل ته وړه نهٔ شي چه هغه
ئې محفوظ اوساتي نو یقیناً به معلومي شي ځکه نو یو داسے عنصر ضروري دۍ
چه د حافظے د تبدیلۍ په وخت د هغې عکسونه په هغه کښې جمع شي.
او هغه انساني انا ده چه غیر متبدل او غیر مادي ده -

ایډ ننګټن لیکي -

" قوت - توانائي - العاد دا ټول د اشاراتو د دنیا سره تعلق لري.
هم دغه هغه تصورات دی چه موږ تر د طبعیاتو خارجي دنیا جوړه کړے
ده - خو هر وخت چه د طبعیاتو د دنیا ذریعے او اسباب ختم کړو او خپل شعور
(انا) ته ورو ته اورسو - هغې دنیا ته د کومے نه چه زموږ د ذات اعلان
کېږي - هلته موږ په یو نوي منظر کښې داخل شو او د خپل ذات نه
اشارات واخلو او دوه نوے دنیا تخلیق کړو چه د هغې بنیاد په ماورائے ماده
روحانیت وی -"

که انسان کټ مټ یو مادي وجود دۍ - او د هغه په وجود کښې یو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

غیر ذاتي عنصر (انا) نهٔ وئ - نو هغه به اورمرو د جبلت ګوډاګئ وه - په جبلت کښې یو خاص تحریک دی - خو شعور یا انساني انا د هغه تحریک کیفیت متعین کوي - مثلاً د لوږې په حال کښې جبلت د خوړلو تحریک کوي - لیکن شعور د خوراک نوعیت متعین کوي - مثلاً که د خوراک دپاره داسې څیز موجود نهٔ وي - چه د انساني خوراک قابل وي - نو بیا د اونې پاڼې د خوراک دپاره غوره کوي خو ګندګي نهٔ خوري او حال دا چه جبلت یوازې د خوراک تحریک کوي -

پروفیسر بالډوین لیکي -

"مونږ ته انسان یو مشین ښکاري چه داسې مرکب شوئ دئ چه هغه خپل قوت پخپله په ځائې ساتي - خو که دا مشین مونږ پرزې پرزې کړو او بیا ئې مرکب کړو نو بیا هغه کار نهٔ کوي - نو معلومه شوه چه دا قوت پخپله په دې مشین کښې نه وه -"

ګویا د انساني انا دپاره جسم یو آله ده - او چه انا ترې لاړه شي هغه آله بې کاره شي شعور یا انساني انا مادي نهٔ دی - او نهٔ د دماغ پیداوار دئ - لکه د ریډیو په سیټ چه آواز راځي - هغه د هوا په چپو کښې وي. سیټ چه روغ وي - هغه نشر کوي او که روغ نهٔ وي نو هم آواز موجود وي - صرف نشر کیږي نه - انسان د آواز د هیولې په محسوس آواز کښې د راتللو دپاره ریډیو سیټ جوړ کړې دئ - خو سیټ صرف آوازونه نشر کوي - محفوظ ئې نهٔ ساتي بلکه انساني انا ئې محفوظ ساتي - ګراموفون ریکارډ که څه هم د آواز هیولې محفوظ ساتي - خو په دې نهٔ پوهیږي چه هغه څه محفوظ ساتلې دي - هم دا حال د ریډیو سیټ هم دئ چه آوازونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ترِ نښتر کېږي نو هغه څخه دا شعور نهٔ وي چه څه ترِ نښتر کېږي.

میسن لیکي.

"د هستۍ د ابتدا دپاره خالص روح خپله مطلقه آزادي مقید ه کړه او د غه شان هغه په یو نوي سمت کښې مخکښې روان شو - په دے مونږ وپیلی شو چه د هستۍ د مادي ابتدا بنیادي اصول *suppression* یا دباؤ دی - اضافه ( *Addition* ) نهٔ دی - یعنی خالص روح خپله آزادي دباؤ کړه او د غه شان ئے په ځان قیود عاید کړل او د مادے محسوس قالب ئے اختیار کړ - "

په انساني او حیواني انا کښې هم دغه فرق دے چه حیواني انا فاني ده او انساني باقي - مثلاً مونږ مجرد رنګ نهٔ شو لیدے - تر څو چه متعین نهٔ شي - یعنی سپین تور سُور وغیره - لیکن رنګ په مجرد حیث هم د تصور په ذریعه پېژنو - حیوانات دا سے تصور نهٔ لري - ځکه چه د هر تصور دپاره یو نوم ضرور وي - چه متعین شي - ځکه چه هر نوم د یو تصور مظهر وي - بغیر د یو نوم نه تصور هم وجود نهٔ لري - او نهٔ نوم بغیر د تصور نه څه وجود لري - نو ځکه انساني شعور او تکلم یعنی ژبه لازم ملزوم دي - او ژبه یوازے د انسان صفت دے - ځکه خو د حیوان دپاره تصوراتي علم ناممکن دی - نو د دے نه معلومه شوه چه د انسان شعور یا انا د حیوان د شعور یا انا نه بېخي مختلف دے -

د دے نه معلومېږي چه شعور یا انا ئے انساني د مادے پیداوار نهٔ دے - او د ځنې پوهانو دا خیال هم صحیح نهٔ دے چه انساني شعور د حیواني شعور ترقي یافته صورت دے انساني شعور مستقل وجود لري - ځکه نو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ارتقاء زمونږ د جسم په حقله د پرخهٔ بندولئ شي - نو د نفسياتي ارتقاء په حقله څه خاص علم نهٔ لرى .

ميسن ليکى .

" د طبعياتو د نوى عصرى تحقيق له خوا نه خو ماده قديم (لافانى) ده او نهٔ توانائئ - چه په آخر کښے دا دواړه معدوم کيږى - نو دغو د معدوم کيدو سره هغه قوانين هم ختم شي چه ورته قوانين فطرت وئيلى شي - ځکه نو د کائنات د ابتدا معلوموملو د پاره قوانين فطرت رهنمائى کول بے ځايه خبره ده ."

علامه اقبال ليکى .

" بهرحال زما په رائے د مطلق حقيقت تصور ديوے " انا " په طور پکار دئ - ځکه نو زما په نزد د مطلق انيت نه د اشيا‌ئو صدور ضرورى دئ - او يا په نورو الفاظو داسے کمل پکار دى چه د مطلق انا د تخليقى قدرت اظهار چه په دے کښے فکر د عمل مرادف کمل پکار دى .

(خطبات)

د دے صفا مطلب دا دئ چه د انائے مطلق د تخليق فعل د مادے نه نهٔ دئ - بلکه د هغه په اراده د هغه په علم کښے علمى معلومات (اشياء) ديوے مرتبے نه بلے ته انتقال موى - گويا کائنات د انائے مطلق فکرى تخليق دئ - او د مادے هيڅ وجود نشته - هر څيز ديو څو صفاتو د اتحاد نه عبادت دى او چه دا صفات منفصل شي څيز هم پاتے نهٔ شي - د صفاتو هم دغه اتحاد او اتصال د شيانو په صورت کښے څرګنديږى - او هم دغه عقيده د وجودى توحيد د منونکو هم ده - ځکه مولانا محمد قاسم نانوتوى

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په خپل کتاب صداقت اسلام کښې ليکلي دي "چه تخليق مهٔ وايه، صدور اووايه" ځکه چه تخليق د مادے سره متعلق دئ او ماده خپل هيڅ وجود نهٔ لري ـ بلکه د مختلفو صفاتو د اتحاد نه چه کوم څيز څرګند شي د هغه سره د مادے تصور پيدا شي ـ

علامه اقبال ليکي ـ

ګويا د کائنات هر عمل (عمل تکوين) اے که د هغه تعلق د مادي جوهرو د ميکانياتي (مشيني يا اضطراري) حرکت سره وي ـ يا په انساني ذات کښې د ازادانه فکر د عمل سره ـ د دے ټولو حقيقت بغير د يو عظيم او برتر آنا د خپل ذات د انکشاف نه سيوا نور هيڅ نهٔ دي ـ ځکه نو د اِلاهي قدرت هر جوهر که څه هم په دے هستي کښې د هغه درجه لويه وي يا وړه وي په خپل ماهيت کښې يو انا ده ـ"

د مولانا محمد قاسم نانوتوي اصل عبارت دا دئ ـ

"د ميره فرق دئ چه د لته اطلاق د خلق او پيدائش زيبا نهٔ دئ ځکه چه د پيدا کولو د پاره اول دا خبره ضروري ده چه هغه څيز څوا د پيدائش نه موجود نه وي ـ يعني په يوه زمانه کښې نهٔ وي او بيا پيدا شي او د لته د وجود د صفاتو څخه دا سے هيڅ صفت موجود نهٔ دئ چه د حق تعالیٰ د وجود سره د اول نه لازم نهٔ وي ـ ګني خدائے به محدود او د صفاتو په حقله د غير د محتاج ثابت شي ـ چه په دے سره به د خدائے د شان لوړتيا او استغناء هر څه ختم شي ـ او د خدائے خدائي به د شطرنج د بادشاه پشخير تشه د ناموے خدائے پاتے شي ـ خلق مهٔ وايه صدور او وايه ـ"

که د افلاطون دا خبره صحيح وي چه هيڅ روښانه ذهن لرونکي د يو څه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه یې ملحد نه شي پاتې کېدئ - نو مونږ به هم اووایو چه په ملحدینو کښې چه کوم د علم خاوندان دي هغوئ ته که څېل فطري استعداد وافر ورکړئ شوئ وي - نو یقیني ده چه د څلو پښتو کالو د عمر نه پس به ارو مرو د انساني انا وجود غیر فاني محسوس کړي - او پوهه به شي چه دا بوهه په بنیادي ډول هیڅ تغیر او تحول نه مومي - او دد عمره به د حق تعالیٰ د ذات احساس هم پیدا شي - ځکه چه انساني انا د الله مطلق پرتو دئ چه په مختلفو قالبونو کښې مختلف ښکاري - او هیڅرې نه بدلیږي - ځکه چه که دا د جسم غونډې د بدلیدو څیز دئ - نو د هغو ټولو اخلاقو پیدا کیدو هیڅ سوال نه پیدا کیده کوم چه انساني نوع د ذرګونو کالونو د ارتقا نه پس قبول کړي دي - هیڅ انسان به د څپل لوظ او اقرار ذمه دار نه شو کیدئ - ځکه چه که زید د بکر سره نن دا اقرار کړئ دئ چه دومره روپئ قرض راکړه او په فلانی نیټه به ئې واپس درکړم - نو د هغې نیټې په موقع ئې ورته صفا ویلی شول چه هغه زید اوس پاتې نه دی چا چه د رسره د روپو د واپس کولو اقرار کړئ وه - بلکه د تغیر په وجه به ورته هغه اقرار هم یاد نه وه - او نه به بکر ته دا یاد وو چه زید ورسره د روپو ادا کولو نیټه ایښې وه - ځکه نو مطالبه به ئې تر نه وئ کړې -

یو انسان د نو ضرورت په وجه کلکه اراده وکړي چه سحر به فلانی ځائې ته روانیږي خو سحر چه راویښ شي نو "انا" ئې روانیدو ته غاړه نه ږدی - نو ایا دا "انا" هم هغه "انا" وه چه د شپې ئې کلکه اراده کړې وه؟ چه سحر به فلانی ځائې ته روانیږم؟ هیڅرې نه - بلکه معلو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شوه چه دا انسانی "انا" نه بلکه حیوانی "انا" ده چه هیشه د محنت نه غاړه اړوی - ارام طلب ده - خو انسانی انا نهٔ د ارام لټون کوی او نهٔ چرے ستړے کیږی ګنی فکر پکار دیٔ چه ښیستهٔ اتیا کاله انسانی انا کارفرما وی - خو هیچرے ستومانی نهٔ محسوسوی -

د علم او پوهه په حقله ابیقورس وائی -

"حسی ادراک محض یو مادی عمل دیٔ د ټولو اجسامو د سطحې نه تماثیل (عکسونه) خارج کیږی - دا تماثیل ډیر زیات نازک او لطیف وی بلکه د نزاکت تصویرونه دی - په شکل او شباهت کښے ښځی د جسم مثنی وی کوم وخت چه دا تماثیل د حس د مختلفو اجزاء په ذریعه روح ته او رسی لو احساس پیدا کوی - هم دغه احساس د علم واحده ذریعه ده او ټول حیاتی مدرکات رښتینی وی - غلطی پکښے صرف هغه وخت پیدا کیږی چه قلب د هغه څیز نه علاوه کوم چه په حواسو کښے دی څه نور هم رائے قائمه کړی چه پسته ئے بیا تردید اوشی -"

او وائی -

"د رښتیا د معیار محسوسات حسی تصورات او تاثرات دی -"

خو د ابیقورس نه پس د هغه اتباع کوونکو په دے کښے تخیلی ادراک هم زیات اوګڼلو - د محسوساتو او ادراکاتو نه مراد هغه څیز دیٔ کوم چه مونږ ته زمونږ حواس راکوی د حسی تصوراتو نه د هغه مقصود هغه عام قیاس دیٔ چه پرلے پسے د حسی ادراکاتو په ذریعه قائمیږی د تاثراتو نه هغه جذبات یا د قلب انفعالات مراد اخلی خو هغه چه وائی چه حسی ادراکات ټول خو رښتینی دی - لیکن قلب د هغه څیز نه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

علاوه رائے قائمه کړي، محلِ نظر دئ - قلب چه د حواسو د ادراک نه مختلفه رائے قائموي نو د دے بنیاد به د قلب ته هغه علم وي کوم چه هغهٔ ته بخوا حاصل وي - او لا به د حواسو غلط ادراک وي - چه قلب ئے قبلولو ته تیار نهٔ دی - یا په نورو الفاظو انسانی انا به د دے قابله وي چه د حواسو غلطي محسوسه کړي - ځکه چه حواس د همیشه دپاره صحیح ادراک نهٔ کوي - دغه عارضي په وجه په هغو کښے فرق راتلئ شي - د ماموستر گو کتل او په خوردبین یو څیز کتل دا خبره ثابتوي چه په کتو کتو کښے هم فرق وي - مثلاً که د تبے په حال کښے د ذائقے حلسه یو خوږ څیز ترخ محسوس او انسانی انا یا قلب د دے تردید وکړي نو دا به د دے وجه چه هغه پوهه وي چه هغه څیز به حقیقت کښے خوږ دئ - او ترخ یوازے د تبے په وجه ښکاري - او لا دا چه د مرض په وجه یو سړي ته یو څیز د وه ښکاره شي - نو هغه پوهه شي چه دا د سترگے (احولی) د مرض په وجه هغه څیز دوه نه ښکاري وي - او هم دغه حقیقي علوم دي کوم چه د جسماني مرگ نه پس د انسانی انا سره ځي - او د دغه اصل په لور د مزل کولو په سلسله کښے پکار یږي - او که تر مرگه انساني انا د حیوانیت د لاندے مغلوبه پاتے شوے وي - نو هغه حیواني افعال د انسانی انا دپاره دوزخ وي - او دغه "عین" ته د رسیدو په حقله په تیاره کښے وي - او که اعمال ئے د انساني انا د فطرت سره سم وي - هغه د پرزه دغه اصل "عین" ته اورسي - او هم دغه د هغو دپاره جنت وي -

افلاطون وائي " انساني روح یو لافاني حقیقت دئ - هغه په مختلفو شکلونو کښے په مادي عالم کښے ظاهریږي - نو په دے وجه چه هغه د مادي او روحاني

عالم د ټولو شيانو مشاهده کړے وی - ځکه نو هغه هستی د عالم د ټولو شيانو عالم وی - ځکه نو چه دا سے دنيا ته راشی او د اخلاقی تجرباتو موقع وی - نو هغه د ځينې خير ماهيت پخپله معلوم کړی - او په دے وجه چه ټول فطرت يکسان دیٔ او روح ته د هر څيز علم وی. ځکه نو په يوه تجربه کولو سره دهغهٔ په زړهٔ کښے د ټولو تجرباتو يادونه غزووے او کړی - هم دغه شان هر تحقيق او انکشاف په حقيقت کښے د پخوانی علم را ياديدل وی - روح ته علم د ابتدا نه حاصل وی - خو هغه علم صفا او واضح نهٔ وی - يعنی خفی وی - جلی نهٔ وی - انسانی روح د ټولو علومو سرچينه ده چه حقيقت په دے نه سوا نور هيڅ نه دیٔ چه روح ته ديو ے تجربے نه پس ټول ے نيور ے تجربے ورپه ياد شی -"

يعنی روح ته چه د شيانو علم عقلی او مثالی د ابتدا نه حاصل وی په مادی دنيا کښے نور هم مفصل شی - افلاطون چه وائی چه هغه علم خفی وی جلی نهٔ وی - د دے وجه دا ده چه د اشياؤ علم چه په اول کښے عقلی او مجرد وی - په عالم مثال کښے ورسره مثالی حواس هم يوځائے شی نو د اول نه لږ زيات روښانه شی - خو چه مادی حواس هم ورسره په مادی جهان کښے شامل شی نو د پخوا نه زيات ځلانده شی - او چه ځلانده شی نو د دے په وجه نورے خبرے يا د نورو هغو شيانو علم ئے هم ځلانده شی کوم چه عقلی او مثالی وو - او ديو ے کړی د حاصليدو نه نورے کړی هم ورياد ے شی .

انائے اصغر چه د انائے اکبر په وجود کښے د ابتدا نه متعين وی . نو ځرنګه ئے چه "عين" يا شخصيت وی . او د انائے اکبر د کوم اسم او صفت

مربوب وی - هم په هغه حیث ئے بالقوه علم هم وی - او چه په نزول کښے عالم عقل ته راشی هغه ټول بالقوه علم ئے عقلی شی - بیا مثالی او په مادی جهان کښے مادی شی - او افلاطون دد ے تشریح داسے کوی -

" اصل حقیقت محض د شیانو مجموعے ته نهٔ وائی بلکه یو مربوط نظام دے - چه د هغه په هر جزو کښے د کل وجود جاری او ساری دئ - په نورو الفاظو که چرے مونږ ته د دنیا د یو ے واقع علم حاصل وی - نو مونږ ته به د یو ے داسے واقع علم وی - چه په مختلفو او مستعدو رشتو سره د ټول عالم د واقعاتو سره منسلک وی - او که مونږ ته د هغو رشتو علم حاصل شی - نو د یو ے واحدے واقع د علم نه مونږ د ټول عالم د واقعاتو علم حاصلولئ شو - ځکه نو علم محض د بے ترتیبه مدرکاتو د جمع کولو نه نهٔ پیدا کیږی بلکه هغه یو ارتقائی عمل دئ چه په هغه کښے مونږ یو عالمګیر صداقت چه په منفردو مدرکاتو او تجرباتو کښے موجود وی - دد ے تجرباتو نه جدا کړو - نو په اصلی حالت کښے به ئے اوموو - یعنی هره جزوی واقعه د کوم عالمګیر صداقت نشان ښئ - او دا واقعه ئے یو جزوی مثال وی - او دا عالمګیر صداقت د یو داسے اصول په طور د جزوی تجرباتو نه حاصلیدئ شی - چه دد ے تجرباتو نوعیت او د هغو تعلق متعین کوی -"

او وائی چه -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

"د علم ابتدائي نظريه د عوامو د رايو نه معلومېږي. يعني د علم آلې عامې دي. خو د هغو نه حاصل شوی علم اصل علم نه وي. بلکه هم د دغو مظاهرو علم وي. نو چه دا د مظاهرو علم وي. نو لا رومړو به په دې کښې تر څه حده التباس موجود وي. يعني بې اصلي. نو دا علم د صحيح علم نه هم بېخي بېل نه وي بلکه د صحيح علم دپاره يو ابتدائي قدم وي. چه د هغه په ذريعه مونږ د صداقت انکشاف کولی شو. عامې رائې او نظريات موجود هم وي او معدوم هم. چونکه تعلق د دې مظاهرو سره وي. د دې دپاره د مظاهرو علم د حقيقي علم انکشاف هم کوي. او تر څه حده د هغه دپاره حجاب هم ثابتېږي. ځکه چه حقيقت پکښې ظاهرېږي. خو پوره پوره نه. ځکه چه زمونږ حواس چه څه ادراک کوي. هغوی يو مکمل "عين" نه شي پيدا کولی. د حقيقي علم د حصول دپاره بايد چه مونږ د حواسو او مدرکاتو نه وړاندې تېر شو. ځکه چه د دغو نه صرف جزوي حقايق معلومېږي او کلي حقيقت لا پټ وي. د حواسو ادراک د حقيقت يو جزوي مثال وي چه د نقص نه پاک نه وي. ځکه نو حقيقت ته د رسيدو دپاره د جزوي تجرباتو نه اوچتېدل او يو عالمګير اصول ته رسيدل پکار دي."

او افلاطون دا هم وائي چه.

د اشياؤ د ادراک دپاره عقل د مادې او جسم نه کار اخلي. او د حواسو نه د علم ذريعه جوړوي. نتيجه ئې دا وي چه د هغه دا جسم هغه په يو داسې عالم کښې راګير کړي چه په هغه کښې د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅ څیز دپاره قیام او ثبات نهٔ وی - هر څیز متغیر وی - ځکه نو مثل (عین) هم په مادیاتو ابته شی - او پریشان شی - د هغهٔ په بصیرت کښے نقصان راشی - ځکه چه اشیاء هره لحظه متغیر وی - په یو کیفیت قائم نهٔ پاتے کیږی - او چه اشیا پر له پسے متغیر کیږی - نو هغوئ د صحیح علم واسطه نهٔ شی جوړیدئ - ځکه نو چه ترڅو عقل په دے دنیا کښے وی هغه صرف د مظاهرو علم حاصلولۓ شی - خو چه هر کله دا بدلیدونکی عالم پریږدی - او اصلی د روح عالم ته ورشی چه نهٔ پکښے تغیر شته او نهٔ فنا او نهٔ آمیزش - نو بیا د صحیح علم ادراک کوی -"

د افلاطون دا بیان یعنی د صوفیاؤ د مختلفو سلسلو د عقائدو بیان دیٔ - او حقیقت هم دا دے چه کله چرے انسانی ژوند د مرګ سره نهٔ ختم کیږی نو د انسانی علم او پوهے مزل هم دومره اوږد دیٔ څومره چه انسان لافانی دے - افلاطون دے عالم ته عالم اعیان وائی، چه کلی تصورات پکښے حاصلیږی - چرته چه عالمګیر اصول پیژندلۓ کیږی - او د دے عالم هر څیز د تغیر او فنا نه پاک دیٔ - که څوک تپوس وکړی چه د دے متغیر عالم سره د هغه لا تغیر عالم څهٔ تعلق دیٔ ؟ نو جواب ورکوی چه د دے عالم شیان د هغه عالم د مکملو او عالمګیرو اصولو نا مکمل مثالونه دی، هغه وائی چه کله مونږ او وایو چه دوه مادی شیان د یو بل سره مساوی وی - نو په دے دواړو کښے د مساوات انکشاف په پوره توګه نهٔ کیږی ځکه چه د عالم هیڅ دوه شیان پوره پوره په هر اعتبار سره مساوی نهٔ وی - څه نه څه فرق پکښے وی - ځکه نو د مساوات تصور یو داسے کلی تصور

(عین) دئ چه وجود ئې په مادی عالم کښې نشته۔ ځکه نو دهغهٔ تعلق د یو
داسې عالم سره کېدئ شي۔ چه خالص د تعقل او فکر عالم وی۔ یعني
عالم روحاني د وجودی صوفیاهم د عالم مثال قایل دی۔ شاه ولی الله هم د دې
سره اتفاق کوی۔ خو صوفیٔ د اعیانو په حقله د اعقیده لری چه اعیانو
د وجود بوی هم نهٔ دئ محسوس کړئ۔ ځکه چه اعیانِ ثابته د وجودی
صوفیاء په نزد معلوماتِ الٰهیه دی۔ او د علم نه بهر صرف د هغو مظاهر
کېدئ شي۔ صوفیاء وائي چه هر څیز د حق تعالیٰ د یو رسم او صفت مربوب
وی او بیا د دې اِسم د پاره یو عین وی چه هغه د هغه څیز شخصیت وی۔
کوم چه د خدائې په علم کښې وی۔ نو ځکه د اعیانو د رومبئ پرتو عقلی د ریم
مثالی او دریم مادی وی۔ گویا د هر څیز یو وجود عقلی وی۔ بیا ورسره
مثالی وجود هم شامل شي او بیا د دې سره مادی وجود هم یو ځائې شي۔ او
بیا په د دې عالم کښې هر څیز د پېژندگلو د پاره آسان شي۔ او هم د غه
شان د انسان حواس هم عقلی، مثالی او مادی وی۔ او در حقیقت خو اوس
سائنس هم ثابت کړو چه د هیڅ آواز او حرکت وغیره نه فنا کېږی۔ په
فضا کښې موجود وی۔ خو د سائنسی دانشورانو نه سوونه کاله پخوا شیخ اکبر
حضرت محی الدین عربیؒ په خپل کتاب فتوحاتِ مکیه کښې لیکلی دی چه
زمونږ د خلې نه چه کوم آواز اوزی هغه نهٔ فنا کېږی بلکه په فضا کښې
ورسره ارواح شامل شي او هغه موجود اوسی۔

نیچے وائي۔

"انا" د کائنات کلید بردار دئ۔ د ذات په شعور کښې د
حقیقت راز پټ دئ۔ "زهٔ موجود یم" او ظاهره دهٔ چه موږ چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دځا د آوانو يوه برخه داوي و او بيا ئې بله برخه اوري و تو هغه وړومبۍ برخه ئې د سامع د قوت نه وتلې وي نو هغه ورته ياده وي ولې وي ځکه چې په عنصري مادي جسم کښې يو داسې عنصر شته چه اوريدلې او ليدلې شيان محفوظ ساتي - او هغه انساني انا ده -

ګلشن رانړ ليکي -

" "انا" هغه حقيقت دې چه د هر څيز د حقيقت او اصليت ترجمان دې او هم دد حقيقت د مظاهر و څخه روح او بدن دوه مظاهر دي -"

يعنې هم هغه يوه حقيقي انا ده چه په هر څيز کښې منعکس ده - بلکه هر يو څيز يوه انا ده - لکه چه د علامه اقبال د قول نه ظاهرېږي -

موږ ګورو چه کائنات هره لحظه متغير دي - او معلومه خبره ده چه عرض په دوو زمانو کښې موجود نه وي - هر آن فنا کېږي - ځکه نو کائنات هم چه يو عرض دې هر آن فنا کېږي - او بيا پيدا کېږي - او دد پيدا او فنا ادراک او احساس پخپله کائنات نه شي کولې بلکه انساني انا ئې کوي -

زموږ په خيال انسان د کائنات غائي علت دې - ځکه چه د يو څيز اسباب او آلات مخکښې او غائي علت په آخر کښې څرګندېږي - ځکه نو انسان هم په آخر کښې پيدا شو - چه د کائنات غائي علت هم دې وه - او هيڅ امکان نه لري چه د کائنات غائي علت فاني وي - ګني بيا به د هغوي د پيدا د بل غايت تصور پيدا کېږي ځکه نو انساني انا غير مادي ده -

د احقيقت دې چه کوم وخت مطلق وجود "انا" د څه نسبت بيا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ذریعې په وجه متعین شي - داسې چه هغه ته اشاره کېدې شي - نو هغه ته "زهٔ" وائي - ځکه چه د تعین نه بغیر هیڅ اشاره کول محال دي -

محکمې یېکې

چرته چه وجود دئ - هلته حیات او علم هم دئ - د لې چه دا د وارو د وجود دپاره لازم دی - چه په چاکښې ژوند موجود وی - د هغهٔ دپاره به نفس (انا) هم موجود وی - او ضروری ده چه کوم نفس وی هغه به بالفعل یا بالقوه د خپلې هستئ ادراک هم کوی - او د دې خپلې هستې ادراک (یعنې انا) د حق تعلئ د هستئ د ادراک دپاره لازم دئ - ځکه چه عام (وجود ملکن) د خاص (وجود مطلق) نه زیات روښانه وی - نو ټول عالم د خپل ذات نه بالقوه یا بالفعل خبر دئ - او هم د دې خبر نه د خدائ د دربار لار حاصلیږی - ځکه چه د حق ذات په ټولو صورتونو کښې ظاهر دئ -"

مطلب دا شو چه انائ مطلق په خارج کښې د انائ مقید په حیث ظاهر دئ - نو ځکه هر یو څیز یوه انا ده -

په گلشن راز کښې دی چه -

" د "زهٔ" "تهٔ" او "هغه" مشارُالیه په حقیقت کښې مطلق واحد دئ - د مختلفو اعتباراتو په مطابق ئې په مختلفو عبارتونو تعبیر کوو - کله په دې اعتبار چه د توحید په مقام کښې د دوه والی (دوئ) لار نشته نو د "انا" "من" یا "زهٔ" سره ئې تعبیر کوو - او کله په دې اعتبار چه د تعیناتو په صورتونو کښې یوازې د یو حقیقت جلوه ده - چه صورتونه وینو نو د "تهٔ" او "تا" سره

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ئے تعبیر کوو ۔ اوکله چه دے اعتبار چه حقیقت په سبب د مطلقیت د تولو تعیناتو نه بالاتر دئ او د خپل کنه په لحاظ د ادراک نه بهر دئ نو په "هو" او یا "هغه" ئے تعبیر کوو۔"

اقبال لیکی ۔

د استقدام محض ژوند د خودی (انا) ژوند دئ ۔ او خودی عبارت ده د " زهٔ موجود یم " نه ۔ ځکه نو ژوندئ هغه دئ چه " زهٔ موجود یم " یا " انا الموجود " ووئیلی شی ۔ او بیا دا هم د دے انا الموجود وجدان دئ ۔ چه د هغه په وجه د هستئ په مدارجو کښے زمونږ ځائے متعین کیږی ۔"

اقبال لیکی ۔

دا یو راز دے تصوف وه چه کوشش ئے وکړ چه د عبادت او ریاضت په ذریعه د باطن واردات توته اورسی ۔ د قرآن پاک په نزد دا واردات د علم سرچینه دی ۔ چه په هغو کښے مونږ ته د دوو نورو یعنی د تاریخ د عالم او د فطرت د عالم اضافه کول پکار دی ۔ نو اوس که په مذهبی نکته نظر او کتئ شی نو د دغو وارداتو نشوونما او دده کول د حلاج د انا الحق په نعره کښے د خپل معراج کمال ته ورسیده ۔ او که څه هم د حلاج معاصرین یا متبعین د دے تاویل د وحدة الوجود په رنګ کښے کوی ۔ نو مشهور فرانسی مستشرق M.Massignon چه حلاج د تحریرنو کوم اجزاء اوس اوس چاپ کړے دی ۔ د هغو نه خو دا ظاهریږی چه د دے شهید صوفی انا الحق او وئیل نو د دے نه دا مطلب نهٔ دی اختل پکار

چه حق تعالیٰ وراء الوراء نهٔ گڼلو - نو باید چه مونږ د دې تعبیر دا اوکړو چه قطره په دریاب کښې شامله شوه -

او حال دا چه دا د دې امر ادراک بلکه اعلان وه او په دا که د دې خبرې اظهار وه چه خودی (انا) یو حقیقت دې چه که یو ډور اوپوخ شخصیت پیدا کړې شی نو ثبات او استحکام حاصلولې شی - که په دې لحاظ اوکتې شی - نو دا معلومیږی چه حلاج متکلمینو ته د مبارزت دعوت ورکړې وه -"

د دې مطلب دا دې چه د متکلمینو د مذهب وه چه د جسم سره روح (انا) هم فنا کیږی - او اقبال وائی چه د حلاج د انا الحق نعره د متکلمینو د پاره گویا جنګ ته رابلنه وه - او دا ظاهرول وو چه انسانی انا چیرې نهٔ فنا کیږی - د متکلمینو دا عقیده وه چه د جسم سره روح هم فنا شی نو د قیامت په ورځ به ئې خدائے بیا پیدا کړی - گویا هغوی حق تعالیٰ ته یو داسې صفت منسوب کوی چه د خدائے سره هیڅ مناسبت نهٔ لری چه بیا ئې پیدا کوی نو اوس ئې ولې فنا کوی - او چه بیا ئې پیدا کوی نو باید چه بیا ئې هم فنا کړی - خو متکلمین بیا فنا نهٔ منی - خو زهٔ وایم چه بیا ئې ولې نهٔ فنا کوی - که او وائی چه بیا د هغو تعلق د لافانی جهان سره دې ځکه ئې بیا نهٔ فنا کوی - نو گویا دا منی چه د غیر فانی جهان باوجود ئې هم فنا نهٔ کړی نو کوم اشکال پیدا کیدې شی - ځکه نو د یو عامی عقل هم د متکلمینو د دې عقیدې ته معقول نهٔ شی وئیلی -

زهٔ وایم چه د حلاج د انا الحق وئیلو وجه دا وه چه د هغه انائے صغر په انائے اکبر کښې فانی شوې وه - بلکه د کائنات د هر څیز انا هم د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د شیانو نه منفی شوے وه او تول انا گانے په یوه انا کښے محو شوے وے ۔ او انا الحق یوازے د انائے مطلق اعلان وه ۔ چه یوازے یو زهٔ حق یم یعنی ثابت او موجود یم ۔ خو دا اعلان د حلاج په ذریعه راسلو لکه چه موسیٰ علیه السلام سره حق تعالےٰ د یو اونے په ذریعه تکلم کړلو ۔

اقبال لیکی ۔

" عالم اسلام هم چه کله د انحضرت صلی الله علیه وآله وسلم د دے ارشاد سره سم چه " انسان دے په ځان کښے د خدائے اخلاق پیدا کړی ۔" د مذهبی وارداتو او مشاهداتو په نور ځنه اوکړه ۔ نو ځکه چه د مطالعے نه معلومیږی د دے تقرب او اتصال ترجمانی هم په دا سے اقوالو کښے شوے ده ۔ مثلاً انا الحق ۔ انا الاهر ۔ انا قرانٍ ناطق ۔ او سبحانی ما اعظم شانی ۔"

ځنے مادیین چه انسانی انا یا انسانی نفس د انسانی جسم د اجتماعی قوا نه پیدا شوی یو تاثر گنړی ۔ نو د دے وجه دا ده چه د ځغوئ په ذهن د مادیت غلبه وی او دا خو ظاهره ده چه د کوم څیز غلبه وی ذهن مجبور وی چه د هغهٔ په ځنکښے سر تیټ کړی ۔ خو حقیقت دا دی چه آخر دا مادی اثر ختم کیږی ۔

اقبال لیکی ۔

" که د ژوند ارتقاته او کتلے شی نو دا حقیقت به ښکاره شی چه په شروع شروع کښے که څه هم په نفسی (عنصر) باندے د طبیعی (عنصر) غلبه وی ۔ نو بیا چه څومره څومره نفسی (عنصر) قوت حاصلوی ۔ په طبعی (عنصر) غلبه پیدا کوی ۔ نو ځکه ډیره ممکنه ده چه په آخر کښے د طبیعی عنصر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه بیځي آزاد شی ."

او دا حقیقت دی چه انسانی انا وی او وی په مادی عنصر غلبه موی.

او انسان تر څه حده د مادی عنصر په خلاف عمل هم کولی شی . او

تربیت یافته انسان خو ځلي لسون ته غور سندی وراچولی شی. علامه اقبال

د مادیینو د دے خیال مخالف دی چه انسانی شعور یا انا د ماد ے پیداوار دی.

علامه اقبال لیکی .

"دا ویل چه شعور د مادی اعمالو نتیجه ده یا ئے مظهر دی.

د هغه (شعور) د ازادانه فعالیت نه انکار کول دی . خو د شعور

د آزادانه فعالیت د انکار نه د علم د صحت انکار لازمیږی. ځکه

چه علم خو هم هغه دی د شعور د یو مرتب او منظم بیان دویم نوم.

ځکه نو ارومرو به شعور د ژوند د خالص روحانی ژوند د اصول

یو شکل منل وی ."

علامه اقبال لیکی .

" نو کله چه مونږ د خپل شعور د وارداتو په وجه د هغې

"انا" د ژوند تقرر کوو کومه چه په هر څیز محیطه ده . او دا

تصور د متناهیه (محدود) نفس په ماشلت کوو . نو د دے حقیقت

نه پرده پورته کیږی چه د مطلق انا زمانه یو داسے تغیر دی

چه په هغه کښے د تواتر یو وینبته قدر ے دخل هم نشته . یعنی

هغه په اصل کښے یو نامیه وحدت دی چه که په هغه کښے د

جوهریت کار فرمائی ښکاری نو هغه محض د هغه د تخلیقی عمل سره

سره وجود موی . نو مطلب ئے هم هغه کښل پکار دی . کوم چه مونږ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پوره ته بیان کړو - ځکه چه هم دغه شان حقیقي انا د خپل ذات لا انتها او غیر متعین امکانات ظاهروي - او د هغو احصا کوي. ځکه نو د انا ژوند که د یوې ږه د یموت ژوند دی یعني د تغیر نه د تواتر په لوی نوي بیله ږده د هغه پرله پسې زمان - په دې معنو چه هغه ځنې تغیر ه تواتر یوه پیمانه ده او د هغه سره په نا ای طوی ترلے ده ۔"

د جسم پرله پسې تحول او تغیر او د دې سره سره ډیر زاړه یادونه قائم پاتې کېدل لکه چه اوویل شول - د دې حقیقت ثبوت دی چه په انسان کښې یو داسې عنصر شته چه هغه د تحول او تغیر نه بالاتر دی - که مونږ نن یو ماشوم ووینو او بیا ئې شل پنځه ویشت کاله پس ووینو - نو مونږ به ئې او نه پېژنو - زمونږ په حافظه کښې که د هغه څه ضرورت پاتې هم وی - خو لا په دومره تت وی چه ذهن کښې به پرابرسیره نه شی او که ذهن کښې رابرسیره هم شی - نو هغه به د هغه ماشوم د شلو پنځه ویشتو کالو بخوانئ د ماشوم والی صورت وی - چه د دې موجوده صورت نه به بیخی مختلف وی - او د ماشوم والی د هغه تت صورت به اوازه به مونږ د هغه د موجوده صورت نه شو پېژندی - خو که مونږ هغه ماشوم کله کله وینو نو څومره څومره چه هغه لوئېږی - زمونږ په حافظه کښې به هم د هغه صورت ورسره ورسره پیدا کېږی او د هغه د کړو وړو په احساس به یو تسلسل وی - چه د دې په وجه به اجنبیت نه پیدا کېږی - او چه مونږ هغه کوم وخت ووینو پېژنو به ئې - د راقم الحروف د سبق یو ملګری وو چه تر نهم جماعت ورسره وه - بیا جدائی راغله - د دې څلوی کاله پس مونږ یو بل سره اولیدل.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بیا درے ځلوېښت کاله تېر شول ۔ راقم د لرے نه اولیدو ۔ او بیا هم دا ځه ځه
ځهٔ موده پس موسره لیدل ۔ او بیا مو پوهٔ اتهٔ نهه کاله پس سره
اولیدل نو بنهٔ ګړه بړه موسره وکړه ۔ نو څرنګه چه زما په حافظه کښې
د هغه صورت محفوظ وه ۔ یعنې هغه شان د هغهٔ په حافظه کښې زما عکس
محفوظ وه ۔ دا په دے وجه چه مونږ څو څو ځله د مکتب د ملګرتیا نه پس
دیو بل سره لیدلی وو ۔ او زما د اسلامیه کالج د سکول د هاسټل یو بل
ملګرې وه چه کمره ئے زمونږ د کمرے سره نښتے وه ۔ او هغه زمانه
دوه درجے په تعلیم کښې وړاندے وه ۔ خو د هغهٔ کشر ورور زما د سبق ملګرې
وه ۔ نو اتفاق دا ئے وه چه ما سره د هغه کشر ورور یو ځل ملاقی شو.
نو مشر ورور ئے راسره بیا ملاقی نهٔ شو ۔ د کشر نامه وه خالد خان او د
مشر احمد جان ۔ خالد خان په فوځ کښې کرنیل شو او احمد جان برګیډیر ۔ نو
یوه ورځ په تورخم کښې چه جنرل محمد یوسف خان د پاکستان د سفیر په
حیث کابل ته تلو ۔ زهٔ هم ورغلم ځکه چه جنرل یوسف هم زما د سبق
ملګرې وه ۔ نو خالد خان ئے سره د هغے پېښے بیرے او پېژندو کومه چه
هغهٔ ساتلے وه ۔ نو ورسره په څنګ کښې د هغه ورور برګیډیر احمد جان
ولاړ وه چه هغه ئے یعنې او نهٔ پېژندو ۔ نو خالد خان راته ووئیل چه دا
زما ورور احمد جان دې ۔ نو دوے وجے هم داده چه د طالب علمۍ د زمانے
نه پس د احمد جان سره زما لیدل کتل نهٔ دو شوی ۔ او چه د خالد خان
د مونږ ځنې پس ئے بنهٔ په غوږ ورته او کتل نو د هغهٔ د مکانے یو تت
غوندے عکس زما په ذهن کښې را څرګند شو ۔ ګویا زما "انا" د احمد جان
د هلک والي عکس څلویښت پنځه څلویښت کاله پس هم ساتلې وه ۔ که څه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم تر ضرور وه خو د خالد خان عکس ئې هم سم ساتلې وه. صرف د یره پرې سیوا وه. نور هیڅ فرق نه وه.

او اوس خو سائنس هم ورو ورو د روحانی دنیا اعتراف کولو ته مجبوره شوې ده. او دیره لرې نه ده چې سائنس به هم د انسانی انا په قدامت قائل شي. لکه چه ایډنګټن لیکي.

" خو طبیعي سائنسدان د ځیلې خارجي دنیا تصور څه په داسې دول پیش کوي چه موږ ورته په "باقي دنیا" وئیلو مجبور یو. دا تصور د هغه تصور نه بیخي خلاف دې چه زړو سائنسدانانو له خوا به څرګندوه څنګه پیش کیدو. او د هغه له رویه به وئیل کیدل چه صرف هم هغه څیز په حقیقت مبني وي چه ماډل ئې یو انجینئر جوړ کړي."

بیا لیکي.

" اوس طبیعي سائنس چیله دائره تر دې حده محدوده کړې ده چه د هغې پس منظر صرف په روحاني پس منظر د کیدې شي."

معلومه شوه چه سائنس هم د روحانیت ادراک ته رانږدې شوې دې. ځکه چه د انساني طاقت ادراک اوس د سائنس اکثر پخوانۍ نظرئې متزلزل کړې دي. د مادې پخوانۍ تصور هم ختم شوې دې. او اوس ئې دا تعریف نه کوي چه.

" ماده هغه ذی استدار څیز دې چه څوک ئې نه یوه ذره پیدا کولې شي او نه فنا کولې شي."

اوس خو ماده فنا کیږي. په توانائۍ کښې بدله شي او توانائي چه یو صفت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دی یعنی عرض دی - هغه هم فنا کېږی - ځکه چه صفت فعال نه وی -
ایسلو نګهټن یکی -

"موږ اول وئیلی دی چه د سائنس د نوی تحقیق له رویه "حقیقت" د محسوساتو دې دنیا سره متعلق نه دی - ددې اعتراف په وجه د مادیت فلسفه د خپل حقیقت په اعتبار ډېره موده اوشو چه مړه شوې ده - تو اوس د هغې ځائ نوی و فلسفو نیولی دی - چه که نه وی نو وی نو هم هغه د مادیت د فلسفې د نکتهٔ نظر ترجمانی کوی - تو اوس عام میلان دا دی چه د کائنات د شیانو په حقله دا نه شی وئیل چه دا د مادې مظاهر دی - ځکه چه اوس د طبیعاتو په دنیا کښې د مادې هغه وخت اهمیت نه دی پاتې شوی اوس کوشش دا کېږی چه هر څیز ته د فطرت د قوانینو مظهر ووئیل شی - د فطرت د قوانینو نه ددې قسمه قوانین مراد دی لکه د جیومیټری او طبیعاتو قوانین دی - چه سلسله ئې په آخر کښې د ریاضی قوانینو ته اورسېږی -

په ساده الفاظو کښې به دا اووایو چه دا دا قوانین دی چه د انسان د جوړو کړلو قوانینو پخېر ماتېدی نه شی - نن د مادیت نه مراد دا دې قوانین فطرت دی نو اوس اهم سوال دا پیدا کېږی چه آیا د غیب دنیا هم د دغو قوانینو د لاندې چلېږی ؟ او یا د هغې دنیا د پاره څه نور قوانین منطبق کېدی شی موږ د افهام او تفهیم د پاره دا قوانین محض د *symbol* (اشاراتو) په ذریعه په هغې دنیا منطبق کوو -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

> په دې دنیا او هغې دنیا کښې دیو قسمه وحدت ضروري معلومیږي نو
> دا وحدت د فطرت د قوانینو په روئ سره قائم نهٔ دئ."

"انا" هغه حقیقت دئ چه د خپل ژوند دپاره مادې ته محتاج نهٔ دئ بلکه په دې وجه چه ماده په اصل کښې هم ژوند نهٔ لري نو هم د دې "انا" د تعلق په وجه د مادې نه ژوند ظاهریږي یعنې ماده ژوندۍ ښکاري - او هم په دې وجه ماديين د دې قایل دو او دوی هم د هر قایل دي چه ژوند د مادې ذاتي صفت دئ - خو نه. بوس دا خبره تحقیق ته رسیدلې ده چه په ماده کښې د ژوند علامت صرف انا لګېدله دئ - که ماده نهٔ وي نو هم به انا موجوده وه - مثلاً نهٔ سوچ کوم "زهٔ فکر کوم" بغیر د مادې او مکان د تصور نه زهٔ پوهیږم چه زهٔ موجود یم - او فکر کوم - ځکه نو نفس د خپل وجود دپاره د مادې محتاج نهٔ دئ - د تصوریت فلسفه وائي چه -

> " په دنیا کښې صرف یو څیز - حقیقي دئ چه تصور ترې پیدا
> کیږي - نهٔ چه کائنات او د هغې تر ترې پیدا کیږي."

## دویم باب

# د تذکر قوت او حافظه

---

دانسان د تذکر قوت هم په نفسیاتی عجایباتو کښې ډیر اهمیت لري۔ چه زیاتره کلا یې دانساني حافظې سره وي۔ او مونږ ښودلي وو چه په دې حقله به په بل باب کښې په دې خه رڼا غورځوو۔ او خبره هلته پاتې شوې وه چه کله کله زمونږ نه دیو ګران دوست نوم هیر شي۔ او که هر څو مره د تذکر په قوت زور راچوو۔ نه راته یادیږي۔ خو بیا یو داسې وخت هم راشي چه د خه خیال او فکر کولو نه بغیر په خپله د هغه نوم را یاد شي۔ خو د دې سوال د جواب کولو نه اول باید چه مونږ د انساني انا یو څو مرحلو ته اشاره وکړو۔ کوم چه په مخ تیرې شوې دي۔ او لا به وړاندې هم پرې تیریږي۔

د انساني شخصیت حقیقت یوه خلاصه او ابدي "انا" ده۔ او په قول د علامه اقبال "انائې اکبر یا انائې مطلق" چه مونږ ورته حق تعالی هم وایو۔ په خپل ذاتي او وجودي حقیقت کښې ېیخي یوه "انا" ده او د "انا" نه صرف د "انا ګانو" صدور ممکن دئ۔ نو ځکه د کائناتو هر څیز په حقیقت کښې یوه "انا" ده۔ انساني "انا" چه په عرف کښې ورته روح یا نفسِ ناطقه وائي۔

د اَمریه عالم کښې یعنې یو مجرد حقیقت دیٔ - چه په مصداق د " وعلم الآدمَ اشیاء کلّها" د هغهٔ په وجود کښې د ټولو اشیاؤ علم په مجرد حیثیت بالقوه موجود دیٔ - ځکه چه هغه په خارج کښې د انسانٔ اکبر پوټو او د انسانٔ اکبر په داخل کښې عین انسانٔ اکبر ده - او چه انسانٔ اکبر د ھر څیز عالم دیٔ - نو ضروری ده چه انسانٔ اصغر هم د هر څیز بالقوه عالم وی - او هغه دِ ارد مرد په مجرد حیثیت د هر څیز د علم لولو قابلیت اُولری - خو د تکوین په سلسله کښې پکار وو چه هغه درجه په درجه تنزل وکړی - اَو مجرد عقلی حواس بے مثالی اَو د مثالی نه پس مادی او طبیعی شی - نو هغه د عقل د عالم نه د مثال عالم ته راغله - چه د مثال په عالم کښې د هغه د مجرد و عقلی حواسو سره مثالی حواس هم شامل شول - او د لته د اشیاؤ تفصیل اَو پوهه د پخوا په نسبت زیاته روښانه شوه - خو باید چه مونږ د مثالی حواسو په حقله هم څهٔ نه څهٔ اوَایو - اَو هغه دا چه مونږ چه په خوب کښې کوم شیان وینو - یا آوازونه اَورو - نو ښکاره ده چه د خوب په حالت کښې خو زمونږ مادی حواس یعنې معطل وی - او هیڅ کار نهٔ شی کولیٔ - نهٔ په سترګو څهٔ لیدلیٔ شی اَو نهٔ په غوږ د نو څهٔ اوریدلیٔ شی - نو په خوب کښې چه مونږ څهٔ وینو یا اَورو هغه په مثالی حواسو وینو اَو اَورو - مونږ مثالی سامعه، باصره، شامه، ذایقه، او لامسه هم لرو - خو کهٔ په دے نظریه دا اعتراض اوشی لکه چه اکثر مادِ یین یے کوی چه دا هر څهٔ هر څهٔ زمونږ د تجربے پیداوار دي - اَو کوم شیان چه مونږ په وینه نهٔ شو لیدیٔ هغه په خوب کښې هم نهٔ شو لیدیٔ - مثلاً یو مور زادی کوړ هیڅ کله په خوب کښې غږ نهٔ شی اَوریدیٔ - اَو یو مور زادی ړوند هم په خوب کښې څهٔ نهٔ شی لیدیٔ - ګویا کوم کار چه مونږ په وینه ناممکن ګڼو

1197/

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه په خوب کښې ممکن نهٔ شو کېدلې.

دا اعتراض تر ډېره حده خو وزن لري. چه مونږ د حواسو په ذريعه د شيانو ادراک کوو. او بيا هغه شيان زمونږ په ذهن کښې ځائے پيدا کړي. او په وند کوږ دد ے نه محروم وي. خو زمونږ مطلب د انساني اعمالو د ممکن او ناممکن سره نهٔ دې. او هغه دا چه انسان چه د خپلو مادي حواسو په ذريعه د شيانو کوم علم حاصل کړې وي. د هغه نه ورته معلومه شوې وي. چه په دې مادي عالم کښې کوم کار ممکن او کوم ناممکن دې. مثلاً مونږ د خوب په حالت کښې کله کله په فضا کښې الوزو. کهٔ څهٔ هم په ويښه الوتل ناممکن ګڼو دا سے د ير حٔل شوي دي. چه مونږ سره په خوب کښې حيوانات مثلاً آس ياکوم مرغۍ خبرے کوي. حالانکه په ويښه دا راته ناممکن ښکاري. او کهٔ دد ے جواب دا وي چه مونږ هميشه مارغان په هوا کښې وينو چه الوزي هوائي جهازونه وينو. او دا سے نور. نو په دے وجه مونږ هم په خوب کښې د الوتو تصور کولې شو. خو دا اعتراض صحيح نهٔ دې. ځکه چه زمونږ مادي حواس هيڅرے په ويښه کښې الوتل ممکن نهٔ ګڼي. او ماديين د انسان ټول حواس مادي اَو د مادے پيداوار ګڼي. چه د دغو حواسو افعال بايد چه په خوب کښې او ويښه کښې يو شان وي. نو کهٔ چرے د انسان ټول حواس مادي وې. نو په خوب کښې به ئے د الوتو هيڅ تکل نهٔ وو کړې. بلکه څنګه يے چه په ويښه الوتل ناممکن ګڼل د غه شان به ئے په خوب کښې هم کښې هم ناممکن ګڼلې. صفا معلوميږي چه مادي حواس په خوب کښې معطل وي او هيڅ کار نهٔ شي کولې. نو معلومه شوه چه د مادے نه علاوه نور حواس دي چه انسان په الوتو قادر کوي. اَو هغه مثالي حواس کېدے شي.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د افلاطون سره صوفیاء هم د مثالی عالم قایل دی. ځکه نو شاه ولی الله په خپل "خیر کثیر" کښې لیکلی چه

" کهٔ تاسو غواړئ چه د دے خبرے په راز پوهه شئ چه
دیو داسے عالم وجود ضروری دیٔ چه په هغه کښې د خلقو
اعمال محفوظ وی. اے کهٔ هغه عالم مجرد وی یا د مجرد پخیر دی"

په خوب کښې یو سړے د موټر یا ریل په ذریعه کراچۍ ته ځی. هلته لس شل ورځے پاتے کیږی. بیا واپس راځی. خو په دے خوب بے صرف یو څو د قیقے خرچ شوے وی خو چه د خوب نه ویښ شی نو مادی حواس د دے سفر موده او وخت یو څو د قیقے نه بلکه لس شل ورځے متصور کوی. نو کهٔ د انسان ټول حواس مادی وی. نو د انیته و لے مختلف مقرر کوی. ځکه چه حقیقت خو دا وی چه هغه خوب صرف په یو څو د قیقو یا خیر د دے نه په زیات وخت کښې لیدلیٔ شوے وی. خو مادی حواس یے لس شل ورځے تصور کوی. نو ثابته شوه چه انسان څخه د مادی حواسو سره سره مثالی حواس هم شته. انسانی روح یا "انا" چه د یو عالم نه بل عالم ته منتقل کیږی. اول په یو برزخ کښې پاتے کیږی. او انسان چه د عقل د عالم نه د مثال عالم ته راوستیٔ کیده نو اول په یو برزخ کښې پاتے کړیٔ شویٔ وه. د دے د پاره چه د هغه عقلی حواس بنه پاخهٔ شی چه د مثالی حواسو د حاصلیدو په وخت کمزورو او پریشان نهٔ شی. او ورو په ورو په دے برزخ کښې د مثالی حواسو د پرتو سره اشنا شی. ځکه چه دا یقینی ده چه د کومو دوؤ شیانو ترمینځه برزخ وی. نو هغه د واړه شیان د یو بل نه تاثر اخلی. هم د غه شان کوم وخت چه انسان مادی عالم ته رامنتقل کیدو نو نهٔ میاشتے د مور په رحم کښې پاتے شو. او هم د غه د هغه د پاره د مادی عالم[۹]

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د اثراتو سره اشنا شي - اَو چه پيدا شي نو هغه د عقلي او مثالي حواسو سره مادي حواس هم شامل شي - خو دا ياد لرل پکار دي چه څرنګه چه د ديوال د پاسه پلستر يا ليو اُوشي اَو بيا د هغه د پاسه بل ليو اُوشي - نو هغه د رومئ ليو پټ شي - که څۀ هم هغه د ديوال جز وي او د ديوال په تاسيس کښې اهم رول ادا کوي ګويا سره د دے ليو نو هغه يو مکمل ديوال وي -

د غه شان د مادي حواسو د حصول نه پس مثالي اَو عقلي حواس هم پټ شي اَو غلبه د ظاهري مادي حواسو وي - اَو ضروري هم دا سے د ه - ځکه چه اوس هغه په مادي عالم کښې وي - نو بايد چه غلبه يے د مادي حواسو وي - ګني هغه به د مادي علم د حصول نه پاتے راشي - اَو هم دا سے د رسره په مثالي عالم کښې هم شوي دي -

اَوس نو په دے مادي عالم کښې د انساني شعور هم درے درجے شي - چه يو ے ته فوق الشعور - د ويمے ته تحت الشعور او د دريمے ته لاشعور وائي - او په مادي عالم کښې د انسان د علم اَو پوهے سلسله نوره هم زياته شي - يعني د هغه په مخکښې د نړۍ د هر څيز درے حيثيتونه وي - عقلي، مثالي اَو مادي - اَو تر اوسه چه د انسان د اشيأو علم تر کومه حده رسيدلئ وي - د هغه نه يو ځنځير جوړ شوئ وي - يعني د هر څيز علم يا د هر څيز صورت د دے ځنځير ديو ے کړي په حيث وي - دا ځنځير هر وخت د انسان په ذهن کښې روان وي - ځکه چه انساني شعور چه د انساني "انا" بنيادي صفت دئ څرے نۀ اُودۀ کيږي - او د شيانو د ځنځير دا سلسله په خوب اَو بيداري هر حال کښې د هغه په ذهن کښې روانه وي - اَو چه کومه کړي د حافظے په مخکښې تيريږي د هغے عکس په حافظه پريوزي - او د هغے کړئ تعلق چه د کوم څيز سره وي - د هغه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څیز صورت په حافظه کښې ځائے پیدا کوی۔ د دے باید د حافظے د قوت په حقله لږه غورنه ے څیړنه اوشی۔ ځکه چه دا تذکر د قوت سره ډیر مهم تعلق لری۔ او د علم د حصول په ترځ کښې د حافظے د قوت اهمیت ډیر زیات دے۔

مادیین وائی چه انسان کټ مټ یو مادی ځناور دے۔ او د هغه په وجود کښې هیڅ غیر مادی عنصر موجود نه دے۔ که څه هم د موجوده زمانے په پوهانو کښې اکثر د دے په خلاف هم شته یعنی په انسانی وجود کښې د یو غیر فانی عنصر قایل دی۔ خو که مونږ د مادیینو دا دعویٰ تسلیم هم کړو۔ او د لږ ساعت دپاره ورسره دا اوهم منو چه انسان یعنې یو مادی ژوے دے۔ نو سوال دا دے چه د مادے خو دا خاصه ده چه هغه هره لحظه په تغیر او تحول کښې ده۔ کوم چه انسان ماشوم وی۔ هلک شی۔ ځوان شی، نیم زالے شی، بوډا شی او مړ شی۔ نو بنکاره ده چه که په ماده کښې تغیر نه راتلے نو انسان به هیڅ پیدا شوے نه وه۔ بلکه کائنات به هم په وجود کښې نه وه راغلے۔ ځکه چه ماده به د خپل لطافت نه کثافت او انجماد ته نه راتله نو هیڅ د تخلیقی عمل به نه کیدو۔ او په دے د نړی ټول پوهان قایل دي چه ماده بدلیږی۔ او چه ماده بدلیږی نو بنکاره ده چه د مادے نه جوړ شوي شیان هم بدل شی۔ او چه انسان یو مادی ژوے دے نو باید چه د هغه قواء هم مادی وی۔ او حواس یے هم د مادیت ترجمان وی۔ نو سوال پیدا کیږی، څرنګه چه مونږ ویلی هم دی چه د څو کلونه پس چه یو انسان د بل سره ویني۔ و لے یے پیژنی۔

جسم او بدن ده ساره او ډور والے لری۔ او په جسم چه یو نقش جوړ شی یا ځلے په ځائے پر نقشونه جوړ شی نو د دے نه زیات نقشونه نه شی ځائیولے۔ که چرے د هغو نقشونو دپاسه نور جوړ کړے شی نو ټول به د یو بل سره

داسې ګډ ور شي چه د ټولو هیئت بدل شي۔ اَو په دې سره به یو نقش هم په خپل اصلي صورت پاتې نهٔ شي۔ نو کهٔ چرې د حافظې حاسه مادي وئ اَو د اشیاءُ عکسونه پرې پرله پسې پریوتئ۔ نو هغه ټول عکسونه به داسې د یو بل سره ګډ شوي وئ۔ چه بیا به ځان ځان ته یو عکس هم د پېژندلو ور پاتې نهٔ وه۔ خو مونږ ګورو چه د انسان په حافظه کښې بې شماره د شیانو عکسونه موجود وي۔ اَو یو عکس هم د بل سره نهٔ ګډیږي۔ اَو په بل صورت کهٔ حافظه مادي وئ نو لازمي وه چه د هغې د پاسه کوم نقشونه جوړ وئ او بیا مونږ د خپل منشا په مطابق یو عکس ذهن ته را وستې نو د یو وخت اولا حاصل کړاوُ سره به مخ شوي وي۔ لیکن خبره داسې نهٔ ده او مونږ ګورو چه کوم عکس چه زمونږ خوښه وي۔ هغه را یاد کړو۔ اَو ذهن ته یې مخامخ کړو۔ په دې کښې د ماضي او د حال په حاصلو شوو نقشونو کښې هیڅ فرق نهٔ پرېوزي ځکه چه دا نقشونه د یو بل سره نهٔ ګډیږي۔ البته د تذکر قوت چه کله کله د یو خاص نقش په حصول کښې د لږ وخت د پاره پاتې راشي نو هغه جدا خبره ده۔ چه بیان یې اَوس را تلونکې دئ مثلاً په اضطراري حالت کښې زمونږ یو خاص عکس ته متوجه کیدل اُو د هغهٔ ذهن ته نهٔ را تلل نو معلومه شوه چه حافظه مادي څیز نهٔ دئ اَو نه د مادي څیز دا قابلیت شته چه نقشونه حاصل کړي اَو په حفاظت یې هم اُوساتي۔

ذکر د دې خبرې وه چه د انسان په ذهن کښې د اشیاءُ د عکسونو سلسله د یو ځنځیر په صورت کښې هر وخت روانه وي۔ تاسو به محسوس کړي وي چه کوم وخت مونږ د یو اهم کار په حقله فکر کوؤ۔ نو پرله پسې هم هغه عکسونه مخې ته راځي د کومو تعلق چه د هغه کار سره وي۔ مثلاً یو طالبعلم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دئ چه صباحه به په امتحان کښې شاملیږي نو دهغه په ذهن کښې به دخیالاتو سلسله د امتحان په حقله روانه وي- اَود اشیاؤ دخُنځیرپه سلسله کښې به صرف دعکسونوهغه کړي ذهن ته راځي کوم چه دهغه د امتحان سره تعلق لري-

اُوس اُوګورئ په دے وخت کښې دهغه یو دوست راغلو اَو ددے طالبعلم نه یے نوم هیرشو- ډیرکوشش کوي خونهُ ورته یادیږي- نو ددے وجه داده چه په دے وخت کښې چه د طالبعلم په ذهن کښې دخیالاتوکومه سلسله روانه ده هغه یوازے د امتحان د لوازموسره تعلق لري- اوپه دے سلسله کښې دهغه د دوست دنوم کړي ډیره لرے اَو بے تعلقه ده- اَود طالب علم د تنذکر قوت که څهٔ هم کوشش کوي چه دا موجوده د فکر سلسله بنده کړي اَو هغه سلسله ذهن ته راولي په کومه کښې چه دهغه ددے دوست دنوم کړي ده خو کامیابیږي نه- وجه یے دا وي چه شعور یے د امتحان لوازم ضروري ګڼي- اَو هم هغه دخیالونو د عکسونو کړي یے په ذهن سلطے وي- کوم چه د امتحان سره تعلق لري- خو چه کوم وخت د امتحان دا فکرختم شي اَو ذهن آزاد شي نو بیا په خپله دهغه د دوست نوم ورته یاد شي اَو په دے کښې دَ تنذکر قوت هم څهٔ کراؤ اُو نهٔ کړي-

تر اُوسه چه د نفسیاتو پوهانو دا سوال را اُوچت کړئ دئ- څه صحیح جوا ب یے نه دئ کړئ- اَو لا نمونږ د نظریه نهٔ دئ تیرشوئ- اَن تر دے چه پخوانو حُکما ... دے سلسله کښې په زړهٔ پورے څیړ نے نهٔ دي کړے- بو علي سینا اَو فیثا غورث او دا ے نور هم په دے کښې حیران پاتے شوي دي- لکه چه فخرالدین رازی-

ددے وجه داده چه د انساني نفسیاتو علم اَو پوهه دَ انسان د ذهني

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ارتقاء سره ورو ورو حاصله شوې ده. او په هره زمانه کښې دیو خاص
حد نه وړاندې نه ده تیره شوې. خو د دے دا مطلب نه دی چه کونسے
ددے عصر پوهان د پخوانو نه زیاته پوهه لري. بلکه حقیقت دا دی چه
ددے زمانے پوهانو د پخوانۍ زمانے د پوهانو په بنا کړې دیوالونو سے پښے
وهلي دي. او مثال یے دا دے اوګڼئ لکه په یوه زمانه کښې د پښو او بلو توپک
جوړ شوي وو. بیا یے لږه نوره ترقي اوکړه چه د شپیلۍ له خوا به ډکیدل
نیپل د پاره یے ورله پټاخه جوړه کړه. او بیا د دے د پاره کارتوس جوړ شول.
ماشه یے ورله جوړه کړه. چه کوښین توپک به بلل کیدل. اوس تر دے چه
اوس هم په هغو پخوانو بنیادونو توپک د کوم ځائے نه کوم ځائے ته
اورسیدل.

بیخي هم د غه مثال د نفسیاتي پوهې دی. چه د انساني ذهن د ارتقا
سره یے ترقي کړې ده. او د دے حد ته رارسیدلے ده. او خدائے ازده چه به
راتلونکو وختونو کښې به دا نفسیاتي پوهه کوم حد ته رسي. اوس خو هغه
د چا خبره انسان په سپوږمۍ پورې هم نه ده رسیدلے. دلته باید فکر اوکړو
چه که د پښو بلو توپک ابتدائي جوړ شوي توپک وو. او د هغو نه
پخوا توپک نه وو نو د هغه د جوړولو تصور څرنګه پیدا شو. ځکه چه
انساني عقل د خواوشا د شیانو د مشاهدے نه بغیر هیڅ کله نه شي
جوړولے. او چه مونږ د شیانو د ارتقاء قایل یو. نو باید چه د هغې د پاره
په مادي عالم کښې دیو بنیادي تصور قایل شو. او دا هم یوه لا حاصله خبره ده.
چه مونږ د ارتقاء حرکت غیر مختتم اوګڼو. ځکه چه که د ارتقاء عمل د نقص
نه د ترقي په لور وي. نو په هره نقطه به نقص موجود وي. نو د ارتقا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سوال چرته پیدا کیدئ شی - ځکه چه کهٔ دا حقیقت دی چه د ارتقا سلسله ختم
کیږی نه - نو باید چه په قول د ځینو پوهانو دَ اَوَنے پا ئے جرے بناخونه
پڼیو د اتلو نکی وخت تول میوه یا گلونه شی ځکه چه دَ اَونے د ارتقا غائی
علت په ظاهر کښے هم دغه دئ چه گلونه او میوه پیدا کړی اَو کهٔ د دغه نه پس
هم ارتقا هم د اسے روانه وی - نو کیدئ شی چه دا میوه او گلونه هم ځهٔ
بل څیز اَو د اسے ځهٔ ور پسے.

کهٔ د دے په جواب کښے دا اَووائی چه دَ کائنات د شیانو د دے ارتقا سره
سره به انسان هم ارتقا کوی - اَو په هره مرحله به شیان هم د اسے وی چه
دَ هغه دَ استعمال قابل وی. نو بیا دا سوال پیدا کیږی چه کهٔ ارتقا غیر
مختتم حرکت وی - نو همیشه به نقص موجود وی - اَو دا یو د اسے تسلسل اَو
دور دئ چه انسانی علم اَو عقل یے قایل نهٔ دی.

نو په نړی کښے چه انسان هر ابتدائی نوئ څیز جوړ کړئ دئ - یعنی
هغه څیز چه ابتدائی نمونے یے موجود نهٔ وه - ځکه چه دا لازمی ده چه
په ابتدا کښے به د هیڅ نوی څیز دَ پاره نمونه موجود نهٔ وه - نو د هغه
نوی څیز تصور یے له کومه پیدا شو د دے نه معلومه شوه چه انسانی
انا په بنیادی توګه درے عالم دی - نو اَوس خبره داده چه څرنګه چه
مونږ ورد ستو ویلی دی - انسان عقلی، مثالی، اَو مادی حواس لری - اَو هم
په دے وجه د هغه د شعور درجے هم درے دی - په عقلی حواسو کښے چه
د شیانو کوم صورت وه - هغه مجرد وه - چه مثالی حواسو ته راغے مثالی شو -
اَو د لته د هر څیز صورت د دے قابل شو چه په مادی عالم کښے د ظاهریدو
قابل شی - ځکه چه عالم مثالی د مادی اَو عقلی عالم ترمینځه برزخ دئ - چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کهٔ څهٔ هم د مثالي عالم په شیانو کښې هم تر دیره حده مجرّد موجود دی۔ خو د مادی عالم امتزاج هم لري۔ ځکه چه مثالي عالم د دې قابل وی چه د مادی او عقلي عالم عکسونه یو بل ته منتقل کړي شي۔ نو په مثالي عالم کښې چه دیو څیز کوم عکس وی۔ نو هغه د انسان په مثالي حواسو کښې د عکس په حیث را منتقل شي۔ او په دې وخت کښې چه د انسان مادی حواس دیر په غلبه کښې وی۔ نو د خپلو مثالي حواسونه چه د عالمِ مثال له خوا هغه را منتقل شوي عکس وا خلي۔ نو په خپل قالب کښې وا چوي۔ او څرنګه یې چه محسوس کړي وی۔ هغه شان یې جوړ کړي۔ او چونکه دا تصور یې مکمل نهٔ وی۔ یعنې هغه شان مکمل نهٔ وی څرنګه چه په مثالي عالم کښې په مثالي حواسو مُدرک وی۔ نو بیا ورو ورو څومره څومره چه انساني حواس ترقي کوي۔ هومره هومره د هغه څیز عکس ورو ورو د تکمیل په لور روان وی۔ او آخر هغه حد ته اُورسي۔ څرنګه چه په مثالي عالم کښې وی۔

افلاطون د دې نظریې قائل وه۔ صوفیاء هم د دې قایل دی شاه ولی الله هم د دې تائید کړی دیٔ۔ او مونږ هم عقیده لرو چه عالمِ مثال یو حقیقت دیٔ۔ انائے اصغر د انائے اکبر نه صادر شوی دیٔ۔ او د انائے اکبر علم بالقوه په هغه کښې راغلی دی۔ او ځکه نو د انائے اصغر په وجود کښې هغه ټول علم بالقوه موجود دیٔ چه د کائناتی شیانو سره متعلق دی۔ او هغه د "انا" په عقلي حواس کښې په مجرد دول موجود دیٔ۔ او کوم وخت چه په مادی عالم کښې دا وخت راغي چه دیوې دا سې و یلې ضرورت شي۔ مثلاً ټوپک چه بیان یې وړوستو شوې دیٔ۔ نو انساني "انا" د مثالي حواسو په ذریعه د مثالي عالم د برزخ په واسطه د عقلي حواسو نه هم هغه د ټوپک عکس واخلي۔ او د هغه عکس

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نامکمل وي او د پښو بکر د توپک په حیث وي - چه تر اوسه انساني مادي
حواس د ارتقا په داسې مرحله کښې وي چه د دې پښو بکر د توپک نه نیات
عکس نه شي قبولولئ - او بیا چه څومره ترقي کوي - د توپک جوړولو پوهه
ئې هم خپه وړاندې روانه وي - اَن چه توپک هغه معیاري حد ته ورسیږي
کوم چه د انساني "انا په ثمین" کښې په حقیقي طور موجود دی -

او نه شو ویلی چه د دې نه وړاندې به کوم حد ته رسي - د اشیاؤ د حقیقي
وجود په حقله باید دو ویلی شي چه دیر اکثر داسې دي چه د یوڅو افعالو
او حرکاتو د مجموعي تصور نه د هغو ادراک او احساس پیدا کیږي مثلاً عدل
او ظلم - دیو جج په حکم د قتل یو مجرم ته د مرګ سزا ورکړې شي - او لا یو انسان
پاڅي بل انسان بې تصوره قتل کړي - د دواړو افعالو صورت یو دئ - لیکن
یو ته عدل او بل ته ظلم ویلی شي - دا د عدل او ظلم احساس او ادراک
انساني "انا" کوي - نو سوال دا دی چه د انساني انا د دغه احساس او ادراک یو
اجتماعي صورت یا تصور شته که نه؟ یقیناً شته نو معلومه شوه چه ظلم او
عدل هم ځان ځان ته جدا مجرد وجود لري او هم د غه حال د نورو اقدارو
او شیانو دئ - د غه شان هر نوې څیز په ابتدا کښې د عالم مثال نه د انسان
مثالي حواسو ته را منتقل کیږي - او بیا یې مادي حواس په خپل قالب کښې راوړي
او ورو ورو هغه څیز خپل حقیقي انفرادیت ته رسي - کوم چه د عقل د
عالم نه د مثال عالم ته منتقل شوئ دي - او هم د دې پر تو ته الهام هم وائي -
نو که چرې دا الهام نه وی نو انسان به په مادي عالم کښې هیڅ نوې څیز
نه وه جوړ کړئ - او تر اوسه به ئې د ځناورو ژوند کاوه - او انسان چه
د عامو ځناورو نه مخکښې شو - نو دا هم د هغې انساني "انا" په وجه کومه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه ابدی او غیر فانی او د پوهې سرچینه ده خبره د تذکر قوت په حقله روانه وه - او د کوم ځای نه کوم ځای ته ورسید و سره ځکه مادیین چه د علم حصول په تجربه د منلو قایل دی - باید فکر وکړی چه که په انسانی وجود کښې یو غیر فانی عنصر نه وی - نو د تجربه به کوله چا؟ د کالونو کالونو عکسونه به په حافظه کښې چا ساتل - او بیا به د خپل مقصدی عکس لټون چا کولو؟ بیا به په مختلفو عکسونو کښې امتیاز څرنګه او چا کولو؟ چا به د زید او بکر په عکس کښې امتیاز کولو - او بیا باید فکر وکړی چه هغه کوم فعال عنصر دی چه د حافظې په دنیا کښې یواځې د خپل مقصد عکس را برسیره کوی - او هغه کوم عنصر دی چه انسان یې د نورو حیواناتو نه په بره بوت - که انسان هم د نورو حیواناتو غوندې مادی حیوان وی - نو د مادیت د قانون په خلاف څرنګه تلی شو - ځکه چه مونږ ګورو چه د مادی کائنات هر مادی جز و مجبور دی - چه د مادی کائنات د قانون تابع وی - او چرې د دې قانون په خلاف حرکت نه شی کولی لیکن یواځې انسان هغه ذوی دی - چه نه یواځې دا چه د مادی قانون په خلاف عمل کولی شی - بلکه په کائنات کښې د کائنات د قانون په خلاف تصرف هم کولی شی - او مونږ وینو چه هغه ورځ په ورځ د کائنات په تسخیر کولو کښې مخ په بره روان دی - هغه فطری او جبلی تقاضو ته غوندې واچولی شی هیڅ حیوان په خپل وجود کښې کمی زیاتی یا ترمیم وغیره نه شی کولی - انسان یې کولی شی - هیڅ حیوان د کلیاتو ادراک نه شی کولی - او نه د ځان د پاره د مستقبل پروګرام تیارولی شی - لیکن انسان په دې هر څه قادر دی - نو آخر عقل مجبور دی چه د انسان په وجود کښې د یو داسې عنصر قایل شی چه هغه په حیواناتو کښې موجود نه دی - او هم د دې عنصر په وجه انسان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په کائنات کښې تصرف کوی. او ورځ په ورځ د کائنات په تسخیر کښې مخ په بره روان دی. او هم د غه عنصر دی چه د ملوی جسم نه د مادی کائنات حقیقتونه معلوموی. که څه هم هغه په ابتداء کښې د مادی جبلتونو تابع وی. ځکه چه که متابعت یې اونه کړی د هغو علم نه شی حاصلولې.

او چه علم یې حاصل نه کړی په هغو تسلط نه شی حاصلولې. او چه تسلط قائم نه کړی نو دے حاصل شوی علم ته د خپلے مدعا په مطابق ربط نه شی ورکولې. او چه په دے بریالے شی نو بیا د مادی جبلتونو د غو بندتو نه آزاد او خپل ولکے شی. او اوس د هغه وجودی آئینه د هر د ول صحیح عکس د َ اخستو قابله شی. هغه د الهام په راز پوهه شی. هغه ته د صحیح کشف اندازه معلومه شی. او اوس د احال وی چه د هغه په ذهن کښې چه د اشیاؤ د ښکلیو کومه سلسله روانه وی. هغه یعنی هغه ته مخامخ وی. د هغه د ذهن په آئینه د ټول کائنات پرتو ونه پریوزی. او که هغه په یو خاص کار کښې مشغول نه وی. نو ځکه یې توجه بل خواته نه وی. د دماغی پرتو اندازه کولې شی ځکه چه هغه ته معلومه وی. چه اوس په موجوده وخت کښې د هغه په ذهن کښې د اشیاؤ کومه سلسله روانه ده. او مونږ د ټیلی دی چه د اشیاؤ په هره سلسله کښې د اشیاؤ هم هغه کړی پر له پسې راځی. کومے چه د یو بل سره تعلق لری. لکه د هلک د امتحان د تیاری په موقع چه مونږ یے ذکر کړے دے. که یوه داسے کړی راشی چه د موجوده سلسلے سره یے تعلق نه وی نو هغه پوهه شی چه دا د َ خارج نه را منعکس شوه. او هم دے ته کشف وائی. هم د غه حال د خوب په وخت کښې هم وی. ځکه چه د اشیاؤ سلسله په خوب کښې هم روانه وی. او د خوب په عالم کښې هم چه کوم پرتو د خپلو اشیاؤ د سلسلے نه خلاف راشی. د بیداریدو نه پس

خوب کتونکي ته معلومیږي او چه په دے حقله کوم انسان ډیر ترقي یافته دي - هغه د خپلو تولو خوبونو په ماهیت پوهه وي - چه کوم خوب وویني پرے پوهیږي چه دا د هغه خپل خیال وه - کۀ د بهرنه راغلی وه - فرائیډ او د هغه هم خیال دانشوړان چه خوبونه د انسان د خپلو لاشعوړي او تحت الشعوړي خیالاتو پیداوار ګڼي - نو د دے د جمله دا چه هغوئ انساني وجود کټ مټ مادي ګڼي - په هغه کښې د کوم غیر مادي عنصر قایل نۀ دي - او بیا دا هم چه د انساني شخصیت محوړ یوازے جنس ګڼي - او وائي چه باید انسان جنسي جذبه په ضبط کښې اُونه ساتي - که نه وي نو هغه به په انساني وجود کښې د ډول ډول امراضو شکل پیدا کړي - خو سوال دا دے چه دا جنسي جذبه په ضابطه کښې کوم عنصر راولي - هغه عنصر باید چه مادي نۀ وي - کوم چه د مادي قواؤ تحریک په ضابطه کښې راوستے شي - او بیا دا چه هغه عنصر چه جنسي جذبه په ضابطه کښې راوستے شي - نو دا قدرت به دے نۀ لري چه جنس د امراضو په صوړت کښې هم متشکل کیدو ته پرے نۀ ږدي - زمونږ دا مشاهده ده چه ځنے صوفیاء هر و د ابتدا نه مجرد وي - او جنسي جذبه یے په ضابطه کښې ساتلے وي - خو د خپلے زمانے د اکثرو خلقو نه یے هم عمر زیات دي او هم یے صحتونه د رشک قابل وي -

## تناسخ یا آواګون

په دے نفسیاتي ارتقا کښې وخت په وخت انسان ډول ډول عقاید اختیار کړي دي - او په نوعِ بشر کښې چه کوم افراد د ذهني صلاحیتونو په حقله شته،

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ری. هغوی په دې منزل کښې په یو مقام نه دي اودریدلی. هغوی د روایتي
حق پرستی نه چه کوم وخت د تحقیق د کوتې را وتلی دی. نو په دې دوران
کښې یې د حق تعالیٰ د وجود نه هم انکار کړی دی. او د خپل عقلی رجحان نه خلاف
یې هیڅ نظریې ته غاړه نه ده ایښې. او چه د لته یې فطری استعداد د حد ته
رسیدلی دی نو هم په دې انکار کښې پاتې شوی دی.

او تر څو نه یې د الحاد نظریه قبوله کړې ده. او تل په غیر مطمئن حالت او
پریشانی کښې پاتې شوی دی. ځکه چه انسانی انا یې د وړاندې تګ مخه کوی
خو د هغوی مادی استعداد د دې اجازه نه ورکوی. نو تل پریشان وی. خو
څنې انسانان داسې هم وی. چه د هغوی عقل د الحاد نظریه رد کړی او د خدای
د وجود رڼا محسوس کړی. ځکه چه دا هم د عقل خاصه ده چه هغه د خپلو نظریاتو
تردید هم پخپله کوی. او دا ځکه چه هغه د حواسو نه علاوه د علم بله هیڅ
ذریعه نه لری. خو په انسانی وجود کښې چه کوم لافانی عنصر موجود دی چه
خلق ورته روح، نفس ناطقه، یا انسانی "انا" وائی. هغه د الحاد د تیرو نه
انسان وړاندې تیر کړی. او کوم وخت چه انسانی عقل یو داسې عالم محسوس
کړی چه پخوا یې نه وی محسوس کړی. نو فوراً یې تسلیم کړی ځکه چه د خپلې
مشاهدې په خلاف رائې ورکول د عقل د طبیعت نه خلاف دي عقل یو چراغ دی چه
رڼا یې په کوم څیز پریوزی هغه څیز به ارومرو ظاهریږی او د لته ورومبی
ځل د انسان عقل ته د تناسخ یا آواګون تصور راشی. د تناسخ د منونکو عقیده
داده چه خدای عادل دی. او بیا چه هغوی څنې داسې خلقو ته وګوری چه په
ګړاؤ او تکلیف مبتلا دی یا مورزادی ړانده او کاڼه ګونګ او شل وی. نو دا
خیال یې پیدا شی چه الله تعالیٰ خو عادل دی نو که دې خلقو څه قصور نه دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړئ۔ نو ولے به د موږ دَ شکم نه داسے پاتے کانه گوره او شل پیدا کیدئ۔ نو معلومه شوه چه د دے نه مخوا به بل ډول کښے به هغوئ د چا ستړگے پرندے کړے وے۔ اَو یا به یے په د هلو د هلو د چانه گوره یا شلجوږ کړئ وه۔ نو ځکه په دے موجوده ژوند کښے هغوئ خدائے په دے صورت پیدا کړل۔

زموږ په مخکښے فی الحال د تناسخ هغه عقاید اَو د هغو تعبیرونه ده کوم چه دَ ویدک آریه دهرم یا مذهب سره تعلق لری۔ اَو د دے مذهب په رُو دے سره روح ماده اَو خدائے درے واړه قدیم او غیر مخلوق دی۔ روح او ماده خدائے نه دي پیدا کړی۔ بلکه څرنګه چه خدائے ځپله په خپل ذات کښے د همیشه راسے موجود دئ هم دغه شان روح او ماده هم موجود دی۔ خو دا حقیقت دئ چه هم زور آور په کمزور د حکومت کوی۔ اَو خدائے چه د روح او مادے د دواړو نه په صفاتی او وجودی لحاظ قوی اَو زور آور دے۔ نو روح او ماده یے دواړه را اُونیول او ترکیب یے ورکړ۔ روح گوډ دئ او ماده گوډ یا ړنده ده۔ روح یے په ماده سپور کړ۔ ماده کار کوی اَو روح ورته د کار کولو لار ښئ۔

خو حیرانی دا ده چه یو طرف خو هغوئ د تناسخ نظریه د دے د پاره منی چه خدائے عادل ثابت شی۔ اَو دا ورته هم و ظلم نه ښکاری چه خدائے روح اَو ماده په جبر را اُونیول او ترکیب یے ورکړ۔ ځکه چه دا حقیقت دئ چه هیڅ څیز د خپلواکئ د جذبے په خلاف دَ بل د لاندے قید اَو غلامئ ته غاړه نه ږدی۔

هغوئ د دے ترکیبی اجسامو حیثیت دوه قسمه گڼی۔ چه یو ته "کرم جونی" او بل ته "بهوگ جونی" وائی۔ کرم په هندی کښے عمل ته وائی۔ اَو بهوگ د عمل جزا پوره کولو ته وائی۔ کوم اجسام چه عمل کوی هغه کرم جونی دي۔ جون قالبونو ته وائی۔ اَو چه په کوم قالب کښے دَ اعمالو جزا سزا موی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه ته "بهوګ جوني" وائي په دے دواړو قالبونو کښے انساني قالب "کرم جوني" وي او نور ټول "بهوګ جوني". اَو دَ هغوی دا عقیده ده چه په انساني جسم کښے چه روح کومه ګناه وکړی. د مرګ نه پس دیو ډنګر، چړي، پیشو یا د بل څناور قالب ته منتقل شي. کوم چه په رحم یا اګی کښے د هغه د پاره تیار کړے شوے وي. یعني بهوګ جوني ته منتقل شي. او چه کله هلته بیا مړ شي نو واپس کرم جوني یعني انساني بدن ته راشي. لکه چه یو قیدی د قید د میعاد دَ ختم کولو نه پس خپل کورته راځي. چه تپوس تړ د کړے شي چه یو انسان چه ګناه وکړی. مثلاً یو چواړے چه د خلقو ګندګي پاکوی. تل ګناه هم کوی. اَو هغه مړ شي نو هغه به دیو ډنګر په قالب کښے بیا پیدا شي. او هلته بیا مړ شي نو بیا به هم هغه د چواړی جسم ته راځي. ځکه چه "کرم جوني" یے هم هغه د چواړی دے. نو دا ظلم نه شو؟ پکار وو چه دیو خوشحال انسان جسم ته راغلے وي. یا دا چه ډیر ماشومان په ماشوم توب کښے اَو ځنے د پیدا کیدو سره سم دستي مړه کیږی. نو دا ماشومان چه هر قالب ته لاړ شي. لاړ به شي. خو چه هلته خپل میعاد پوره کړی اَو بیا انساني جسم ته راشي یعني کرم جوني ته. نو بیا به هم دَ ماشوم توب په حال کښے مری او یا دا چه د پیدا کید وسره به مری. ګویا همدا رنګے به د ماشوم توب اَو طفلی په حالت کښے مری اَو پیدا کیږی. نو د خدائے د دے ظلم څه علاج دے؟ خیر. دا به جمله معترضه اُوګڼو. زمونږ مدعا د تناسخ تردید نه دے. بلکه د انساني نفسیاتو د ارتقا په تړخ کښے خبرے کول دی.

د نړۍ د ډیرو پوهانو اَو عالمانو هم د تناسخ په صداقت عقیده پاتے شوے ده. اَو اوس هم ډیر په دے عقیده موجود دی. د دے عقیدے د تصوّ

سره واقعات هم راڅي پېښېږي چه د دې نظريې په صداقت يې يقين پوخ شي
ځکه په راقم الحروف هم دا واقعات تېر شوي دي. مثلاً ما به چه کله يو
داسې مقام اُو ليد چه ځواب مې نه وه ليدلئ. خو هغه به را ته اشنا اُو
ليدلئ کتلئ ښکاره شو. اُو د ليد و سره به زما په زړهٔ کښې د خوشحالئ اُو
فرحت يوه چپه راپورته شوه نو زما به خيال پيدا شو چه زهٔ په تېر شوي
ځواني ژوند کښې دلته اوسيدلئ يم. او دا سلسله چه څومره اوږېدله دَ
تناسخ په نظريه به زما عقيده ټينګېدله. اَو بيا چه ما دې ته اُوکتل چه د نړۍ
ډېر لوئ لوئ شخصيتونه د دې نظريې قايل او داعيان وو لکه فيثاغورث
افلاطون. کرشن او داسې نور، نو په دې نظريه به زما خيال د يقين حد ته
اورسېدو. خو آخر يو داسې وخت هم راغې چه د سلوک او مجاهدې په
دوران کښې زما فکر د تذکو قوت ته منتقل شو. ځکه چه په سلوک کښې د سالک
زياتره کار د خپل داخليت سره وي. اُو هغه وخت په وخت د مختلفو خوا
او جذباتو سره مشت اُو ګريوان وي. اُو هغه وخت په وخت د جذباتو اَو
خواهشاتو تجزيه کوي. نو ما ته په دې دوران کښې معلومه شوه چه انسان
چه څهٔ واوري. يا يې ويني هغه تحت الشعور ته پريوزي او بيا هېڅکله
نهٔ فنا کېږي. دا جدا خبره ده چه کوم حالات يې ډېر متاثر کړي هغه يې
تر ډېره وخته ياد وي. او چه کوم يې ډېر متاثر نهٔ کړي نو هغه يې هېرش
خو د دې دا مطلب نهٔ دئ چه هېر شي نو ختم شي. هغه يې په تحت الشعو
کښې موجود دي. او چه ډېره موده پرې تېره شي نو لاشعور ته لاړ شي اُو د انسا
د شخصيت په رده کښې شامل شي. او هم د دې غير شعوري نقوشو نه د انسان
شخصيت جوړ شي. چه په دغو نقوشو کښې څهٔ خو هغه نقوش وي کوم يې چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پلرونو نیکونو نه د توارث د قانون سره سم د هغه وجود ته را منتقل شوی وی۔ او څهٔ د هر انسان خپل ذاتي او فطري اوصاف وی چه بالقوه په هغه کښې موجود وی۔ او څهٔ ورسره د خپل ماحول نه شامل شوی وی۔

دا زمونږ مشاهده ده چه د څنې کسانو سره زمونږ روغه وی۔ او د څنو سره نه۔ په ظاهر کښې یې هیڅ سبب هم نهٔ وی۔ ځکه چه نهٔ دوستی وی نهٔ دښمنی۔ نو وجه یې دا ده چه زمونږ چه کوم لاشعوری شخصیت دے چه هغه ته بل شخصیت مخامخ شی۔ نو لاخو د دواړو ترمینځه د شخصیت توافق محسوس شی او و لا تخالف او هم دغه نه د یو بل په مقابله د روغې یا ناروغې تاثر پیدا شی۔ ځکه چه د یو بل لاشعوری شخصیت داسے جوړ وی چه د یو بل د پاره بنه پیرزوینه نهٔ لری۔ خو کله کله دا تاثر بر سیرن هم وی۔ او د څهٔ مودے نه پس یې صحیح حال معلومیږی۔ وجه یې دا وی چه کوم صفات د دواړو ترمینځه مشترک وی، د هغو د پاسه په لاشعور کښې څهٔ مخالف صفات وی چه هغه پټ نه را بر سیره وی۔ او په وړومبی ملاقات کښې هم د هغو مخالفو صفاتو تحریک غالب وی۔ چه ورو ورو ملاقاتونه کیږی۔ نو هغه موافق صفات هم کله کله را بر سیره شی۔ نو هغه تخالف ورک شی۔

خبره داسے روانه وه چه څنې مقامات چه مونږ وینو او په مونږ څهٔ خاص اثر مرتب نهٔ شی۔ نو هغه هیر شی خو فنا کیږی نه بلکه زمونږ په تحت الشعور کښې موجود وی۔ او چه انسانی "انا" یو ځیز هیر کړی نو د حافظے قوت هم د هغه په ډیر محفوظ سائلو کښې زیاد اُ دکړاوُ نهٔ کوی۔ او په کامل ډول یې حافظه د خپلے دنیا نه خارج کولئی هم نهٔ شی۔ ځکه چه حافظه چه د کوم ځیز د هیرولو تکل کوی یا په نورو الفاظو چه انسانی انا د کوم ځیز د هیرولو کوشش کوی۔ نو دا د هیرولو تکل ورته هغه ځیز لا زیات را یاد دی۔ گویا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په حافظه کښې پراتهٔ نقوش هم د خپلې هستې د قائم ساتلو دپاره مجاهده کوی. ځکه چه کوم وخت يو څيز حافظې ته راشی په مرحل کښې يو ځائے پيدا کوی. خو هر کله چه مونږ يو داسے مقام ودينو چه هغه راته اشنا اوليدلې کتلې ښکاره شی. نو دے وجه داوی چه مونږ پخوا يو داسے مقام ليدلې وه چه دغے موجود مقام په څير وه. ياد ے ته ورته وه. او په حافظه کښې که څه هم د هغه پخوانی مقام نقش تت شوی وه. ځکه چه انسانی انايے د قائم ساتلو ضرورت نهٔ وه کښلی. ځکه حافظے هم ځلانده او روښانه نهٔ وه ساتلی. خو د هغه څه نه څه وجود او د هغه د موجوديت تاثر باقی وه. لکه څرنګه چه تاسو به ورو ستو صفحو کښے د افلاطون قول لوستے دی. چه ديو څيز ديا ديدو نه نور د ير څيزونه يادېږی. او چه دا مقام انسان وګوری نو حافظه هم د هغه پخوانی مقام يو تت غوندے نقش را بر سيره کړی. وجه يے داوی چه هر پرتو هم د هغه پرتو سره متحد کيږی کوم چه دَ هغه پڅير يا د هغه سره مشابهت لری. لکه د انسانی آواز ونو په حقله چه ورو ستو څير نه شو ےده. چه هر آواز خپل انفراديت باقی ساتی. او د هر انسان دَ اعمالو پر تونه هم د هغه انسان د مثالی وجود سره يو ځائے کيږی. نو چه کوم وخت مونږ يو داسے مقام ودينو چه هغه مقام ته ورته وی کوم چه مونږ پخوا ليدلی وه او هير کړی مو وه. نو مونږ دا خيال کوؤ چه ګوندے مونږ په خوا هم دا مقام ليدلی وه.

دا يوه داسے نفسياتی اشتباه وه چه د نړی ډير پوهان هم پرے نهٔ پوهيدل ځکه چه په هغه وخت د نفسياتو پوهه د دے عصر پڅير و ړاندے نه وه تلے. زهٔ چه دَ جمهوريه پاکستان د تقريب په موقع په ډېرو مبی ځل ديوے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مشاعرې په سلسله کښې کوهاټ ته لاړم او د کوهاټ بازار ته مې اوکتل. نو هغه پخوانۍ کیفیت مې پیدا شو. او د کوهاټ بازار راته ییدلۍ کتلۍ ښکاره شو. خو زه اوس ددې اشتباه په حقیقت پوهه شوی وم. نو فکر مې د کوم چه دا بلازار راته ولې اشنا ښکاره شو. زما په تحت الشعور کښې به ارو مرو یو دا سې مقام موجود وی چه د کوهاټ بازار ته ورته وی. نو آخر د ډیر غور او فکرنه پس زه د دې اشتباه ژوروته ورسیدم. او د پوهیدو سره مې په زړه کښې د طمینان او خوشحالۍ کیفیت غزوونې وکړه. خبره دا وه چه په ۱۹۱۵ء کښې زه وړوکۍ هلک وم او پېښور بهرته داغلی وم. نو په هغه وخت کښې د بګرۍ بازار یعنې د موجوده د کوهاټ د بازار پخیر وه.

د کومو انسانانو فطري استعداد چه هم دومره وی هغوئ د تنا سخ په عقیده قائم پاتې شی. او چه د چا استعداد ددې نه اوچت وی. هغه ددې نه مخکښې تیر شی او د ایمرسن غوندې ددې نظریې قایل شی چه "زه هم دخدا ئے د وجود یوه حصه یم." خو چه ددې نه هم بره لاړ شی نو د اسپینوزا غوندې نعرې کړل چې "مونږ دخدا ئے په وجود کښې د ننه ژوندي یو او حرکت کوو" او شاید همکه علامه اقبال په خپلو خطباتو "تشکیل جدید الٰهیات اسلامیه" کښې اوليکل چه

"کوم ذات چه محیط دئ. هیڅ څیز د هغه غیر نه شی کیدئ."

او ترکومه حده چې ما د علامه اقبال د فن مطالعه کړے ده نو ماته معلومه شوے ده چه هغوئ په آخرې عمر کښې د وحدة الوجود قایل شوی وو. او په دې نظریه یې پوره پوره یقین پیدا شوی وه.

په دې خطباتو او جاوید نامه کښې علامه اقبال د وحدة الوجود قایل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ښکاري۔ لیکن دَ ایمرسن یا اسپینوزا خیالات داسې دي چه هغوئ لا په دے لار کښے وو۔ اَو منزل ته نۀ وو رسیدلی۔ کۀ څۀ هم د صحیح منزل احساس یے پیدا شوئ وه۔ اَو نیټشے هم په یو حقله دا منزل کړئ وه۔ چه د فوق البشر نظریه یے ښکاره کړے وه۔ ګویا په یو رنګ کښے هغه هم د یو قادرِ مطلق قایل وه۔ خود هغه په خیال کښے هم د غه انسان یو وخت د ارتقا په سلسله کښے قادرِ مطلق جوړیدونکئ وه۔ شاید هم دد ے نیټشے یا کارل مارکس په حقله اقبال وئیلی وو۔

قلب اُو مومن دماغش کافر ست

او یا دا چه

اگر هوتا وه مجذوب فرنگی اِس زمانے میں
تو اقبال اُس کو بتلاتا مقامِ کبریا کیا ہے

یعنی کۀ هغه مجذوب فرنګی په دے زمانه کښے موجود وئ نو اقبال به پوهه کړئ وه چه دَ کبریا مقام کوم دئ۔ خود نیټشے دَ وجود مثبتے اَو منفی مادے اعتدال ته رانۀ غلے اَو نتیجه یے دا شوه چه لیونئ شو اَو په آخر کښے هم دد ے لیونتوب سره مړ شو۔

اُوس ښکاره خبره ده چه دا ټول ړه ول ړه ول نظریات دَ علم اَو پوهے سره تعلق لري۔ کوم چه د انسانی "انا" محصلات دی۔ اُوهر یو د خپل استعداد په مطابق حاصل کړی اَو ظاهر کړی دی۔ لیکن مسلمان فلاسفر اُو صوفیاء دد ے نه ډیر وړاندے تیر شوي دي۔ هغوئ دَ ایمرسن دَ نظریے تردید داسے کړئ دئ چه کۀ مونږ د خدائے پاک د وجود حصه یو۔ نو مونږ خو جسم لرو۔ او جسم حادثات او فانی دئ۔ نو ایا الله تعالیٰ هم حدوث او فنا قبلولی شی؟ هیچرے نه۔ اَو دَ اسپینوزا غلطی ته یے داسے اشاره کړے ده۔ چه کۀ مونږ دا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اُومنو چه مونږ د خدا ئے په وجود کښے د ننه ژوندی یو اُو حرکت کوو۔ نو
الله تعالیٰ ته به ظرفیت منسوب شی۔ او په دے سره به محدود اُو محلِ حوادث
شی۔ او وحدت به یے د کثرت نه عبادت شی۔ اُو دا د هغه د ذات په حقله
هیڅ امکان نه لری۔ اود نیتشے غلطی خو دا سے ظاهره ده چه کوم وخت د هغه
نه دا تپوس اُوشو چه دا انسان ولے پر له پسے پیدا کیږی اَو فنا کیږی۔ نو
جواب یے دا ورکړو چه

" انسان د فوق البشر جوړیدو په تکل کښے دیٔ ځکه پیدا کیږی اُو فنا کیږی"
یعنی د مرګ ژوند دا حرکت د ارتقا حرکت دیٔ اَو ورو ورو به په دے سره
انسان فوق البشر شی۔

د دے نه ظاهریږی چه نیتشے ایله د تناسخ یا اَواګون نظریے ته رسیدلے
وه۔ او د دومره فکر یے نهٔ کولو چه پیدا کیدل یا فنا کیدل د انسان په خپل
واک کښے نهٔ دی۔ اَو په تناسخ کښے هم د هغه پېښونکی دا عقیده لری چه اتیا لکه
قالبونه بدل کړی۔ نو ایله مُکتی یعنی نجات اُومومی۔ یعنی هغه بیا په هیڅ قالب
کښے نه راځیٔ۔ بلکه په یو لطیف قالب کښے تر تله ژوندیٔ او خوشحاله وی۔ صوفیاء
د دے نه ډیر اُوچت پرواز کوی۔ هغوی محسوس کړل چه صرف د حق تعالیٰ وجود
دیٔ۔ اَو نور چه څهٔ دي د دے وجود مظاهر دي۔ اَو هم د دے نه د وحدت الوجود
با همه اُوست نظریه پیدا شوه۔ چه په خپله په صوفیاؤ کښے هم د اختلاف
سبب اُوګرزیده۔ خو څرنګه چه مونږ ویلی دي۔ دا اختلاف د هغه نظری استعداد
له کبله وه۔ اَو هر چا د خپل فطری استعداد په عینک اشیاؤ ته کتل۔ اَو که د "همه
اُوست" نظریه څهٔ هم د "همه از اُوست" د نظریے نه اُوچته ده۔ خو بیا هم
په دے دواړو کښے د کثرت ګډون ظاهر دیٔ۔ ځکه چه په دواړو کښے د "همه" اقرار

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

موجود دیٔ - کهٔ څهٔ هم په "همه اوست" کښې "همه" بیا هم یو وحدت ضرور وی - خو په "همه از اوست" کښې خو کثرت بدیهی موجود دیٔ - بیا دده دوارو ډلو نه علاوه - یو دریمه ډله هم شته چه تعدادې ددے دواړو ډلو نه کم دیٔ - صفوئ ددے دواړو نه بره الوت کوی او یوازے "اوست" وائی - صرف دَ "اوست" قایله ده - خو چه نکر او کړو نو په "اوست" کښې هم خالص وحدت متصور نه دیٔ - ځکه چه یو قایل خو موجود دیٔ کنه چه "اوست" وائی - نو په دے وجه بیا د دوو وجود ونو اثبات اوشو - یو صفه چه اوست یے بلی - یعنی الله تعالیٰ او دریم ځپله ددے حقیقت مشاهده کوونکیٔ - معلومیږی چه توحید یے کامل نه دیٔ -

اوس به را شو یو بل فریق ته چه د صفو تعداد به زمونږ په خیال په ګوتو اوشمیرلی شی - دا خلق صرف دَ یو "انا" یا "میں" "زه" یا "من" قایل دی - او دا یو داسے کیفیت دیٔ چه په الفاظو کښې ورته اشاره کول هم ډیر مشکل دی - چه تعلق یے د ډیرے سختے مجاهدے سره دیٔ - اولا دا چه حق تعالیٰ ورته داسے روڼ استعداد ورکړی وی چه بغیر د څهٔ مجاهدے نه پرے دا حقیقت ظاهر شی - خو صرف د دومره به اووایو چه په دے مقام کښې ټول کثرت سره د حق تعالیٰ د هستی او هم د دے کیفیت د محسوس کوونکی یوازے یو "زه" وی او بس -

د لته د تذکر قوت یوازے یوازے هم دا خپله هستی سره د هم موجود یوه "انا" محسوس کوی - او دا احساس چه پر له پسے وی - نو هم ددے نه د "زمان" احساس پیدا کیږی - ګویا "زمان" یوازے د خپلے هستی پر له پسے ادراک او احساس دیٔ - او که د "انا" دا احساس نه وی نو د زمان هم وجود نه شو ثابت کیدیٔ - او د کثرت په عالم کښې چه افراد موجود دی او د خپلے ځان ځان ته د هستی او

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

موجودیت تصور کوي ـ نو دلته، هم هغه "زمانِ موضوعي" په "زمانِ معروضي" کښې تبدیل شي ـ ځکه چه د افرادو په هنداره د کثرت په توره نه پریوزي ـ او دده علسونو ډېر له پسې پریوتو په وجه لمحې پیدا کیږي لکه چه زیډ یوه اُونه وویني ـ بیا هغه د پاسه یو مارغه وویني ـ دده دوا پړ مشاهدو ترمنځه لمحه پیدا شي ـ او زمان تقسیم شي ـ او مکان ؟ مکان د انساني "انا" د احساس چه په هغه کښې ځنې صفات هم موجود دي ـ چه د کثرت د ظاهریدو سبب دي ـ او چه ظاهر شي د مکان صورت پیدا کړي ـ او حقیقت هم دا دے ښکاري ځکه چه که مونږ مثلاً د چانه تپوس وکړو چه تیږه څه شئ دئ ؟ نو هغه به صرف دومره جواب راکړئ شي چه په کوم څیز کښې چه یو خاص رنګ، وزن، سختي، ګولائي وغیره موجود وي، هغه ته تیږه یا کاڼئ وائي ـ او ښکاره ده چه دا ټول صفات دي ـ نو معلومه شوه چه کائنات صرف د صفاتو د اجتماع نوم دی ـ چه متصل وي کلتات دي ـ چه منفصل شي هیڅ نشته ـ نو معلومه شوه چه د ځنې پوهانو د زعم په خلاف "زمان" حقیقي دئ او "مکان" اضافي ـ لا تسبوا الدهر فان الله هو الدهر ـ

انساني تذکرچه د انساني انا یو لوئ صفت دئ ـ د پوهې په حصول کښې چه کوم اهمیت لري هغه به څه نه څه لوستونکو ته معلوم شوئ وي ـ او د انساني اناتذکر یوه داسې آله ده چه هغه پرله پسې د اشیاؤ لټون کوي ـ او د اشیاؤ حقیقت ته ځان رسوي ـ مثلاً مونږ یو څیز ته وګورو ـ او څرنګه چه مونږ ته ښکاره شي ـ د هغه څیز ماهیت په نظر کښې اُوساتو ـ نو بیا یو داسې وخت هم راشي چه مونږ ته د خوردبین ضرورت پیښ شي او بیا مونږ هم هغه څیز په په خوردبین وګورو نو حیران شو ـ چه دا څیز مونږ په سترګو څنګه لیدلئ وه او اوس څنګه ښکاري ـ ځکه چه ډیر فرق پکښې پیدا شوئ وي ـ نو دده

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څيز دا دومره ښکاره مونږ ته نغوته وکړي - چه ددې نه هم زيات نازک خوردبين
پکار دی چه دا څيز پرې وګورو - چه بيا يې ماهيت څرنګه دی - نو بيا مونږ
د هغه نه زيات نازک او حساس خوردبين پيدا کړو او هغه څيز پرې وګورو -
نو پوهه شو چه ددې څيز حقيقي ماهيت د پوهې نه لا لرې دی - ځکه چه اوس
دا څيز د هغه څيز نه مختلف ښکاره شي کوم چه مونږ په عام خوردبين
کتلی وه - نو زمونږ "انا" پوهه شي چه د شيانو صحيح ماهيت معلومول آسان
کار نه دی - بلکه مونږ چه څومره حساس او نازک خوردبين استعمالو - هومره
دا ته دا څيز بل شان ښکاره کيږي - نو هم دغه حال د حواسو دی - په سترګو
چه مونږ کوم څيز وينو د هغه تعلق د مادي حاسې ظاهري بامرې سره وی -
او بيا چه هم هغه څيز د خوردبين په ذريعه وينو نو ګويا د دې مشاهدې
تعلق د مثالي حواسو او د شيانو د مثالي وجود سره وی - او چه بيا يې په نازک
خوردبين وګورو نو ګويا تعلق يې د عقلي حواسو سره وی - او که چرې ددې
نه هم زيات نازک او حساس خوردبين ايجاد کړې شي - نو يقيني ده چه
د مشاهدې په وخت به معلومه شي چه د هغه څيز هډو وجود غائب شو -
او دلته انسان پوهه شي چه "شي" څه وه - د صفاتو اجتماع وه - او چه هم
کله نظر ددې قابل شو چه ددې اجتماع د مرکب حالت نه مجرد حالت ته ورسيدو
هلته هډو هغه شی پاتې نه شو - او هم دغه حال هغه وخت هم انسان
ته معلوميدی شي کوم وخت چه هغه يوې نقطې ته حير شي - او د دې
متحرکه نظر پرې وغورزوي چه نظر يې د هغې نقطې نه يو خوا بل خوا نه شي - نو
يو وخت به داسې راشي - چه هغه نقطه به غائبه شي - دا ځکه چه د نظر بې
قراري يا اضطراب ختم شوی وی - او نظر د کثرت نه وحدت ته رسيدلی وی -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نو د ترکیب د عالَم نه دَ تجرید عالم ته ورسی - اَو هلته بیا دده ظاهری نقطے هیڅ وجود نهٔ وی - دلته یواز ے د مشاهده کوونکی شخصیت یعنی "انا" پاتے وی - نو معلومه شوه چه په حقیقت کښے هم دغه "انا" موجود ده - نور هیڅ نه - هم دغه "انا" حقیقت دۍ - چه انکار ترینهٔ نهٔ شی کیدۍ - اَو هم دغه فعاله ده - دَ تذکر او تصور ټول اعمال هم دده سره متعلق دی - خبره دَ تذکر دَ قوت په حقله ده - او ورسره نوره خبره هم راغله - دا قوه داسانی انا د ارادے نه عبارت ده - اَو د شیانو په لټون کښے دَ "تصور" حیثیت اختیار کړی - خو څومره چه انسانی انا دَ مادی قید نه آزاده وی - هومره به د تذکر قوت پوخ او تصور به کامل وی - ځکه چه دَ تذکر دَ عمل په وخت همیشه مادی اثرات ترمینځه حایل کیږی - مثلاً مونږ په داسے حال کښے دَ یو انسان د ټول ځان تصور نهٔ شو کولۍ - مونږ ته به داسے ښکاری چه ګکه مونږ دهغه انسان د پوره ځان تصور کړۍ وی - خو چه بنهٔ ګیر شو نو پوهه شو چه په تصور کښے ایله د ځان نیمه برخه را ځی - مکمله برخه یے نهٔ راځی - لیکن کوم انسان چه دَ مادیت د جبر نه آزاد وی - هغه دَ انسان دَ پوره اَو مکمل ځان تصور کولۍ شی - اَو دده په ثبوت کښے مونږ د فوټوګرافی کیمره پیش کولۍ شو - د کیمرے سترګه دَ انسان دَ ځان ټول عکس اخستۍ شی - هم دغه شان دَ کامل انسان دَ تذکر قوت یو وجود په کامل ډول په خپل ګرفت کښے راوستۍ شی - او چه انسان دده قابل شی نو هغه به هم وجود کښے د خپلے ارادے په قوت تصرف هم کولۍ شی - دده په مقابله کښے دَ هیپناټزم وغیره وطاقت هیڅ حیثیت نهٔ لری اَو دا خو حقیقت دۍ چه کهٔ زید دَ بکر د ځان تصور کوی نو بکر ته هم زید ور په یاد شی -

وجه دا ده چه انسانی انا چه کهٔ څهٔ هم دَ بیل بیل وجود سره متعلق

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وی۔ خو د صغ آفاقي وجود راکي يو دئ او د دے قابل دئ چه دَ کائنات دَ هرے برخے ادراک اوکړئ شي۔ نو دَ زيد او بکر تاثرات يو بل ته منتقل شي۔ اَو دغه شان دَ دواړو دَ تذکر قوت دَ يو بل ادراک اوکړي۔ خو که زيد او بکر په دے ډګر کښے مرتقي نه وي۔ نو د دے نه زياته ادراک يے نهٔ وي چه بس يو او بل ته ورپه ياد شي۔ خو د دے په مقابله کښے چه کوم افراد ترقي يافته او دَ ماديت دَ جبر نه آزاد وي۔ دَ هغوئ پوهه ډيره زياته وي۔ د مثال په ډول خالد دَ عمر تصور وکړي۔ اَو په ډيرلږ ساعت کښے پوهه شي چه عُمر په دے دنيا کښے موجود نهٔ دئ۔ وجه يے داوي چه کوم وخت هغه دَ عمر تصور وکړي نو د عُمر او د خالد په "انا" کښے ترينځه هيڅ ردِ عمل ظاهر نهٔ شي۔ د عمر له طرفه هيڅ تاثرات دَ خالد ذهن ته نهٔ منتقل کيږي۔ نو پوهه شي چه هغه دَ مرګ په نوبو اَوده شوئ دئ۔ دَ روښانه اَو تاريک ذهن اندازه هم دغه د تذکر قوت لګولئ شي۔ او هغه دا سے چه هغه ځان ځان ته اول دَ يو فرد "ب" اَو بيا دَ "ت" تصور وکړي۔ په دے دواړو کښے چه وروسته دَ کوم فرد تصور صفا اَو روښانه راشي هغه نسبتاً د تاريک ذهن خاوند وي۔ او چه کوم صفا اَو ځلانده نهٔ راځي هغه دَ روښانه ذهن خاوندان وي وجه يے دا ده چه "ب" سرتر پايه په ماديت کښے ډوب وي اَو مثال يے دَ صغ ښيښے وي چه شابندي يے شوے وي۔ يعنې دَ کثافت په وجه پکښے صفا عکس راځي۔ خو د "ت" وجود يعني ديو صاف ښيښے وي چه شابندي يے نهٔ وي شوے۔ نو نظر تِرپورے راپورے وزي اَو مخ پکښے سم نهٔ ښکاري د روښانه ذهن دَ انسان خيالات ډير زيات وي۔ او په لمحه لمحه کښے چه دَ هغه په ذهن دَ کائنات کوم پرتو ونه پريوزي۔ د هغوئ نه خيالات جوړيږي اَو چه څوک د "ت" تصور وکړي نو دَ مادي صورت نه د تذکر اَو تصور قوت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ صفحه دَ " انا " ژور ورته کوز شی۔ خو صفحه انا دَ پرتو دنو دَ کثرت په وجه هر و اُوزګاره نهٔ وی۔ چه دَ تصویر کوونکی پرتو محسوس کړی البته که تصویر کوونکی ترقی یافته وی۔ اَو دَ وړاندے قوتیے دیر وی۔ نو صفحه هم په خپل تصویر کولو مجبور کړی۔ چه صفحه ملتفت شی۔ اَو دا ټول تحقیق دَ راقم الحروف دَ تجربے سره تعلق لری۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## دریم باب

# انساني انا او ښکلا

مطلق حیات، مطلق حُسن دئ۔ اَو هم دغه مطلقه "انا" ده۔ هم دغه انا خپل بې انتها تخلیقي صلاحیتونه ظاهرته راویستي دي۔ اَو ظاهرته به یې راوباسي۔ د دې کل هر فرد ځان ته امتیازي حیثیت لري۔ صُوفیاء د دې ته د حق علمي معلومات اَو اعیان وائي۔ د هر عین تعلق د حق د یو اسم اَو صفت سره وي۔ اَو د هر فرد امتیازي جوهر هغه حُسن وي کوم چه د هغه د "عین" مظهر وي۔ په نورو الفاظو چه د یو فرد "عین" ته د ښکلا کومه برخه ورکړې شوې وي۔ هغه د هغه "عین" په مظاهرو کښې ځرګنده وي۔ نو ځکه د حُسن یا کلي معیار ممکن نه دئ۔ ځکه چه مطلق حُسن د تحدي نه بالاتر دئ۔ هغه عین ژوند عین علم اَو عِلم عین جمال دئ۔ دا حُسن یا جمال په هر فرد کښې د هغه فرد د بنیادي وجود سره سم موجود دئ۔ اَو اکثرو پوهانو حُسن ته د تناسب اَو موزونیت نه عبارت وئیلي دي۔ که څهٔ هم ځینې پوهانو دا تعریف هم صحیح اَو مکمل نه دئ ګڼلئ۔ خو عام تعریف یې هم دغه دئ۔ ځکه چه زهٔ چه یو څیز خوښوم۔ نو ځکه چه هغه ما ته متناسب اَو موزون ښکاري۔ که څهٔ هم د تناسب اندازه لګول هم د هر فرد خپل معیار په مطابق وي۔ د حُسن د ادراک د پاره دوه ظاهري حَواس دي۔ چه یوه باصره دَه اَو دویمه سامعه۔ چه دا د واړه د انساني انا د پاره د آلې کار ورکوي پخپله

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه باصره د حُسن د ادراک اَو د هغه د کیفیت اَو لذت علم لری۔ اَو نه سامعه۔ د ښکلا ذوق محسوس کول یوازے د "انا" برخه ده۔ اَو هم دا "انا" فیصله کولۍ شی چه ښکلا څرنګه ده۔

که د انسانی هُنر په نتیجه کښے جوړ شوئ، یو ښکلۍ چمن د ښکلا اَو حُسن ننداره کیدۍ شی۔ نو په خوشی بیابان اَو وچ کړس غرهٔ کښے هم حُسن غزووُنے کوی۔ که د نکے مانړۍ په هسکه غرۍ د خپلے ښکلا اعلان کوی۔ نو کنډے کنډورۍ اَو وران ویجاړ ختکی اَو پوُلے هم دد ے نه بے برخے نه دي۔ خو سوال دا دئ چه د حُسن مشاهدهٔ کوونکۍ څوک دۍ؟ ځکه چه هر مشاهدهٔ کوُونکۍ د خپل بنیادی فطرت اَو د "عین" د غوښتنے سره سم د حُسن معیار ټاکی اَو د هغه د نندارے نه خوند اخلی۔ خو یو بل فرد دا هم شته چه هغه د مطلق حسن پیکر دئ چه مونږ ورته انسان وایو۔

انسان د کائنات د هر فرد نه زیات ښکلۍ دئ۔ قرآن هم دے ته اشارہ کوی اَو وائی "وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ" مېلستا سو صورتونه جوړ کړی دي اَو ډیر ښکلی مجبور کړی دی۔ ولے؟ ځکه چه انسان د مطلق حیات اَو مطلق حُسن یو داسے مظهر دئ چه ټول کائنات په هغه کښے مضمر دئ۔ اَو څرنګه چه مونږ وئیلی دي سائینس پوهان وائی چه کائنات چه د کوم عناصرو نه مرکب دئ۔ هغه ټول د انسان په وجود کښے په یوهٔ خاصه اندازه موجود دی۔ اَو بل هیڅ داسے څیز نشته چه دا ټول پکښے موجود وی۔ ځکه خو انسان د نړی منتظم دئ چه هغه بالقوه د هر څیز علم لری۔ اَو ورځ په ورځ یے دا بالقوه علم د بالفعل په صورت کښے ظاهریږی۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځکه نو، په انسان کښې د باغونو، چمنونو، دښتونو، بیابانونو، د ګنډو ونو، رنګارنګو حیواناتو او د هر څه هر څه ښکلا موجوده ده. د انسان نه سوا چه څومره مخلوق دی، او په هر فرد کښې چه کومه ښکلا ده. د مشاهدې په وخت چه د هغې نه کوم لذت او کیف حاصلیږی هغه یعنې روحانی وی. په هغې کښې هیڅرې د جنس ګډون نه وی. لیکن کوم وخت چه په مشاهده کښې د یو ځوانې انسانی پیغلې یا ښځې حُسن مخامخ شی. نو په دے روحانی احساس کښې د جنس جذبه هم شامله شی ځکه چه حیوانیت، چه د مادی جسم سره لازم دی، د جنس ګوډاګی دی. او په ابتدا کښې چه حیوانی عنصر په انسانی عنصر یعنې "انسانی انا" غالب وی. نو هم دا وجه ده چه د جنسی جذبې زبردست او قوی تحریک ته وسله کښیږدی. او د ذوقِ جمال تسکین په غلطه طریقه شروع کړی. او هم د دے نه صفا معلومه شوه چه په انسانی انا کښې د جنسی جذبې هیڅ و شائبه موجوده نهٔ ده. نو ځکه ثابته شوه چه انسانی انا مادی نهٔ ده. د دے یو ثبوت دا هم دی چه کهٔ موږ د یو مجرد ساز نغمې ته غوږ کیږدو. او هغه نغمه کیف آوره ثابته شی او زموږ د پاره د کیف او لذت سبب شی. نو په دے وخت کښې کهٔ د دُنیا پیغلې او ارتینې د ښکلې نه هم ښکلې په تصور کښې راوستې شی هیڅرې به جنس په حرکت کښې رانهٔ شی. خو چه کوم وخت ورسره د ښځې خوږ آواز شامل شی نو په دے روحانی کیف کښې جنسی جذبه هم شامله شی نو اوس کهٔ نغمه آوریدونکی انسان تربیت یافته وی. انسانی عنصر یې په حیوانی عنصر غالب وی. نو د جنس ناجائز تحریک ته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

غرو ندئ واچوی۔ کښې چه جنسي جذبه کښې لاهُوشي او دا دَ راقم الحروف

تجربه ده چه په مجرده نغمه کښې هيڅ جنسي تحريکُ نهٔ وی۔

ددے نه د فرائيډ د هغې خبرے ترديد کيږی چه وائی چه د هر

انساني خواهش يا لذت اصل جنسي دئ۔ هو! جنسي يو ډير زبردست

حيواني تحريک دی۔ خو کوم خلق چه د فطری قانون په خلاف هم خپل

جد وجهد جاری ساتی اَو آخر پرِ غالب شی د هغوئ د پاره د جنسي جذبے

ضبط اَو ترهٔون کوم گران کار دئ۔

اوس به د بُنکلا په حقله د پوهانو رائے بيان کړو۔

د افلاطُون بيان د غائيت د فلسفے په ترځ کښې دا سے دئ چه "د غائيت

د فلسفے تشريح، تجريد اَو تحليل په آخری مرحله باندے د انساني افعالو په رنګا

کښې نه، بلکه د جمالياتی قدر په رنګا کښې پکار دئ۔ عقلمند و ته معلومه

ده چه د دے "جمالياتی قدر" تعلق د عقل د نظام سره دئ۔ اَو دا نظام د رياضي

په ښکليو نسبتو کښې مونده کيږی۔ هر شئ کوم چه نيک دئ، حُسن دئ۔

اَو حسين شئ د وزن نه بغير نه وی۔ دا خو بوازے د تجريد عالم دئ چرته

چه د نيکی قوّت د حُسن په هغه عالم کښې گوښه نشين دئ۔ کوم چه مونږ

د نيکی د پاره ايډيل غواړو۔ د نظام په ابدی کمال کښې۔ نه د مقاصدو

اَو وسائيلو په باهمی تعلّق کښې۔ صرف هُم په دے مقام کښې د انسان د غائيت

فلسفه خپل حقيقی اهميّت ښکاره کوی"۔

په دے کښې نه يوازے دا چه افلاطُون ښکلا د موزونيت نه عبارت

گڼلے ده بلکه د انسانی ژوند غايت يے هم حُسن گڼلے دی۔ ځکه چه

حُسن د هغه په خيال د نيکی دويم نوم دئ۔ نو کوم وخت چه مونږ دا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وايي چه مطلق حُسن اِکی يو حقيقت دئ. نو په مختلفو افرادو کښې مختلف محسوس کيږي. نو د دې نه دا هم ثابته شوه چه جماليانی حِس هم د ټولو انسانانو يو شان نه دئ. صرف د حُسن د معيار د اختلاف په وجه د هر چا بيل بيل دئ. ځکه چه د معيار ريښا سره تعلق د ماحول ميراث تعليم تربيت يا ذاتی فطری انفراديت سره وی. او افلاطون دا هم وائی چه "مينه خه ده؟ د خير خواهش دئ. چه د دې کمی روح محسوس کوی. نو که مينه د انسان ذاتی ملکيت دئ، يعنی د اوّل نه ورسره وی نو د هغې په هډو خواهش نه پيدا کيدئ."

زه وايم چه مينه اضافی شئ دئ. په انسانی انا کښې چه د حُسن کوم حِس وي. هغه په مجرد حيثيت وی. يا په نورو الفاظو بالقوه وی. يا دا سې کښلی پکار دی چه په انسانی انا کښې خپل ذاتی حُسن د يوې خاکې په ډول موجود وی. خو هغه خاکه باقاعدة رنګ غواړی. نو څو مره چه هغه د حُسن مشاهده کوی هغه تشه خاکه يې ورو ورو رنګ اخلی او ډکيږی. او ثبوت يې دا دئ چه د يو حُسن د مشاهدې نه پس د هغه خواهش ورو ورو کميږی اَن تر دې چه ختم شی. او بيا د هغه خواهش نه کوی. ګويا انسانی انا د حُسن د حصُول د پاره چه کوم خواهش کوی، هم دے ته مينه وائی. او دغه شان پله پسې چه انسانی انا د حُسن د مشاهدې په طلب وی. هغه خپله کمی پوره کوی. او خپلې بالقوه خاکې ته رنګ ورکوی.

د دے خيال حمايت ارسطو هُم کوی او وائی چه "د حُسن يو حقيقت دا هم دئ چه د هغه نه چه کوم مسرّت حاصليږی په هغه کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شهوت موجود نه وی" خو ترا وسه پورهان په دے کښے فکرورې دي، چه که مونږ ته یو سړیٔ بد صورته ښکاره شی. نو نهٔ ورته ګورو. یعنی نفرت تیر کوؤ. خو که دهٔم هغه سړی تصویر را ته مخامخ شی. نو ښه په مینه یے ګورو. او هیڅ نفرت ترِینه کوو. خو کیدیٔ شی بلکه دا واقعه ده چه مونږ د یو سړی په صُورت کښے حُسن نه محسُوس کوو خو د هغه په آواز کښے یے محسوس کړو.

په دے سلسله کښے زما خپل خیال دادیٔ چه په تصویر کښے تصویر د خاوند احساسات خواهشات او جذبات موجود نه وی. بلکه صرف هغه یو جذبه پرِ مسلطه ښکاری. دکومے په حال کښے یے چه تصویر اخستیٔ شویٔ وي. خو چه د تصویر خاوند را ته مخامخ شی نو د هٔ یے خیالات وغیره هم مونږ ته را منتقل شی. او زمونږ لاشعور د هغه مخالفت او د هغه نه نفرت کول شروع کړی. او بله وجه یے دا کیدیٔ شی چه تصویر یو داسے څیز وی چه تکه په انسانی ذهن کښے تصوّر. یا آواز. ګویا هغه تصویر د هغه بد صوُرته سړي د تصوّر او آواز قایم مقام وی. او انسانی ذهن هیڅ تصور بد نهٔ ګڼی ترڅو چه په تصوّر کښے د را غلی انسان خیالات وغیره ورته منتقل نه شی. ځکه چه حقیقی څیز خودیٔ هم د غه تصوّر ګڼو م چه انسانی انا ته حاصل وی. او هم د دے تصور په سبب ورسره انسانی انا تعلق ساتی. د دے په تائید کښے افلاطونس وائی "حُسن په مادی اشیاؤ کښے مضمر نهٔ وی. بلکه په هغو ابدی تصوراتو کښے موجود وی چه ترجمانی یے مادی صورتونه په نا تسلی بخش طور کوی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هغه لیدلی کیدئ هُم شي که څه هم په خارجي نه بلکه په داخلي سترګو (یعني دانا په سترګو) د مطلق حُسن په دے خارجي دنیا کښې ډیرے تتے آئینے شته خو حُسن د دغو (آئینو) په مظهري موتو نو کښې په جزوي طور ظاهرېږي. تصورات، چه په دے دول څرګندېږي د دغو اشیاؤ نه، د کومو نه چه په عارضي طور ظاهرېږي، تېر شي او د انسان په زړه کښې داخل شي. او کوم وخت چه زړه ته اورسېږي نو نور تصورات هم له خوبه راببیدار کړي. او هلته روح ته د حمد او ستاینې ترغیب ورکوي"۔

د افلاطون په دے بیان کښې صفا جوته شوے ده چه مطلق حسن چه عین حیات هُم دئ. خپل مضمر افراد د هغو د فطري انفرادیت سره سم په حُسن نمانځي. او د حُسن حقیقت پوهېدلے زړه یا انساني انا په حقیقي دول محسوسوي. او هغه د تصوراتو مرهُون وي. ځکه چه حقیقي څیز تصور دئ نه مادي مظاهر.

فلاطونس، حُسن د هَم آهنګئ او توازن نه عبارت نه ګڼي او وائي "حُسن د تناسب او هم آهنګئ نوم نه دئ بلکه هغه یو نور دئ چه د شیانو د هم آهنګئ د پاسه ځلېږي. او په دے د شیانو د ښکلا او دل کشئ انحصار وي. او که دا خبره صحیح نه وي. نو بیا څه وجه ده چه د حُسن نور په ژوندو شیانو کښې ډېر وي خو په مړ څیزونو د هغه شائبه قدرے وي. که څه هُم د هغه مړ د جسم ترکیبي عناصر د تناسب او هم آهنګئ په لحاظ خراب شوي نه وي. او که دا نه وي نو بیا څه وجه ده چه هغه مجسمے (د بُتان) چه ډېر ښه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د کے ښکاری د هغو مجسمو په مقابله کښې زیاتې ښکلې ښکاري د کومو نه چه د هغوی د اعضاؤ د هم آهنګۍ اَو تناسب سره سره هم ژوندنه برېښي. او دا ئے وئیلے وی چه بد صورت خو ژوندئ انسان د ډیر ښکلی انسان د مجسمې نه زیات دلکش ښکاری. نو د دے سبب بغیر د دے نه بل هیڅ نشته چه ژوندئ حُسن د مړ حُسن زیات محبوب او مطلوب وی.“

نو وایم چه افلاطون په دے بیان کښې د نورو دانشورانو د بیان تردید نهٔ دئ کړئ. کوم چه حُسن ته د تناسب اَو هم آهنګۍ عالم وائی. چه افلاطون دا منی چه د مطلق حُسن د پاره مادی مظاهر تتے آئینے دي. اَو د انسان په اعضاؤ کښې تناسب اَو هم آهنګی نه وي بلکه د حُسن په هغه نور کښې وی. کوم چه په دے مادی اجسامو ځلیږی. نو معلومه شوه چه د تناسب اَو هم آهنګی د هغه حُسن ذاتی جواهر وی کوم چه په مادی جسم کښې ظاهر شی. اَو دانشوران هم حُسن ته د تناسب اَو هم آهنګۍ نامه ورکوی. نه مادی جسم ته. اَو پخپله دا منی چه انسان مړ شی هغه تناسب اَو هم آهنګی پاتے نه شی. نو معلومه شوه چه هغه د حُسن ذاتی جوهر وه اَو د حُسن سره لاړ. نو بیا وئے وائی چه حُسن د تناسب اَو هم آهنګۍ نوم نه دئ. په کا نړو کښې که خپل څهٔ ذاتی حُسن وي نو وي به خو یو فنکار چه د هغه کانړی نه یوه مجسمه جوړه کړي. اَو په هغې کښې حُسن څرګند شی. نو دا د کانړی نهٔ بلکه د فنکار خپل حُسن وی چه کانړی ته منتقل شی. حُسن جامد څیز نه دئ. یعنی جزوی حُسن کوم چه په مادی اشیاؤ کښې ښکاری. د دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وجه دا ده چه هیڅ جزو دخپل کُل نه دهمیشه دپاره جُدا کیدلے نهٔ شی۔ اَو هغه همیشه په دے تکل کښې وی۔ چه دخپل اصل سره یوځائ شی۔ معروضی حُسن ځکه په حرکت کښې وی۔ چه هغه دَ بنهٔ نهٔ دښهٔ اَو بیا دخپل اصل سره د وصل کید و خواهش لری۔ اَو هم دا وجه ده چه دحُسن د دے حرکت په وجه انسانی جسم هم تبدیلی مومی۔ اَو د دے تبدیلی په وجه دَحُسن په مشاهده کولو کښې هم تبدیلی پیدا کیږی. څومره چه د وخت د تیریدو سره په انسانی جسم کښې تبدیلی راځی۔ اَو جسم زړیږی او ته نزدے کیږی هومره د هغهٔ په جسم کښې دَحُسن مشاهده هم بدلیږی۔ یعنې مشاهده کوُونکی په کښې حُسن کم ښکاری۔ اَن تردے چه د مرګ نه پس په هغه کښې حُسن پاتے نهٔ شی۔ اَو حُسن خپل اصل یعنې مُطلق حُسن ته اُورسی۔ چه هغه موضوعی حُسن دیٔ۔ اَو په انسانی فطرت کښې چه دهغهٔ د انفرادی شخصیّت په سطح دَحُسن کوم ( نخره (خاکه) دیٔ، هغه پرله پسے دَحُسن د مشاهدٔ کولو په وجه ډکیږی شی۔ یعنې هغه خاکه بے رنګ و اخلی اَو چه ډکه شی نو د معروضی حُسن لوریه بے ختمه شی اَو اوس د دے قابل شی چه د مطلق حُسن سره شامل شی۔ خود حُسن دَ حرکت نه دا مراد نهٔ دیٔ چه حُسن پخپله حرکت کوی۔ بلکه دَحُسن تقاضا اَو ارادہ اشیاء هر وخت په تغیّر اَو حرکت کښې ساتی۔ اَو هُم دَ دے تغیر په وجه دَحُسن په مشاهده کولو کښې ورو ورو فرق پیدا کیږی۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حُسن خو د جسم د تحول او تغیر سره سره هم څۀ نه څۀ موجود دئ. خو د تبدیلئ په هره مرحله کښې د هغه د مشاهدے د پاره بل نوی معیار ته ضرورت وی. ځکه چه نن چه زید د بکر په وجود کښې کوم حُسن محسوس کوی هغه به لس کاله پس نهٔ محسُوس کوی. بایډ لس کاله پس د زید د حُسن معیار هم ورسره ورسره شامل تللے وی نو بیا به هم ورته بکر ښکلے ښکاری. ګنې اوس به لس کاله پس زید ته نه بلکه عمر ته ښُکلے ښکاری چه په دے وخت کښې به د عمر د حُسن معیار د بکر د حُسن د مشاهدے قابل وی.

په دے حقله به زهٔ در ته خپله یوه مشاهده بیان کړم چه یوځل په پېښور کښې د اسلامیه هائی سکول په احاطه کښې کل هند اُردو مشاعره وه. د دویم لوئ جنګ ورځے وے او په دے مشاعره کښې مشهور غزل ګو شاعر جګر مُراد آبادی هم شامل وه. او په دے کښې ډیر زلمی، نیم زالئ او بوډاګان شاعران شامل وو. خو ما ته په ټولو کښې هغه تک تور جګر مراد آبادی ښکلے ښکاریدو. چه هغه وخت ئے عمر د پنځوس کالو نه تیر وه. او غالباً چه زمانه به شل کاله مشر وه. نو ګویا په هغه وخت کښې زما د حُسن معیار د دے حد ته رسیدلے وه. که څه هم د دے نه پخوا زما ورسره لیدل کتل نه وو شوی. او دا ممکنه ده چه که د دے مشاعرے نه څو کاله آګاهو جګر مراد آبادی ما لیدلے وے. نو زما د حُسن معیار به د دے نه جُدا وے.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بایدچه دلته موږ دفني ښکلا په حقله دځنو دانشورانو رائې وړاندې
کړو. دارسطو په خیال دهر ښهٔ شعر یا فن شپږ اجزا دی. پلاټ - چه
دَواقعاتو اَو پېښاتو ربط اولري. دویم کردار یا کرکټر - چه ددې په
ذریعه دمختلفو کردارونو په نفسیاتو کیفیاتو کښې امتیاز کېږي. دریم دَ
بیان اسلوب چه ددې په ذریعه دخیالاتو اَو جذباتو اظهار کېږي. څلورم
جذبه، چه ژوند پیدا کوي. پنځم - داسټیج اداکاري. شپږم موسیقي.
ارسطو په شعر کښې استعارې ته ډېرِ اهمیّت ورکوي. اَو وائي "ښې
ښې استعارې لیکل اَو دَ ژبې مناسبات په نظر کښې ساتل دفطري قابلیت
دلیل دیُ".

هو! خو مره چه دیو شاعر یا ادیب دښکلا معیار لوړ وي. دهغه
په لیکنو کښې به استعارې ډېرې وي. ځکه چه دلوړو اَو بلندو
خیالاتو اظهار بغیر دَ استعارو داستعمال نه مشکل وي. اَو په دې وجه
دهغه په فن کښې چه کومه ښکلا څرګنده شي. دهغې معائنه اَو مشاهده
به هم هغه کولیٔ شي چه دښکلا معیار یې دده قابل وي. اَو هم دغه
وجه ده چه دَا وُچت لیکوال په فن کښې دعوامو بلکه دا وَسط ذهن
لرونکو دپاره هم دمسرّت اَو لذّت سامان نه وي. افلاطُون
خدا یزده چه ولې شاعر دخپل مثالي جمهوریت نه خارج کړیَ
وه. شاید دا وجه وي چه افلاطون فن دفطرت نقالي ګڼو. خو
نهٔ وایم چه افلاطون پخپله یوناکامه شاعر وه. هغه دشاعر
جوړېدو کوشش کړیٔ وه. خو پاتې راغلیٔ وه. لیکن ارسطو شاعر
ته ډېر اهمیت ورکړو. هغه لیکي "شاعري دتاریخ نه زیاته منظّمه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اَومد لله ده۔ د شاعرانو وظیفه دا نه ده چه دا در ته اوښائی چه
څه واقع شوی دي۔ بلکه دا چه څهٔ واقع کیدئ شی۔ اَو څهٔ ممکن وي۔
ددے د امکان په اعتبار یا څهٔ چه اوّل تیر شوی دی د هغو سره تعلق
لرلو په وجه ۔ په مؤرخ اَو شاعر کښے په دے اعتبار هیڅ فرق نشته۔
چه هغه قافیے استعمالوی که نه۔ ددے دلیل دا دیٔ چه د هیرو ډوټس
تحریرات ددے احتمال نه بغیر چه د هغو حیثیت به د تاریخ نه کم شوی
وه۔ مقفیٰ کېدیٔ شول۔ که هغه مقفیٰ کیدیٔ شول اَو که نهٔ خو فرق
په دے واقعیّت کښے مضمر دیٔ چه یو دا ښیٔ چه څهٔ واقع شوي دي۔
اَو دویم دا ښیٔ چه څهٔ واقع کیدیٔ شی۔ ځکه نو شاعری د تاریخ
په نسبت زیات رښتینی اَو لوړ مقصد لری۔ د دے دلیل دا دیٔ چه
د شاعر تعلق د آفاقو سره وی اَو د تاریخ تعلق د کومے خاصے واقعے سره۔"

افلاطونس وائی" د فنکار روح دَحُسن نه د متاثر کېدو صلاحیت
لری نو هغه په خپل ځان کښے جذب کړی۔ اَو د کائنات د لازوال
حُسن نه یک شی ددے نه دا نتیجه اُوته چه دَ فنکار تخلیقات د فطرت
د خپل حُسن نه زیات نظر ښائسته کوونکی شاندار اَو ښکلی کېدیٔ
شی لیکن انسان که فنکار وی که نه۔ دا خبره په آسانئ سره محسوس
کولیٔ شی چه د واقعیّت اَو تصوریت پخپلو کښے سره هم آهنګ
کېدل محال دی۔"

ووترو یعس پولیویکی" د فن پنځه اُصول دي۔ افادیت۔ تناسب
هم آهنګی۔ اَو اعتدال ترتیب اَو صورت ګری۔ د صورتونو تقسیم
په یو امتیانی انداز کښے۔ اَو که آراستګی اَو تزیین۔"

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا تعریف کہ څهٔ هم د فن سره تعلق لري خو دفن نه زیات دحُسن سره متعلق دئ۔ خو د دے نه دار سطو تعریف زیات مفصل او بهتر دئ۔

دغه شان انسان چه څو مره ذهني پیش رفت کوي دهغه فطري نیکلا هم ورسره ورسره ګډلا ندهٔ شي او بشپړتیا ته نزدے شي۔ او هم په دے مناسبت دهغه فن هم عُروج کوي۔ خو د دے سره باید چه دهغه پوهه دهر څهٔ نه اوّل ترقي وکړي۔ ځکه چه دهغه دادراک انحصار په پوهه دئ۔ باید چه دعلم او پوهے دپاره دهغه درے عنصر کامل شي۔ او هغه دي حِس۔ ادراک او تصوّر۔ ګویا دحِس او ادراک پخټګي دتصوّر دپخټګي دتصوّر دپخټګي دپاره ضروري وي۔ او چه تصوّر مکمل شي پوهه حاصله شي۔

هیوم وائي" تصوّر دار تسام نقل دئ" او ارتسام نه دهغه مراد حِس دئ یا ځیز چه دحواسو دپاره واقعتاً موجود وي۔ خو پوهان وائي چه دَ حواسو دتکمیل نه دحواسو فتم غوره ده۔ ځکه چه دحواسو کمال ته رسیدل مطلوب نه دي بلکه حقیقت ته رسیدل مطلوب دي۔ که دَ چا حواس کامل هم وي۔ خو کښاده مفتوح او ځلاندهٔ نه وي نو هغه ته پوهے په حصُول کښے پاتے راځي۔ او هم په دے وجه دهغه ادراک هم صحیح نه وي۔ او د تصوّر یے هم هیڅ افادیّت نه لري۔

دَصوفیا وُ او څو نوروو انشورانو رائے داده چه ترڅو انسان په فطري تقاضو غالب نه شي او هر خواهش په ضابطه کښے دراوستو قابل نه شي۔ دهغه ادراک تصوّر او پوهه هر څهٔ هر څهٔ ناقص وي ځکه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه د مادیت په غلبه کښې انسان انا خپلواکه نه وي - او چه نه وي نو خپل ضمیر
صلاحیتونه هم خارج ته نشي راوېستې - او هُم په دې وجه دغه
نه بنه او آفاقي فنکار نه شي جوړېدې - او که فنکار شي فن یې د ښکلا نمائندګي
نه شي کولې - چه وجه یې دا وي چه د فنکار "انا" ته حقیقي تصور حاصل
نه وي -

د تصوریت فلسفه چه څرنګه افلاطون وړاندې کړې ده نزدې
نزدې صوفیاؤ هم ظاهره کړې ده -

افلاطون تصور د محسوساتو نه جدا یو مستقل څیز مني او هم په
دې بنا هغه مطلق روح، یا کلي نفس چه هغه یې د حق ذات ګڼي د ټولو
مبداء دې - چه د هغه ذات د ټولو نه ښکلی تصور انساني روح دې - افلاطون
اصلي شیان تصورات یا اعیان ګڼي - او د دې کائنات ټول شیان د هغو
اعیانو محض نقل دي - د هغه په خیال حقیقي دنیا د اعیانو دنیا ده چه د هغې
د تصویرونو مرقع زمونږ دا صوري عالم دې - چه په اصل کښې مجازي
عالم دې - مثلاً مونږ چه اُونې یا انسان ته ګورو نو دا دواړه شیان
په خپل خپل ذات کښې حقیقي نه دي - بلکه د دغو دواړو یو کلي "عین"
یا ازلي تصور دې - چه د اُونې یا انسان په ټولو اصلي صفاتو مشتمل
دې - نو اونې، انسانان او اسونه خو فنا کېدې شي خو د هغو هغه
ازلي تصور یا "عین" هېڅ کله نه شي فنا کېدې - دا تصور مثالي ابدي نمونه
چه د هغې په مطابق فطرت شیان پیدا کړي څکه نو هغه شیان ښکلي هم وي"
څکه نو، څرنګه چه دا افلاطون خیال دې د صوفیاء هم دا عقیده ده چه
حقیقي ښکلا د انساني انا صفت دې او هم هغه د حقیقي ښکلا ادراک

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کولی شي. خو په دې شرط چه حس ادراک او تصور یې کامل شي. ځکه
چه د ناقص تصور په وجه هغه د امل تصور یا عین مکمل پرتو نه شي
اخذ کولی. او چه هر کله یې تصور کامل وي نو د انا خپل ذاتي حُسن په مطلق
حُسن یا انا اعلیٰ یې اکبر کښې فاني شي. کویا قطره د سمندر سره شامله شي. او اوس
هغه د مطلق حُسن ادراک کوي.

موږ چه په تیرو صفحو کښې د خوردبین او بیا د هغه نه هم زیات
د نازک خوردبین مثال ورکړی دی هغه به لوستونکو ته یاد وي. د خوردبین
په وجه چه انساني انا ته کوم تصور حاصلیږي هغه بند د بنه نه بنه
وي. نو معلومه شوه چه د حقیقي تصور حاصلیدل د حقیقي ښکلا د ادراک
د پاره ضروري دي. لاک وائي "تصور هغه څیز دی چه ذهن یې په خپل
ذات کښې ادراک کوي یا کوم ادراک چه فکر یا علم براهِ راست معروض دی"

سائینس همیشه د اشیاؤ د صورتونو خصایصو او د هغو نه بیلو کښې
د تعلقاتو په حقله بحث کوي. یوه کُلیه مثلاً مساوات یا حُسن همیشه هم
هغه وي کوم چه حقیقتاً وي. لیکن سره د دې هم ځینې وائي چه
د تصوریت په مکتب کښې د حُسن پوهانو په نزد ځه خالصه هم شته چه
هغو ته اشاره کول ضروري دي. مثلاً د تصوریت د فلسفې پوهان کائنات
معروضي نه گني. یعنې په خارج کښې د کائنات د وجود نه انکار کوي. صرف
په ذهن کښې د کائنات د وجود قایل دي. نو هم دا وجه ده چه د ښکلا
معروضي وجود هم نه مني. بلکه حُسن هم په ذهن کښې مني. یعنې موجودات
او وائي چه دا زمونږ د ذهن تخلیق دی.

که چرې مونږ د ذهن نه ذهن مطلق یا انا اعلیٰ اکبر واخلو نو هیڅ شک

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نشته چه کائنات اَوڅه چه په کائنات کښې دي دذهن تخلیق دئ. خو دومره باید فکروکړئ شي چه ددے مکتبِ فکر پوهان د (مطلق ذهن) خبرې (؟) کښه. اَو بیا د هر انساني ذهن ادراک هم دپېل نه مختلف وي. نو ښکاره ده چه د (اذهان دې لوئ ذهن مظاهر دي. اَو چه مظاهر دي نو په دے حقله خارج ثابت شو. که څه هم دَانساني ذهن خارج د هغه مطلق ذهن په مقابله کښې خارج دئ. اَو دَظاهري کائنات په مقابل کښې داخل. اَو په یو وخت کښې راقم الحروف هم په یو شعر کښې دے ته اشاره کړې ده سه

داتماشے خوستا نظر جوړ وی
ته لږ کتل دتماشا زده کړه

د خارج وجود یقیناً شته که هغه اعتباري وی اَو که حقیقي اَو که نه وی نو بیا دحُسن ادراک هم څه امکان نه لري. ځکه چه که دَحُسن دانعکاس دپاره یو آئینه محتاج موجوده نه وی. نو ادراک ئے هچرے ممکن نه دئ. دمشاهدے دپاره دوئ یعنی دوه والے پکار دئ. اَو پخپله پخپل ذات کښې دحُسن مشاهده یعنی دخپل حُسن مشاهده هیڅ معنیٰ نه لري. ځکه چه کوم څیز چه په ذات کښې شامل دئ. دهغه د مشاهدے خو سوال نهٔ پیدا کیږي. خو د انسان دذوق جمال موجودګی دا خبره ثابتوي چه هم دغه خپل ذاتي فطري حُسن صرف په یوه معروضي آئینه کښې لیدئ کیدئ شي. اَولا به انساني انا پخپله له خپله ځانه معروضي آئینه جوړ وی اَو په هغے کښې به دَخپل حُسن مشاهده کوی. راقم الحروف وئیلی دي سه

ځان د ځان په تصور له ځانه غیر شي
جام له خپله ځانه جوړ کړي جم کړه

هو! د نړۀ جم دا قدرت لري چه له خپله ځانه جام جوړ کړي شي او په هغه جام کښې خپله ننداره اوکړي. او په ظاهر که دا کار ډیر آسان ښکاري خو په حقیقت کښې ډیر ګران دې. هر انسان د تصور په طاقت د خپل ځان نه دومره جوړولې شي. او خپل تمثال ځان ته مخامخ اودرولې شي. خو د هغه تمثال په آئینه کښې خپل حُسن لیدل د هر چا نه بلکه د یو څو هغه انسان کار دې.

فرائیډ وائي چه "حُسن د جنسي کرشمې پیداوار دی". او په دې وینا هغه ګرم هم نه دې. ځکه چه هغه د انسان د آفاقي حیثیت او په خصوص سره د انساني انا د حقیقت نه بې خبره. د هغه په ذهن مادیت داسې سپور وه. چه هغه بغیر د دې نه بل تصوّر نه شو کولې. ګني که هغه ته دا معلومه شوې وې چه ډیر انسانان د خپلې جنسي جذبې نوړه په ډنګرو هم سړوي. نو دا به ئې نه لیکل. او که هغه د نغمې په روحاني کیف خبر وې نو ورته معلومه شوې به وه چه د نغمې په حُسن کښې د جنسي جذبې شائبه هم نه وی. که هغه د فطري مظاهرو د ښکلا نه څه برخه آخستې وې نو پوهه شوې به وه چه جنس بېخي یو جبلت لري او د روحاني کیفیت سره هیڅ تعلق نه لري.

ځکه چه هر معرفه اِسم د یو فرد نوم دې. په حقیقي عالم کښې هم د هغو تصوّرات موجود دی. د غه شان نو هر نکره اِسم یو تصوّر دې. صوفیاء وجودي وائي چه "د هر" "عین" د پاره یو اسم دی او

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دهر یو د پاره یو صفت دئ. اَو هم دے ته قُرآنِ حکیم اشاره کړے ده "چه آدم ته ټول اسماء او ښودلی شول" (ترجمه)

زهٔ وایم چه دغه په "عین" کښے ټول اسماء ځائے شول. چه یو اسم یے خپل ذاتی وه اَو نور یے اضافات وو. اَو دَ اضافاتو دا نظریه د وجودی توحید دَ عظیمو نظریاتو څخه ده. چه د ته به یے مونږ په مختصر ډول بیان کړو. دا سر ذیاءُ وائی چه د حق تعالیٰ ټول اسماء په اِسمِ ذات اللّٰه کښے مضمر دي رب اسم هغهٔ اِسم ته وائی په کوم چه د ټولو انسان تخلیق شوئ وي. اَو دا خو ښکاره ده چه اسماء ټول په اسم ذات اللّٰه کښے مضمر دي. خو په خارج کښے چه مثلاً د یو انسان رب اسم رحیم وی اَو مقتضے یے رحمت یا رحم وی. نو د احقیقت دئ چه هیڅ اسم بغیر د مسمّیٰ نه اَو هیڅ صفت بغیر د ذات یا موصوف نه قایم نه شی پاتے کیدے. نو چرته چه دا رحیم صفت وی هلته به ذات هم موجود وی لیو ذات خود بے شماره اسماء اَو صفاتو سرچینه ده. نو یقیناً دَ رحیم اِسم سره به هغه نور بے شماره اسماء اَو صفات هم وی د رحیم د اسم سره اضافات شول. اَو هم دغه اضافات دي چه د دغو غلبه یو انسان د خپل رب اِسم اَو صفت د منشاء سره سم عمل کولو ته نه پریږدی. مثلاً دَ رحیم اسم مقتضیٰ رحم دئ. خو چه هغه په نورو اسماءُ اَو صفاتو کښے راګیر وی. نو خپلے تخلیق منشاء سره سم کار نه شی کولے ځکه چه اضافات هم اثرات لری. اَو دا اثرات د هغه په رب اسم رحیم مُوثر وی. نو ځکه دا صُوفیا وائی چه "التوحید اسقاط الاضافات" یعنی توحید هله کامل شی چه انسان دا اضافاتو په ساقط کولو بریالی شی. او یو انسان د خپل رب اسم او صفت یے اُرګلیری خپلوا کی شی اَو چه دکثرت د پردو نو نه اُوزګار شی نو د صحیح پرنګه د حصُول د پاره تیار شی اَو اُوس هغه د دے قابل شی چه د حسنِ اکبر په سرچینه کښے شامل شی

اود حُسن صحیح ادراک ورکړلی شی۔

ځرنګه چه وړیل شول افلاطون حُسن او نیکی یا افادیت یو ځیز ګڼی۔ او هم دغه خیال د سقراط هم دی۔ خو د دے نه علاوه یے هم دا اوویل چه "په دے کښ چه حُسن دوه قسمه دی۔ جمال او جلال۔ نو ضروری لازم دي چه مونږ جمال مؤنث او جلال مذکر اوګڼو" خو د دے نه علاوه سقراط د حُسن یو بل قسم هم بیانوی۔ او وائی "د جسمانی اعضاؤ یو موزون ترکیب وی که په هغه کښے د نرمه رابنکونکي رنګ اضافه اوشی نو هغه ته حُسن وائی"

انسان هله په فن کښے د صحیح ښکلا تخلیق کولی شی چه پخپله یے د ښکلا نظری عنصر د هر دول د ګیری نه پاک وی۔ نو ځکه د هغه په فن کښے به استحکام او ثبات وی۔ او چه د چا د ښکلا معیار لا کچه وی۔ د هغه فن به مرقتی ښکلا لری۔ او لږه موده پس به د خلقو له نظره پریوزی۔ لیکن د کامل فنکار فن دایمی شان او افادیت لری۔ ځکه چه حقیقی ښکلا د زمانے د تغیر سره هم خپل حقیقت نه محو کوی۔ ګویا کوم ځیز چه حقیقی دایمی افادیت لری هغه به ماضی حال او مستقبل کښے هم د افادیت نه خالی نه وی۔ ځکه خو اکثر دانشوران په دے متفق دی چه د دا سے فن د تخلیق نه دے په کول پکار دی چه وقتی او عارضی حیثیت لری د باید په فن کښے د مقامی سره سره آفاقی ښکلا وی۔ چه په هره زمانه او ماحول کښے خپل افادیت له لاسه نه ورکوی۔ او دا سے فن هله ممکن دی چه د فنکار روح ځلاند او د حُسن معیار یے آفاقی وی۔ او هم د دے نه به فن کښے ژوند پیدا کیږی۔

د یکارتے د حُسن په حقله د خپل یو دوست په فن رنا غورزوی او وائی چی۔

" د هغه د فنی تخلیقاتو په ارسانو کښے د رمینځ وحدت د الفاظو په انتخاب، کښے پاکیزګی ده۔ او دا پاکیزګی د علمی اسلوب د پاره د اسے ده لکه د جسم د پاره صحت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د الفاظو د انتخاب د پاکېزګۍ د تخیل او اسلوب ترینګنه د وحدت دلیل دی. اسلوب جسم دی او تخیل روح - یو مکمل اسلوب د هغه سی شکل پېښوي چه د هغه حُسن په تناسب یا تعدیل کښې مضمر وي."

دیکارټ بې اعتدالي بې نظمي او اغلاق د فن د پاره مضر ګڼي - د هغه په رائې کښې د اعیبونه د هغو سره په نیکنې کښې ښکاري چه د انسان ذخیره خو ور سره دېره وي. خو د تصور اتو ور ښه کمي وي. چه د هغو تخیلات خو تور ارشاندار وي. خو اظهار یې په مبهمه طریقه کوي."

بیلوری وائی "حُسن حرکي او ارتقائي دی. او فطرت همیشه د کمال یا مثالي حُسن په لټون کښې وي. خو هېچرې لاس ته نه ورځي. د هغه د دې محرومیا سبب دا دی چه هغه چه په کوم ساز او سامان سره کار کوي هغه ممکن نه وي. نو هم د غه وجه ده چه ټول د لوړې مرتبې فنکاران خپل آئیډیل یا مثالي نمونه پخپله جوړوي." بیلوری په فن کښې د تصور په اهمیت زور ورکوي او وائی "تصور چه مونږ ورته د مصورئ او بت ګرئ، دیوی یعنې خدائے والو د تصور په پرده او په سنګ مرمر نازلیږي - او د د غو فنونو د پاره اصلي منبع جوړه شي. که د عقل په پرکار د دې تصور پیمائش او کړې شي نو دا پخپله د کارکوونکي د لاس معیار ثابتیږي. او چه هر کله یې تخیل په خپل ځان کښې جذب کړي. نو دا په تمثال کښې د ا ژوند روح پُرک وهي."

بیلوری تصور او تخیل د جذب او انجذاب د وه د اسے موضوعي تخلیقي قوتونه ګڼلي دي چه د هغو د تعامل په وجه په فن کښې ژوند پیدا کیږي او هم د غه روح دی چه په فن کښې ژوند او د جمال او جلال ترلے رنګینې پیدا کوي.

۴ سپینوزا د معروضي حسن د وجود نه منکر دے - د هغه په خیال په کائنات کښې نه خو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کوم خیز ښکلې دی او نه بدصورت. دا محض د انسان خپل موضوعي کیفیات دی چه
د هغو په سبب یو څیز ښکلی یا بدرنګ ښکاری. لیکن چه "زه تاسو ته په کوم
چه زه د فطرت سره نه حسن او نه بدرنګی نه نظم او نه بدنظمی منسوبه
کوم شیان یو ازے زموږ د تخیل په نسبت ښکلی بدرنګ منظم او غیر منظم
ښکاری. مثلاً هغه حرکت چه اعصابی نظام یے د نظر په ذریعه د مخلوخ شیانو
څخه حاصل کوی. که هغه زموږ د صحت دپاره مفید وی. نو په هغه څیز کښې ښکلا
ښکاری. او که هغه حرکت دا سے نه وی نو دا سے څیز ته بدرنګ او قبیح وایو"

ګویا اسپینوزا هم د افلاطونس په څیر په اجسامو کښې د ښکلا قایل نه دے.
او ښکلا یو ازے په انسانی انا کښې مضمره ګنړی. خو سوال دا دے چه که یو سړی
ته یو څیز ښکلی او بل ته قبیح ښکاری. نو د شیانو سره او مروړ ښکلا تعلق
ثابتیږی. ا ے که هغه په قول د فلاطینس د حسن پلرشه یا نوری چه د هغه
څیز د پاسه ځلیږی. بیا انسان په یو جسم کښې ښکلا او دویم انسان هم په هغه
جسم کښې بدرنګی او قباحت ولے محسوس نوی. آخر انسانی انا بغیر د شیانو نه ولے
د حسن ادراک نه کوی. او ولے هغه مادی شیان نظرانداز دی؟ او د هیڅ مثال سره
تعلق نه لری؟ یقیناً څرنګه چه د یو سړی په انا کښې د حسن د ادراک عنصر وی.
چه د هغه ښه د اقتضا سره سم په مادی قالب کښې ښکلا هم محسوس
کوی. ګنړی بیا به د حسن معیار د هچا هم جدا جدا نه وه. او بیا د دے
عصر د پوهانو د تحقیق سره سم څخپله ماده هم د یو قسم توانائی تعریف نه بدله
شوے ده. او ن یے دا تعریف کیږی چه هغه په توانائی کښې بدلیږی
او توانائی صفت دی چه د خپل ذات یعنی مطلق حیات سره قایم دی.

الکسنډر وائی "حسن په تناسب او هم آهنګی کښې مضمر دی. څرنګه چه

په کائنات کښې تناسب او هم آهنګي موجوده ده. د دغه شان هر څيز هم آهنګي او تناسب لري". [illegible] سيټم، هم چه هر شے يو تناسب او هم آهنګي لري خو په هغه څيز کښې به حُسن پوازې هغه خلقو ته ښکاري چه د حُسن معيار د هغه سره متحد وي. ګويا په کائنات کښې هر څيز ښُکلا لري خو د چا چا د پاره. نه د هر چا د پاره. نو وايم چه د مطلق حُسن پرتو په انساني روح باندې ډير ګلانه تخيل په سرعت پريوزي. او د دې صورت سره سم انساني رُوح يا انا د هغه د تکميل او انکشاف د پاره په معروضي حُسن کښې لټون کوي.

وکو وائي "شاعران د نوع بشر حواس دي. او فلاسفه عقل. عقل چه څومره کمزورې کيږي تخيل هُم په هغه نسبت زيات تيز کيږي".

وکو په شاعرۍ آرټ کښې (د غلو مبالغې) ته ډير اهميت ورکوي که څه هم نن پرون د حقايقو په خلاف په فن کښې مبالغه کول ښه نه ګڼلې کيږي خو شاعر چه د خپل تخيل په زور کوم داسې څيز وړاندې کړي چه په ظاهر کښې د عقل او فطرت نه خلاف ښکاري. نو هغه خلق يې هيچرې نه خوښوي کوم چه عام حقائق خوښوي. خو بايد چه څنې داسې آوريدونکي هم وي چه هغوئ د شاعر هغه نوئ تخيل د مستقبل يو حقيقت اوګڼي ځکه چه په قول د ارسطو شاعر د مؤرخ نه زيات حقيقي حيثيت لري. ځکه چه مؤرخ خو په دا اوويلي چه څه شوي دي. خو شاعر د دې نه علاوه دا هم ښئ چه څه بايد کيدونکي وي. او په خپله زما دا تجربه ده چه ما يو خيال په شعر کښې بند کړې دئ. او څه موده پس حقيقي ثابت شوې دئ او بله خبره دا ده چه د شاعر په داسې مبالغه آميز تخيل کښې ښُکلا هم موجوده

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وی۔ او ښکلا چه په هر رنګ کښې ځغ شي۔ انسان يې خوښوي۔

بوعلي سينا وائي "د کائنات هر شئ ناقص دئ۔ او د کمال حاصلولو په تکل دئ۔ هم په دے کښې د ښکلا راز پټ دئ او هم دے ته مخې والئ او هغه د کمال منزل چه مخا په نظر کښې وي حُسن وئ" او بل دانشور وائي چه "کوم څيز چه مفيد شي هغه ښکلئ پاتے نه شي" صحيح دا خو په دے معنیٰ ښکلئ پاتے نه شي چه انسان يې بيا مشاهده کول ضروري نه ګڼي ځکه چه د کوم حُسن بنه مشاهده اوشي هغه د انسان د ذوق جمال تنده ماته کړي۔ او د انساني انا د حُسن په خلکه کښې د رنګ په حيث شامل شي۔ نو په دے حيث مفيد شي چه د "انا" د ښکلا د خاکے يو کمی يې پوره کړے او رنګ يې ورکړئ وي۔

په عوارف المعارف کښې دي چه "روح د نغمو نه ځکه خوند اخلي چه روحاني عالم مجمع د حُسن او جمال دئ۔ په کائنات کښې د تناسب وجود زباني او هم په عملي طور ښوين کړئ شوئ دی۔ او د شکل او صورت تناسب هم د روحانيت ميراث دئ۔ ځکه نو چه هر کله روح خوږے نغمے او متناسب آوازونه واوري نو د هم جنس او متوازن کيدو په وجه د هغو اثر قبول کړي۔"

څرنګه چه مونږ ويلي دي حقيقي څيز تصور يا مثال دئ۔ چه د مثال د عالم سره تعلق لري۔ او چه مونږ کوم تصور په ذهن کښې جوړوو۔ نو سوال دا دئ چه د هغه مبدء کومه وي؟ يعنې مونږ يې د کوم ځائے نه راوړلو؟ نو معلومه شوه چه هغه ځائے د ذهن نه اوچت دئ۔ او هم هغه مثالي عالم دئ۔ څو چه مونږ يو تصور جوړوو۔ نو اجزاء اجزاء را غونډوو۔ او بيا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ذهن دمغونه يوه کليه جوړه کړی. نوا ے دذهن نه اوچته چه دے کوم مبدءِ دے په هغې کښې دا تصور د اجزا د په صورت موجود وه ؟ نه. بلکه دیو کلی مفهوم یا وجود په حیث. اَو کوم وخت چه دهغه کلی مفهوم پېژنو په ذهن پریوت او ذهن په ظاهره تجزیه شروع کړه. تو هغه په حقیقت کښې تجزیه نه وَه. بلکه کوم وخت چه ذهن هغه کلی مفهوم بغیر د تجزیه اَو تحلیل کولو په خپل مفهوم کښې شنو راوستلو. اَو په هغه وخت کښې مونږ دا خیال کولو چه کوندے ذهن یے تجزیه کوي. ځکه چه ذهن اَو تخیل دواړه یو بل ته داسے نژدے دي بلکه دَاوُبونه دراورود جوړیدو عمل. نو ذهن دا تصور د "انا" نه اخلی اَو "انا" د مثالی عالم نه. اَو بیا چه تخیل هغه تصور خارج ته را اُوباسی نو هغه د مطلق انا دَحُسن یوه نمونه وی. اقبال چه وائی چه " انسانی فن د فطرت د فن نه بنګلی وی". نو په ځائے وائی. ځکه چه فنکار انسان د فطرت نه زیات هنرمند وی. ځکه اقبال وائی ؎

بے ذوق نہیں اگرچہ فطرت
جو اُس سے نہ ہو سکا وہ تُو کر

یعنی فطرت که څه هُم له ذوقه خالی نه دئ. خو هغه نه چه کوم کار اونه شو هغه ته اوکړه. ځکه چه اقبال پوهیده چه انسانی انا په مادی فطرت غالبه ده. که په ابتدا کښې د طبیعی یعنی مادی نه متاثره وی خو ورو ورو چه قوت پیدا کوی ورسره ورسره په مادی فطرت هُم غلبه مومی.

فن دَفن دَپاره یا فن دَژوند دپاره. دد ے دواړو خیالاتو خاوندان

همیشه راسې پخپلو کښې اختلاف لري. خو بیا دې لړ کښې د افلاطون رائې دَ تولو نه غوره ښکاري ځکه چه افلاطون، فن دَ ژوند د پاره ځکه کښلو. چه هغه فن د اخلاقي بنیادونو په حیث ضروري کښلو. اَو کوم خلق چه دَ فن برائې فن قایل وو. د هغوی په فکر د اخلاقي جذبې تسلط نه وه. ځکه چه حیوانیت یا حیواني عنصر ته هر هغه څیز ښکلې ښکاري چه په کوم د هغه لوږه یا تنده تسکین مومي. د یَک انساني انا ته یواز هغه شیان ښکلي ښکاري کوم چه دَ انسانیت اَو انساني اخلاقو په تکمیل کښې پکار یدی شي.

صوفیاء وائي چه انسان چه هر څیز لیدل غواړي باید چه پخپله دَ هغه څیز پخیر شي. زمونږ سترګو به هیچرې لمر نه لیدې چه پخپله د لمر په څیر شوې نه وې. د غه شان ترڅو چه انسان دَ حق تعالی په حُسن کښې شامل نه شي دَ حق تعالی مشاهده نه شي کولې. ځکه وئیلي شوي دي. رئیت ربي بربي. اَو تخلقوا باخلاق الله.

هیګیس وائي "په یو څیز کښې چه دَ حُسن وُجود ضروري وي اَو هغه ته حُسن موجُود نه وي نو هغه څیز به بد رنګ اَو قبیح ښکاري. لکه د کانو یو ډیرۍ چه هیڅ حُسن ورسره ضروري نه دې. لیکن که یو مکان وي. اَو په هغه کښې تناسب وغیره نه وي. نو بد رنګ ښکاري، ځکه چه حُسن ورسره ضروري دې."

زما په خیال حُسن درې ډوله دې. مُلکي یا رُوحاني. انساني اَو مادي. سوم حُسن دَ جنسي جذبې نه بیخي پاک دې. لکه چه ورو ستو وئیل شول چه د نغمې نه د لذت اخستو په وخت هیچرې جنسي جذبه په حرکت کښې نه راځي. په دې شرط، چه دَ نغمې سره کوم انساني آواز شامل نه وي.

دویم، یعنی انساني حُسن، دَ رُوحاني اَو جنسي امتزاج دې. اَو دریم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یعنی مادي حُسن یعنی د جنسي جذبې محرک دئ ـ خو په دې شرط چه هغه د نظري مناظرو حُسن نه وي ـ

کانټ وائي " انسان د خپلې کم نظرۍ په وجه د مادي عالم اَو د زمان اَو مکان د لا محدودیت نه مغلوب شوئ دئ ـ که چرې انسان د عقل اَو ادراک صحیح جایزه واخلي ـ اَو د عالم اَو معلوم اَو علم په حقیقت پوهه شي ـ نو هغه به دې نتیجې ته اورسي ـ چه زمان اَو مکان اَو علت اَو معلول ټ خپله د انسان د نظر زاویې اَو د ادراک آلات دي ـ په خارج کښې د هغو هیڅ مستقل حیثیت نشته " یعنی هرڅه هرڅه د انساني انا د نظر پیداوار دي د کائنات مرکز نه مزکه ده نه لمر نه شمسي نظام ، بلکه د کائنات مرکز صرف انسان دئ ـ

دا تماشې خو ستا نظر جوړه وي
ته لړ کتل د تماشا نده کړه

خو دا تماشې یا ظاهري کائنات پرتو دئ د انائے مطلق چه په انائے مقید پریوزي یا په قول د اقبال د انائے مطلق هغه تخلیقي امکانات دي چه هیڅ حد ئې نشته ـ اَو هر کله چه دا امکانات یا د انائے مطلق دا عملي معلومات چه په خارج کښې منعکس شي نو هر یو د یو فرد یا انا په حیث ظهور کند شي ـ اَو چه هر کله د ا افراد یو بل ته مخامخ شي ـ نو د خارج تصور پخپله پیداشي نو په دې حیث خارجي کائنات په حقیقت کښې موجود دئ ـ خو د اصل په لحاظ د انائے مطلق په وجود کښې فاني اَو عین انائے مطلق دئ ـ

مونږ د افلاطون قول " فن د ډوند مبارزه " ځکه غوره کړو ـ چه اداره ئې په انساني اخلاقي قدرو بنا ده ـ اَو هر کله چه د فن نه اخلاق خارج

شي په فن کښې ښکلا پاتې نه شي. ځکه چه د کوم انسان انساني عنصر په حيواني غالب وي. هم هغه انسان په صحيح معنو کښې په فن او اشياء کښې د ښکلا حقيقي ادراک کولی شي ځکه چه اخلاق ښکله هم پدې ښکلا ده. او د انساني عنصر د مغلوبيت په حال کښې د ښکلا معيار حيواني عنصر د خپل جبلت په مطابق متعين کوي. که څه هم د حيواني عنصر په دې تعين کښې د انساني عنصر تحريک هم شامل وي. لو ډير کمزورې وي. برکلے وائي "هيڅ شک نشته چه په اخلاقي دنيا کښې د قلب حسن د نيکۍ ذرو را ښکاري او اعتدال او تناسب موجود وي. داسې انسان پوهيږي چه حسن هغه څيز دی چه حظ يا لذت پيدا کوي. هغه د خپل تناسب په وجه په سترګو ښه ښکاري او په اعتدال کښې مضمر وي."

او هچسن وائي "حسن صرف په موزون کښې د نه يو تصور دی:" موزون ويلی دی چه انسان د حيواني، انساني، او ملکي عناصرو نه عبارت دی چه په دغو کښې د انسان ذاتي عنصر انسانيت دی. ملکيت او حيوانيت دې بدرقې دی چه بايد دواړه په معتدل دول د انساني عنصر سره شاطي وي. او د انسانيت په تکامل کښې مرستيالے ثابت شي. څوکه په دې دواړو کښې کومه يوه انساني عنصر غالبه شوه نو انساني عنصر د خپل فطرت په مطابق ترقي نه شي کولی. که ملکيت پرې غالب شو د عشق جذبه به يې مغلوب کړي. او که حيوانيت پرې غالب شو نو د نيکۍ امن امان ته اور ورته کړي.

د انساني اخلاقو د بشپړتيا د پاره د دې دواړو عناصرو ته ضرورت دی. ځکه چه که انسان له يوې ډډې روحاني دی نو له بلې ډډې مادي هم دی او د دې دواړو د امتزاج نه بايد داسې اخلاق پيدا شي چه هغه د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نږې په ضبط اَو نظام کښې ضروري وي۔ اَو هم په دے سلسله کښې دَ نړۍ دَ اکثرو پوهانو نه غلطي شوے دي۔ چه چا خو انسان کټ مټ يو مادي ځناور ګڼلې دې۔ اَو دَ هغه تربيه اَو رهنمائي ئے په مادي نقطهٔ نظر کړے ده۔ اَو چا بيخي روحاني منلې دې چه په دے سره ئے هغه دَ ترکِ دُنيا په تور غار کښې غورزولې دې۔ اَو چه دَ مادي نړۍ سره ئے تعلق پرے کړې دې۔ انساني اخلاق ئے ناقص پاتے شوي دي۔ اَو چه حيوانيت اَو ملکيت ئے په مناسب ډول مرستيال شوي دي۔ نو انسانيت ئے کامل شوې دې۔ اَو دَ دے تکامل سره په هغه کښې حقيقي ښکلو غزونے کړے دَه۔ دَ تناسب اَو توازن راز دَ لته ظاهريږي۔ هم دا سے انسان په هر څيز کښې دَ حُسن مشاهده کولې شي ځکه چه هغه دَ حُسن دَ سَر چينے سره شامل شوې دې۔ دَ مطلق حُسن دُنيا ته رسيدلې دې۔ اَو اُوس هغه ته معلومه شوے وي چه کوم خلق په يو څيز کښې حُسن محسُوس کوي۔ اَو په بل څيز کښې نه محسُوس کوي۔ هغه دَ حقيقي حُسن سَر چينے ته نه وي رسيدلي۔ ځکه چه هغه دَ خپل انفرادي جزوي حُسن په مطابق دَ حُسن ادراک کوي۔ خو کوم انسان چه حقيقي حُسن ته رسيدلې وي دَ هغه ادراک همه ګيروي۔ هغه دَ يوے ښُکلے ښځے په سندره کښې دَ ساز اَو آواز دواړو حُسن محسُوس کوي۔ اَو هيڅ جنسي جذبه ئے نه پاريږي۔ هغه په وُچو غرونو، کندو، خرخزرو، خاوُرو اَو کڼو بلکه په هر څه کښې دَ حُسن ننداره کوي۔ لکه چه خوشحال بابا وائي۔

په هر څه کښې ننداره دَ هغه مخ کړم
چه له ديرے پيدا ايې ناپديشو

هو چه انسان دَ حقيقي حُسن ننداره اُوکړي۔ هغه په هر څه کښې دَ هغه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حُسن ځلا وینی ـ ځکه چه دَ کائنات هر څیز دَ حُسن دَ پرتو نه عبارت دیٔ۔
بلکه هر څیز عین حُسن دیٔ ـ اَو هم دغه حُسن عین ژوند اَو خېر دیٔ۔
شیفتسبری لیکی "حُسن" ښکلا" اَو ښهٔ شکل په ماده کښے هیچرے نه
وی ـ بلکه په فن اَو دیزائن کښے وی ـ هغه څنګه په جسم کښے نه وی،
بلکه په صورت یا دَ صورت ګر په قوّت کښے وی ـ پرازے هم هغه
ځائے کښے هیچرے حقیقی قوّت نه وی ـ چرته چه په هغه غور اَو فکر اُونه
کړے شی ـ چه دَ هغه مطالعه اُونه کړے شی ـ په هغه محاکمه اُونه کړے
شی ـ اَو فقط دَ هغه څیز د عارضی نښان یا علامت په څیر ښکاری کوم چه دَ
مشتعل حِس اَو (ژوند باطن) دَ وحشیانه جذبے تشکیل کوی ـ حُسن بیا هم یو
څیز دیٔ۔"

اَو هم دغه دانشور دَ فن دَ ښکلا په حقله وائی "دَ فن حقیقی مقصد دا
دیٔ چه تصورات اَو جذبات دَ حواسو په ذریعه زړه ته را انجام کړی۔"
لائبنز وائی "په فن اَو شاعرئ کښے دَ حُسن دُنیا دَ شعور اَو لا شعور په سرحد
ولاړه ښکاری ـ دا دَ بصیرت اَو حِسّاس رُوح په تت غوبدے نُور کښے مضمره
دی ـ دَ غیر مدرکاتو دیه دُنیا ژوند مندره "نیمه رڼبنانه" خزانه دَه ـ چرته
چه تصورات د تیرے نه پوره رڼا ته راشی نو بیا هم داسے وړچے راځی ولی
داده دَ حُسن بارګاه۔"

اَو لیکی "موسیقی دَ قلب شمار دیٔ ـ (یعنی قلب شمیرل کوی) بغیر
دَ دے نه چه دا شمار دیٔ۔"

مطلب ئے دا ښکاری چه موسیقی دَ قلب سره دَ اعدادو یو محسوس
تعلق دیٔ ـ اَو موسیقی د احساس په صورت کښے پخپله عمل دیٔ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اُوزه به اُووايم چه هم دغه عقل عين حُسن اَو حُسن عين ژوند دىٰ۔

ريډ وائي ”د ادَ قلب صفات دي چه اَصل حُسن پکښې موندلىٰ کيږي۔ اَو دَ فطرت په شيانو کښې هم حُسن دَ دے تعلق نه موندلىٰ کيږي۔ کوم چه دَ قلب سره دىٰ۔“

زما په خيال که موږ دَ انفرادي قلب نه صرف نظر کړو۔ اَو مطلق قلب واخلو نو هيڅ شک نشته چه بيا به قلب په هر څيز کښې ښکلا محسوس کوي۔ البته انفرادي قلب هم دَ ښکلا مدرک دىٰ۔ خو دا ملکه يې جزوي اَو محدُود دىٰ۔

هيوم وائي ”حُسن دَ شيانو دَ عناصرو يو خاص صوري ترتيب اَو نظم نوم دىٰ۔ اَو دے حُسن ته موږ په دے وَجه وايو چه دا زموږ دَ فطرت رواج يا دَ تخيل دَ جولان په سبب زموږ رُوح ته تسکين اَو مسرت رسوي۔ مطلب دا شو چه موږ يو څيز ته ښکلىٰ ځکه وايو چه هغه جوړ شوىٰ هم دا سے وي چه دَ هغه نه زموږ رُوح حِظ اَو لذت حاصلوي۔ اَو هغه څيز زموږ رُوح ځکه خوشحالوي چه اول خو زموږ خپل فطرت حُسن پسند دىٰ۔ اَو دويم دا چه په دے کښې زموږ د رسم اَو رواج اَو تخيل دَ خل هم دىٰ۔“ دا تعريف هم دَ حُسن دَ انفرادي احساس سره تعلق لري۔ اَو دَ قلب په ځائے يې رُوح ياد کړىٰ دىٰ۔ اَو که دَ رُوح نه يې مراد هغه غير مادي رُوح دي۔ کوم چه مذهبي خلق بيانوي۔ نو بيا خو په هغه کښې دَ رسم اَو رواج يا دَ يو مخصوص تخيل کړدون دَ هغه محدُود کول دي۔ البته که دَ رُوح نه يې مُراد حيواني رُوح وي۔ نو خبره جُدا ده۔

دَ دے خپل خيال په تائيد کښې هيوم بيا ليکي ”که موږ په ښکلا اَو بدرنګه

کښې دَ فرق واضح کولو په خاطر دَ فلسفې یا عمومي عقل په ټولو قیاساتو غور
اُوکړو. نو معلومه به شی چه ټول قیاسات هم په دے یوه نقطه مرتکز
شی چه دَ داسے نظم اَو اَشیاوُ دَ صورې ترکیب نوم حُسن دیُ چه یا خو زمونږ
دَ بنیادی فطری قانون اَو رواج اَو یا دَ تخیّل دَ جولانۍ په وجه زمونږ روح
ته تسکین اَو مسرّت رسوی۔"

خو داسے ښکاری چه دَ حُسن دَ تعیّن په حقله هیوم د پورتنو افکارو په
خلاف هم لیکی۔ اَو دا ځکه چه هر ترقی پذیر اَو رعښانه ذهن ورو
ورو دَ شیانو حقیقت ته رسی۔ کم چه هم د هغه راڅرګندیږی په حقله په
ابتدا کښې هم په جزوی طور غلطه نه وی۔

هیوم لیکی "حُسن دَ شیانو ذاتی صفت نه دیُ هغه خو صرف په هغه
قلب کښې وی کوم چه په دے اشیاوُ کښې غوراً و فکر کوی۔ ځکه نو هر قلب
د یو ځان ته بیل حُسن مشاهده کوی۔ دا عین ممکنه ده چه یو سړی ته هغه
څیز بدرنګ ښکاری شی کوم چه یو بل سړی ته ښکلی ښکاری۔ ځکه نو په هر
سړی واجب دی چه د نورو خلقو د احساساتو د منظم کولو دعوی اُونه کړی
اَو په چپه چپتیا خپل احساسات تسلیم کړی۔ د حقیقی حُسن یا بدرنګۍ تلاش کول
هم دومره لاحاصله دی څومره چه د حقیقی خوږلت یا شیرینۍ یا ترخې والی
معلومول۔"

مونږ د هیوم د دے جملے سره متفق نه یو چه د حقیقی حُسن ادراک یا دَ
حُسن د اصلی ادراک ناممکن دیُ ځکه چه که د یو څیز حُسن د مطلق اَو اکبر
حُسن جزو وی نو جزو همیشه دَ کل نه جدا نه وی۔ اَو انسان چه د ښکلا مرکز
دیُ اَو د ټول کائنات ښکلا د هغه په وجود کښې موجوده ده۔ نو هغه یقیناً دَ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جُزوی ښکلا نه کُلی ښکلا ته رسیدیٔ شی۔

داخبره دعقل نه خلاف ده چه یو انسان دَ ښکلا ادراک خو کولیٔ شی لیکن دَ ښکلا حقیقت ته نه شی رسیدیٔ۔ اَو دا هُم دا خبره ده چه هغه دَ ښکلا تعریف په الفاظو کښې نه شی کولیٔ۔ ځکه چه هُغه شیان بیانېږی عام اَو ځینې ښودلیٔ کېږی۔ دمثال په ډول زمونږ په ځمکه ډیر څیزونه دَ حُسن په ځلیٔ قبیح محسوس کېږی لیکن د هغه په آواز کښې هم د غه قلب ښکلا محسوس کوی۔ البته دومره خبره ده چه جزوی حُسن چه کلی حُسن ته اُورسی۔ نو دے رسید و مطلب دا نه دیٔ چه جُزوی اَو کُلی دواړه یو بل ته مقابل موجود وی۔ ځکه چه دا سے حالت خو اُوس هم موجود دیٔ چه زهٔ په حیثیت د یو فرد هم دَ کُلی ښکلا احساس درم۔ لیکن مطلب دا دیٔ چه جزوی حُسن په کُلی حُسن کښې دا سے فنا اَو محو شی چه هلته عین کُلی حُسن شی۔ اَو خپل ځان بیا د یو کُل په حیث محسوس کوی۔

دد ے تو لو دانشورانو چه بیان شول اکثریت دد ے سره متفق دیٔ۔ چه حُسن په ښکلی ترتیب توازن اَو تناسب اَو اعتدال کښې مضمر دیٔ۔ اَو دا ځکه چه هم دا څیزونه دانسانی انا د لذت اَو مسرت موجب دي خو سره دد ے هم باید پوهه شو چه دفرد دَ ښکلا معیار دَ بل نه جدا وی۔ اَو وجه یې دا چه فرد دَ هغې ښکلا لټون په شعوري یا غیر شعوری ډول کوی۔ کومه چه بالقوة د هغه دَ حُسن په هغې نظری خاکه کښې مُضمر ده۔ اَو هم دَ د ے داخلی تحریک په وجه یې لټون کوی چه دَ هغه د "انا" له طرفه وی۔ اَو ترڅو چه دهر یو انسانی "انا" دَ ښکلا هغه فطری بالقوة دَ حُسن طلب مور شویٔ نه وی۔ دا تحریک یې جاری وی۔ اَو چه هر کله یې هغه

بالقوه دَ شُکل خاکه ډکه شي او پوره پوره رنګ واخلي نو بیا هغه دَ دے
قابل شي چه دَ معروضي حُسن نه دَ موضوعي حُسن په لور پرواز اوکړي.
ځکه چه اوس هغه په وجودي لحاظ کامل شوي دی.

* * *

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ځلورم باب

# مکان او زمان

کوم وخت چه دا خبره متعین شوه چه "انا" یو غیر مادي حقیقت دئ - نو اوس کتل دا پکار دي چه پخپله د "انا" مرکزي او بنیادي حیثیت څه دئ! نو په دے حقله باید پوهه شو چه د "انا" یو حیثیت مطلق دئ او بل مقید.

اناے مطلق لکه د نمر او "انا" ے مقید لکه د پلوشو کېنل پکار دي - نو د مطلق انا حیثیت به د هغے نقطے دي په کومه کښے چه د کائنات دائره پټه پرته ده - لا د تخم هغه دانه چه دیوے د ونے او د هغے وجود پکښے پټ پروت وي - او چه هر کله دا دانه وده وکړي - او د یو بوټي په حیث ځان څرګند کړي او بیا ورو ورو خپرېدل کیږي - نو د تخم هغه دانه پکښے ورکه شي - یو خوا بل خوا ترے جرړے رواںے شي - ګویا د نقطے نه چه دائره جوړه شي نو د نقطے وجود په دائره کښے ورک شي او نقطه غائبه شي - خو هر څوک پوهیږي چه د دائرے وجود هم د هغے نقطے تفصیل دئ - کومه چه اجمالي بنکاریده - د اوسے وجود هم د هغے دانے نمود دئ چه خپل مضمر امکانات یے په خارج کښے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ظاهر کړل - د ارتقا په دوران کښې د تخم د هغې دانې وجود ورک شو - خو چې هر کله اُونه کمال ته ورسیده - نو هم هغه د تخم دانه څو څو چنده بیا ظاهره شوه - نو معلومه شوه چې دا دانه نه دانې ظاهرې شوې - او هم د دې حیثیت ته علامه اقبال هم اشاره کړې ده - او لیکلي یې دي چې "د حق وجودي حیثیت د یو مطلق انا دی - او ظاهره ده چې د "انا" نه یوازې د انیتونو (اناګانو) صدور ممکن دی - نو ځکه په کائنات کښې هر څیز، لوی دی که وړوکی هر یو په خپل ماهیت کښې یوه انا ده۔"

خو سره د دې هم هره انا ځان ته یو امتیازي حیثیت لري - د کائنات هر څیز په انفرادي توګه څه مخصوص صفات لري - او د هر څیز خپل مرکزي او محوري وصف داسې وي چې هغه د بل څیز نه جدا وي - او هم دې ته د هغه څیز ذات وائي - او د ذات معنی هم دا ده چې د نورو شیانو نه ځان انفرادي او ممتاز اوصاف اولري - او هم په هغو اوصافو د نورو شیانو ممتاز وي۔ اوس سوال دا پیدا کیږي چې کله چرې د کائنات هر څیز په خپل ماهیت کښې یوه انا دی - او صدور یې د یو مطلق انا نه شوی وي - نو باید چې هره انا په وجودي او صفاتي لحاظ یو شان وي - په دغو کښې دا امتیازي صفات له کومه راغلل؟ نو د دې جواب دا دی چې کوم وخت مونږ د یو وجود نه د مختلفو شیانو صدور محسوس کړو - او مشاهده یې کړو - نو پوهیږو چې دا ټول په مطلق انا کښې موجود وو او ظاهره ده چې په یو لوښي کښې چې هر څه وي هم هغه ترې راوځي - دا ټول انیتونه په مطلقه انا کښې موجود وو خو هلته په خپلو کښې د هغو څه امتیازي حیثیت ممکن نه وه۔ لکه د سائنسي پوهانو د تحقیق سره سم په نمر کښې اووه رنګونه موجود دي۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نوڈ نمر په کړه کښې هغه ټول صرف ديو رنګ نه عبارت دی. اَو هېڅ امتياز نهٔ لري خو چه په خارج کښې منعکس شي نو ډېر رنګ ځان ته يو امتيازي وجود څرګند شي.

صوفياء وائي چه هر څيز د حق تعالیٰ د يو اِسم مربوب او مظهر دیٔ. هم د هغه اِسم په مطابق صفت لري. او بيا د هغه د پاره يو "عين" وي چه مجموعے ته يے اعيانِ ثابته وائي. دا اعيان هېچرے د خارجي وجود بوئي نهٔ شي محسوس کولیٔ. بلکه د هغو منشاء په خارج کښې موجوده شی. اَو دا ټول شيان د مطلق انا معلومات دی. چه کوم وخت د مطلق انا د اِسم باطن سره متعلق دی. نو هېڅ امتيازي وجود نهٔ لري. بلکه عين ذات يا عين مطلق انا وی. ځکه چه دا ټول اسماء اَو صفات اَو اعيان يوازے نسبتونه دی چه يو ذات ته راجع دی. او اعتبارات دي چه د يو ذات سره تعلق لري. د هغه مطلق انا په ذات کښې هېچرے کثرت ممکن نهٔ دیٔ. خو چه کوم وخت دا علمي معلومات د اسم الباطن نه په اِسم الظاهر کښې منعکس شي نو هلته انا د خپل هغه اِسم او صفت په مطابق هم هغه انا يے مربوبه وی څرګند شی. اَو د دے ظهور سره د خارجي جهان تصور پيدا شي. ځکه چه دا شيان يو بل ته مخالف شی. ګني د مطلق انا هېڅ خارج او داخل ممکن او متصور نهٔ دیٔ اَو کائنات په اصل کښې په خارج کښې نه، بلکه په عِلم کښې موجود دی.

اُميد دے چه اَوس به لوستونکو ته معلومه شوے وی. چه د يو مطلق انا بے شماره مظاهر يعنی انيتونه د لے د يو بل نه مختلف وی. علامه اقبال يکی هم يوه ورځ د مشهور صوفي بزرګ بايزيد بطامی په مجلس کښې يو صوفي زمونږ عام نکته نظر په مطابق دو ئيل چه هغه هم يو وخت وه چه يوازے حق تعالیٰ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

موجود وه او دا هر څه هم څه ئې په علم کښې وو ـ نو دې په جواب کښې چه بارو به کومه خبره اوکړه صفه دده نه هم معنی خینې وه ـ او دې ووئیل چه ...... څه دي؟ اوس هم صرف د صفه وجود دی او هر څه ئې په علم کښې دي ـ

څرنګه چه وئیلی شوي دي ـ دَ اعیانو دَ نظرئې سره افلاطون هم متفق دئ ـ صفه د شیانو حقیقي وجود ونه اعیان ګڼی او شاه ولی الله دهلوی او اکثر صوفیا هم ددې نظرئې قایل دي ـ

کوم دخت چه دا خبره صفا شوه چه مظاهر په حقیقت کښې دَ مطلق انا علمی صورتونه دي ـ نو معلومه شوه چه کوم وخت صفه په خارج کښې منعکس شی نو د خپل وجودی انفرادیت په مطابق ترقی کوی ـ د هر عین مضمر امکانات ورو ورو د قوت نه فعل ته راځی او دَ هر "عین" مرکزی دنیا د نورو اعیانو جدا دی ـ نو ځکه یې افکار او خیالات هم په بنیادی دول جدا وی ـ که څه هم انسانی اعیان په فطری او وجودی دول یو شان وی ـ خو بیا دَ هر "عین" امتیازی اوصاف دَ نورو نه جدا وی ـ

اوس به راشو دَ مکان او زمان بحث ته ـ او اوبه ګورو چه انسانی "انا" ددې دواړو اِدراک په کوم دول کوي ـ

ظاهره ده چه دَ یو انسان د خپلې هستی اِدراک دَ هر اِدراک نه حقیقي او داخلي دئ ـ مثلاً "زهٔ فکر کوم ـ ځکه زهٔ موجود یم ـ لیکن سوال دا دئ چه زهٔ فکر ولې کوم؟ آیا په دې وجه چه زهٔ ژوندئ یم؟ شک نشته چه دا هم یو سبب کیدئ شی خو په مطلق ژوند کښې چه تر څو د معلوماتو نسبت نهٔ وی ـ دَ فکر کولو خو هیڅ سوال نهٔ پیدا کیږی ـ ځکه چه کوم وخت موږ د خپلو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

داخلي مضمراتو پرله پسې احساس کوؤ نو هم دده نه فکر پیدا کیږي. کارټیزین دِ زمونږ دَ تذکر چه قبله تیر شوئ بیان ملحوظ اُوساتي. اَو لا دَ خارج دَ شیانو اَو دَ پرله پسې تغیّر اَو تحول پرتو زمونږ دَ اِدراک په آئینه پریوزي. اَو هم دده پرله پسې پرتوونو نه فکر پیدا کیږي. هم دغه دَ فکر حاسه کۀ مونږ د انساني انا سره عین په خیال کښېښودلو. نو هغه ته دده فکر حیثیت دَ وجدان شي. او دا خبره ثابته شي چه دَ اِدراک حقیقي ذریعه زمونږ دَ داخلیت سره تعلق لري. ځکه چه دا هم معلومه خبره ده. چه د خوب په حالت کښې چه زمونږ ظاهري حواس بیخي غافل وي. انساني "انا" یا په نورو الفاظو انساني شعور بیدار وي. خوبونه لیدل دده خبرې روښن ثبوت دئ. اَو خوبونه څۀ وي؟ د هم هغو مضمراتو تسلسل کوم چه دَ "انا" په وجود کښې دَ ابتدا نه مندرج دا غلي دي. نو ځکه مونږ د زمان احساس دَ خارج نه نۀ بلکه د خپل داخل نه کوو. دَ مثال په دا دی چه کۀ په یوه لاره دَ یو آس د پښو ځاپې تیر شوي وي مثلاً دا ځاپې په یو فرلانګ مزکه جوړ شوې وي. نو دِ هغو ځاپو دَ ظاهر نه څېړنې دا اندازه نۀ شي کیدئ چه آس به دا یو فرلانګ مزل په څومره کښې کړئ وي. لیکن انساني انا دده ادراک کولئ اَو وخت یې تاکلئ شي.

کانټ وائي انسان دَ خپلې کم نظرۍ په وجه دَ مادي عالم اَو د زمان او مکان دَ لا محدودیت نه مغلوب شوئ دئ. کۀ هغه د عقل او ادراک صحیح جائزه واخلي او دَ عالم علم اَو معلوم په حقیقت پوهه شي. نو هغه به دې نتیجې ته اُورسیږي چه زمان او مکان اَو علت اَو معلول ټول دَ انسان د نظر زادې اَو دَ اِدراک آلې دي. په خارج کښې دَ هغو هیڅ حیثیت نشته. حتی کۀ ټول په حقیقت کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مرکزه دی خو موجودات، وحوادث چه مونږ ته څرګندېږي هغه د انسان د خپل نکته نظر نتیجه دی. د کائنات مرکز نه مرکزه ده او نه مرده نظام. د کائنات مرکز خپله انسان دی "انساني انا چه مونږ ورته مقیده انا وایو. او هغه په دې ویږ کائنات کښې موجوده ده. د پر له پسې تغیر نوم دی. مثلاً چه نمر را وخیږي هغه ته سحر وائي. او بیا چه د نمر د حرکت نه یاد نوره ورانشي نو د خیال سره سم د مزکې د حرکت په وجه د نمر د تبدیلۍ نه غرمه، ماذیګر او ماښام پیدا کیږي او هم دې ته وخت وائي.

خو که د زمان د تحقیق دپاره مونږ د لږ ساعت دپاره د انا مقید نه صرف نظر اوکړو او انا مطلق ته څیر شو چه صوفیه ورته ذات بحت او احد وائي. چرته چه هغه ذات ته هیڅ رسم صفت او "عین" نه منسوب کیږي. نو د هغه ذات په نزد به د زمان څه حیثیت وي؟ ښکاره ده چه د وخت او زمانې ادراک چه څرنګه انا مقید کوي د انا مطلق په حقله خو محال دې. ځکه چه انا مقید خو د کائنات د مسلسل تغیر د انعکاس په وجه دا ادراک کوي لیکن د انا مطلق په حقله خو دا هیڅ امکان نه لري. ځکه چه نه هلته کائنات شته او نه تغیر. صرف یو مطلق انا موجود دې. نو دلته به د خپل ذات د ادراک نه علاوه نور هیڅ موجود نه وي. او هغه مطلق انا چه د خپلې موجودګۍ کوم پرله پسې ادراک او علم لري. نو هم د غه زمان دی. "زه موجود یم" او دغه احساس پر له پسې موجود وي. او د انقطاد "آن" نه عبارت وي. او په انا مقید چه د کائنات د پرله پسې تغیر کوم پرتو نه پریوځي د هغو نه لمحې پیدا کیږي. ځکه چه که ذهن موجود نه وي. وخت یا زمان هم څرګند موجود نه شو کیدی. او په کائنات کښې چه څومره تغیر او تحول راتلی. د هغه نه د زمان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وجود نهٔ شو پیدا کیدئ ـ ځکه چه بغیر دَ ذهن نه دَ زمان تخلیق بلکه احساس هم دَ ناممکن دئ ـ نو ګویا زمان دَ انا ء مطلق د خپلې هستۍ پرله پسې دَ ادراک نوم دئ ـ اَو په دې وجه زمان عین دَ انا ء مطلق ذات دئ ـ چه مونږ دَ ته موضوعي زمان وایو ـ اَو دا نظریه دَ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دَ هغه حدیث سره مطابقت ده چه فرمائیلي یې دي چه " زمانے ته بد مه وایئ ـ زمانه خپله د حق ذات دئ ـ"

نو اَوس مونږ زمان دوه ډوله ګڼو ـ یو زمان موضوعي اَو دویم زمان معروضي ـ انساني انا چه زمان په کوم ډول محسوس کوي دا معروضي زمان دئ ـ او حق تعالیٰ یعنې انا ء مطلق چه د خپل ذات د موجودګۍ پرله پسې ادراک کوي ـ دا موضوعي زمان دئ ـ

دَ تصوف په مجاهداتو کښې چه دَ انساني انا کوم تربیت ملحوظ دئ ـ هغه صرف دا دئ چه انساني انا په خپلو فطري مضمرو امکاناتو ترد ې حده غالبه شي چه د هغو پرتوو نو نه اَو نکارو شي کوم چه پرله پسې د هغهٔ په ذهن پریوځي او د فکر صورت اختیاروي ـ یعنې انساني انا په دې قادره شي چه کائناتي پرتوونه بند ولئ اَو خپل ذهن صرف د دې احساس دَ پاره خالي کولئ شي چه "زهٔ موجود یم" اَو یوازې دَ خپلې انا مجرد احساس کولئ شي ـ او هم دې ته صوفیاء "التوحید اسقاط الاضافات وائي ـ" اَو چه هرکله انساني انا په دې قادره شي ـ چه د داخلي اَو خارجي پرتوو نو انعکاس بند کړئ شي، و هغه خالصه اَو مجرده پاتې شي ـ نو په دې وخت کښې هغه محسوس کړي چه هغه عین مطلق انا ده ـ ګویا پلوشه په نمر کښې غائبه شي ـ څاڅکې سمندر ته پریوځي ـ او هلته بیخي دَ سمندري مزاج احساس کوي ـ او د خپلې هستۍ دَ موجودیت دَ پرله پسې ادراک اَو احساس

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په وجه یو "آن" پیدا کیږي - چه هم دے ته زمان واقع - نو ګویا زمان هیڅ د "انا" عین دې نه څه بل څیز -

دَ اضافاتو په حقله خبره دا ده چه کوم وخت یو مظهر دَ نورو مظاهرو سره مخامخ شي نو هغه دَ مطلق "انا" نه محجوب شي - اَو دَ خارجي جهان تصور پیدا شي - بیا هغه تول مظاهر چه یو بل ته مخامخ وي - دَ یو بل نه متاثر اَو په یو بل کښے شامل شي - هم دلته د حقیقي انا دَ حجاب په وجه دَ خپلے ځان ته هستي احساس پیدا شي - او د دے احساس د پیدا کید و سره په هغے کښے خپه اصل ته د رسید لو غوږ ووښے اَوکړي - ځکه چه د خپل اصل سره وصال دَ هغه مظهر دَ تخلیص اَو تجرد اَو په خپل حقیقي وجود راتګ وي - دا مظاهر اسماء، صفات یا اعیان هر څه چه وي ته ولے په یو بل مؤثر شي او د مظهر د خپلو وجودي صفاتو سره دَ نورو مظاهرو صفات هم شامل شي - هم دے ته وجودي صوفیاء اَلکلُ فی الکلِ وائي - یعنې هر څه به هر څه کښے - دَ نورو مظاهرو صفات که دَ یو مظهر دَ پاره عارضي وي - خو موثر ضرور وي - په دے اضافاتو کښے ډیر داسے هم وي چه دَ یو مظهر دَ ذاتي صفاتو ضد وي - اَو کوم وخت چه هغه متضاد مظاهر غالب شي - نو افعال هم ترے صادر کړي - خو چه عارضي وي، نو بیا تت شي - اَو دَ هغه متاثر مظهر خپل ذاتي صفات بیا څرګند او فعال شي - ځکه چه کوم وخت د غالبو اَو متضادو اضافاتو غلبه تیره شي نو خپل ذاتي صفات یے ظاهر شي - ځکه چه په حیث د ذاتي او بنیادي صفاتو فنا نه ځ قبلوي صرف متاثر کیږي - او هم د دے نظریے دَ توحید و سره دَ انساني اخلاقو او انساني تربیت په حقله د یر څه پوهے ته راتلے شي -

دَ اِلٰی یوے انا احساس هغه وحدت پیدا کوي چه زمونږ دا محسوس

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کثرت تول پکښې ورکړې شي ـ وايټ هيډ وايي " د سائنس د فکر بنيادونه اوس د پوهې جوګه نه دي پاتې ـ زمان، مکان، ماده، ديتهر، برق، ميکانيت، ناميانتي نظام، د اجزاؤ ترتيب، جوړښت، قالب او افعال په ټولو د نظر ثاني کولو ضرورت دی ـ " د دې نه معلوميږي چه د عالم بشريت پوهان ورو ورو د دې ښه پوهه دي ـ چه صرف د يوې انا د موجوديت نه بغير نور د هر څه نفي وکړي ـ او د ن نه ډيرې صدۍ مخکې چه د يونان دانشور زينو د حرکت نفي کړې وه ـ ن هم ډير پوهانو د دې خيال تائيد کړی دی مخکښې د نيوټن د کشش ثقل نظريه چه يو روښانه حقيقت منلې شوې وه آئن سټاين رد کړه ـ ترينو لسې صدۍ د نيوټن د کشش ثقل نظريه حقيقت ګڼلې کيده ـ آئن سټاين د خپلې نظريې بنياد په DENAN وغيره کيښود ـ او د دې نه يې دا ثابت کړل چه د مادې دا خصوصيت چه صفحه په نيغ سمت کښې حرکت کوي تر څو يې چه څوک حصار نه کړي " د زمان او مکان د اثراتو نه محفوظ نه ده ـ ځکه د اجسامو حرکت په مختلفو SPACE FRAMES او TIME FRAMES کښې وي ـ نو د دې نظريې په وجه د نيوټن د کشش ثقل نظريه باطله شوه ـ

وايټ هيډ وايي " سائنس خو د العلياتو نه هم زيات د تغير او تبدل قابل دی ـ ن د سائنس هيڅ عالم د ګليليو يا د نيوټن عقليد، بغير د څه شرط نه منلو ته تيار نه دی ـ آن تر دې چه ن يو سائنس دان خپلې لس کاله مخوانی عقيدې هم په خپل حال صحيح نه مني "

آئن سټاين وايي " د سائنس قانون حرف آخر نه شي کيدی ـ ځکه چه څومره څومره سائنس ترقي کوي صفحه تصورات نامکمل او ناکافي ګڼل کيږي دي،

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ثابت کیږي۔ په کومه چه حقه قوانین مبنی دي۔،،
یو بل دانشور وائی " اوس د سائنس علماء خپل نظریات په حقه یقین او استقامت سره نه پیش کوي ځکه چه په شروع کښې دړوند د میکانکي تصور پخلنه د حقو علمانو وړاندې کول۔"
بل ثالث وائی چه زمونږ دا طبیعاتي او حیاتي نظریې به راتلونکو نسلونو ته دا سې عجیبه ښکاریږي لکه نن چه د حقو زمانې نظریې مونږ ته تو تې او فضول ښکاري کوم وخت چه سائنس د ماشوم توب په زمانه کښې وه۔"
د دغو دانشورانو د رایونه معلومیږي چه انسان ورو ورو هم حقو حقائقو ته ور روان دی کوم چه د تصوف پوهانو سوونه کاله پخوا څرګند کړي وو او ددې وجه دا ده چه صوفیاء د مجاهدې کولو په وجه خپله انا د اضافاتو نه او نکاره کړې وه۔ او په دې وجه د حقو اناد حقائقو صحیح ادراک کولې شو۔
نیوټن وائي ،، مطلق، صحیح او ریاضیاتي زمان پخپله، او په اعتبار د خپل ماهیت د هیڅ بیروني څیز سره د څه قسمه تعلق لرلو بغیر روان دوان دی۔ د مطلق زمان رواني هیڅ تغیر نه لري۔ حرکت که تیز وي که سست یا بیخي نه وي۔ موده هم حقه موده وي څومره چه وي۔"
د لته نیوټن د مطلق انا ادراک ته را نږدې شوی دی۔ د غه موده چه سره د حرکت یا نه حرکت هم په خپل ځائې وي۔ د مطلق انا د خپل ذات د موجودګی پر له پسې احساس دی۔ او هم دې ته زمانِ موضوعي یا زمانِ حقیقي وائی۔
او انا ئې اصغر یعنی انا ئې انساني د زمان د ادراک د "ماقبل او مابعد" په وجه کوي۔ یعني د یو پرتو د تیریدو او محسوس کولو نه پس د بل پرتو

احساس - اَو دا ځکه چه انساني انا دَ کائنات دَ پرله پسے دَ تغیر پرتو ونه محسوس کوي - لیکن مطلق انا دَ هيځ تغیر سره تعلق نه لري - نو ځکه هلته زمان موضوعي دی اَو دلته معروضي -

خلفه وائی چه مکان اَو زمان، اَو دَ حیثیت په کومه سانچه کښے چه کائنات پروت دی - شلاً رنګ اَو بوئی، سختي او نرمي دا محض نمونږ دَ دماغ یو توهم دی - اَو هم دغه شان ګرمي اَو یخني اَو آواز - دا ټول زمونږ دخپل خیال ممنوعات دي - د کائنات دحقیقي ماهیت پوهه دَ سرسري خبر ونه علاوه دَ حواسو اَو دماغ په ذریعه حاصلیدل دَ انسان دَ وس نه بهر خبره ده - او حقیقت دا دی چه ډیر پوهان خو دَ کائنات دَ وجود نه هم منکر دي - اَو یوازے شعور ته حقیقت وائی - یعني انا ته - او کوم وخت چه انا په دے پوهه شي چه بغیر دَ هغے نه په حقیقت کښے نور هيځ موجود نشته - نو دا ټول ممکنات یوازے هم ددے انا علمي صورتونه یا تخلیقات دي - اَو څرنګ چه مونږ وئیلي دي چه دَ کائنات هر څيز یوه انا ده - دَ وحدت دَ تصور د حصول نه پس دَ انا کانو دا ټول کثرت منتفي شي - اَو دَ یو مطلق انا تصور پاتے شي - دا یوازے دَ انا احساس دی چه دا څه مونږ ته ښکاري او یا په نورو الفاظو دَ انا هغه علمي صورتونه دي چه په کثرت سره ښکاري - مثلاً دَ انا دَ احساس دَ تجدد نه یعني پرله پسے کیدونه دَ حرکت ادراک کیږي - اَو دَ واقع کیدونکو تعیناتو دَ پرله پسے دَ داتلو دَ کثرت نه د وخت (زمان) احساس پیدا کیږي - او دَ خیال یو نه قسم کیدونکی نمود شروع شي - لکه مونږ یوه سکروټه په تیزي سره په حرکت کښے راولو - نو هغه به مونږ ته دَ اَور دَ یوے دایرے په صورت کښے ښکاره شي - خو په حقیقت کښے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د صفر سکروټے وجود وي - اَو دَ صفر حرکت چه په یوه لمحه کښے په هره نقطه وي - اَو د دوو نقطو په مینځ کښے چرے داسے لمحه نه راځي چه اَور کښے موجود نه وي - نو گویا هغه یوه سکروټه په دے دایره کښے په هره نقطه موجوده وي او که مونږ دا دایره په نقطو اُویشو نو هره نقطه به هغه کروټه یا د صفر کروټه نمود گویا دا پرله پسے نمود انساني انا ته دَ وخت اِدراک ورکوي - لیکن په حقیقت کښے دا د مطلق انا د خپلے هستي او د خپلو بے شماره عملي صورتونه اظهار دے - او مونږ چه دَ حرکت اِدراک کوو نو فکر پکار دیٔ چه دَ حرکت هر تعین اے که دا حرکت د بخوانو پوهانو غوندے دَ فلک حرکت اُوگڼو او که دَ اوسینو پوهانو غوندے دَ مزکے - نو د دے تعین نه به چه څهٔ مخکښے تیر وي هغه ماضي شو - اَو څهٔ به ترے وروستو وي چه هغه مستقبل شو - اَو دا کوم تعین یا جز چه مونږ فرض کړي دیٔ - د دے ته "حال" وائي - "حال" دَ "ماضي" انتها اَو دَ "مستقبل" ابتدا ده - اَو دا په دواړو کښے فاصل حد دیٔ دَ "حال" او "آن" نسبت دَ زمانے دَ امتداد سره هم هغه دیٔ کوم چه دَ نقطے دَ هغه فرض کړي شوي خط سره چه دَ دواړو د ډډو نه غیر متناهي دیٔ - ځکه نو ماضي، کوم چه تیر شوي دیٔ - هغه هم عدم دیٔ - او مستقبل چه لا راغلیٔ نهٔ دیٔ هغه هم عدم دیٔ - نو میا ځتے، کلونه کوم چه د زمانے سره بنتي هم دا دے دي - که تیر دي نو عدم دي او که لا نهٔ دي راغلي نو هم عدم دي - نو دا د زمانے امتداد دَ "حال" د دے نقطے نه سوا نور هیڅ نه دیٔ - نو هم دغه د "حال" نقطه ده چه دَ نوو نوو تعنیاتو دَ ظاهرېدو په وجه د یو اُوبند اَو نه ختمېدونکي خط په شان دَ زمانے دَ امتداد په صورت ښکاري،

هیري شمټ وائي " دَ اضافیت نظریے مکان اَو زمان لاڅے ثابت کړي

دی۔ بلکہ اوس خو حرکت هم بے معنی غوندے ښکاره شوی دیٔ۔ اَو دَ مادی اجسامو شکل اَو صورت هم زمونږ په شعور موقوف دیٔ"

یعنی په "انا"۔ اَو دا حقیقت دیٔ چه د خپلے هستی دَ اِدراک اَو احساس په سلسله کښے انقطاع نهٔ راځی۔ خو چه د خارجی اشیاء پرتو په انا پریوځی نو دَ هغو اشیاءوُ دَ عکس محسوس کولو په وجه د دے پر له پسے احساس نه لمحے پیدا کیږی۔ اَو هم دغه دَ وخت دَ تیریدو احساس پیدا کوی۔ گویا دَ اشیاء هر پرتو یوه نقطه وی چه په انا وارده شی اَو د دے نه لمحه پیدا شی۔ گنی وخت نهٔ چرته ځی او نهٔ راځی۔ بلکه د خپلے موجودگی هغه پر له پسے احساس دیٔ چه "انا" یے کوی۔

۱ کهٔ مونږ دَ موجوداتو د حقیقی جوهر د لټون په سلسله کښے فکر وکړو۔ نو آخر به یو "موجود" ته رسیږو او هغه به آخری حقیقت یعنی حقیقت کبریٰ وی چه دَ موجوداتو صحیح تشریح به کولے شی خو باید چه هغه په خپل ماهیت کښے نفسی (مشعر) وی۔ مثلاً مفکر اَو دَ هغه فکر، اراده اَو عمل، ذات اَو د هغه نمود۔ اَو چه کوم څیز دَ هغه نه علاوه اَو په ظاهر کښے دَ هغه نه آزاد یا دَ هغه ضروری۔ لکه ماده، توانائی، او زمان اَو مکان دا ټول به په آخر کښے د خپل وجود دَ پاره دَ نفسی محتاج وی۔ گویا هم هغه آخری حقیقت چه مونږ ورته انائے مطلق یا انائے اکبر وایو عین مکان اَو زمان بلکه د هر څیز عین دیٔ۔

برگسان چه دَ "انا" دَ وجود نه بغیر هم دَ زمان دَ وجود قایل شویٔ دیٔ۔ علامه اقبال پرِ سخت گرفت کړیٔ دیٔ۔ اَو ویٔلی یے دی چه ترڅو مونږ د زمان ادراک انه په یو ذوبندی "انا" منحصره نهٔ کړو دَ زمان هیڅ اثبات

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نهٔ شو کولئ۔ زهٔ وایم چه کوم پوهان دَ "انا" دَ وجود نه پخوا هم دَ زمان قایل دي۔ یعنی فرض به کړو چه څه "انا" نهٔ وی نو هم به زمان موجود وی۔ دَ هغوئ دلیل دادئ چه دَ وخت دتیریدو شعور دکائنات دَ پرله پسے تغیر اَو تحول نه کیږی۔ اَو کهٔ انا موجوده نهٔ وی نو هم دا تغیر او تحول جاری دئ۔ نو وخت یعنی زمان هم روان اَو موجود دئ۔ نو کهٔ هغوئ لږ فکر وکړی نو دَ خپلے غلطی احساس به وکړی۔ اَو هغه دا چه کهٔ مونږ دَ هغوئ دا استدلال تسلیم هم کړو چه وخت دَ شیانو دَ پرله پسے تغیر او تحول نه متوهم کیږی۔ نو دے دَ فیصلے صورت به دا وی چه مونږ هغوئ ته اُوایو چه دَ شیانو د تغیر چه کوم پرتو په "انا" پریوځی اَو بیا دا پرتو ونه پرله پسے وی۔ نو ظاهره ده چه د دے پرله پسے پرتوو نو نه به مسلسل آنات یا لمحے پیدا کیږی۔ اَو ذهن ته هم دغه آنات د زمانے شعور ورکوی۔ نو معلومه شوه چه د زمانے یا وخت وجود دَ اضافی انا شعور یا ذهن په واسطه پیدا کیږی بلکه ذهن انا یا شعور یے پیدا کوی۔ لیکن بغیر دَ "انا" نه دا لمحے هیڅ پیدا کیدئ نهٔ شی۔ اَو نه دَ آناتو سلسله شروع کیدئ شی۔

نو اُوس کهٔ مونږ دا تصور اُوکړو چه د انا یا شعور د ظاهریدو نه اول هم په کائنات کښے پرله پسے تغیر اَو تحول روان وه۔ حرکت هم موجود وه لیکن دَ هغه تغیر اَو حرکت د پرتو قبلولو دَ پاره ذهن موجود نهٔ وه۔ نو وخت هم نه پیدا کیده۔ ځکه چه دا یو نفسیاتی حقیقت دئ چه دَ زمان یا وخت ادراک یوازے ذهن کوی نو د دے نه دا نهٔ دي ګڼل پکار چه زمان اَو ذهن یا انا کښے دوئ ده۔ ځکه چه زمان یا وخت صرف

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څۀ خارجي حقیقت نۀ دئ بلکه هم دے داخلي انا احساس دے۔ نو ځکه د خارجي کائناتو تغیر پخپله د وختیا زمان د وجود ضمانت نۀ شي کیدئ۔ او که د دے نه پس مونږ دا فرض کړو چه کائنات هسې وجود نۀ لري او هیڅ محسوس شیونه نشته چه "انا" یې محسوس کړي لاپے ادراک او کړي شي۔ صرف یکي یو انا موجود ده۔ او چه کائنات نشته نو تغیر او تحول هم چه د حرکت په وجه دئ، نشته۔ نو ادس سوال پیدا کیږي چه زمان به وجود لري که نه۔ مونږ د دے جواب په اثبات کښے کوو۔ ځکه چه دَ انا ئے مطلق د خپلے موجودګي احساس خو موجود دئ۔ اَو دا احساس مسلسل دئ۔ نو هم د دے مسلسل احساس نه چه کوم "آن" پیدا کیږي۔ هم دغه خو زمان دئ۔ اَو هم دغه زمان دَ انا ئے مطلق عین ذات دئ۔

اُوس به دا شو دے ته چه مکان څۀ شي دئ! اَو اُو به ګورو چه دَ "انا" د یو مے سره څۀ تعلق لري۔

کوم وخت چه دا خبره جوته شوه چه زمان، دَ انا ئے مطلق په خپل ذات کښے د بصیرت عمل دئ۔ نو معلومه شوه چه زمان عین ذات دئ۔ اَو مکان؟ مکان اضافي حیثیت لري۔ اَو د هغو خلقو دا خیال صحیح نۀ دئ چه زمان ته اضافي وائي اَو مکان ته حقیقي۔ ځکه چه دَ یو ے انا دا د خپل موجودیت احساس که څۀ هم دَ زمان دَ وجود احساس پیدا کوي۔ نو دَ مطلق انا د خپل موجودیت سره سره دا بصیرت هم شته چه هغه په خپل ذات کښے غیر محدود تخلیقي امکانات هم لري۔ چه مونږ ورته اسماء او صفات وایو۔ اَو هم دغه صفات چه دیو بل سره مجتمع شي دَ مکان صورت اختیار کړي۔ ځکه نو موږ چه دَ کوم شیز تعریف کوو صرف دَ هغۀ صفات بیانولئ شو۔ لکه چه ویلي شوي دي مثلاً یو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کائنئ یا ګټه دہ۔ سوال کوو چه کائنی یا ګټه څه ته وائی؟ نو جواب به یې صرف دا کیدئ شی چه په کوم څیز کښې چه وزن، سختی، رنګ او دا سې نور صفات وی هغه ته ګټه یا کائني وائی۔ ثابته شوه چه کائني خپل هیڅ مستقل ذات نهٔ لری۔ هم دد غو صفاتو اجتماع ته کائنی وائی۔ او ددے صفاتو د اجتماع نه پس چه کائني کوم مخصوص هیئت اختیار کړی دئ هم دغه مخصوص هیئت د کائني ذات دئ۔ ځکه چه ذات وائی هم د یو څیز هغو صفاتو او انفرادی هیئت ته د کوم په وجه چه هغه د نورو شیانو نه ممتاز وی۔ نو ښکاره ده چه ددے کائني دا مخصوص ذات هم خپل نهٔ دئ بلکه هم د هغې مطلق انا یو نسبت دئ چه په هغې کښې ځلیږی۔ ځکه چه د صفاتو نه ذات هډو پیدا کیدئ نهٔ شی۔ صفات پخپله د ذات د افعالو نه عبارت دي۔ نو څرنګه چه د وجودی صوفیاؤ عقیده ده کائنات د صفاتو د اجتماع نه عبارت دئ۔ او ښکاره ده چه صفات بغیر د ذات نه هډو قائم نهٔ شی پاتے کیدئ۔ نو معلومه شوه چه انا ئے مطلق یا ذات احدیت په خپله په خارج کښې موجود دئ۔ او ځکه وجودی صوفیاء وائی چه "الحق محسوس والخلق معقول" یعنی ذات محسوس دئ او صفات معقول دي۔ مثلاً اوبه چه د ۲ کیجن او هیډروجن د امتزاج نه پیدا کیږی ښکاره ده چه دا دواړه ګیسونه محسوس او حقیقي دي او اوبه د هغو پیدا وار دي نو معقول دي۔ خو ددے په خلاف شهودی صوفیاء دا وائی چه کائنات پخپله د صفاتو اجتماع نهٔ ده بلکه د صفاتو ظل یا سوری دئ۔ خو ددے نظریے کمزوری ظاهره ده۔ ځکه چه صفات په خپله د ظل یا سوری حیثیت لری۔ نو د ظل نه د ظل پیدا کیدل د عقل سره سمون نه خوری۔

ددے تصریحاتو نه ظاهریږی چه اکثر فلاسفه او صوفیاء په خالق او

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مخلوق کښې دَ بعد یا دوئي قایل نهٔ دي۔ لکه چه مولانا عبدالسلام نامیوړی
لیکي چه

" فعلیت مطلقه اِلٰی یو دئ۔ نو ځکه حق په اجمال کښې
حق اَو په تفصیل کښې کائنات دئ۔"

اَو علامه اقبال خو په خپل کتاب تشکیل جدید الٰهیاتِ اسلامیه کښې په هغو
خلقو ډیر سخت ګرفت کوی کوم چه خالق اَو مخلوق په هر حیث دَ یو بل نه جدا
ګڼي او لیکي۔

" اے مونږ دا اوګڼو چه کائنات دحق په مقابل دَ یو غیر
اَو مستقل وجود په حیثیت په خلاء کښې پروت دئ اَو دحق اَو
کائنات ترمینځه څهٔ مکانی بعُد حایل دئ۔ که څرے داسے
وی نو بیا خو په حق محدود ثابت شی۔"

په انواعِ فلسفه کښے دي چه

" هغه مطلق، چه غیر مطلق له ځانه خارج ګرځي یو ناقص
مطلق دئ۔ کوم چه مونږ دَ یو مستقیم خط نه ظاهرولئ شو۔
د مطلق تعریف دا دئ چه باید هغه د غیر مطلق په صورت
کښې ظاهریدئ شی۔ په دے شرط که هغه دَ خپلے لاانتهائی
دعوٰی ثابتول غوړ اُوګڼی۔"

او بیا لیکی

" که زما کوته غوښته شی نو زهٔ خو په عام فطرت کښې
وی خو دَ هغه تکلیف به زما ذاتی ملکیت وی۔"

یعنی دَ هغه تکلیف ادراک نفس کوی۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شوپنهار وائی "موږ وایو چه "زما مکان" "زما جسم" خو واقعه داده چه په دیرو اموراو کښے کوم چه زموږ د ذات سره برابر دي لکه چه موږ وایو "دایم نۀ وا علم" دا نۀ وایو چه "دا دې زما جسم دے" جسم د ذات آله ده - او یا دے او وایه چه حقه د خپل مالک د نفس د پاره رائج الوقت سکه ده۔"

دا سے معلومیږی چه د زمان مظهر مکان دیٔ - ځکه چه مکان د صفاتو د اجتماع نوم دیٔ - او زمان عین ذات - نو ځکه د مکان حیثیت حقیقی نه، بلکه اضافی دیٔ۔

مثلاً فلسفه وائی "زما په مخکښے یو میز پروت دیٔ - چه ګوتے پرِ کیدے سخت معلومیږی - دده سختی احساس ولے کیږی؟ دا د برقی چپو د ردود او ګریز (REPOLSION) محض یو ذهنی تعبیر دیٔ - چه زما د لاس او دده میز د سالماتو ترمینځه ظاهریږی - دده نه علاوه ظاهره ده چه د دوؤ سالماتو په خپلو کښے لمس ممکن نۀ دیٔ ځکه نو په حقیقت کښے زما لاس هډو په میز لګیدلی نۀ شی - او بله دا چه دا پخپله څۀ شی دیٔ؟ د رڼا څپو لړیکے د مختلف طول موج نه را ځی او زما د سترګو د پردو سره ټکره خوری او د بصری عصبے په وسیله د دماغ خلا ګانو ته رسی - چه زۀ ورته میز وایم - زۀ یوازے د رڼا محسوس کوم - د میز تصور نو د ساخته دیٔ - بیا موږ دده نه هم خبر نۀ یو چه پخپله رڼا څۀ شے دیٔ - دا د پردے راز نه دک خیز دیٔ - موږ د شیانو مشاهده هم دده رڼا په ذریعه کوو - خو په خپله دا رڼا موږ ته نۀ ښکاری - د میز ماده په برقونو او سالماتو مشتمله ده۔ کوم چه د برق بنیادی ترکیبی اجزا دي - او دده غو ماهیت هم د رڼا په څیر د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

فهم او ادراک نه بهرېږي. نتيجه دا شوه چه په ظاهر کښې چه څه ښکاري صفه خو نشته.

اقبال وائي "زمانه يو حقيقت دی. نه هم جنسو لحاتو سلسله او تکرار. که چرې دا سې وي نو نو موږ شعور به يو فريب وه. دَ مطلق حقيقت دَ ژوند هره لمحه دَ خلاقي لمحه ده."

خو دې نه اول اقبال ليکلي دي چه داحوادث دَ اناځ مطلق په علم کښې دَ اول نه موجود نه وي. خو څرنګه چه موقع او محل راځي. نو هغه حوادث هم پيدا کيږي. حالانکه اقبال د بايزيد بطامي دَ يو مريد په حقله چه څه ليکلي دي. هغه تاسو لوستي دي. يعنې اوس يې هم هر څه په علم کښې دي. او که حوادث دَ اول نه دَ هغه په علم کښې مندرج نه وي. نو د حقيقت مطلقه هغه دَ علم صفت نه شي ثابت کيدی. ځکه چه علم وائي هم هغه ته چه معلومات او لري. بغير د معلوماتو نه علم علم نه دی بلکه جهل دی. او بله وجه دا هم ده چه اقبال دا کتاب په انګريزي ژبه دَ يورپ او امريکې د خلقو دَ پاره ليکلی دی. نو ځکه يې پکښې دا سې خبرې هم ليکلې دي چه دَ هغو خلقو مسلماتو ته نزدې دي.

اقبال ليکي "دَ طبيعي حوادثو زماني موده خو يو حاضر حقيقت دی. او په مکان ممتد. خو د خودي (انا) زماني موده د هغې په داخل کښې مرموز او په خپل مخصوص انداز کښې دَ "حال" او "مستقبل" سره تړلې. او دا ځکه چه هر کله چه يوه طبيعي حادثه پيښه شي نو دَ خپلو واقع کيدلو دپاره څخښې پريږدي. چه دَ هغو نښو په ذريعه موږ د هغه حادثې دَ زماني مودې اندازه کوو. خو ياد لرل پکار دي چه دا څخښې دَ هغې زماني مودې پوازې

علامات دی۔ نه پخپله هغه زمانی موده۔ دَ زمانے دَ مودے حقیقی تعلق یوازے دَ خودئ اَو یوازے د خودی (انا) سره دیٔ۔" لکه څرنګه چه مونږ په تیرو صفحو کښے لیکلی دي۔ مثلاً ځه ګورم چه دَ اَس په یوه لار تیر شی۔ اَو دَ پښتو خاپی یے جوړ شی۔ نو فرض کړئ چه هغه یو فرلانګ یا یو میل فاصله په پنځه یا لس دقیقے کښے اُوهی۔ نو اُوس هغه دَ پښتو خاپی کوم چه په یو فرلانګ یا یو میل کښے پراته دي۔ دَ هغو پنځو یا لسو دقیقو وخت نهٔ شی ښودلیٔ۔ صرف نښلے دی۔ دَ وخت اندازه صرف زما "انا" کوی۔

دَ اقبال په خیال دَ مکان درے قسمونه درے دي۔ یو هغه چه تعلق یے دَ مادی شیانو سره دیٔ۔ دویم هغه چه دَ غیر مادی شیانو سره تعلق لری۔ دریم هغه چه دَ ذاتِ الٰهیه سره تعلق لری۔ نو وائی "دَ دیوے ډنا په مکان کښے خوره شی اَو حال دا چه مکان دَ هوا نه هم ډک وی۔ اَو ډنا کښے څکه نفوذ وکړی چه دَ ډنا خپل مکان" دَ "هوا دَ مکان" نه زیات لطیف دیٔ۔ اَو دَ هوا کیفیت دا دیٔ۔ چه کهٔ مکان ته نوره هوا رانه وزی۔ نو ترڅو یے چه هغه پخوانی هوا نهٔ وی بهر کړے۔ پخپله مکان ته نهٔ شی رانه وتلیٔ۔ څکه چه اجسام دَ یو بل مزاحمت کوی۔ دغه شان لکه چه اُوړ په اُوبو کښے نفوذ کوي۔ دا څکه چه اُوړ د اُوبو نه زیات لطیف دیٔ۔ اَو هم ددے نه "اقربُ الیه من حبل الورید" ته خیال کول پکار دی۔"

اُور اَو اُوبهٔ دَ یو بل نه طبعاً جدا دي۔ دَ یو بل ضد دي۔ نو تشریح به یے دا شے کیږی چه ددے دواړو تعلق چه دَ کوم کوم مکان سره دیٔ۔ هغه سره دَ نزدیکت اَو یو والی هم دَ یو بل نه جدا اَو مختلف دیٔ۔ اَو هم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دغه شان د لامتناهي مکان اختلافات دي۔ چه تر نه تير شے نو آخر به خبره مکانِ الیه نه ورسی۔ چه هغه دَ هر ډول دَ ابعادو نه پاک دی۔ او په هغه کښے ټول لامتناهيات په خپلو کښے سره يو دي۔ يعنی عين ذات دي۔ خو صوفياء اُوس هم وائی چه کائنات په علم کښے دی۔ اَو علم عين ذات دی۔ اَو دا دَ کثرت مشاهده چه کيږی اعيان يا علمی صورتونه دي چه يو بل ته مخالف دي۔ اقبال وائی "کوم وخت چه مونږ دَ خپل شعور دَ واردات په وجه دَ هغے "انا" دَ ژوند تصور کوو کومه چه په هر څيز محيطه ده۔ اَو دا تصور دَ متناهيه نفس (انساني انا) په مماثلت کوو۔ نو دد بے حقيقت نه پرده پورته کيږی چه دَ مطلق انا زمانه يو داسے تغير دی چه دَ ويښتهٔ هومره هم پکښے دَ تواتر دَخل نشته۔ يعنی هغه په اصل کښے يو نامیه وحدت دی چه کلهٔ په هغه کښے جوهريت ښکاری نو دا صرف دَ هغه دَ تخليقی حرکت په وجه۔ نو ځکه زمونږه رائے کښے چه مير داماد اَو مُلا باقر دا وائی چه زمانه دَ تخليق دَ عمل سره سره په وجود کښے راځی۔ نو دَ هغوئ مطلب هم هغه کُمل پکار دي کوم چه مونږ پورته بيان کړ۔ ځکه چه هم د غه شان حقيقی انا د خپل ذات لا انتها او غير متعين امکانات ظاهروی اَو د هغو احصا کوی۔ نو د دے دپاره دَ انا ژوند کهٔ له يو ے ډ ډ ے يواز ے دَ ديمومت ژوند دی۔ يعنی د تغير نه دَ تواتر په لور۔ نو دَ بل ډ ډ ے نه د مسلسل زمانے۔ په دے معنو کښے چه هغه يوه بے نهايته ده دَ بے تغيره تواتر اَو دَ هغه سره په نامی طور وابسته۔"

ددغو تصريحاتو نه ظاهريږی چه مکان دَ زمان پر تر دی۔ اَو څرنګه چه وويل شول۔ دَ صفاتو اجتماع ده۔ اَو هر کله چه دا صفات خوارهٔ شی دَ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

"ځینې" وجود ختم شي. ګویا په حقیقي معنو کښې زمان پخپله په خپل ځان تیریږي. دَ انائے مطلق نه چه دَ هغه په اراده کوم مضمر امکانات ظاهریږي. چه په عرفِ عام کښې ورته تخلیق وائي. دا تخلیق نه بلکه ظهور دئے. دَ تخلیق نه خو دا مراد دئ چه دَ یو ځینې دَ پاره مادي علت موجود وي. نو تخلیق یے کیږي. خو دَ انائے مطلق په حیات او موجودیت کښې دَ هیڅ مادي علت امکان نشته. دَ مضمرو امکانانو دا ظهور دَ انائے مطلق دَ ارادے نه پیدا کیږي. چه هم دغه دَ ارادے عمل انائے متین دَ حرکت په صورت محسوس کړي. او ظاهره ده چه دَ حرکت ادراک بغیر د جسم نه هیڅ ممکن نهٔ دئ. ځکه چه مونږ دَ مجرد حرکت څرے ادراک نهٔ شو کولے. خو د شیانو تغیر دَ حرکت ثبوت پیدا کړي. نو اُوس غور پکار دئ چه شیان ولے پرله پسے متغیر کیږي. او مونږ ویلي دي چه شیان دَ صفتو دَ اجتماع نوم دئ او صفات بغیر دَ ذات. قایمُ او فعال نهٔ شي پاتے کیدے. ځکه نو ذات یا انائے مطلق په خپله په خارج کښې موجود دئ. ګنې دَ صفاتو موجودګی بغیر دَ ذات نه ممکنه نهٔ وه. نو ښکاره ده چه دا شیان دَ یو متصل دلائے دانائے مطلق په اراده متغیر کیږي. او دَ خپل غایت په لور روان دي. او څرنګه چه دا حقیقت دئ چه دَ انائے مطلق هر فعل فعلِ علم دئ. نهٔ فعلِ جوارح. یا فعلِ جسم. نو ځکه په هغهٔ کښې هیڅ حرکت متصور نهٔ دئ. دَ هغه په علم کښې چه دَ هغه په اراده کوم پرله پسے شیان ظاهریږي دَ هغو ماهیت یعنې دَ یو "آن" نه عبارت دئ. خو مونږ ته په حیث دَ انائے مقید د دغو شیانو په ظهور کښې حرکت محسوس کیږي.

مونږ دد ے په مثال کښې دَ سینما دَ فلم پټې وړاندے کولے شو. په

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لس زره فټه فیته بانده یوه قصه فلم شوې وی. او چه مونږ د فلم هغه فیته ملاحظه کوو. نو بغیر د عکسونو د تسلسل نه نور څه نه ښکاری. په هغو کښې څه حرکت نه وی. خو چه هر کله هغه فلمی فیته د مشین په ذریعه په حرکت کښې راوستې شی. او شعاعې د بجلۍ رڼا په مخامخ پرده منعکس کړی. نو مونږ اوګورو چه هغه خالص عکسونه د بنی آدمو او حیواناتو په شان حرکت شروع کړی. قصه د ابتدا نه شروع شی او په آخر کښې ختمه شی. مونږ د هغې قصې په ټول اوږده ساعت پوهه شو. د هغې نه خو یو واخلو نو سوال دا دی چه په هغو بې ځانه عکسونو کښې دا حرکت له کومه راشی نو ددې وجه دا ده چه فلمی کیمره د هر حرکت عکس آخلی. د مثال په طور، کیمره روانه ده. او هدایت کار، اداکار ته اوائی چه خپل لاس د خپل پټون نه یو فټ اوچت کړه. او چه هر کله اداکار لاس پورته کړی نو ددې یو فټ د لاس اوچتولو د حرکت په وخت د هغه د لاس ډیر عکسونه په فیته اوخیږی. یعنی د لاس د پورته کولو په وخت چه لاس په هره لمحه کښې په کوم ځائې وی هلته یې یو عکس په فیته راشی. ګویا د لاس د حرکت په هره نقطه یو یو عکس فیته ته را منتقل شی. نو د عکسونو د وتونه پس که څوک هغې فیتې ته ګورې شی نو بغیر د پوله پسې د لاس د عکسونو نه نور څه نه وی. خو چه دا فیته په مشین اوچلوی. نو د لاس هغه ټول عکسونه بیا یو ځل د یو فټ لاس پورته کولو حرکت ښکاره شی. نو معلومه شوه چه حرکت د پوله پسې شیانو یا د ایکی یو ځای د وجودی تکمیل د مختلفو مراحلو د ظاهرېدو نه بغیر نور څه څیز نه دی. او څرنګه چه دوئیل شول ددې وجودی تکمیل د انائې مطلق له خوا د فکر یا علم فعل وی. نو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

انساني انا چه موږ ورته مقيده انا يا اناے اصغر وايو هغه ته دا حرکت ښکاره شي۔

فرض کړئ چه زيد ديو ښکر مشر دئ۔ يا به دا اووايو چه د رنګوټونو د ټرينګ کولو کار ورته حواله دئ۔ او دا به فرض کړو چه زيد په خپل خيال او فکر سپاهيانو ته ټريننګ ورکوي۔ هغه په خيالي ميدان کښې سپاهيان په قطار اودروي۔ مختلف احکام ورکوي۔ د وسلے د استعمال طريقے ورته ښئي۔ او سپاهيان هم د هغه د هدايا تو په مطابق کار کوي۔ نو د زيد دا فعليت به يوازے د هغه د علم يا فکر فعل وي۔ او کوم سپاهيان چه د هغه فکر يا تخيّل جوړ کړي دي۔ او موږ هغو خيالي سپاهيانو ته فکر او شعور منسوب کړو او يا دا سے اوګڼو که هغه خيالي سپاهيان د شعور خاوندان وي۔ نو هغوئ به اردمرو د خپلو هغو قواعد يا پريډ په حقله دا يقين لري چه هغوئ لګيا دي منډے وهي، وسلے استعمالوي او دا سے نور کارونه -

نو معلومه شوه چه کوم څيز ته موږ په عرفِ عام کښې حرکت وايو۔ دا سے حرکت يقيناً موجود نه دئ۔ بلکه دا د انا مطلق د علمي فعل هغه پرتو دئ چه په مقيد انا پريوځي او د حرکت توهم پيدا کوي۔ او په دے سره د زينو يوناني هغه نظريه د حقيقت صورت اختيار وي۔ کومه چه هغه د حرکت په نفي کښې ډيرے صدئ پخوا ظاهره کړے ده۔ که څه هم موږ دے ته د بديهاتو نه انکار کول وايو۔ او برټرنډرسل هم د دے مخالفت کړے دئ۔ او د دے ته يے د بديهاتو نه انکار کول ويلي دي۔ خو د دے دا مطلب هيڅ نه شي کيدئ چه د حرکت د نفي کولو په وجه به موږ هم حرکت پريږدو۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه چه دَ هغه هدايت کار دَ هدايا تو په وجه چه کوم خيالي سپاهيان ذېل حرکات او سکنات نه شي ختم کولې - خو دوئ ته دا نه دي گڼلي چه کوم زمونږ دا کائنات او دَ کائنات هر څيز دَيو مشين غوندې دئ - او ميکانکي يا اضطراري حرکت کوي او هم ددې نه څنې دانشوران دا هم ثابتوي چه ددې کائنات څه مقصد نشته - په دا تلونکو صنحو کښې به په دې هم رڼا واچولې شي - خو في الحال به دومره اُووايو چه انائے انساني چه په ذاتي طور دَ انائے مطلق دَ وجود سره تعلق لري - دَ هغې د خود ارادیت نفي هچرې نهٔ شي کيدئ - کني بيا به دَ انائے مطلق دَ وجود حيثيت هم دَ څنو پوهانو دَ خيال په مطابق دَيو داسې وجود ثابت شي - چه د هغهٔ نه په اضطراري ډول دَ افعالو صدور کيږي - او هغه د خپلو فعالونه څه خبر نهٔ دئ -

هم دغه انساني انا چه دَ اضافاتو لاندې مجبوره وي - د هغې خود ارادیت نزدې نزدې ختم وي - خو چه هر کله دَ اضافاتو د غلبې نه آزاده شي - نو دَ انائے مطلق غوندې د خود ارادیت حامله شي چه په دې حقله مونږ هم په دې باب کښې څهٔ خبرې کړې دي -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# پنځم باب

# ژوند - کائنات او د هغهٔ مقصد

---

کوم وخت چه مونږ په ژوند او کائنات کښے د مقصدیت تصور کوؤ نو د ذهنی ارتقا په کومه مرحله کښے چه مونږ تن پرون موجود یو - نو بغیر د یو عالم او دانا " انا " نه دد ے امکان ناممکن ګڼو - ځکه مونږ پوهیږو چه د مقصدیت فاعلی علت د علم او عقل نه بغیر ناممکن دئ - چرته چه عقل او شعور وی - هلته به مقصدیت ارومرو کار فرما وی - خو دد ے دا مطلب نهٔ دئ چه یوازے د انسان ژوند د مقصدیت حامل دئ - د کائنات هم ځینې د مقصدیت ترجمان دئ - ځکه د انائے مطلق په تخلیقی فعالیت کښے مونږ ته صفا صفا پیش بینی ښکاری - او هم دد ے انائے مطلق مظهر، انائے مقید یا انائے اصغر هم دئ - چه د انائے مطلق د منشاء ترجمان او د هغه د صفاتو حامل دئ - او کهٔ تن په دے شلمه صدی کښے څوک د کائنات او ژوند د مقصدیت نه انکار اوکړی - نو دد انشو ارتقائی تنوخوښهٔ کوے چه د عوامو د تمسخر نښانه به هم شی - خو سره

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دده هم ځنې داسې خلق تېر شوی دی - او اوس هم شته چه د کائنات څه مقصد نه مني - او دده عظیم مشین د فعلیت په حقله د هغوی رائے داده چه مشین خو ټکیاوی کار کوی - خو مانا یې بیخي نشته - او دا مشین هم په اتفاق سره جوړ شوی دی - د مادے د یو اتفاقی او ناڅاپی حرکت په نتیجه کښې څخپله دده مشین پرزے جوړے شوے دي - په خپل خپل مونږ مقام لګیدلے دی - او اوس دا مشین لګیادی حرکت کوی - او چه دده مشین د حرکت نه کوم نتائج پیدا کیږی - او مونږ یې پرله پسې مشاهده کوو - نو دده پرله پسې مشاهدے سره دا سے اشنا شوی یو چه اوس راته په دے مشین او د هغه په حرکت کښې مقصدیت ښکاری - او که چرے د هغوی دا خیال او دا دلیل صحیح دی - نو څخپله یې د مقصدیت حقیقت نه غاړه کیښوده - مونږ ورته وئیلی شو چه ستا دا دلیل هم بے حقیقته او بے مقصده دی - خو دا خلق د دې فکر نه کوی - چه د نوی تحقیق سره سم دا حقیقت هم څرګند شوی دی - چه ماده په حقیقت کښې څه شی نه دی - دا ماده د تحلیل او تجزیے په صورت کښې په توانائی کښې بدله شی - او د توانائی چپے فنا شی - یا په نورو الفاظو توانائی یو صفت دی - او صفت د غیر مستقل معنی نوم دی - چه بغیر د ذات یا موصوف نه یې هیڅ وجود نه شی ثابت کیدی - نو فعلیت خو یې لا نوې خبره ده - خو دده وجه داده چه د دا سے افرادو په ذهن مادیت تر دے حده مسلط شوی دی چه هغوی د ژوند د څه شعبے تعبیر بغیر د مادیت نه هیڅ کولی نه شی - او په موجوده دور کښې د عقلیت منونکی هم په دے باب کښې د بحث په دوران کښې د نامعقولیت مظاهره اوکړی - او حال دا دی چه هم دغه دانشوران چه کوم وخت د عقلیاتو بحث شروع کړی نو ته به

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وګورے چه و یښتان خیروي - دَ علت اَو معلول - دَ تضاد او توافق نظریات وړاندے کوی - کهٔ ورته اُوائے چه دَ کائنات علت خو ماده ده اَو حقیقت هم داده چه علت دَ معلول نه اول موجود وی - نو بیا دَ مادے علت څهٔ شیٔ دیٔ نو جواب یے داوی چه دَ مادے هیڅ علت نشته - اَو کهٔ تاسو دَ مادے دپاره کوم بل فاعلی علت وړاندے کویٔ نو بیا دا اُوایئ چه دَ هغه فاعلی علت کوم دیٔ ؟ یعنی کهٔ تاسو وائی چه ماده خدائے پیدا کړے ده - نو خدائے چا پیدا کړو ؟ ګویا هغویٔ دے خو قایل دي چه یو څیز دَ فاعلی علت نه بغیر هم موجود کیدیٔ شی - خو دا صرف د مادے په حقله منی دَ خدائے په حقله نه - خو کهٔ په دے سلسله کښے ورته دَ ارسطو له خوا بیان شویٔ دلیل وړاندے کړیٔ شی یعنی داچه کهٔ مونږ دَ حرکت حقیقی مبدء معلومول غواړو اُو ګنړو - اَو دَ یو متحرک څیز دپاره بل اَو دَ بل دپاره بل فرض کړو - نو باید چه په آخر کښے یو داسے محرک ته اُورسو چه هغه ته هیڅ حرکت نهٔ وي ورکړیٔ څکه چه ترڅو علت اُولی متعین نهٔ شی اَو د هغه په حقله دا یقین پیدا نهٔ شی چه د هغه دپاره هیڅ علت نشته - بلکه بغیر له علت العلل دیٔ - نو دَ هغه نه را په بنکته چه مونږ دَ علت او معلول کومه اُوږده سلسله بیان کړه - ددے هم وجود نهٔ شی ثابت کیدیٔ - اَو چه وجود یے نهٔ شی ثابت کیدیٔ نو د کائنات وجود هم بے ثبوته پاتے شی -

بهٔ نورو الفاظو به داسے اُوایو چه علت نهٔ وی معلول هم نه وی - او کهٔ مونږ دا تسلسل هم داسے جاری اُوساتو نو علت اُولی نهٔ شی متعین کیدیٔ او چه نهٔ شی متعین کیدیٔ نو دَ معلول تعین هم ناممکن دیٔ - خو ګورو دچه کائنات موجود دیٔ - او چه موجود دیٔ اَو باید چه انسانی ذهن په یو علت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اوولے او دوینی۔ او دا یو دا سے نفسیاتی دلیل دیٔ چہ کلهٔ یو انسان په دے
پوهه شی او بیلے هم نهٔ شی۔ نو د هغه په دماغ کښے به د نقص د ثبوت د
پاره بل څیز ته ضرورت نه وی۔ خو دا د انتشوباتو سره د دے هم د کائنات
د مقصدیت نه انکار کوی او د دلته د هغوی عقلیت پسندی یعنی جامد ثابته شی۔

خو د دے وجه دا هم کیدیٔ شی چه کلهٔ څهٔ هم عقل د انسان یو شیٔ بهٔ
خو خومره چه د یو انسان عقل مادیت د قید نه آزاد وی۔ هومره کار هم کولی
شی۔ مثلاً موږ چه د کائنات سلسلے ته په غور وګورو۔ نو معلومیږی چه کوم
شیان ډیر محسوس او ښکاره دی۔ هغه اصلی نه دی بلکه ثانوی حیثیت لری۔
او حقیقی اشیاء هغه دی چه ډیر کم محسوس دی۔ یا بیخی محسوس نه دی۔ او
په اشیاؤ کښے د مدارجو تفصیل داسی دیٔ چه کوم څیز ډیر برتر او اشرف وی۔
هغه هومره پټ هم وی۔ مثلاً په انسانی وجود کښے درے شیان داخل چه
د جسم، جان، او د عقل نه عبارت دی۔ جسم په دے دریو کښے د کم مرتبے
دیٔ۔ نو ښکاره او محسوس دیٔ۔ بیا د جسم نه افضل روح یا جان دیٔ چه مخفی او
پټ دیٔ۔ خو د هغه ادراک په آسانی سره کیدیٔ شی۔ مثلاً د جسم د حرکت نه
معلومه شی چه روح پکښے شته لیکن د عقل د ثبوت د پاره دا کافی نهٔ دے۔
خو کوم وخت چه د جسم حرکت منظم وی۔ نو یقین پیدا شی چه په دے
فرد کښے عقل موجود دیٔ۔ د لیوفی انسان حرکت او تکلم د هغه د ژوندیتوب
ثبوت وی۔ لیکن د عقل د پاره نهٔ بس کیږی۔ ځکه خو ډیرو د انتشوباتو عقل
د ډیر مادیت د غلبے په وجه د حقائقو ادراک پوره پوره نهٔ شی کولی۔

انسان بچرے په مادی مظاهرو نه مطمئن کیږی۔ بلکه د شیانو د
ظاهر نه د هغوی غایت ته کوزیږی باطنی او عقلی ژوند ته هم پیه کوی۔ ځکه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه د هغه فطرت دا سے دی چه د کمیت نه کیفیت ته رسیدل غواړی۔ د مادی شیانو حصول د یو خوند او لذت موجب خو وی۔ لیکن انسانیت په دے نهٔ مطمئن کیږی۔ هغه چه ترڅو د شیانو غایت ته اُونهٔ رسی تر هغے غیر مطمئن او مضطرب وی۔ ځکه چه په دنیا کښے د هر څیز د پاره یو صورت وی او بله معنیٰ۔ د حکمت تقاضا دا ده چه د صورت نه معنیٰ ته اُورسیدے شی۔

مونږ دا ویلے چه ټول اشرف او مُهم شیان پټ وی۔ او هم دغه شان له مونږ د حرکت د تسلسل څخه د پټو شیانو لټون شروع کړو۔ نو په آخر به هغه یو ذات ته اُورسیږو چه د ذیرڅرګند والی له کبله پټ دی۔ او هغه خو لا څهٔ کوے۔ سائنس والا چه د نا د یوا پنځ ۱۹۰۰ برخے نه هم کم موج لری۔ نو ځکه نهٔ لیدے کیږی۔ خو نور شیان ظاهر وی۔ کوم وخت چه مونږ شیان وینو نو پوهه شو چه د نا شته نو بیا څهٔ وجه ده چه مونږ فی الحال په نظام کښے په هر څیز کښے د علت او معلول او مقصدیت خو قایل یو او د کائنات د فاعلی علت نه انکار کوو۔ او هیڅ مقصد یے نه ګنړو۔

فلسفه والا چه د حسن او د کائنات تعمیر د فطرت خاصه ده۔ او دا خاصه غواړی چه هم د جوړ بنت وی او هم حُسن۔ څهٔ چه جوړیږی بنهٔ د جوړیږی۔ او دا د واړه خاصے د قدرت د قانون نتیجه ده۔ د کائنات د پاره ضرورت ده چه تعمیر د وی خو دا تعمیر د په حسن او خوبی سره وی۔ نو دا ضرورت پخپله د دے د پاره علت شو۔ او چه د فطرت نه هر څهٔ راځی هم هغه شیان راځی۔ څرنګه چه ضروری وی۔ او هم په دے کښے د بقائے انفع راز پټ دے۔ ځکه چه مونږ ګورو چه کوم شیان د ژوند د پاره مفید وی هغه پاتے کیږی۔ او چه افادیت یے پاتے نهٔ شی له پخپله ځی۔ او هم دغه حقیقت دا خبره ثابتوی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه کائنات دَ یو مقصد دَ لاندې په وجود کښې راغلې دې۔

دَ میکانیت قایل دانشوران وائې چه د ټوله کائنات غوندې انسان هم یو مشین دې۔ چه په خپله کار کوي۔ اَو لا به دَ هغوی دَ خیال ترجماني دا سې اوکړو چه یو کیلو یعني دوی چه ډک شوې دې اَو اوس چه په باجه غږیږي نو هم هغه وائي، څه چه پکښې ډک شوي دي۔ خو دا استدلال چه څومره کچه دې۔ هومره ئې کمزوري هم ظاهره ده۔ ځکه چه کیلو یعنې په خپله نه ډکیږي۔ څوک ئې ډکوي۔ اَو هغوي دا هم وائې چه مثلاً، کله چه ناڅاپه شور جوړ شي۔ په اَوریدونکو باندې په خپله ویره یا اضطراب طاري شي۔ چه معناً خالي شي لوبه پیدا شي۔ که څوک څپیړه ورکړي نو غصه ورشي۔ نو معلومه شوه چه په دې ټولو کارونو کښې دَ میکانیت دستور العمل جاري دې۔ او یا یې ردِ عمل۔ کوم چه (دَ نیوټن دَ خیال سره سم) دَ اَوَنې دَ منځې دَ داپریوټو نه څه مختلف نه دې۔ لیکن دوی دې ته خیال نه کوي چه دَ دغو اعمالو "احساس" ولې کیږي؟ زه ولې د دې وینا قابل شم چه "ما ته غصه راغله" اَو "دا وخت زه د غصې نه نه شم مغلوب کیدې۔" دَ "خود پیمائي" وصف اَو دَ هغې ملاحیت (دَ جذبې په حال کښې هم صبر اَو رضا) هم دغه خوهغه امور دي چه د نفس اَو میکانیت په تاریخ کښې یو بنکاره فاصل حد پیدا کوي دَ هغوی دا خیال ترڅه حده صحیح دې چه د عمرروانې په مادي او سماجي ژوند کښې مدو جزر، مختلف امراض او دا سې نور حالات دي، بلکه مرګ به وا خلو۔ چه په دې کښې اکثر او بیشتر مجبور دي۔ خو سره د دې هم نفس دَ عالم په کاروبار کښې خپل مقام لټوي۔ دَ هغه دَ عمرروانې دَ مطلق انا له خوا دَ مقصد نقطې ته دَ رسیدو دَ پاره مقرره ده۔ که په ماده کښې تغیر اَو تحول نه دې۔ نو دَ عمر دَ رواني اَو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وخت د احساس هېڅ وسوال نه پېدا کېږی ـ او هم په دې وجه د ارتقا خیال خوځېږ د منځ ته راتلی نه شو ـ او چه دا ے نه وی نو ځېږ د دا کائنات به نه وه ـ ځکه چه بخپله د کائنات وجود د تغیر او تحول مرهون دی ـ که ماده د کیف نه کم ته نه ورغلی او د هغې نه ذات نه وی پېدا شوی نو د مختلفو اجزو وجود به چرته وه ـ او د امراض هم د دې تغیر او تحول په دوران کښې پېدا کېږی ـ

او هغه مرض چه نتیجه یې مرګ وی ځکه څه علاج نه لری ـ چه هغه د مادی قالب د تخریب آخری مرحله وی ـ ګنی انسان د امراضو د مقابلې د پاره مختلف علاجونه پېدا کړي دي او په هغو کښې اکثر کامیاب هم راغلی دی ـ او هم دغه علاج پېدا کول د هغه د وجود نه د میکانیت نفی کوی ـ او د هغه په خود ارادیت روښانه دلیل دی ـ کانټ وائی "نفس د خپلې هغې فطری حاسې احساس لری ـ لکه جبلت ـ خواهشات او عادات ـ خو د هغه کمال دا نه دی چه د تغیرونه مات ګوډ کړي ـ بلکه کمال یې دا دی چه د اشیاو په قرینه سره په خپل خپل ځلے استعمال کړي ـ "خود شعوری" د اپاشی او فطرت د حکومت د تخت نه کوز کړی او د ذات د آزادی غلام یې کړی ـ"

عملی ژوند د دوو واسطو سره تعلق لری ـ او هغه دی د مقصد د یو اختیارول او د ذریعو انتخاب ـ که مقصد زمونږ په خیال بخپله په اضطراری دول پېدا کېږی ـ نو د هغه د پوره کولو د پاره انسانی انا ذریعے ولې جوړوی؟ او که هغه ذریعے هم اضطراری وګڼلے شی ـ نو بیا دا څه شی دی چه انسان د خپل مقصد د کامیابی څه ذریعے په فکر کښې راولی او بیا د دې فکر نه پس په هغو کښې تبدیلی وکړی ـ نو اے د میکانیت حرکت هم د دې ماقل دی چه څه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ذریعے انسان ته ورانده کړی او بیا یې تردید هم وکړی - او مفید یې اوګنه ګڼي، ځکه نو ترڅو چه موږ انسان د یو نامي وجود نه بالاتر او نه ګڼو ترهغه د هغه صحیح حیثیت بیخي نه شو ټاکلی - محض حیوان یې اُنه ګڼو - کوم چه د جبلت غلام وي انسان دده نه دیر بالاتر دی - او د انسان په حقله خود تعلیل نظریه هم د اطمینان ور نه ده - او تجربې پرکار نه شي چلیدی - که چا د انسان د نفسیاتو مطالعه وکړه - او بیا یې هغه په نورو انسانانو باندې د تسلط حاصلولو د پاره استعمال کړه - نو بیا د خپله تماشه وکړی - که د هغو انسانانو لږ غوندې شک هم پیدا شو چه دا سړی په موږ تسلط حاصلول غواړی نو ټوله لوبه به یې ګډه وده شي -

دا یو نفسیاتي حقیقت دی چه هر انسان د خپلې پوهې سره سم په کائنات کښې فکر کوي نو که کائنات څه مقصد او معنی نه لری - نو ولې پکښې فکر کولی کیږي - نو بیا خو دا ټولې فلسفې هډوبې مقصده شوې - خو موږ ګورو چه د هري فطري تقاضې جواب د اول نه د انسان په فطرت کښې موجود وي - او انسان د کائنات د پېژندلو فطري تقاضا لري - نو ضروري ده چه دده جواب هم د انسان په باطن کښې موجود وي -

د میکانیت او اضطرار دا تصور هم دده مادیت د غلبې نه پیدا شوی دی - چه انساني نفس هم مادي ګڼي - یعني انساني "انا" غیر مادي نه ګڼي - او کوم قوانین چه په عام مادي کائنات کښې جاري دي - انسان هم د هغو د لاندې مجبور ګڼي - نو که د هغوی د خیال سره سم د انسان نفس محض مادي وي نو د مادې فعلیت خو څرنګه چه د هغو خیال دی - اضطراري دی - نو بیا بایدچه انسان ته هیڅ اختیار او خود ارادیت منسوب نه شي - ځکه چه مادي علتونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دَ لزوم سره خپل معلول پیدا کوي۔ نو په دے وجه اخلاق هم څه معنا نه لري۔ بدان په بدئ اَو نیکان په نیکئ کولو مجبور دي۔ خو دا نیکي او بدي تصور هم بلید چه پیدا نه شي۔ ځکه چه په دے سره په انساني فطرت کښے دوه رنگي پیدا کیږي۔ اَو چه په انسانانو کښے دَ اَوصافو فطري اختلاف څرګند شي (لکه چه څرګند دے) نو بیا دیو خالق وجود لازم راځي۔ ځکه چه که دَ مادے افعال میکانکي اَو بغیر دَ علت العلل نه وي۔ نو دا فرق اَو امتیاز به چرته ممکن وه نو چه مادیت دَ نفس یا دَ انساني انا دَ مستقل وجود نه منکر دے۔ نو بیا په هغه کښے دَ اختیار هیڅ سوال نه شي پیدا کیدے۔ اَو حال دا دے چه هم دے خیالاتو لرونکو دانشورانو په ملکونو کښے قوانین انسانانو ته د سزا ورکولو دَ پاره جوړ شوي دي۔ اَو سزا دے د پاره ورکوي چه انسان عاقل اَو دَ خود اِرادیت حامل ګڼي۔ نه دَ مشین غوندے له خپله عمله بے خبر اَو دَ اضطرار مجبور کیدا ګي۔

کوم ذات یا کومه اراده چه دَ کائنات موجب یا د ظهور سبب دے نو هغه مونږ محور وچه هغه دَ کائنات دَ تنظیم اَو تدبیر کار هم کوي۔ هم هغه اراده دَ هر شي په حقله دد ے خبرے لحاظ هم ساتي چه هغه دَ کلي وجود دَ پاره ګټه منفعت اُولري۔ اَو دَ هغه سره هم آهنګ وي۔

څرنګه چه مونږ دَ نړي دَ ملکونو قوانینو ته اشاره وکړه۔ ښکاره ده که انسان یعني مادي دے۔ نو دَ مادي فطرت کوونکے به وه۔ نو چه دَ هغه مادي ګوټ دَ توپک مادي ماشه کښے کاږي اَو یو سړے مړ کړي نو مجرم به ګڼلے شي۔ نه د هغه ګوته اَو نه دَ توپک ماشه۔ اَو حال دا چه هغه په قول د دغو دانشورانو دَ مادیت دَ فطري قانون دَ جبر نه مجبور دی۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زموږ مشاهده ده چه ژوندۍ جسم د خپل یو مقصد دپاره کار کوی او چه موږ ورته وګورو نو په دے پوهه شو چه څهٔ کوی۔ خو دے په خلاف مشین د خپل مقصد د پاره نه بلکه د خپل چلوونکی د پاره کار کوی او د هغه مقصد پوره کوی۔

که یو انسان په یو ډانګ یا کوتک پسه کین دی۔ او فوراً پوهه شی چه دا ډانګ نه بلکه مار دے۔ نو دا پوهه د هغه مار د حرکت په وجه وی۔ دا احساس د هغه به دننه داخلی دنیا کښے پیدا کیږی۔ که انجن بند شی نو خپل ځان پخپله نهٔ شی چالو کولے۔ خو نفس د جسم علاج کولے شی۔

ظاهره ده چه په عمل او د عمل په علم کښے د مزکے اسمان فرق دے۔ د عمل علم او شعور یعنی مستقل او مستزاد شے دے۔ د بے شعوره عمل او باشعوره عمل ترمینځه ارتقائی منزلونه نهٔ شی متعین کیدے۔ په هغه غشی کښے چه په اضطراری دول (میکانکی طور) نښے ته روان وی۔ او په هغه پر اسرار غشی کښے چه پخپله نښے ته د رسیدو کوشش کوی۔ څهٔ فرق خو شته کنه۔ د شعور په حقله موږ ویلی شو چه درجه په درجه یے ترقی کړے ده۔ خو د شعور د آغاز نقطه دا یو فرضی او نظری تصور دے۔ هیڅوک نهٔ شی ویلی چه شعور د څهٔ نه پیدا شو۔ دومره به ووېلی شی چه هغه د لاشعور نه پیدا شو۔ او لاشعور؟ بس دلته دهریت یعنی ختم شو۔

باید فکر وکړو چه که یو کارګر ورد شی۔ نفس یے بیا هم جاری کولے شی۔ او په مختلفو طریقو سره ته رسولے شی۔ خو مشین همیشه خپله سنده په یو سر وانے۔ د غنچے (جولاګی) که جال او شلیږی بیا یے هم مرمت کولے یا جوړولے شی۔ مرغی خپله جالا د وړانیدونه پس بیا هم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جوړ ولئ شي. نو ظاهره شوه چه هم دغه خود نفس خودي ده چه په هر کار کښې يو مقصد لري.

ميکس وګل وائي " کوتر او د شاتو مچې د خپل جبلت په بنود نه د خپلو خپلو کورو د نو درک معلوموي. که حالات هرڅنګ وي ره نما وي او که نه" يعني هغه هم د نتيجې ته رسيدلې دي. چه د هغو عمل د محرکاتو نه هدايت نه حاصلوي کوم چه د هغو په اعصابي مشين موثر وي. بلکه هغوي ته لاره صرف نفس او ښئي. خود مقصود د منزل تصور او خپل کور ته د واپس راستنيد مقصد په نظر کښې ساتي.

يو بل مثال واخلئ. که غوک راپاځي او يو ماشوم اوځي. نو هغه به په ژړا شي. دغه دا خو ميکانکي خبره شوه. خو که هغه هلکته هسې مخې ته غير وکړئ شي. يا پرستر کې راسره کړئ شي او د بې ورته وکړئ شي. نو بيا ولې ژاړي؟ اے ددے منه صفا صفا دا نه معلوميږي چه دا ژړا ئې د يو تصور د لاندے وي؟ او حال دا چه مشين هيڅ د تصور احساس نه لري.

د انساني وجود د مطالعې نه معلوميږي چه د هغه د شخصيت دوه ارخونه دي. جسم او روح. که څه هم جسم په حيث د يو مادي وجود په بيلا دول هم احساس او شعور نه لري. خو چه انساني انا ورسره متعلق شي نو په هغه کښې هم شعور پيدا شي. او هم دغه شان نور حيوانات دي چه د شعور اکبر د پرتو د لاندے مشعر دي ليکن هم دغه انسان د بدي خواهش هم کوي. او د ے خواهش ته د ضابطې قيزه هم اچوي. او څرنګه چه د علامه اقبال د قول په مطابق مونږ وئيلي دي په ابتدا کښې د مادي غلبه وي. خو چه څومره څومره نفس ترقي کوي هومره هومره د ماديت د جبر نه آزاديږي او په

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

آخر کښې دَمادیت دَجبر نه ېښې آزاد شي. چه مثالونه یې په تاریخ کښې ډېر شته. موږ به یوه منه واخلو. اوَ دَ هغې رنګ ته به ځیر شو. ځکه چه رنګ یې علامت دی. چه منه پخه ده که کچه. دَخوړلو قابله ده که نه. ځکه چه ځلت خویوږ سے دَخوړلو تحریک کوي. هغه دَخوراک نوعیت نهٔ شي ټاکلی. نو منه چه شنه وي کچه ګڼلې کیږي اوچه سره وي پخه. خو ند یې لا چانهٔ وی محسوس کړی خو هم دا رنګ په وجه یې کچه پخه معلومه وی.

موږ په دارالعلوم کښې وینو چه زنګ (ګهنټي) دغږیږي نو مراد یې دا وي چه ددوي ته راشئ. ددې زنګ آواز ته ډیر خیال څوک نه کوي. صرف دَګهنټي دغږ مقصد اوتصور ته یې فکر منتقل کیږي. دَ ریل به پټړي (سړک) سرې او شنې بجلی بلې وي. دریوان چه ورته وګوري دَ هغو رڼا ګانو په وجه دَ خپل مقصد تصور کوي. که رڼا سره وي ګاډی ودروي. ځکه چه سره رڼا دَ خطرې علامه وي. او که رڼا شنه وي نو پوهه شي چه لار صفا ده ګاډی تیسن ته ورداخل کړي. او هم دغه شان چه دَیو رباني ګوټې دَرباب په مختلفو پردو پرېوزي نو ګویا دَ یوې نغمې دَجوړېښت دَپاره هدایات جاري کوي.

کانټ ددې قایل وه چه انسان په کوشش او مجاهده سره دَمادیت دَجبر نه آزادیدای شي. خو وائي چه ددې دپاره ډیر عمر پکار دی.

وائي چه

" ترڅو چه زما په فرض او دَ زړهٔ په خواهش کښې تصادم وي. زما وجود (شخصیت) ناقص دی. دَ کمال نه پاتې دی."

بیا لیکي "

" زهٔ په فرض کښې تبدیلي نهٔ شم کولې. او خواهش بندولې

شم - خو دے اخلاقی کمال ته رسیدل کم نه کم د یو سړی عمر غواړی - ځکه نو اخلاقی قانون لا خو زمونږ نه د یو ناممکن کار مطالبه کوی - ځکه د منلو وړ نه دیٔ - او د هغه د مطالبا تو د منلو دپاره کافی وخت پکار دیٔ - ځکه نو په دے وجه د روح بقا د عملی عقل دویم موضوع اصولیٔ"

دلته کانټ د اسلامی تصوف د مجاهدے تصور ته را نزدے شویٔ دیٔ - یعنی د نفسی خواهشاتو په ضابطه کنبے را وستل - خو خیال یے وړته نه دیٔ منتقل شویٔ یا شاید هغه په دے نهٔ وه پوهـ چه په اسلامی تصوف کنبے د مجاهدے دا تصور تو نه هم شته چه د هغو په ذریعه په لږه موده کنبے دا مقصد حاصلیدیٔ شی - البته د عقل له لارے به واقعی چه یو لوے عمر وغواړی - ځکه چه عقل بروخت په وخت خپله غلطی هم محسوس کوی - او د هغو ازاله به کوی - او په دے کنبے به ارو مرو ډیر وخت لګی -

په دے کنبے شک نشته چه کهٔ نفس د عادت غلام شی - نو هغه به د خپل پیدا کړی میکانیت ښکار شی - خو د عادت هم مقصد دادیٔ چه د میکانیت جواب په میکانیت وکړیٔ شی - لکه کوزیدل را کوزیدل - خپل ورځنی کارونه کول - دا د دے دپاره چه نفس د میکانکی امورو د جبر نه آزاد شی - او د دنیا د هغو کارونو د کولو هم قابل شی کوم چه غیر میکانکی دي -

صفا ینکاری لکه چه دا د میکانکی فطرت سره د "ژوند" جګړه دی - او مقصد پکښے د ژیا ته نه زیاته آزادی حاصلول دی - ځکه چه هم دغه عادی یا میکانکی اعمال په انسان کښے دا طاقت هم پیدا کوی چه هغه د دے میکانکی تحریک په مخالفت کولو هم قادر شی -

یو شاعر ته د حروفو د الفاظو ضرورت وی - خو د حروفو او الفاظو د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پاره هم امکان نشته - چه هغه دَ کوم طبیعي قانون دَ لاندے راجمع شي او په خپله دَ یو شعر په صورت کښے ظاهر شي - اَو نه دَ رنګ اَو قلم دَ پاره دا ممکنه ده چه په خپله یو تصویر جوړ کړي - تصویر او شعر دَ تخلیق مثالونه دي - او دغه دَ ارادے دَ عمل فعل په شان دَ آزادي پیدا وار دي - خو چه یو کوت پیدا شي نو مادے ته په یو نوي رنګ تشکیل ورکړي - چه مثالونه یے دا شے دي چه لکه شاعر چه یو نوئ لفظ، نوے استعاره، نوے مصرعه، یا نوئ بحر وضع کړي - اَو دَ مصور نوئ انداز، او نوئ اسلوب اختیارول - اَو دغو دواړو دا جدت دَ راتلونکو نسلونو دَ پاره دَ یو مادي ماخذ کار ورکوي - نو کله چرے دا تمثیل لږ غونتے وسیع کړو شي - نو وبه لیدے شي - چه دا ټول مادي کون او مکان دَ یو همه ګیر " ژوند " تخلیق مادہ ده - اَو لا دا هم چه ورځ په ورځ دَ پرمخ تګ کوونکي فهم کارنامه مونږ چه دَ تغیّر اَو تحوّل قانون ته څیر شو نو پوهه به شو چه ددے تغیّر او تحوّل په وجه هر لحظه دَ کائنات توازن ورانیږي - اَو بیا جوړیږي - خو سره ددے دَ کائنات توازن په خپل ځائے وي - ځکه چه په کائنات کښے هر جزوي تغیّر د دویم جزوي تغیر په وجه متوازن کیږي - لکه د فلم په فیته ځان ځان ته جدا تصویرونه چه دَ مشین دَ حرکت ورکولو په وجه متوازن شي اَو یو خاص عمل ترے څرګند شي - نو معلومه شوه چه ددے هر څه شاته یو واحد او حکیم نفس کارفرما دے - او دغه مقصد دَ لاندے دَ کائنات دا سلسله قایمه اَو روانه ساتي -

حقیقت دا دے چه په کائنات کښے چه کوم دَ اضداد و قانون جاري ښکاري هم ددے په وجه ژوند د ترقي په لور مخه کوي - اَو دَ اضدادو دَ تصادم نه نوي نوي حالات پیدا کیږي - او شیان ورو په درو خپل حقیقي وجودي انفرادیت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اَو تکمیل حاصلولو ته نژدې کیږي.

هغه دا نشوډان چه کائنات، سره دَ انسان صرف یو مشین ګڼي هم دې خبرې قایل دي چه انسان ورځ په ورځ ترقي کوي. اَو چه تپوس تر اَوشي چه کۀ دَ ژوند هیڅ مقصد نۀ وي. نو دَ ترقي څۀ ضرورت دې. نو ځ په زړۀ پورې جواب ورځخه نۀ وي. اَو څرنګه چه مونږ ویلي دي دَ ژوند دَ میکانکي اَو بې مقصدۀ تصور په وجه انسان دَ خپلو عملو جواب ده هم نۀ دې اَو نۀ دې سره دَ اخلاقو قدرونه متصور کیدې شي. لیکن مونږ وینو چه دَ نړۍ دَهر ملک انسانان دَ اخلاقو قایل دي. اَو هم یې څۀ مستقل قدرونه تسلیم کړي دي. اَو څرنګه چه دا دا نشوران وائي چه ژوند دَ ماحول سره دَ مطابقت نوم دې نو کۀ په حقیقت کښې دَ هغوئ دا خبره صحیح وې. نو بیکار وو چه ژوند همیشه هم په هغه ماحول کښې وې. خو مونږ ګورو چه همیشه په خپل ماحول کښې نۀ پاتې کیږي. بلکه ترځي. نو ددې ټک مطلب څۀ دې؟ معلومه شو چه په ژوند کښې دَ وړاندې تلو شوق دې. ژوند کومې خاص نقطې ته روان دې. اَو هم ددې نۀ ثابتیږي چه هغه څۀ مقصدیت لري. اَو کۀ څۀ مقصد اَو معنی نۀ لري. نو بیا ورکښې فکر ولې کوي اَو دومره دول فلسفې ولې پیدا کوي.

صفا ظاهریږي چه دَ انسان "انا" په شعوري او غیر شعوري هر حال کښې دَ ژوند په مقصدیت عقیده لري.

دا حقیقت دې چه شیان هله مقصود شي چه ضرورت ورته پیښ شي نو ځکه بالذات مقصود نۀ وي. لیکن انسان بالذات مقصود دې. ځکه چه هغه شخص دې. اَو شیان شخص نۀ دي. نو کۀ مونږ انسان بالذات مقصود منو نو باید چه دَ هغه ژوند هم هر دَ مقاصدو ترجمان وي.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سره دده چه انسانی انا په حقله مقیّد ده - خو طبعاً آزادي خو بنوي - که څهٔ هم هغه د ډیرو خواهشاتو د پوره کولو په ترڅ کښې د خپل فعالیت پوره پوره مظاهره نهٔ شي کولې -

موږ وښیلي دي چه د انائے مطلق په فعلیت کښې پیش بیني یو نظام خبره ده او هم په دے حقله علامه اقبال لیکي " د فطرت د عالم د مشاهدے نه معلومیږي چه د فطرت په اعمالو او افعالو کښې پیش بیني، غرض او غایت او د تطابق او توافق آثار ښکاري - نو موږ پوهیږو چه دے نه دېو داسے مشعر بالذات هستي ثبوت پیدا کیږي چه د علم او قدرت یے هیڅ انتها نشته " اقبال د فکر په حقله لیکي " موږ دا هم وښیلي شو چه د فکر حیثیت د یو داسے علل نه دے چه د خارج نه د شیانو په نظم او ترتیب کښې حصه اخلی بلکه د یو داسے قوت دے چه د خپلے هیولے صورت جوړونکی پخپله دے.

نو په دے لحاظ یے چه وګورے د فکر یا تصور وجود به د شیانو د ماهیت نه بیل نهٔ ښکاري - د دے برعکس هغه به د هغو بنیاد او اساس ثابت شي - د هغو د هستي اصل جوهر چه د ازل نه د هغو په وجود کښې جاري، او د هغو د خپل مقرر کړي شوي مقصد په مطابق هغوئ ساعت په ساعت ورانديانئ "

ګویا شیانو ورو ورو په وره و د تکامل په لاره روان خپل مقصدیت ته روان دي د انساني انا د خود ارادیت په سلسله کښې اقبال د متکلمینو هغه نظریه رد کړے ده - چه وائي چه د بدن سره روح هم فنا کیږي لیکي " مسلمانانو هم چه هر کله د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د دے ارشاد په مطابق چه انسان د یه ځان کښې د خدائے اخلاق پیدا کړي - د مذهبي واردانو او مشاهداتو په لوړ قدم پورته کړ - نو خرګنده چه د مطالعے نه معلومیږي د دے تقریب او اتصال

ترجماني څخه په دې ډول اقوالو کښې وخت په وخت کېدله - مثلاً انا الحق، انا الدهر، انا قرآن ناطق، یا ما اعظم شاني" فکرپکار دی چه دے انائے مطلق که داخو بنده کړی چه انائے اصغر یا انائے مقید دا سے فنا کړی چه نه خو یے وجود په محسوس کائنات کښې پاتے شی اَو نه دَ هغه په علم کښې - نو که دده جزئ په اثبات کښې وی - نو معلومه شوه چه دَ انائے مقید دَ وجود څخه قدیم بنیاد نشته اَو نه څه قدیم علمی اَساس بلکه دَ لوبو یو څیز دی چه څخپله پیدا شو اَو کوم خلق چه دا صرف یو مشین اَو بے مقصده څیز گڼی دَ هغو خیال صحیح دی. څرنګه چه دده مشین پرزے په خپله سره دا یو ځائ شوے - اَو کارے شروع کړ - اَو دَ دغو پرزو دَ متحده اَو اجتماعی عمل نه چه څه ظاهریږی دا هم یو اتفاق دی حالانکه دَ نړی دَ اکثرو پوهانو دا عقیده ده چه اتفاق څخ شی نه دی بلکه دَ هر کار دَپاره څلور علتونه دي - چه علتِ فاعلی، مادی، صوری اَو غائی بللي کیږی - خو موږ به دَ لږ ساعت دَپاره دا خبره ورسره اُومنو چه دَ کائنات اَو د کائنات په هیڅ څیز کښې مقصدیت نشته - اَو موږ چه په خپل ځان کښې کوم اختیار اَو فعلیت محسوس کړو - یا په نورو الفاظو په خپل وجود کښې دَ خپلوا کی ادراک کوو - دا دده پرله پسے مشاهدے په وجه کوو چه اُوس ورسره روږدی (آموخته) شوی یو -

اَو که نه، انائے اکبر دا انائے مقید دا سے نه شی فنا کولے چه دَ ظاهری وجود سره سره دَ هغهٔ دَ علم نه هم خارج شی نو معلومه شوه چه دَ انائے اکبر په علم کښې بیا دَ نورو اعیانو څخه ځان ته انفرادیت لری - ځکه چه هر "عین" په بنیادی ډول دَ بل "عین" نه ممتاز وی - نو چه هر کله دده عین منشاء په خارج کښې موجوده شی - هغه دَ خپل بنیادی وجود په مطابق فعاله

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم وی ـ اَو دَ مقصدیت ترجمان هم ـ ځکه چه هم دغه د اعیانو وصفی امتیاز خبرے روښانه ثبوت دی چه ژوند څهٔ مقصد لری ـ کنهٔ بیا خو به کار چه هیڅ امتیاز موجود نهٔ وی. اقبال چه وائی " دا ویل چه کوم خیزونه مونږ شعوری دا یو صفه د مادی اعمالو مظهر دی، د شعور دَ آزادانه فعلیت نه انکار دی اَو د دے انکار نه دَ علم دَ صحت انکار لازمیږی ـ ځکه چه علم په حقیقت کښے هم د دے شعور دَ یو مرتبط او منظم بیان دویم نوم دی ـ ځکه نو دا به و مرو منل کیږی چه شعور دَ ژوند دَ خالص روحانی اصول یو شکل دی ."

مونږ په کائنات کښے د اروان نظام په درے دوله محسوس کوو ـ طبیعی شعوری اَو عقلی ـ

د اجرامو حرکت د هغو په مخصوصو لارو تګ ـ د نمر اَو سپوږمی مخصوص نظام دَ مزکے په خپل محور حرکت اَو دَ سائنسی پوهانو دَ تحقیق سره سم که چرے مزکه دَ خپل محور نه یو انچ قدر د نمر په لور ورنږدے شی ـ نو به مزکه کښے به ژوندی مخلوق د ګرمی نه هلاک شی ـ اَو که یو انچ ترلرے وته نو د یخنی شدت به ئے ژوند ختم کړی ـ اَو بیا د نمر او سپوږمی دَ رڼانهٔ د میوو پخیدل دَ سمندر مد او جزر ـ دا ټول د مقصدیت اظهار کوی ـ اَو هیڅ پوهه انسان د دے نه انکار نهٔ شی کولے خو سره د دے هم ځنے هغه دانشوران چه په ژوند کښے دَ هیڅ مقصد قایل نهٔ دي د اجرامو د انظام هم اتفاقی ګنړی ـ اَو د تجاذب دَ قانون د لاندے یے قایم ګنړی ـ یعنی دَ هغوئ دا خیال دے چه په اجرامو کښے ډیره موده پخوا لو کښے تصادم جاری وه ـ اَو بیا په خپله پکښے یو توازن پیدا شو ـ اَو تصادم ختم شو ـ خو هغوئ دومره فکر نهٔ کوی چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د موجوده ایتهمي تحقیق په رڼا کښې سره دَ هغوئ دا خیال صحیح نه دی - ځکه چه موجوده تحقیق دَ مادے هغه پخوانی نظریه هم رد کړے ده - او ثابته کړے یې ده چه ماده په آخر کښې بیخي فنا شي - بس اِلٰی یو شعور دی چه هغه موجود دی او دا کائنات دَ هغه شعور مظهر -

اُوس به راشو دَ تجاذب قانون ته - چه په دے حقله زما یو بل کتاب "تسخیر دَ کائنات" کښې بنه کافی خبرې شوے ده - خو مختصر به دومره اُووایو چه تجاذب یا کشش دَ یو طاقت مظهر دی - او طاقت اِلٰی یو دی - او مونږ ته چه څه مادی خیز کښې ښکاري - دا دَ هم هغه عظیم طاقت پرتو دی - لکه چه دَ بجلی کهرنه دَ بجلی هر یلک ته رڼا او حرارت راځی - نو که یو نا واقف انسان دا رڼا او حرارت هم دَ دے بلک پیدا وار اُوګڼی - نو ګرم به نه وی - ځکه چه هغه ته هډو دا علم نه وی چه دَ دے رڼا او حرارت مرکز بجلی کهر دی - دیر واړه واړه طاقتونه هم چه په شیانو کښې محسوس کیږي هم دَ هغه لوئ طاقت مظاهر دي او که چرے دلوئ طاقت دا مرکز نه وی - نو په دے ورو طاقتونو کښې دَ توازن دَ پیدا کید و خو هډو سوال نه شو پیدا کیدی - اَن چه د دے ورو طاقتونو وجود به هم نه وه -

دا طبیعی نظام دا ازل نه را روان دی - او تر آخره به روان وی - هیڅ یو ډول بنیادی خلل پکښې نه شی واقع کیدی - او په دے کښې هم شک نشته چه په لامتناهی فضا کښې اُوس هم څنے اجرام فنا کیږی او څنے نوی جوړیږی او غرے هم پکښې راځی خو په دے طبیعی نظام کښې هیڅ بنیادی فرق نه پیدا کیږی ځکه چه که څه هم دے نظام کښې فتور پیدا شی - نو د دے په نتیجه کښې شعوری او عقلی ثبوت منځ ته نه شی راتلی - ځکه چه که دَ اجرامو تر منځه همیشه تصادم جاری

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دئ۔ نو په اجرامو کښې خصوصاً او ز مونږ په مزکه کښې به هیڅ ژوندنه وه پیدا شوې۔ ځکه چه د ژوند د ظهور د پاره به موزون محل نه پیدا کیده۔ د حیواناتو مرغانو او د انسانانو وجود ظاهریدل به ناممکن وو۔ او دا د طبیعي نظام د توازن سبب وه چه زمونږ په مزکه کښې دا آکسیجن او هیدروجن د امتزاج نه اوبه پیدا شوې۔ لکه چه قرآن حکیم دے ته اشاره کوي او وائي چه

"ما هر ژوندئ څیز د اوبو نه پیدا کړو"

دا اوبو په وجه ډول ډول وابسته پیدا شول۔ او بیا خاروی، درندګان، چینجي مرغان او انسانان پیدا شول چه دا د غو نظام ته شعوری نظام وائي۔ او هم دغه شعور د علم او عقل ابتدائي شکل دئ۔

دے تولو ذیوته دخپل خپل ژوند د قایم ساتلو د پاره شعور ورکړے شوے دهر ژوي د ژوند مخصوص او ممتاز ډول دے۔ د شاتو مچۍ چه د ځان د پاره کوم کور ونه جوړوي۔ په هغو کښې هیڅ فرق نشته۔ ډول ډول مارغان چه څنګه جالے جوړوي هیڅ ته معلومه دي۔ خاروی غوښه نه خوري او درندګان وابښه نه خوري۔ او دا شعوری نظام یعني د طبیعي نظام غوندے غیر متبدل دئ۔ د ابتدا نه روان دئ او تر آخره به روان وي۔ او هم دے ته قرآن حکیم اشاره کوي "ستر ګې پرانیزئ او اوګورئ په دے کښې څه نتوي دي"۔

دریم نظام عقلي دئ۔ چه یوازے د انسان سره مختص دئ۔ او د سائینس پوهانو دا حقیقت په تجربه ثابت کړی دئ چه دا کائنات چه د کوم عناصرو نه جوړ دی۔ هغه ټول په یوه خاصه اندازه د انسان په وجود کښې موجود دي۔ نوبیل هم دا دے شئ نشته چه دا ټول عناصر یے د وجود په ترکیب کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شامل وی۔ نوګو یاد دے دا مطلب شو چه انسان د طبیعت شعور او عقل ځان
یو کامل وجود دی۔ یعنی دَ انسان دَ وجود عناصر درے دی چه د حیوانیت
انسانیت او ملکیت نه عبارت دي۔ دَ هغه حواس هم درے دي چه مونږ ورته
په ترتیب سره مادی، مثالی او عقلی وئیلی دي۔ او تر څو چه دَ انسان دا
درے واړه حواس او عناصر متحد او متوازن نهٔ وی۔ دَ هغه په جوړ کړی نظام
کښے هم توافق او توازن نهٔ شی پیدا کیدے۔ او مونږ ګورو چه انسان سره
د دے چه د ټول مخلوق نه اشرف دی۔ لیکن د هغه په نظام کښے همیشه تصادم
روان وی د طبیعی او فطری نظام غوندے دَ فتورونه پاک نهٔ وی۔ نو هم
دغه وجه ده چه هغهٔ تر اوسه په خپلو عناصرو او حواسو کښے توازن، او اعتدال
پیدا نهٔ کړے شو۔ څرنګه چه د علامه اقبال نه مُتاسو اُو لوسته دَ انسان ابتدائی
حالت طبیعی وی۔ چه د هغه نه حیوانیت پیدا کیږی۔ او دا حیوانیت په ابتداء
کښے دومره غالب وی چه انسان د هغه د لاندے مغلوب وی۔ خو چه څومره څومره
مجاهده کوی۔ هومره هومره د حیوانیت د جبر نه آزادی مومی۔ او هر کله چه
د دے حیوانی عنصر غلبه وي۔ په نړۍ کښے امن نهٔ وی۔ هر قام د خپل افادیت
د پاره دَ نورو قامونو استحصال کوی۔ دَ داروِن او میکیاولی غوندے
خلق پکښے پیدا شی او هغوئ خپلو خپلو قامونو ته هدایت اوکړی چه
وارهٔ کبان دَ لویو کبانو خوراک وی۔ او هم دغه دَ فطري قانون منشاء ده
چه د خپل وجود دَ قایم ساتلو دَ پاره د نورو وژوند ختم کوي۔ په ظاهره
کښے خپل ځان دَ پر بنتے په حیث ښکاره کوئ۔ خو چه په هر شان کیږی
نور انسانان دَ خوشحالی او آزادی نه محروم کوئ۔ دَ انسان دَ مادی جسم نه
هم دغه حیوانیت پیدا کیږی او تر څو چه دد نه غلبه وی۔ نو نهٔ انسان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ی کولی شی - او نه د علومو او فنونو څه خاص برخه اخستې شی - او
ومره ترقی چه شوې ده نو ظاهره ده چه انسان د طبیعت یا حیوانیت
بیں مقابله کړې ده - او د دې مقابلې نه پس یې حاصله کړې ده او که
ې په انسان کښې د مادیت د جبر د مقابله کولو طاقت نه وې - او د عقل د نا
څه موجوده نه وې - نو ترا وسه به د نورو ښکارو او حیوانانو نه زیات
ه وې -

د انسان بل عنصر ملکیت یا د فرښتو خوې دې - چه د دې په ذریعه
پل خالق سره د تعلق تړ قایم ساتلې شی - خو چه هر کله دا عنصر په انسان
ه او سومی نو په نړی کښې د عملی ژوند د ذمه داری نه پاتې شی - د
م بُدهه بخیں دنیا ترکه کړی او په یو کوټ کښې کښینی - او یا د هندوانو
یرانو او سادهوګانو غوندې د دنیا ناوې ته طلاق ورکړی - د خواهش
لوب کولو د پاره خپل اندامونه بې کاره کړی - او یا د عیسائی مجلسانو
ې دنیا ترکه کړی - او دا کار هم د نوې ښښتن د منشاء نه خلاف دې -
چه د نوې ښښتن منشاء خو د انسان د تخلیق کولو نه دا وه - چه انسان
ی کائنات په رازونو پوهه شی او د هغو نه استفاده وکړی - ځکه چه د
الیٰ منشاء دا ده چه د حیوانیت په ذریعه انسان خپل مادی جسم قایم
اق او د ملکیت په ذریعه د خپل خالق سره تعلق او ساتی - او دا دواړه
ر د انسانیت خادمان شی - او هم دغه د اعتدال نقطه ده - چه د
ل ژوند ضمانت لری - باید چه انسان نه حیوان شی او نه پرښته -
انسان شی - او چه هر کله دا دواړه عناصر د انسانیت خادمان شی
د ې د دویو کښې تصادم ختم شی - او عقل چه د انسانیت خاصه ده

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ؤ وځلیږي. شعور او طبیعت یې مرستیال شي. او په دې طور انسا
ته د مختلفو علومو او فنونو تحصیل آسان شي. او د دې نه پس په انسا
ذهن کښې د ژوند مقصدیت په کامل ډول او ځلیږي او څرنګه چه د
خالق د کائنات ابتدا د یو مقصد د لاندې کړې ده. یعني هم هغه د مقصد پ
په انسانی وجود کښې ظاهر شي. ګویا د تخم د یوې دانې نه یوه دنګه اوته جو
شي. او تکمیل اومومي. او په آخر کښې هم هغه تخم پکښې څرګند شي.

## شپږم باب

# کائنات او مقصدیت

---

زمونږ نه کېږي چا پېره ښکته پورته داوېږ کائنات چه انسانی
ړے انتها ته نهٔ شی رسیدئ - څهٔ شئ دئ ؟ د همېشه نه هم داسے قائم
ی او وی به کهٔ نه، یو وخت داسے هم وه چه هیڅ وجود ئے نهٔ وه - بیا پیدا
ی - او بیا به هم فنا کېږی - که دا د همېشه نه موجود دئ او هیڅ خالق د
ت نه شته کړئ نهٔ دئ - نو د هغه په اجزاؤ کښے دا ترکیب، تغیر او تحول
ے محسوس کېږی چه دا تحول د فنا استاذی دي - ځکه چه هر متغیر حادث
ادث فانی وی - او که چرے د هغو پوهانو خیال صحیح وی چه د کائنات
ره د هیڅ خالق قائل نهٔ دی - د همیشه راسے هم داسے قائم دئ او
م به وی - نو په قول د علامه اقبال، د اشیاؤ په حرکت او تغیر کښے کوم
نظرت له نوا کېږی د مقصدیت او پیش بینی علامے ورله ښکاری، پخپله
الحروف ته هم په هغه زمانه کښے دا اشکال وړاندے کېدلو کوم وخت
چه د ډیرو ډیرو راسے چه مونږ د اشیاؤ ماهیت ته ګورو نو داسے
اشنا شوی یو چه اوس مونږ ته په هغو کښے مقصدیت توافقی او

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

توازن بنه کاری - گنی په حقیقت کښې کائنات یو داسې مشین دی چه نهٔ ئې خلق
او نهٔ پرایشور - بلکې په خپله روان دی او د هغه د پرلپسې حرکت او تغیر نه چه کوم توازن
پیدا کیږی مونږ په هغو کښې د خپلې تسلی دپاره د توازن توافق مقصدیت او غایت
استنباط نکولے دے - لیکن د دې ته موږ هو فکر نهٔ دی منتقل شوی - چه مونږ
دا توازن او توافق ولې تسلیم کوو - گویا دا هم په اتفاق سره محسوس کوو -
د دې غلط فهمی بنیادی وجه دا ده چه انسان په خارج کښې د ومره مصروف
دی - چه خپل داخلیت ورته د متوجه کیدو پوره وخت په لاس نهٔ ورځی
او که خپل داخل ته کله متوجه هم شی نو یوازې په هغو امورو کښې فکر کوی
چه د هغه د خارجی امورو سره متعلق وی - خپل حقیقی شخصیت ته فکر نه
کوی کوم ته چه مونږ "انا" یا "زه" وایو - او په تیره هغو کښې مونږ
پیر رنیا غور زولے دے - او ثودلی موږ وی چه "انا" هغه غیر مادی عنصر
کوم چه د انسان د مادی جسم سره متعلق شوی دی - او هم د غه عنصر د
اوپوے مرکز دی - هم د دې عنصر د پېژندلو نه پس مونږ د کائنات
مقصدیت او غایت په تره کښې حقیقت ته رسیدی او د اطمینان او تسلی
ترغاړه کیدی شو -

تعجب دا دی چه د دې عصر لوئ لوئ پوهان کوم چه په کائنات کښې
هیڅ مقصد قائل نه دی - په عملی ژوند کښې د مقصدیت مظاهره په هر
کوی - او بیا دا دعوی کول چه په کائنات کښې هیڅ مقصدیت نشته - ا
هغوی دا خپله دعوی هم د مقصدیت مظاهره نهٔ ده ؟ په فکری
کائنات بے مقصده گنی او د هغه هیڅ نتیجه نه تسلیم کوی - لیکن په عمل
د مقصد دپاره جنگ جگړې هم کوی - او په دې سلسله کښې خپل ټول

کوشش نه کوی - او د خپل شخصیت دے بنکاره تضاد ته هیڅ فکر نهٔ کوی.
د دے وجه، څرنګه چه مونږ په تیرو صفحو کښے باربار وئیلی دی - د ذاتِ باری
د وجود نه انکار او په مادیت کلک عقیده د ه - نو د دے مفکرانو د افلسفه
تر اوسه عالمِ بشر په عملی ډول نهٔ ده تسلیم کړے - ځکه چه د هر ملک
انسانانو چه په خپل ماحول کښے کوم قوانین جوړ کړی دی - هغه د یو مقصد
د لاندے دی - انسان چه څومره علوم او فنون حاصل کړی دی - هغه ټول
د مقصدیت ترجمان دی - او د میکانیت د نظریے تردید کوی - او که چرے د
میکانیت نظریه صحیح وی نو بیا زمونږ د اټول علوم او فنون قوانین او تعینات
هر څه هر څه په سیند لاهو کیږی.

ځنو دانشورانو د دے په ثبوت کښے وئیلی دی چه یو انسان چه په یو
کار عادت شی نو بیا د هغه عادت نه ځان نهٔ شی خلاصولے - او په اضطراری
(میکانکی) ډول هغه کار ته دوام ورکوی -

هیڅ شک نشته چه که د انسان نفس د خپل عادت غلام شی نو هغه د دے
خپل پیدا کړی اضطراری عمل نه ځان نهٔ شی خلاصولے - خو که هغه فکر
او کړی نو د عادت مقصد د ادیٔ چه د میکانیت جواب په میکانیت او کړے شی.
نکه ناسته پاسته او ورځنی ضروری کارونه - او د دے فائده دا دی چه
انسان د اضطراری عمل نه آزاد شی - او بیا په خپل اختیار هم کارونه کولے
شی - او دا ګویا د انسانی انساف جګړه ده د میکانکی فطرت سره - او د دے
مقصد د زیاتے نه زیاته آزادی حاصلول دي -

مونږ ګورو چه څومره د انسانی انا قوت او خپلواکی زیاتیږی - هومره
بهٔ د ارادے قوت هم زیاتیږی - او بیا د خپل عادت په ضد هم خصلیت ته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دوام وركولئ شي - او دا سې انسانان څه كم نهٔ دي چه د پر عمرئ دا فيم او د نورو نشو عادت اخستى وه - خو چه كلكه اراده يې دړلوده - هغه تورے نشے ئې ترکے كړے - ځكه چه كه څه هم عادت پيدا كيدل د حيوان فطرت دئ. او انسان هم د مادى عنصر د لرلو په وجه يو حيوان دئ - ليكن دا وصف يوازے په انسان كښے موجود دئ - چه كه عادت پيدا كړى نو عادت ماتولئ هم شي - او هم دغه وصف ئے د نورو حيواناتو نه ممتاز كوى - او دا حقيقت ثابتوى چه په انسان وجود كښے يو لا فانى عنصر هم موجود دئ - چه هغه په ميكانيت غالب دئ - او هغه انسانى "انا" ده -

او څرنګه چه مونږ وئيلى دى يو شاعر ته د حروفو او الفاظو ضرورت وى خو پخپله د حروفو او الفاظو د پاره ممكنه نهٔ ده چه طبعى قانون يا ميكانكى فطرت سره په يو خاص ترتيب راجمع كړى او د هغو نه يو نظم يا غزل جوړ كړي - شاعر په مصرعه كښے يو لفظ تجويز كړى خو چه بيا فكر او كړى هغه لفظ ورته موزون ښكاره نهٔ شي - نو هغه پريږدى او بيا د يو موزون لفظ د پيدا كولو كوشش شروع كړى او په دے كوشش كښے دا ولنى لفظ په ځائې بل لفظ استعمال كړى - او هم دغه شان په خپل اختيار او اراده د الفاظو استعارو او تشبيهاتو انتخاب كوى او نظم ترجوړ وى.

اے - د ميكانكى فطرت په حال كښے دا ممكن كيدئ شول ؟ هيڅرے نه - كه مونږ د كائنات د هر څيز په حقله د مقصديت قايل نهٔ شو نو مونږ به د انسان د آزادانه فعل ذمه وارى هم په هغهٔ نهٔ شو اچولئ - ځكه چه كه يو انسان توپک را واخلى او بل انسان قتل كړى نو وئيلى شي چه دا كار د فطرى قانون د جبر او ميكانيت په وجه وه - نو ځكه هغه د سزا مستوج

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه دئ . نو دنړۍ هیڅ انسان به هم د هغهٔ دا عذر تسلیم نهٔ کړي . کیدئ شي چه د میکانیت منکرې دا ووائي چه په دا سے جرم سزا ورکول هم یو میکانکي حرکت دئ . او دا هم د فطرت د جبري قانون پیداوار دئ . چه په دے کښے د علم او پوهے تعلق ته څه ضرورت ده . ځکه چه که دوه کسان د قتل په جرم کښے ماخوذ شي او په هغو کښے یو مجرم او دویم بےګناه ثابت شي . نو هغه بےګناه ته سزا ولے نهٔ ورکوي . اے میکانکي عمل د خپل رفتار یا حرکت په ضد هم منسوب کیدئ شي . ځکه چه کوم حرکت اضطراري وي هغه به په یو سمت کښے وي . او هیچرے به بل هغه سمت ته نهٔ شي اوړیدئ کوم چه د هغه د حرکت ضد دئ . لیکن مونږ ګورو چه انسان اعمال په یو سمت او بل سمت کښے هم ښکاري . ځکه چه که یو انسان په تلو تلو کښے لار غلطه کړي . نو پوهه شي چه لار ے غلطه کړه . نو هغه لار پرېږدي او بیا لټون شروع کړي . که چرے د هغه علم او حرکت هرڅه هرڅه اضطراري او جبري دئ . هغه به په یو وخت کښے د یو خیال یا تصور په ضد ولے عمل کولئ ؟

ځرنګه چه او ویئیل شول . په ظاهر کښے د رانګ او مار په تیارهٔ کښے یو شان محسوس کیږي . نو انسان په کښے فرق څنګه کوي ؟ انسان پوهیږي چه زما د پښے د لاندے چه کوم څیز حرکت اوکړو ، دا رانګ نه بلکه مار دئ او دا احساس ئے "انا" کوي نه پښه .

یو دانشور وائي .

"که چرے ته د بقائے دوام قایل نهٔ ئے . نو د هغو انسانانو سره به سوک څرنګه کولئ شي د کوم چه په بقائے دوام

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

عقیده نشته - مثلاً یو داسے انسان چه د هغو تیولو جبلتونو جامع دیٔ کوم چه د حیواني وراثت نه پیدا دی، او که ته د ارتقاء په تېرو شویو کړیو نظر واچوے نو بیا به ئے معلومولیٔ شے - د دا سے انسان سره بېګړه د یوه کمه کېدیٔ شي - بلکه نهٔ شي کېدیٔ ځکه چه د هغو سره بېګړه کول د تذلیل یو اړخ لري"

د انسان په ذهن کښے همیشه د فکر سلسله روانه وی - چه په دے حقله په تېر و مخو کښے څېړنه شوے ده - خو ظاهره ده چه انساني انا د سلسله په خپل اختیار هم روانولیٔ او د اضطراري روانسلے رفتار په بل طرف ګرځولیٔ شي - ځکه چه هم دغه انساني انا فعاله ده - نه مادي جسم - کوم چه د یو آلے نه زیات حیثیت نهٔ لري.

علامه اقبال لیکي -

" مونږ دا هم وېلی شو چه د فکر حیثیت د یو داسے عامل نهٔ دیٔ - چه د خارج نه د اشیاؤ په نظم او ترتیب کښے حصه اخلي - بلکه د یو داسے قوت چه د خپلے میوے صورت جوړوونکی ګڼیله دیٔ - په دے لحاظ ئے چه او ګورے نو د فکر یا تصور وجود به د اشیاو د ماهیت نه بېل نهٔ وی - د دے برعکس هغه به د هغو بنیاد او آساس ثابت شي - د هغو د هستیٔ اصلي جوهر چه د ازل نه د هغو په وجود کښے جاري او د هغو د خپل مقرر کړی شوی مقصد په مطابق هغویٔ ساعت په ساعت وړاندے بیائي"

ګویا هم دغه انا ده چه د خپل فکر په آساس د اشیاؤ غایت او مقصد متعین کوی - بلکه ګڼیله د اشیاو بنیاد هم په دے قائم دیٔ - یعنی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د شیانو ماهیت د فکر د ماهیت نه جدا نهٔ دی.

دوے نه پس لیکی -

"دا بیله خبره ده چه په دے موجوده حال کښې چه مونږ د ارتقاء په کومه مرحله کښې یو - په دے کښې د فکر او د وجود امتیاز ناګزیر دی ځکه چه د انسان هر عمل د دې غواړی - او هغه د احقیقت ممکنه ده د تحقیق نه پس یو ثابت شی په دوه برخو تقسیم کوی - یعنی یو خوا مدرکه نفس چه د یو څیز ادراک کوی - او بل خوا په هغه مدرکه څیز کښې چه د هغه غیر دی - د کوم چه ادراک کیږی -"

هم دغه انسان دی چه د انسانی انا د خپلواکۍ قایل دی او هم دغه انسان دی چه قایل ئے نه دی - هم دغه انسان، کله خو په کائنات کښې د مقصدیت قایل شی او هم دغه انسان ترې انکار هم کوی - مثلاً فلسفی زینو د حرکت د وجود نه منکر دی - او وائی -

"د غشی رفتار د نظر فریب دی - ځکه چه د سفر اغاز چه د کومے نقطے نه کیږی - د هغې تر آخره چه نیم مزل اوکړی او بیا د دے نیمے نه د اولنی نیمے - آن تر آخره نو تر څو چه مونږ د دے بے شماره نقطو نه تیر نهٔ شو - منزل ته نهٔ شو رسیدلی کوم چه زمونږ او د یو بل مقام تر منځه دی - او غشی هم په هره لحظه کښې په یوه نقطه موجود دی - نو حرکت له کومه راغے - صرف یو غیر متغیر حقیقت موجود دی او بس -"

لیکن پخپله اقبال او برطانوی دانشور برټرنډ رسل او نورو

دانشورانو ددے خیال سخت تردید کړی دی . او ددے ته ئے د بدیهیاتو انکار
ویئلی دی . او زمونږ مقصد هم دا ثابت کول نهٔ دی چه د زینو نظریه صحیح
دهٔ که د هغه د مخالفانو . زمونږ مقصد نو یوازے دا ښودل دی چه که دا
کائنات واقعی یو مشین وی او ددے مشین هره پرزه په اضطراری ډول
روانه وی . نو د دانشورانو په خیالاتو او نظریاتو کښے ددے اختلاف واقع
کیدل ناممکن وو . بلکه د کائنات د میکانکی او اضطراری عمل په وجه
به د ټولو خیالات یو شان وو . ځکه چه ماده خو یوه ده . نو د مظاهرو
په اعمالو کښے ئے فرق ولے دے . او بیا د ژکی یو نوع انسان په خیالاتو
کښے دا فرق ولے پیدا شو ؟ نو ددے نه په صاف طور معلومه شوه
چه کائنات د یو عالم او دانا ذات یا "انا" تخلیق دے . او ځکه په هر څیز
کښے مقصدیت عزوونے کوی .

اقبال وائی چه .

" زمانه د هر څیز جوهر دهٔ په حیثیت د تقدیر .
قرآن پاک هم وائی چه ما هر څیز پیدا کړ او ما ئے اندازه مقرره کړه ."

خو دا ښکاره ده چه اقبال دا کتاب تشکیل جدید الٰهیات اسلامیه
د یورپ او امریکے د خلقو د پاره لیکلی وهٔ . نو ددے یورپتنی خیال تاویل
ئے داسے اوکړو .

" دا قسمت هغه شان قسمت نه دے . هغه بے رحم
قسمت . نو په اشیاؤ کښے چه کوم غایت دے . هغه ضروری ظاهریږی
په دے شرط چه خارجی دباؤ پرِ نهٔ وی . دا هم نهٔ دی کمل پکار
چه ټول حوادث دا اول نه جوړ شوی د حقیقت مطلقه په باطن

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې پراته دي او اوس دا، په دا، دا سے راځي لکه هغه شګے چه د
ګنټے (ساعت) بنیښے ته راځي . او چه زمانه یو حقیقت دې نه د
هم جنسو لمحاتو سلسله او ستکرار، که دا سے وی نو زمونږ شعور
به یو فریب وې د مطلق حقیقت د ژوند هره لمحه دخلاقه
لمحه ده ."

دمتکلمینو خیال دو چه د جسم سره روح هم مری . نو په دے
حقله اقبال لیکلی وو .

" دا صرف تصوف وه چه دا کوشش ئے اوکړو چه د
عبادت او ریاضت په ذریعه د باطن د وارداتو وحدت ته اورسی .
د قرآن پاک په نزد دا وا، دات د علم یوه سرچینه دی . چه باید
مونږ پکښې د دوؤ نور و اضافه هم اوکړو یعنی د عالم تاریخ او د
فطرت عالم . نو اوس که صرف په مذهبی نکتهٔ نظر اوکتی
شی . نو ددے وارداتو نشو ونما د حلاج د انا الحق په نعره
کښې د خپل معراج کمال ته رسیدلے ښکاری . او د هغهٔ متبعانو
ددے تعبیر د وحدة الوجود په رنګ کښې اوکړو .

نو مشهور فرانسوی مستشرق موسیو میسنون *M.Massignon*
چه د منصور حلاج د تحریرونو کوم اجزاء اوس اوس شائع کړے دی . د هغو
نه خو دا ظاهرېږی چه دے شهید صوفی که انا الحق وویل نو ددے نه
دا نه دی ګڼل پکار چه د حلاج به په دے حقیقت کښې څه شک وو چه
حق تعالیٰ وراء الوراء دیٔ . ځکه نو باید مونږ ددے تعبیر داسے اوکړو
لکه څرنګه چه یو څاڅکیٔ په سیند کښې شامل شی . او حال دا چه دا د

امر د ادراک علی الاعلان اظهار وه - چه خودی (انا) یو حقیقت دهٔ چه که چرے یو ژوی او پوخ شخصیت پیدا کړي شي نو ثبات او استحکام پیدا کولی شي - نو په دے لحاظ چه اوکتهٔ شي نو دا ے معلومیږی لکه چه حلاج په دے الفاظو کښے متکلمینو ته د مبارزت دعوت ورکوی ."

ددے مطلب دا شو چه "انا" یا په قول د اقبال خودی چرے فنا نهٔ موی - او هم دغه خودی ده چه په کائنات کښے زمونږ صحیح مقام او مقصدیت ټاکی .

اقبال د میکانکی نظرئے په خلاف وائی .

"که چرے عقل واقعی د ارتقاء نتیجه وی - نو د فطرت او مبدء حیات ټول میکانکی تصور بے معنی ثابتیږی ."

مراد دا دهٔ چه دا تصور هم د عقل په ذریعه قائم شوئے دهٔ - او که عقل ارتقا کوی نو بیا دا ټول علوم غلط دی - او س به نوی نوی علوم وابنیٔ - او څرنګه چه د میکانیت د نظرئے منکری هر څه په اتفاق مبنی ګڼی - او په کائنات کښے د هیڅ مقصد قایل نه دی -

اقبال لیکی .

" خو دا ویئل چه شعور صرف د مادی اعمالو پس منظر دهٔ (یعنی هم ددے مادی اعمالو پیداوار دهٔ) د هغهٔ د آزادانه فعلیت نه انکار کول دی . خو د شعور د ازادانه فعالیت د انکار نه د علم د صحت انکار لازمیږی . ځکه چه په حقیقت کښے علم هم دد ے شعور د یو مرتب او منظم بیان ددیم نوم دی . ځکه نو دا به ارومرو تسلیم کول وی چه شعور ښځی د روحانی اصول

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یوشکل دئ ."

دارتقاء په موجوده دور کښې نوع بشر دا شیاؤ د مقصدیت او غایت چه څو مره قائل دئ هغه څه پټه خبره نهٔ ده - او کهٔ چرے انسان د ابتداء نه دا عقیده لرلے وی چه دا کائنات بغیر بے مقصده په اتفاق سره پیدا شوئ دئ - نو تر اوسه به هم هغه شان وحشی او ځنګلی وه - او هیڅ ترقی به ئے نهٔ وه کړے - زمونږ مشاهده ده چه د کائنات هر څیز د بل څیز د بنیګړے دپاره دئ . یوه ونه هم خپله میوه پخپله نهٔ شی خوړلے - او نهٔ کوم سیند خپلے اوبهٔ پخپله څښلے شی - او هم د غه شان پسرلے او خزان هم د بل دپاره راځی - او بیا د کائنات د هر څیز نه زیات مرتقی وجود انسان چه د هغه هر قدم د یو مقصد په لور دئ او هر عمل ئے د مقصدیت او غایت ترجمانی کوی . او د انسان د "انا" کمال دا دئ چه د کائنات د جبری او میکانکی قانون سره د متحد کیدو باوجود هم خپل انفرادیت او خپلواکی قائمه ساتی - په فطرت کښې تصرف کوی - او د فطرت د مواد نه د خپلے منشاء او مقصد په مطابق کار اخلی - او ترکیب ورکوی - د شیانو په اوصافو ځان پوهوی - او د خپلے بنیګړے په کار ئے اچوی - مثلاً انسان د یو څیز د ایجاد کولو دپاره اول د ضرورت احساس کوی - دا احساس پخپله د دے خبرے ثبوت دئ چه د کائنات په مظاهرو کښې مقصدیت موجود دئ . بیا د خپل فکر په اساس د ایجاد دپاره اجزاء متعین کوی او راغونډ وی - او به دے عمل کښې چه کامیاب نهٔ شی نو پرله پسے بیا کوشش کوی - ان تر دے چه کامیاب شی - او که د لته دا اعتراض اوشی چه علم د تجربے پیداوار

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دئ - نو مونږ ورسره اتفاق نه کوو ولې د دومره تپوس تر ضرور کړو چه هغه بار بار تجربه ولې کوي ؟ ځکه چه کائنات يو بې مقصده مشين دئ - او په اتفاق سره روان شوئ دئ - نو بايد چه د هغه حرکت يو ځل په يو کار کولو کښې تېر شي چه بيا رجعت او نه کړي - مثلاً د گراموفون يو ټکلئ (ريکارډ) به واخلو - چه کوم وخت ستن پرې کېښوئ شي او سندره يا تقرير روان شي - نو د ريکارډ کومه برخه چه وغږېږي هغه بيا دويم کرت نه شي غږېدلئ - او څنګه چه وئېلې شوي دي چه که يو مشين پرزې پرزې کړئ شي - نو انسان ئې بيا هم جوړولئ او کار ترې اخستئ شي - او که د انسانی وجود مشين پرزې پرزې کړئ شي او بيا هغه پرزې پرزې د يو بل سره متعلق کړي - نو هم کار نه کوي - بيا په حيواناتو کښې چه د خپل ژوند د حفاظت کولو دپاره کوم شعور موجود دئ - او د هغو اجسام داسې جوړ شوي دي چه د خپل حفاظت سامان هم ورکړئ شوئ دئ - په شيانو کښې د مقصديت دليل دئ -

د انسان په سر کښې چه کوم وېښتان ښکاري - د انسان د نشوونما کولو د اِکي يو فعل پيدا وار دي - ليکن داسې ولې ده چه د سر وېښتان او د مخ وېښتان خو اوږدېږي ليکن د بڼو او ورځو وېښتان د خپل مقرر حد نه زيات نه اوږدېږي - تصور اوکړئ که چرې د وروځو او بڼو وېښتان هم د نورو وېښتو غوندې اوږدېدلئ نو د انسان دپاره به څومره مشکلات پيدا وو -

انسان عاقل او عالِم دئ نو چه اولاد ئې پيدا شي هغه د مور په سينه کښې تر هغې د خپلې غزا د موجوديت نه خبر نه وي - تر څو ئې چه مور سينې ته وا نه چوي او تئ په خله کښې ورنه کړي - دا د دې دپاره چه هغه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د دانا بینا عالم او خبیر خالق ته معلومه وه چه انسان عاقل دیٔ هغه د خپل اولاد د پرورش په لاره وچاره پوهه دی لیکن د غوا بچی چه پیدا شی هغه ځپله د خپل غذا مقام پیژنی - او عجیبه داده چه د انسان ماشوم چه پیدا شی نو ناف ئے د ماشوم د ناف او د مور د رحم سره غوټه وی چه هغه پرے کولیٔ شی - ځکه چه حق تعالیٰ ته معلومه وه چه انسان په دے پوهه دے چه ناف پرے کول بکار دی - خو که چرے د غوا بچے د ناف هم دا حال ویٔ - نو دا څاروی به یو هم ژوندی نهٔ وو پاتے. نو ځکه هغه دانا او بینا خالق دا سے انتظام کړیٔ دیٔ - چه د دے څارو بچی پرے شویٔ ناف پیدا کیږی .

په دے دا اعتراض کیدیٔ شی - چه دا هر څه د توارث د قانون په وجه کیږی - یعنی د ډیرو کونو کالونو نه چه په حیواناتو کښے د ارتقا په دوران کښے کوم حالات تیریدی هغه ئے په بچو کښے راپه منتقل شی. خو عرض دادیٔ چه د دے عصر د سائنسی تحقیق په رویٔ سره د هغویٔ دا اعتراض صحیح نهٔ دیٔ - ځکه چه که مونږ د ارتقا ابتدا ته فکر اوکړو - نو پوهه به شو چه په هغه وخت کښے د توارث د قانون هډو ابتدا نهٔ وه شوے - او هغه دا چه د ارتقاء د نظرئے په موجب باید د اوبو او خاورو د امتزاج نه پس نباتات او بیا ژوی وجود ته راغلی وی - که څه هم هغه د چینجو په شکل وی یا لکه چه سائنس ورته امیبا وائی - خو دا د هغو ژوندو شیانو ابتدا وه - نو که چرے د حق تعالیٰ له خوا هغو ته په ابتدا کښے د خپل ژوند د حفاظت کولو او د غذا پیدا کولو شعور نهٔ دی ورکړیٔ شویٔ - نو ټول به په ابتدا کښے ختم شوی وو او د توارث

دا قانون به هډو په وجود کښې نهٔ وه راغلے. ځکه چه په ابتدا کښې نهٔ وه ...
هیڅ عقل ددې مرسته نهٔ شي کولې.

خو یو اعتراض بل هم کېدې شي - او هغه دا چه د توارث د قانون بنیاد په ماده کښې پخپله موجود دے - او په دے وجه په ژوندو شیانو کښې هم پیدا شو - خو ددے اعتراض بنیاد هم هیڅ پختګی نهٔ لري - ځکه چه د سائنس د نننی تحقیق په رڼا کښې ماده پخپله هیڅ شی نهٔ دے - بلکه د توانائۍ یو جامع صورت دے او توانائي پخپله په لغوی طور غیر مستقل معنی ته وائی. توانائي صفت دے او بغیر د موصوف نه ئے هډو وجود نهٔ شي ثابت کېدې - فعلیت خو ئے لرې خبره ده - او چه موصوف تېر کاږ واخلي نو توانائي څه شی - نو ایا د توارث دا قانون په توانائۍ کښې هم موجود دے؟ که ددے جواب په اثبات کښې وي - نو بیا خو معترض پخپله د یو مطلق انا د وجود قائل شو - ځکه چه صفت پخپله هډو فعال نه دے. بلکه د موصوف یا ذات فعل ته صفت وائی - نو معلومه شوه چه د یو دانا او بینا ذات اراده په ماده کښې منعکس شوه - او د هغه په علم کښې چه کوم نقوش وو د هغه په اراده په ماده کښې په مختلفو او ډول ډول شیانو په شکل کښې ظاهر شول.

د هر څیز چه د حق په علم کښې کوم شخصیت یا "عین" ده - هم په هغه انفرادیت ظاهر شو - او د اوصافو د اختلاف په وجه هر یو د بل نه ممتاز شو - که دا هر څه هر څه د یو خالق د منشاء نه خلاف پخپله په اتفاق پیدا شوی وي - نو موږ به هغو ته بلنه ورکړو چه راشئ او د یو ټوکرے نه چه لس روپئ پکښې پرتې دي - او په هره روپئ یو دوه درې اَن تر لسو پورې هندسے لیکلے شوې دي - په اتفاق سره د هغه روپئ بهر را اوباسئ په کومه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چې "بو" هندسه پیکلاشوې ده - یا دوه درې اوخلور او داسې څه ورپسې -
نو هیڅرې به د هغه ډانه ډېستي شي - خو اصل خبره دا ده چې د دې خلقو چې د
خدای د وجود نه انکار اوکړو - نو د هغو دلائلو د پاره ئې ډېرو مړو څه جوابونه
جوړول کوم چې د هغو په دې عقیده د پاڼه کېږي - خو ظاهره ده چې
عالم بشر د هغو عقیده په اجتماعي ډول رد کړې ده که د خدای د وجود څخه منکر
که نه - نو په کائنات کښې مقصدیت ئې په عملي ډول تسلیم کړی دی - انسان
د میکانکي حرکت په خلاف د ځان د پاره قانون جوړ کړی دی - او انسان په
دې پوهه دی چې په خوږو او ترخو کښې کوم فرق دی - او بیا ئې د ترخو په
مقابله کښې خوږو ته وړاندې غوره کړې دی -

حق تعالی ته معلومه ده چې په هغه د خلې اوبه او لعاب ته خوش ګواره
او خوږ ذائقه ورکړې ده - ځکه چې خوراک پرې کوي - د سترګو اوبه ئې
ترخې پیدا کړې دی - ځکه چې په دې ترو اوبو د هغې وازدې حفاظت
مقصود دی - کوم چې د سترګو د حفاظت او د هغو د نور قائم ساتلو د پاره
ضروري دی - ځکه د ترخې اوبه د سترګو په وازده میل نه پرېږدي
او د غوږونو اندروني اوبه ئې ترخې پیدا کړې دی - چې که چرته
ځزنده ورننه وزي چې مړ شي او غوږونو ته ضرر پېښ نه کړي -

آخر دا هر څه په اتفاق سره څرنګ پیدا شول - او بیا په تېره تېره
زموږ په دې روان عصر کښې د سارتر د وجودیت نظریه چې بیخي د ماشوم نو
تېره دی - ځکه چې هغه وائي چې انسان په خلا کښې غورزولی شوی
دی نو غورزوونکی ئې نشته - او چې خالق ئې نشته نو موږ به انسان
د فطرت تپوس د چا نه کوو - نو ځکه د انسان فطرت هم معلوم نه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دیٔ - نوچه هرکله انسان ، انسان جوړشی نو بیا به معلومیږی - او دا هم وائی چه په انسانی وجود کښې یو داسے عنصر هم شته چه هغه د مادی کائنات جزو نهٔ دی -

حقیقت دا دے چه کوم وخت دیورپ او امریکې خلق د عیسائیت نه نا اُمیده شول - او بوهه شول چه که هغوئ عیسائیت ترک نهٔ کړ - نو هغوئ مادی ترقی به اونهٔ کړئ شی نو عیسائیت ئے ترک کړو - او په نتیجه کښې ورته الحاد د مادیت په شکل کښې رغئ - هندومت او بده مذهب ئے ځکه نهٔ شول قبلولی چه هغه هم د ترکِ دنیا ترجمان دی - او اسلام ته ئے ځکه هغه اونهٔ کړه چه د اسلام په حقله ورته کافی معلومات نهٔ وو - او ځه چه وو ، هغه د هغو متعصبو مستشرقینو لیکونه وو ، کوم چه اسلام د یو خونړی دین په صورت کښې هغوته وړاندے کړې وه - نو دد ے نتیجه دا شوه چه د مغرب خلقو ته د خپل فطرت د داخلی غوښتنو جواب حاصل نهٔ شو ، په پریشانئ او حیرت کښې مبتلا شول - او څرنګه چه په پریشانئ کښې انسان یو څیز او بل څیز ته هیله کوی - هم دغه حال د مغرب د خلقو دیٔ - لکه چه په سپینوزا هوشوئ هر بوتی ته لاس اچوی - .

اسپینوزا وائی -

" داخصوصیت د " کمال " دیٔ - په کمال کښې د وجود قوت مضمر دیٔ - که مونږ د مطلق ابتدا یا مطلق افرینش تصور اوکړو - نو کمال په خپل حق وجود قائم نهٔ کاری - هغه قوت چکښې لغزش نهٔ شی پیدا کولیٔ - د څیز کمال ، د هغه څیز وجود نهٔ ردکوی - لیکن د هغه نقص د هغهٔ وجود ردکوی . ځکه نو یو

څيز هم داسې يقيني نهٔ دئ - نكه يو قطعي لا متناهي يا اكمل وجود
يعني خدائے - "

اوچه د مطلق وجود اثبات اوشي - د هغه په تخليق کښې بيه
ارومرو مقصديت كار فرما وي - اوكه دا خلق د هغه مطلق وجود د
نفي كولو هر څومره كوشش اوكړي - خو ناكامي به ئے په برخه وي - ځكه
چه د هغوئ انكار به هم ديو "څيز " نه وي - اودا انكار عين اقرار
دئ - او هر څوک چه ديو څيز د نشت ثابت كولو تكل كوي - د هغو د پاره
يواځې يوه لار موجوده ده - او هغه دا چه هغه " ناممكن الوقوع "
ثابت كړي - او دا ډېره ګرانه بلكه ناممكنه خبره ده - ځكه چه د حق تعالے سره
نسبت د انسان د فطري غوښتنے له كبله دئ - او هغه انسان داسې نشته چه دا
غږ د هغه د فطرت په ژوره كښې موجود نهٔ وي - كه څه هم دا غږ كمزورئ
وي كه زور آور -

ديو دانشور قول دئ چه -

" په عمل او د عمل په علم كښې د مزكے آسمان فرق
دئ - د عمل علم او شعور بالكل مستقل څيز دے - د بےشعوره عمل
( ميكانكي عمل ) او باشعوره عل ارتقائي منزلونه نشي مقرر كېدئ -
په هغه غشي كښې چه په اضطراري ( ميكانكي ) توګه ول نخښے ( هدف )
ته روان وي - او په هغه پراسرار غشي كښې چه پخپله نخښے
ته د رسيدو كوشش كوي څه فرق نوشته كنه ؟ "

د شعور په حقله كه موږ او وايو چه درجه په درجه ئے ترقي
كړے ده - نو هرچ نشته - خو د دے د آغاز نقطه يو فرضي او نظري تصور دئ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هیڅوک په یقینی ډول دا نه شي ویلی چه شعور ولې ظاهر شو ـ دو به لا ویلی شي چه د لاشعور نه پیدا شو ـ او که ټر ټیوس او شي چه لا شعور له کومه راغلی ـ نو بس د لته ئے الحاد او دهریت ختم شي ـ

مالګه د سوډیم او کلورین مرکب دی ـ خو د مالګې ذائقه د دې دواړو عناصرو سره هیڅ تعلق نه لري ـ نو د دې نه صفا معلومېږي چه د شیانو غایت مقرر کول یو ازې د "انا" یا د انساني نفس کار دی نه د فطرت ـ ځکه چه فطرت د دوو څیزونو د یو ځائے کولو نه پس د هغوی په مرکب کښې داسې څیز نه شي پیدا کولی چه په هغه کښې موجود نه وي ـ او بیا د اسوډیم او کلورین هم په یوه خاصه اندازه د یو بل سره د ګډېدو نه پس د مالګې په صورت کښې ظاهرېږي ـ او که د هغې اندازې په خلاف شي ـ نو خدا یزده چه څه به تر جوړ شي ـ هم دغه مثال په اوبو هم صادق راځي ـ چه د آکسیجن او هیډروجن د امتزاج نه پیدا کېږي ـ او که چرې دا د دواړه ګېسونه د ټیټ اندازې نه خلاف سره یو ځائے شول ـ نو په قول د سائنسي دانشورانو هغه به یو قسم زهر وي ـ چه د استعمال سره به حیوانات د فنا په خوب اوده کړي ـ

د دې مشاهداتو باوجود هم دا ویل چه دا هر څه هر څه په اتفاق سره ظاهر شوي دي ـ ډېر تعجب خبره ده ـ او انسان پوهه شي چه په دانشورانو کښې هم داسې خلق موجود کېدی شي چه سره د علمه او عقله د جهل ښکار شوي وي ـ د نړۍ پوهان په دې متفق دي چه د مسلسل تغیر په وجه هره لحظه د کائنات توازن وړنګېږي او بیا جوړېږي ـ دا تغیر د یو واحد نقیر یا مطلق انا په وجود دلیل دی ـ چه په هغې کښې هر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جزوي تغير د دويم جزوي تغير په وجه متوازن کېږي. او هم دا دے ته معلومېږي چه دا کائنات د څه مقصد دلاندے تخليق شوې دي.

سيد قطب شهيد د قرآنِ حکيم د دې څو ايتونو د وړاندے کولو نه پس ليکلي دي.

"د دغو آيتونو نه صفا معلومېږي چه د هر موجود شيز يو حکمت دې. چه د کائنات د مقصد سره متفق دې. او دا هم، چه کومه اراده د کائنات موجده ده. او کومه چه بيا د کائنات تنظيم و څارنه هم کوي. هم هغې اراده په هر شيز کښے دا خيال هم ساتلے چه هغه شيز د کلي وجود د پاره د کلي نفع حامل او د هغې سره متحد وي. ليکي. چه کائنات د يوے ارادے تخليق دې نو ځکه د کائنات ټول اشيا په يو وحدت کښے شامل دي، و چه شامل دي نو يو هم د بل مخالف نۀ دې."

مراد ے دا دې چه ټول اشيا طبعًا د يو بل سره متحد دي

او دلے به نۀ وي چه کائنات د يو دانا بينا او حکيم ذات تخليق دې. چه هر شيز ئے د يو مقصديت او غايت حامل نۀ وي نو د کائنات د تخليق هم مقصد فوت کيده. ځکه هم نوعِ بشر د يو بل سره متفق نه دي. او حال دا چه د نوع په حيث په هغۀ کښے هيڅ اختلاف نشته. خو هغۀ په خيل منځ کښے د اختلاف د دے خبرے ثبوت دې چه د هغۀ په تخليق عناصرو کښے ضرور يو داسے عنصر شته چه هغه د اعتدال په نقطه نۀ [illegible] په توجيه په ضابطه کښے رانۀ وستي شي. او هغه عنصر حيوانيت [illegible] کائنات سره تعلق لري. او انسان ته د دے د پاره ورکړي

شوې دي چه د دې په ذریعه د مادي کائنات سره تعلق او ساتي او د مادي کائنات نه د علومو او فنونو هغه برخه حاصله کړي . کومه چه د هغه د ترقۍ د پاره ضروري ده . او بیا د دې کائنات د منتظم په حیث هر څیز د خپل فطرت او غایت سره سم د ارتقاء په لاره تګ ته پرېږدي چه په دې تګ کښې یو څیز د بل څیز د پیش رفت او ترقۍ مانع نه شي . نو اسوه چه انسان ته او سه په دې کښې بریالي شوي نه دي . که څه هم د څو ځله موده د پاره د کوم نبي یا صالح انسان د تبلیغ په وجه د انسانیت په نقطه قائم شي . نو خپل حیواني عنصر ئې بیا سر د لاندې راګوزار کړي . او مغلوب ئې کړي . ځکه په حیث د یو نوع د هغه په افرادو کښې هیڅ اختلاف او تصادم نشته . او نه د هیڅ مذهب روح د دې په خلاف دې . انسان د یو بل سره فطرتاً نو هم آهنګ دي لکه چه نورې اشیاء دي .

نو د ریغه چه هغه فکر وکړي او د حیوانیت ځلے ته قېزه وا چوي . ځکه نو اسلام د انساني وحدت داعي دې چه په حقیقت کښې هم انسان یو شان او برابر دي .

د دې عصر انسان ، چه هغه د مادیت نه شدید متاثر دې . نو ځکه په ذهني لحاظ هغه هیڅ دا سے تصور نه شي کولې چه د مادي غوښتنو په خلاف ښکاره شي ځکه خو مادیین د انساني نفس یو ځان ته مستقل وجود نه تسلیم کوي . لکه چه مونږ په تېرو مخو کښې په دې کافي څېړنه کړے ده . نو باید فکر اوکړي چه که د انسان نفس واقعتاً مادي وي . نو د مادے فعلیت او حرکت خو اضطراري او میکانکي دي . نو بیا د انسان اختیار چرته پاتے شو ؟ ځکه چه مادي علتونه د لزوم سره خپل معلول پیدا کوي .

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نو ځکه په دے وجه انساني اخلاق هیڅ معنی نهٔ شی لرلئ ـ بد په بدۍ او نیک په نیکۍ کولو مجبور وی ـ خو سره د دے هم باید غور اوکړی چه یو بدی وړ لے کوی او بل نیکی ولے کوی ـ ځکه چه که د دے کائنات شاته څه مقصد نهٔ وی او دا حرکت دیو شین غوندے بے اختیاره روان وی ـ نو باید چه افعال ئے هم په یو ډول وی ـ او بیا انسان هم باید د فطرت په ټولو اعمالو یو ډول حرکت او د حرکت نتائج محسوس کولئ خو دیو نوع د افرادو مختلف اعمال ـ مختلف شکلونه او صورتونه، بنجی دیو بل نه مختلف آواز ونه ولے مشاهده کیږی ـ ا ے د دے نه صفا صفا نهٔ معلومیږی چه کائنات یو حکیم ذات د مقصدیت د لاندے پیدا کړی دی ؟

داحقیقت دی چه انسان آزادی خوښوونکی دی ـ خو خواهشات ئے دومره ډیر دی چه په دے وجه دخپل فعالیت پوره پوره اظهار نهٔ شی کولئ نو په دے لحاظ انسان مقید هم دی ـ او هم په دے وجه مونږ فکر کوو چه که مونږ په حقیقت کښے مقید یو ـ نو بیا به په مونږ کښے د آزادۍ د خواهش دے همیشه موجود وی ـ نو ا ے دا د دے خبرے ثبوت نهٔ دی چه زمونږ په مادی جسم او "انا" کښے فرق دی ـ "انا" چه غیر فانی او قدیمه ده د آزادۍ ترجمانه ده او جسم چه محدود او فانی دی هر کار سرته نهٔ شی رسولئ ـ او هم د دے نه معلومیږی چه یواز ے انسان نه، بلکه د کائنات هر څیز څهٔ مقصد لری ـ

د افلاطون د دے نظریے اثار په اکثرو فلاسفو کښے ښکاری کوم چه انسانی نفس مطلق د منطق د لاندے گنړی ـ مونږ ته په بدیهی ډول د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کلیا تو دنیا یوه داسې دنیا ښکاری چه نظام ئې څه عجیبه غوندې معلومیږی. او هغه داسې چه په هغې نه څوک زموږ څه اختیار شته او نه څه اثر.

نو ځکه دا دې نه بغیر بله هیڅ هم څه لار نشته چه موږ ئې د اطاعت کوونکو پنځپرشا هده کوو - جنس، چه په هغه کښې ډیر انواع شامل دی - په منطقی ډول نه یوازې د خپلو انواعو نه بلند دئ - بلکه د حقیقت په مرتبه کښې هم ترزیات دئ - ځکه چه نوع د جنس نه پیدا کیږی - بیا د ټولونه زیاته او چته کلیه یعنی د "هستی" وجود په دې نظام کښې د هر څه هر څه نه زیات حقیقی دئ - ځکه چه هستی په هر څه محیطه او هر څه ئې په یوه شیرازه کښې تړلی دی - د نشاته ثانیه د څنو مفکرینو په نزد د اعیانو د دې ډول نظام منتقی تر څو چه د هغه وجود د واقعی د عالم د موجوداتو نه جدا دئ - هغه ته نفس ربانی ویلی شی - او اعیانو ته د حق تعالیٰ دائمی تصورات (علمی صورتونه) ویلی کیدئ شی - د نورو مفکرینو په نزد د ټولونه او چته کلیه الله تعالیٰ دئ - یا په نورو معکوسو الفاظو په ... ېې او وایو چه خدائې د هغې او چتې کلې نه علاوه چه هر څه هر څه په خپل ځان کښې شامل لری بله هیڅ هستی نه ده -

د ... ستناجیت د نظرئې مفکران وائی چه صداقت هغه دی چه موږ ته نفع او رسوی - ګویا هغوئی په کائنات کښې د مقصدیت قایل دی - نو سوال دا دئ چه د انسان دپاره نفع په کوم څیز کښې ده - نو ښکاره ده چه د اسوال د اخلاقیاتو سره تعلق لری - او اخلاقیات خو دی نه هم د مقصدیت ترجمان تو د میکانیت نظریه د هیڅ اخلاقو قائله نه ده - ځکه چه د اخلاقو په حقله په عالم بشر کښې د نیکی او بدی تصور دئ - او د کائنات د میکانکی

نظريې سره سم دنړۍ بندوبست هم وشو څه سوال نه شي پيدا کيدلئ. بيا عجيبه داده چه د ميکانيت منونکي د ارتقا هم قايل دي. خو د ارتقاء دپاره دا ضروري ده چه هر څيز هم په صفه لوري روان شي چه د ارتقا مقصد ترې حاصل شي. که چرې د دې ارتقا شاته څه مقصد نه وي او دا عظيمه کارخانه پخپله قائمه وي. نو په صحيح لوري د اشياؤ تګ څرنګه ممکن کيدئ شي. او چه اشياؤ د خپل هدف او مقصد په لوري روان وي. نو ثابته شوه چه دا د يو عالم ذات په مشيئت روان دي.

داروين ليکي.

" ما د ارتقائي تبديليو په حقله ليکلي دي چه دا په اتفاق سره کيږي. دا الفاظ مغالطه پيدا کوونکي دي. د دې مفهوم صرف دومره دئ چه موږ د دغو تبديليو د علت او اسباب معلومولو نه قاصر يو." ۴

ګويا ډاروين هم په ارتقائي تبديليو کښې د مقصد قائل شوئ دئ. او دا ښکاري چه څومره چه د عمر د زياتيدو سره پوهه زياتيده د حق تعالے د ذات ادراک ورته کيده.

مفکرين په دې متفق دي چه د ارتقا قوانين څلور دي. وړومبئ د وراثت قانون. دويم د تباين قانون يعني د وراثت سره سره به ځان ته امتياز هم لري. دريم تنازعه للبقا يعني د خپل ژوند د حفاظت دپاره جګړه کول. څلورم، طبعي انتخاب يعني قوي او زيات مناسب څيز باقي پاتے کيدل يعني بقائے انفع.

نو ښکاره ده چه دا قوانين صفا صفا په کائنات کښې د مقصديت ترجماني

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کوی موږ ګورو چه کوم څیز مفید وی هغه پاتے کیږی او چه مفید نهٔ وی فنا کیږی۔ د وراثت د قانون په روئ سره د هر سړی په نطفه کښے د هغهٔ د پلرونو نیکونو شخصیت موجود وی ۔ او په هغه وخت چه په نطفه کښے کوم شخصیت غالب وی د هغه د اثر لاندے اولاد پیدا کیږی ۔

د ډاروِن د نظریے په روئ سره که انسان د بیزو د صورت نه انسانیت ته ارتقا کړے دیٔ نو بچی به ئے نادان او کمزوری نهٔ وو ۔ لکه چه د بیزو بچی نه وی ۔ د انسان بچی چه پیدا شی د خپلے غذا محل نهٔ پیژنی ۔ او د بیزو بچی ئے پیژنی ۔ نو معلومه شوه چه د انسانی وجود په حقله د وراثت قانون هم موږ ته څه رهنمائی نهٔ شی راکولے ۔ او ځکه چه وویئل شول د وراثت قانون د ارتقا په ابتدا کښے هم موجود نه وهٔ ۔

## اوُم باب

# مذهب

---

د جسماني ارتقا په حقله کېدې شي چه اختلاف ورسره وکړې شي. خو د ذهني ارتقا په حقله به هېڅوک اختلاف څرګند نهٔ کړي. که څهٔ هم د ذهني ارتقا تعلق هم د جسماني ارتقا نه ازاد په تصور کښې نه راځي. ځکه چه د جسم اثر په ذهن او د ذهن په جسم پرېوزي. خو د کوم وخت نه چه د تاريخ ابتدا شوې ده. او عالم بشر د تعقل احساس کړې دې. نو د دې لا انتها وېړ کائنات مشاهدې په يو نهٔ ختم کېدونکي تفکر اخته کړې دې. او په ذهن کښې ئې سوالونه پېدا شوي دي. او هغه څه داسې دي لکه "دا کائنات څهٔ شئ دې؟ څرنګه ظاهر شو. د کائنات سره زما څه تعلق دے. د ژوند مقصد څه دې؟ او داسې نور. نو په ابتدا کښې چه انسان د دے سوالونو کوم جوابونه کړي وي. کېدې شي چه نوعيت ئې داسې وي چه پخپله خو هېڅ شئ د عدم نه وجود ته نهٔ شي راتلې کېدې شي چه يو داسې طاقت موجود وي چه هغه د کائنات دا سلسله روانه کړې وي. او دا خو ظاهره ده چه ابتدائي انسان د صحيح او ساده فطرت حامل وه. نو هغه به ارومرو هم دغه خيال کړې وي. خو سره د دے هم، د انسان دا خيال هم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

باید چه ناځاپه نهٔ وي پیدا شوي - بلکه د مختلفو طاقتونو د مشاهده کولو په وجه هغه وخت په وخت او وار په وار څنو طاقتونو ته د کائنات خالق او حاکم وئیلی وي - او بیا چه د وخت د تېرېدو سره سره هغهٔ دا حقیقت محسوس کړئ وي - چه دا طاقتونه او مظاهر هم کله کله فنا کېږي - نو دا څرنګه کېدئ شي چه یو فاني څیز ته خالق ووئیلی شي - خو ښکاره ده چه انسان د ډېر وخت د ذهني ترقئ نه پس د منطقي استدلال جوګه شوئ دئ - او د انساني ذهن د ارتقا یو ثبوت په قرآن حکیم کښې هم د حضرت ابراهیم علیه السلام په حقله موجود دئ - چه اطلاق ئے د نوع بشر په ټولو افرادو کېدئ شي - او هغه دا چه کوم وخت حضرت ابراهیم علیه السلام سپوږمئ اولیده - نو فکر ئے کړو چه دا به زمونږ رب او خالق وي - خو چه هغه لاړه پرېوته نو پوهه شو چه پرېوتونکي څیز خالق نهٔ شي کېدئ - او چه نمر ئے اولیدو نو خیال ورغلو چه ممکنه ده چه دا خالق وي - ځکه چه دا لوئے هم دئ - خو چه نمر هم پرېوتو نو پوهه شو چه دا هم نهٔ دئ - ګویا انساني ذهن په منطقي ډول مرتقي شوئ وه - او چه کوم وخت ئے دا مشاهده اوشوه چه په کائنات کښې اکثر طاقتونه او مظاهر وړوکي، لوئے او متوسط موجود دي - متغیر او فنا کېدونکي هم دي - نو د دے نه ئے دا نتیجه وویسته چه د دے ورو طاقتونو دپاسه باید یو لوئ طاقت داسے وي چه هغه پخپله خو نهٔ متغیر کېږي - او نهٔ فنا کېدونکي وي - ځکه چه که هغه هم د دے مظاهرو په څېر متغیر او فنا کېدونکي وي - نو هغه به فاعل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه بلکه منفعل دی ۔ او هیڅ منفعل خالق نهٔ شی کېدې ۔ او نهٔ د نړۍ دا درېمک طاقتونه په ضابطه کښې راوستې شي ۔

دغه وخت د انسان دا هم مشاهده وه ۔ چه دا ټول طاقتونه د یو خاص نظام لاندې په کار بوخت دی ۔ او د نړۍ په نظام کښې هیڅ فتور نهٔ پیدا کیږی ۔ نمر سپوږمۍ او ستوری یخپلو خپلو لارو روان دی ۔ په باران مزکه شنه شي ۔ او به او هوا د ژوندون د پاره لازمی شیان دی ۔ که دا نهٔ وی هیڅ ژوندې به نهٔ وه ۔ نو معلومه شوه چه یو داسې ذات موجود دې ۔ چه هغه د دې کائنات خالق دې او د کائنات د نظام واګې د هغه په لاس کښې دی ۔ او بیا چه انسان څو مره څو مره ذهنی ترقی کوله د خالق د وجود په حقله ئې په استدلال کښې هم ترقی کېده ۔ او هغه پوهه شو چه د هغهٔ ژوند، سعادت او نجات په دې کښې دې چه د خالق سره محبت اوکړی ۔ د هغهٔ په دربار کښې د نیاز او عبودیت سر ښکته کړی ۔

په دې سلسله کښې هغهٔ دا هم مشاهده اوکړه چه په اشیاؤ کښې دا تطابق توازن او تناسب هیڅ رې په خپله نهٔ دې پیدا شوې ۔ د اشیاؤ غایت د دې خبرې ثبوت دې ۔ چه د دې کائنات یو دانا بینا او حکیم خالق موجود دې ۔ ځکه چه غایت تاکل د یو دانا او حکیم کار دې ۔ ګویا هم داسې چه ذهنی ارتقا کېدله انسان د هغو کلیاتو په جزوی جزوی رازونو کښې هم فکر کوه ۔ مثلاً د انسان خپل وجود، چه د ټولو حکمتونو بنیاد دې څرنګه جوړ شوې دې ؟ د انسان ښځې، په ینبو کښې جوړ دنه، که دا جوړه نهٔ وی انسان به نهٔ خو کښیناستې شو او نهٔ به تیږیدې شو ۔ که دیبو

لاسونو په ګوتو کښې نو کان نهٔ وی - نو څهٔ به ئې کول ؟ ژبه ئې ادګوره انسان په ناخبرۍ کښې خوراک کوی - زۍ زۍ ښخوند وهی - نو دغهٔ ژبه دخوراک څيز ديوے ژامے نه بلے ژامے ته منتقل کوی - او پخپله هم د غاښونو نه ځان بچ ساتی - بيا مخامخ لاندے باندے غاښونه تيرهٔ دی ځکه چه انسان کوم وخت يو څيز خوړل شروع کړی . نو د ا تيرهٔ غاښونه ئې ځير وی - او غوڅوی چه ټکړے ټکړے شی نو بيا ئې مخکښے تير کړی - د دے نه وړاندے غاښونه څهٔ قدرے پلن وی - هغه غاښونه ئې د خوراک هغه څيز څهٔ نور ميده کړی - بيا ئې نو ژبه د ژامے آخری دا ړو ته ورتيل کړی - آخری غاښونه ډير پلن او طاقتور دی - خوراک بلکل ميده کړی - او د ښخوند په وخت د خلے هغه لعاب ورسره يو ځائے شی کوم چه د انهضام د پاره ضروری دیٔ - او بيا خوراک په معده کښے پريوزی - چه څه ويته ، څه صفرا سودا او بلغم شی - او نور په فضله کښے تبديل شی - او د ا ټول اخلاط خپلو خپلو مقامونو ته منتقل شی. ګويا هر يو خلط خپل مخصوص مقام ته لاړ شی -

وخت په وخت چه څومره انسان ذهنی پيش رفت کولو - د حق د ذات په حقله هم د هغه په خيالاتو کښے تبديلی راتله فکر چه په ابتدا کښے ديهوديانو مقرر د حق تعالے ياد هغوئ د اصطلاح په مطابق ديهواه تصور ديو حاسد او د جنګيالی سردار وه خو پسته د بنی اسرائيل انبياءُ هم د غه يهواه ديو رحيم او عادل حکمران په رنګ وړاندے کړو - ګويا څومره څومره چه انسان علمی ترقی کوله. هومره ئې د انسانی اخلاقو پنګه هم زياتيدله - او هم د هغو اخلاقو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په رڼا کښې ئې د خالق تصور کولو۔

هم دغه شان د ویدک دهرم ابتدا هم د دیوتا ګانو او مختلفو طاقتونو احساس نه اوشوه او هم دا سې ئې ترقي کوله۔ آن چه په آخره کښې هغوئ یعني آریه دهرم د اِکې یو خدائې ادراک اوکړو۔ لیکن په صفتي لحاظ د هغوی پر مشیر د روح او مادې خالق نه دئ۔ ځکه چه د عدم نه هیڅ څیز نهٔ شي پیدا کیدئ۔ نو روح او ماده هم د خدائې په شان قدیم او غیر مخلوق وو۔ خو په صفاتي لحاظ د خدائې نه کم وو۔ نو خدائې ترکیب ورکړو او د کائنات سلسله روانه شوه۔ ګویا مذهب د حق د وجود د احساس نه پیدا شو۔ او انسان محسوسه کړه چه هم دا حق تعالیٰ د هغهٔ د سعادت او نجات ضمانت کیدئ شي۔

موږ د انسان په جسم د عجائباتو ذکر کولو چه په مینځ کښې بله خبره راغله —— بنه نو ——

د انسان په سر کښې چه کوم عجائبات دی۔ تر او سه سائنس هم په تجربه د هغو ټول حقیقت نهٔ دی معلوم کړئ۔ مثلاً د غوږ اوبهٔ ترخې دی۔ دا ولې؟ دا ځکه چه که چرته کوم خزنده ورننوزی چه هلاک شي او غوږ ته نقصان پېښ نهٔ کړي۔ د خلې اوبهٔ خوږې دی ځکه چه په هغې خوراک کیږي۔ او د سترګو اوبه تروې دی۔ دې دپاره چه د سترګو ګاټو نه ګیرچاپیره چه کومه وازده ده چه د هغې حفاظت اوکړي۔ ځکه چه د وازدې خیرې په مالګو بنهٔ صفا کیږي۔ د پوزې اوبهٔ پیکه دی او د سر زهریلا ماده په دې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لاړ بهرته اوځي . بیا په پوزه کښې وینښتۀ دده دپاره دي چه چرته خزنده ورننه نهٔ وزي . او دغه شان انسان د کائنات په څیزونو کښې فکر کوه . او دے نتیجې ته ورسیدو چه یو ذات داسے موجود دئ چه ددے کائنات خالق دئ . او هم ددے نه د مذهب تصور پیدا شو .

نو په انسانانو کښې یو بله ډله داسے هم وه چه هغوئ د کائنات خالق او نهٔ منلو . او دا ئې دوئیل چه هغه په خپله ظاهر شوئ دئ . او دا هر څهٔ هر څه په اتفاق سره شوی دی . دا کوم توازن او مقصدیت چه مونږ په اشیاؤ کښې محسوس کوو . ددے وجه دا ده چه انسان د زرګونو کالونو راسے دے ته کوری نو ځکه اوس ورسره اشنا شوئ دئ . او د کائنات د خالق په منلو کښې افادیت څهٔ دی؟ ځکه چه زمونږ د ژوند چه کوم ضروریات دی هغه زمونږ په مخکښې موجود دی . مونږ ترے استفاده کولے شو . که خدائ او منو او که نه — نو بارانونه به کیږی . نمر سپوږمئ به راخیژی . ستوری به په خپلو خپلو لارو روان کوی — نو ولے مونږ په یو داسے فکر خپل وخت ضائع کړو چه څهٔ افادیت نهٔ لری — ولے د مادي نړۍ نه د زیاتے نه زیاته فائده پورته کړو — او بیا چه څومره څومره انسانی ذهن ترقی کوله . نو په دے لړ کښې سائنسی برهان منځ ته راغلل . او هغوئ د هر هغه څیز نه انکار اوکړو . کوم چه په تجربه سره ثابت نهٔ شی . د سائنس ترقی د خدائ منکرانو ته دا دلیل هم ورکړو چه کوم څیز چه په تجربه ثابت نهٔ شی د هغه منلو ته ضرورت نشته .

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نو ځکه دے وئے چه بیا ئومره ترقی کوله - دالحاد د تقویت دپاره ئے نوی نوی دلایل پیدا کول - په کائنات کښے د علت او معلول سلسله نو ښکاره وه - نو که چرته په ذهن کښے به ئے دا سوال را اوچت شو چه دا کائنات بغیله ځونګه پیدا شو - هر معلول یو علت غواړی - نو بیا به ئے په دے خیال ځان مطمئن کړ چه بیا خو خدائے هم باید یو علت او غواړی - که کائنات خدائے پیدا کړی وی - نو خدائے چا پیدا کړ - ګویا دهغوئی ذهن دا خبره تسلیم کړه - چه یو څیز بغیله هم موجود کیدئ شی - او بغیر د علت نه موجود کیدئ شی - لیکن دائے صرف د کائنات په متعلق او ګڼلو، نهٔ د خدائے په متعلق - خو په دے وخت کښے هغو انسانانو هم ذهنی ترقی کړے وه - کوم چه د خدائے د وجود قایل وو - او په هغو کښے هم لوئے لوئے دانشوران پیدا شوی وو - هغوئی د دے پورته اعتراض جواب په یو وجدانی دلیل اوکړو - او هغه دا چه که مونږ یو علت العلل او نهٔ منو - یعنی یو داسے علت چه د هغه دپاره هیڅ علت نهٔ وی نو د معلول د پیدا کیدو هیڅ تصور نهٔ شو کولئ - ځکه چه که مونږ دا د علت او معلول سلسله هم داسے مخ په وړاندے بوځو زید بکر پیدا کړو او بکر خالد او خالد عمر - او آخر به ئے یو حیوانی انسان ته اورسو - که څه هم هغه د ډاروِن تهیوری په مطابق یو بیزو وی او که د مذهب له رویه حضرت آدم -

بیا نو آدم — ؟

آدم د خاورو نه پیدا شو - او خاوره ؟ — بس دلته چه را اورسی

نو د ملحد جواب به دا وی چه خاوره د مادے سره تعلق لری او ماده پخپله موجوده ده - نو ستاسو خدائے خو موږ ته محسوس کوو او زموږ حواس په دے حقله موږ ته هیڅ ښودنه نهٔ کوی - او موږ چه کوم څیز پخپله موجود ګڼلو یعنی ماده دادئ تاسوئے هم وینئ او موږ ئے هم وینو - تاسوئے هم مِس کولئ شئ او موږ هم - نو د مذهب خاوند انو دا دلیل ورکولو چه کوم څیز چه متغیر وی هغه به حادث وی - او هر حادث فانی وی - هر حادث څیز یوه ابتدا لری - او بیا به آخر کښے هم موجود نهٔ وی - نو کوم څیز چه نهٔ په ابتدا کښے موجود وی - او نهٔ به انتها کښے هغه پخپله څرنګه پیدا کیدئ شی. نو سره د دومره دلائیلو هیڅ حقیقی خداپرست ملحد نهٔ شو او هیڅ حقیقی ملحد خداپرست نهٔ شو -

البته د افلاطون په قول د خلویښتو کالو د عمر نه پس هر روښانه ذهن لرونکئ د خدائے د وجود احساس کوی - او هیڅ امکان نهٔ لری چه هغه به په حقیقت کښے ملحد پاتے شی - دا جدا خبره ده چه په ظاهر کښے دے اقرار او نهٔ کړی -

نو الحاد هم یو مذهب شو او معلومه شوه چه هیڅ انسان د مذهب نه بغیر انسان نه دئ - هغه ته به محض حیوان وایو -

مشهور دانشور ولیم جیمز د مذهب په افادیت یو مستقل کتاب لیکلئ دئ - د مذهب نه د هغهٔ مراد هغه مذاهب دی چه الهامی یا اسمانی مذاهب ورته ویلے شی - او لیکلی ئے دی چه

که چرے نوع بشریه مکمله ډول په مذهب عمل اوکړی

نو دا دنیا به د امن او امان جنت شي".

زه وایم چه د ولیم جیمز دا دعوی صحیح ده - او تاریخ مونږ ته بنائي چه کوم وخت په الهامي مذاهبو عمل شوی دی په نړۍ کښې امن و امان او په انسانانو کښې یو تر بله د محبت او ښېګړې کولو جذبې ترقي کړې ده - او انسان د انسان په قدر پوهه شوی دی - خو چه کوم وخت ئې الهامي مذهب ته شا کړې ده - د نړۍ امن او امان ته اور ورته شوی دی -

زه وایم چه انساني شخصیت د دریو اناګانو حامل دی - چه یوه "انا" ئې لا فاني ده چه مونږ په تیرو صفحو کښې په دې حقله کافي خبره نه کړې ده - او دویمه "انا" ئې د مادي جسم سره تعلق لري لکه چه د انسان نه علاوه په عامو حیواناتو کښې مشاهده کېږي - ځکه چه مونږ ګورو چه عام حیوانات مشعر دي او په اراده حرکت کوي - خپله غزا پېژني او د خپل ژوند د حفاظت د پاره ورته پوره پوره وسله ورکړې شوې ده - دریمه "انا" ئې د ملکي عنصر پرتو دی - چه د حق د ذات سره په تعلق ساتلو کښې د انساني انا مرستیال دی - خو څرنګه چه ډیلې شوي دي - حیواني "انا" په انسان ډېره زیاته غالبه ده. ځکه چه انسان چه په مادي کائنات کښې ظاهر شوی دی - هغه مجبور دی - چه د حیواني شعور او احساس په ذریعه د مادي کائنات سره تعلق او ساتي - د مادي کائنات په رازونو پوهه شي - او بیا د کائنات د نظم سنبهالو جوګه شي - خو په دې دوران کښې په انساني انا د مادیت د مره پرتو پریوزي چه نزدې نزدې د هغې خپل خود ارادیت ختم شي.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او د مادیت په لاس کښې دګو ډاګې په مثال شي - او د ایمان ، الهام او
دی دا چه د هغې په وجه انساني انا د خپل اهمیت احساس او کړي
او د دے دپاره حق تعالٰی په انسانانو کښې وخت په وخت داسے شخصیتونه
پیدا کوي - چه د بے انتها ارادي قوت حاملان دي - او د خود دانشورانو
دا نظریه غلطه ثابته کړي چه هر انسان د خپل ماحول پیداوار دۓ.
او په دے سلسله کښې که مونږ د نورو انبیاؤ سره سره د حضرت
محمد صلی الله علیه وسلم شخصیت ته غور او کړو - نو پوهیږو چه
هغهٔ به په کوم ماحول کښې سترګې پرانستې وے . تاریخ په دے حقله
مونږ ته پوره پوره ښودنه کوي - هغه ماحول بيخي د جهالت او
حیوانیت نماشنده وه - لیکن هم هغهٔ تول ماحول د دے عظیم انسان
بيخي بدل کړو - او په ځاۓ د دے چه هغه په خپله هم د هغه
ماحول په قالب کښې راغلۍ وۓ - هغه ماحول ئے د خپلو اصولو په
قالب کښې راوست او د ماحول تیره ئے په رهنما بدل کړے - او د
هغهٔ تعلیم انساني انا بيخي د مادي انا د غلبې نه خلاصه او خپلواکه
کړه - او چه هر کله انساني انا خپلواکه شي او د مادي انا غلبه ختمه
شي - د حق تعالٰی تصور ځلانده شي - او بیا په وجداني طور د حق تعالٰی
د هستۍ ادراک حاصل شي - او داسے حاصل شي چه د ذرے هومره
شک پکښې پاتے نهٔ شي - ځکه چه انساني انا په خپله د حقیقي انا یعني
اناۓ اکبر یو لوشه ده - او ظاهره ده چه د خپل ځان په پېژندګلو
کښې هیڅ مشکل نهٔ پیدا کیږي - کهٔ هم هغه د اناۓ اصغر یا د
یو جزو په لحاظ د دے قابله نهٔ وي چه د هغه ذات کښې ته اشاره

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وکړۍ شي - اولاً ئې په الفاظو کښې وضاحت اوکړئ شي - لکه چه مونږ کوم شیان خوږ و اوذائقه ئې محسوس کوو - لیکن د دوو شیانو مثلاً د انار او انګور په ذائقه کښې فرق په الفاظو کښې نهٔ شو بیانولې - بلکه دا شیان که مونږ په تیارهٔ کښې هم خوږو - نو پیژنو ئې - او بیا چه څومره وخت تیریږي انساني انا د انائې اکبر په پیژندنه او معرفت کښې ترقي کوي - نو ددې په خلاف چه په انساني انا د حیواني انا غلبه وي - نو ښکاره ده چه د حیواني او فاني انا الوت د خپل بلیخول نه بهر ممکن نهٔ وي - نو هغهٔ ته چه د انساني انا له خوا د حق تعالیٰ د ذات پرتو راشي - او حیواني انا په دې کښې فکر اوکړي نو په آخر کښې ئې شعور صرف د مادې ابتدائي حالت ته اوړسي - او د هغه نه پورته ئې پرواز ناممکن وي - نو انکار اوکړي او په خپله غلبه کښې د انساني انا غږ مدغم کړي - او یوازې د مادې د وجود قایل شي. بیائې مادي فطرت د هغه وجداني دلیل نه انکار اوکړي - کوم چه له مذهب له خوا وړاندې کیږي چه تسلسل عقلاً او وجداناً محال دې. او تر څو چه مونږ د یو علت العلل قائل نهٔ شو د معلول د وجود اثبات ناممکن دې - او ددې انکار وجه هم دا ده چه د انساني انا غږ مادي انا بېخي مغلوب کړئ وي - ځکه چه د صحیح وجدان تعلق هم د انساني انا سره دې - کوم چه د کلیاتو ادراک کوي. که په حیواني یا جسماني انا کښې دا وصف موجود وئ نو هر حیوان به د وجدان حامل وه - خو مونږ ګورو چه حقیقت داسې نهٔ دې - او فرعون چه په سمندر کښې د غرقیدو په وخت د موسیٰ او هارون په رب د ایمان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

راوړی نعره اوچته کړے ده - دجه ئے بیخی هم دا وه چه حیوانی انا ئے په هغه وخت کښې مغلوبه شوے وه - او په دے وجه ئے انسانی انا خپلواکے شوے وه - او چه خپلواکے شوه نو بیخپله ورته د حق تعالے بدیهی وبریښیدو - دا خیال بیخی غلط دیٔ - چه څنګه خلق وائی چه فرعون په هغه وخت کښې د نوف او ډیرے په شدت کښې د حق تعالے د وجود اقرار کړی ده - ځکه چه کوم انسان چه دیو څیز په حقله بیخی مطمئن وی چه د هغه هیڅ وجود نشته نو د هغه نه ویره څه معنی لری - چه د یو کس مکمل یقین وی - چه د هغهٔ په کور کښې مزری نشته - نو بیخه به څنګه د مزری نه خوف اوکړی - او کهٔ او وائی چه د خدائے د وجود په حقله د هر انسان د هغهٔ د موجودګئ شک ضرور موجود وی - یعنی هر انسان ته کله کله دا خیال ورځی چه کیدیٔ شی چه خدائے موجود وی - نو معلومه شوه چه د حق تعالے د وجود احساس د انسان په لاشعور کښې موجود دیٔ - خو د مادیت د غلبے په وجه د انسان په زړهٔ کښې د یقین په ډول نهٔ شی ظاهریدیٔ - که مونږ د انسانی نفسیاتو په رڼا کښې فکر اوکړو نو پوهیږو چه مونږ په هیڅ حالت کښې د یو څیز د وجود احساس نهٔ شو کولیٔ کوم چه هسې د موجود نهٔ وی -

په نورو الفاظو به داسے او وایو چه د کوم څیز چه هډو وجود نهٔ وی - په انسانی ذهن کښې هډو د هغه تصور موجود نهٔ وی - او چه تصور ئے موجود نهٔ وی - نو نهٔ د هغه څیز اقرار په ذهن کښې پیدا کیږی او نه انکار - لیکن د حق تعالے د ذات احساس چه په

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

انسانی ذهن کښې موجود دئ ـ نو ثابته شی چه حق تعالیٰ موجود دئ ـ او
که څوک ئے د وجود نه انکار اوکړي ـ نو دا انکار ئے هم په حقیقت کښې اقرار
وی ـ ځکه چه هغه چه انکار کوی نو هم د یو څیز نه ئے کوی ـ او که
او وائی چه انسان وخت په وخت مختلف مظاهر او طاقتو نه لیدل ـ
نو په دے وجه ئے دا خیال هم پیدا شو چه د دغو ټولو طاقتونو نه
اوچت به هم یو بل طاقت موجود وی ـ ګویا د خدائے تصور د وهم
پیدا وار دئ ـ لیکن دا تصور وهمی نه بلکه عقلی دئ ـ ځکه چه په
دغو طاقتونو او مظاهرو کښې هم د توازن نهٔ شی پیدا کیدئ ترڅو
چه یو لوئ طاقت ئے کنټرول نهٔ کړی ـ

د نیوټن د کشش ثقل د نظرئے په مطابق هم دا خلق وائی
چه په فضا کښې ټول اجرام د یو بل په کشش قائم دئ ـ او که سوال
پیدا شی چه اجرام خو ځنې لوئ ځنې واړهٔ او ځنې ډېر واړهٔ دی ـ نو د
کشش په وجه خو باید چه همیشه پکښې تصادم جاری دئ ـ نو دا
توازن پکښې څرنګه راغلو ـ او ټول څرنګه په چلو چلو لارو روان
شول ـ نو جواب ئے دا وی چه تصادم خو پکښې په ابتدا کښې راغلی وه ـ
خو آخر د ډېر تصادم نه پس پکښې پخپله توازن پیدا شو ـ لیکن یو داسے
وخت هم راغلو چه د نیوټن د کشش نظریه آئن سټائن رد کړه او ثابت
ئے کړل چه ـ

" د اخیره په قیاس کښې نهٔ شی راتلئ چه مړه او بے روحه
ماده به د کوم مادی وسیلے نه بغیر د دویم مادی جسم متاثر
کړی ـ زما په نزد دا خبره لغو ده چه تجاذب د مادے جبلی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خاصیت دئ ۔ او د یو جسم نه په بل جسم چه د دوئ په مینځ کښې جسم نه په لرے فاصله واقع وی ۔ په خلا کښے دکوم مادی جسم د توسط نه بغیر عمل اوکړئ شی ۔"

(جدید طبعیات کا تعارف)

هم په دے کتاب کښے دی ۔

" د آئن سټائن د تجاذب تصور د نیوټن د تصور نه بلکل جدا دئ ۔ د نیوټن تجاذب یو قوت دئ ۔ چه د دوؤ جسمونو تر مینځه عمل کوی ۔ بیا په تیره تیره د مزکے د سطحے ته چه نزدے وی ۔ دا د سپوږمئ د گردش کولو موجب دئ ۔ مد و جزر هم د دے په وجه پیدا کیږی ۔ او جسمونو کښے مستقله تیزی پیدا کوی ۔ چه په دے سره د هغو په رفتار کښے په یو سیکنډ کښے د ۲۲ فټو نو اضافه کیږی ۔ خو آئن سټائن تجاذب نهٔ منی ۔ هغه وائی چه دا جاذبو کشش هیڅ معنیٰ نهٔ لری ۔ او دا خیال د میکانکی نظریے پیداوار دئ ۔ لیکن د کائنات د مطالعے نه معلومیږی چه هغه د مشین په څیر نه دی ۔"

او اوس چه سائنس په تجربه سره ثابته کړه چه د مادے اصل توانائی ده ۔ نو صفا ظاهره شوه چه بایدے یو ځنډ دا وی چه ماده د توانائی د حالت نه جامد حالت ته نهٔ ده راغلے ۔ او دا هم ثابته شوه چه توانائی صفت دئ ۔ او صفت څېل هیڅ مستقل وجود نهٔ لری ۔ بلکه د موصوف د فعل نتیجه وی ۔ نو کومو دانشورانو چه د مادے د پاره هیڅ علت نهٔ منلو او په دے ضد ټینګ وو چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ماده پخپله موجوده ده - نو ادس ئې څه جواب دئې ؟ هیڅ معقول جواب نهٔ لری - صفا ثابته شوه چه د توانائۍ نه جامد صورت اختیار ول او په هغې کښې حرکت پیدا کول د یو موصوف کار ده - چه هم هغه حقیقت کبریٰ یا انائے اکبر دئې - او هم هغه علت العلل دئې - او قائم دایم غیر متحرک دئې - ځکه چه که هغه هم متحرک وئې - نو باید چه د هغه محرک یو بل وجود وی ، او دا سے به دا سلسله بیا غیر متناهی جوړیده - او په دے صورت کښے به د علت العلل وجود منځ ته نهٔ شو راتلئې - او چه منځ ته نهٔ شو راتلئې نو د محلول وجود هم نهٔ شو ثابت کیدئې - گویا دا کائنات به له سره موجود نهٔ وه -

هم په دے کتاب کښے دی -

" ویلی شی چه په ابتدا کښے دا ماده د خپلو ابتدائی ذراتو یعنی الکټران او پروټان په شکل کښے په ټوله فضا کښے موجوده ده - او په هغې کښے د هیڅ ډول حرکت نهٔ وه بیا په دے ابتدائی ماده کښے څه تحریک پیدا شو (یکن وے پیدا شو - څرنگه پیدا شو ؟ او چرته پیدا شو) سائنس په دے حقله خاموش دی "

فارابی وائی -

" هر وجود به لا ضروری وی او لا ممکن . دے دواړو نه بغیر نور هیڅ امکان نشته - او د هر ممکن د پاره ضروری ده چه د هغه د وجود څه سبب دی او د اسبابو سلسله غیر متناهی هم نهٔ شی کیدئې - ځکه نو د یو دا ئ

هستی په وجود اعتقاد لازمی دی چه بغیر د څه سبب نه
پخپله په خپل ذات قائمه او موجوده وی ۔"

مونږ محسوس کوو چه حق تعالیٰ په خپل ذات کښې بسیط
دی ۔ ځکه چه هر هغه څیز چه مرکب وی د هغه صفات بالقوه
وی ۔ کم از کم د هغه په صفاتو کښې به د خپریدو ( بکهرنے ) او
تحلیل کیدو بالقوه صفت موجود وی ۔ او چه حق تعالیٰ خالص بالفعل
ذات دی ۔ چه د هغهٔ په ذات کښې هیڅ بالقوه صفت موجود نهٔ دی
ځکه نو هغه به مطلق بسیط وی ۔ مطلب ئې دا شو چه د هغهٔ په
صفاتو کښې مکمل وحدت دی ۔ د هغه ذات ، وجود ، ازلیت او خپل
صفات هر څهٔ هر څهٔ یو دی ۔ او که دا سے نهٔ وی نو هغه به مرکب
وه ۔ او مرکب پخپله حادث او یو فاعل غواړی ۔ او په دے طوربیا
تسلسل پیدا کیږی چه هغه محال دی ۔

ارسطو هم په دے حقله وائی ۔

" دیو څیز د بالقوه حالت نه د بالفعل په
حالت کښې تبدیل کیدل د یو بل ورومبی بالفعل څیز په
وجود انحصار لری ۔ کوم چه د دے تغیر باعث وی ۔ د یو
مجسمه ساز نه بغیر د کاڼی هیڅ ټوټه مجسمه نهٔ شی جوړیدلئ۔
قوت یا امکان په خپل ذات کښې د صورت اختیار کولو صلاحیت
نهٔ لری ۔"

څرنګه چه مونږ د مادے په حقله اووئیل چه هغه توانائی
ده ۔ او بغیر د موصوف نه غیر فعاله ده ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ماديين داځ چه

........ " دهيڅ مذهب تعلق دالهام يا آسمان سره نشته - ځکه چه د نړۍ خالق نشته - نو دالهام څه سوال پيدا کيدۍ شي - مذاهب دانساني ذهن تخليقات دي او بس —

هم دغه شان د ماديينو نظريات هم دهغوۍ د ذهن پيداوار دي - اوکه مونږ دلږ ساعت دپاره ورسره دا اصول تسليم کړو - نو بيا به تړ داتپوس کوو چه اے تاسو د تاريخ په پاڼو کښے دا حقيقت نهٔ دۍ څير کړے چه -

کوموانسانانو خپلو نظرياتو ته دالهام درجه ورکوله دهغو د متبعينو اخلاقي حالت څنګه وه او چه دکومو فلاسفوٓ نظريات کومو انسانانو قبول کړي رو دهغو د اخلاقي قدرونو څهٔ حال وه ؟ نظريات د حضرت ابراهيم، موسٰى، عيسٰى او محمّد عليهم السلام هم وو - او دهغو فلاسفو هم کوم چه دخدائے د وجود قائل نهٔ وو - اوبه منو چه دا دواړه توکه انسانان وو - هغوۍ دخپل ذهن نه څه نظريات راويستي وو - چه دالهام اوآسمان سره تعلق نهٔ وه - ليکن کتل دا پکار دي چه دد غو دوارو ډلو په زمانه کښے دانساني اخلاقي قدرونو څه حال وه - دانسان سره دانسان د تعلقاتو څهٔ کيفيت وه - نوکه تاريخ وکتۍ شي صفا به معلومه شي چه کوم انسانان دالهامي مذاهبو منونکي وو دهغوۍ تمدن

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د خير او ښېګړې نه ډک وه - د انسان د فطري حقوقو لحاظ ساتلى کېدۀ - هېڅ انسان په بل انسان د ظلم کولو جرأت نۀ شو کولې - امن او امان وه - او هم د دې امن و امان په وجه افرادو د خپلو فطري رجحاناتو سره سمه ترقي کوله - يو انسان هم بل انسان په لاره کښې خنډ او خپ نۀ پيدا کولو - ليکن کوم وخت چه انسان د الهامي مذاهبو نظرياتو ته شا اوګرزوله او د هغو په ځائې ئې د ملحدينو فلاسفۀ نظريات عملي کړل - هر قوي ته اجازه ورکړې شوه چه د خپل افاديت دپاره د کمزوري استحصال اوکړي - د ميکياولي غوندې مفکران پيدا شول - او د هغه فلسفې حکمرانانو بلکه عوامو انسانانو ته دا مشوره ورکړه چه د خپل مقصد دپاره دِ د هرې جائزې او ناجائزې وسيلې نه کار اخلي - بايد انسان هغه شان چل ځان څرګند نۀ کړي - څنګه چه په حقيقت کښې وي - د هغو دپاره د مدعا په حصول کښې د هر ډول مکر او فريب ظلم او جبر نه کار اخستل پکار دي - او هم د دې فلسفو او نظرياتو په وجه دا دۀ نن نړۍ د دوزخ نمونه ده - ځوکه د ننۍ نړۍ مقابله د نن نه د څوارلس سوه کاله پخوا نړۍ سره اوکړې شي - نو معلومه به شي چه په هغه زمانه کښې د انسان د اطمينان او مسرت څه حال وه او په دې زمانه کښې څرنګه دئ -

اوس دلته دا سوال پيدا کېدۀ شي چه د الهامي مذاهبو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په متابعت کښې چه د ومره امن او خوشحالئ وه او د فلاسفوُ د نظریاتو په متابعت کښې فساد او پریشانی —— نو انسان وړے الهامی مذاهبو ته شا اوګرځوله - باید چه همیشه د هغو تابع وی ؟

داسوال ډیر اهم دې او په ښه طریقه ځیر نه غواړی ——

دا یو حقیقت دې، څرنګه چه په تیر بیان کښې وئیلی شوی دی چه انسان د درے قسمه عناصرو نه عبارت دې - حیوانیت انسانیت او ملکیت - دا جدا خبره ده چه څوک د ملکیت د عنصر نه انکار اوکړی - خو د انسانیت او حیوانیت نه هیچرے انکار نهٔ شی کولې - خو دا حقیقت دې چه په انسانی وجود کښې ملکی عنصر موجود دې - د حیوانیت نه محض شعور - د انسانیت نه عقل او د ملکیت نه عشق پیدا کیږی - خو د انسان زور آور او قوی عنصر په ابتدائی ژوند کښې حیوانیت دې چه هم د دے مادی نړۍ د عناصرو نه عبارت دې - او په قول د علامه اقبال په انسانی نوع باندے په ابتدا کښې د دے عنصر غلبه وی - نو ورو ورو چه انسانیت د دے په خلاف مجاهده کوی - نو دا عنصر مغلوب شی - نو هم دا وجه ده چه حیوانیت آزادی پسند دې - او په هیڅ اخلاقی قالب کښې را تلل غوړه نهٔ ګڼی - او که څوک ئے په یو قالب را وستل اُغواړی - د هغه په خلاف جنګ کوی - ځکه نو هغه د هیڅ اخلاقو او ضابطے قائل نهٔ دی - خو د دے په ... ضابطه پسند دې - حیوانیت چه افراطی دې نو انسانیت د هغه په ... کښې اعتدال پسند دې - د ښو اخلاقو او پیرزوینے محرک دې ... د علم

عقل او فکر محل دی - ځکه خو دے "انا" ته چه د انسانیت روح دے. جسم هم د نورو د حیواناتو په مقابله کښے اوسط ورکړے شوے دے- انسانیت د نړۍ هغه محوری نقطه ده چه د نړۍ د معتدل نظام چلند په هغے موقوف دے - هر کله چه دا عنصر ځلواکے او حاکم وی - نو نه یوازے دا چه د هغه د خپل ذاتی داخلی نظام په ژوند کښے باقاعدګی او اعتدال او توازن وی - بلکه د نورو انسانانو ان تر دے چه د حیواناتو دپاره هم د امن او تحفظ ضمانت موجود وی.

ملکیت هغه عنصر دے چه د فرښتو د خوئ سره تعلق لری. هغه د حق تعالے په محبت کښے دومره محو شی چه د مادی جهان د ذمه واریو نه انسانیت غافل او په ګوښه کښے کښېنوی - او بیخی ئے د تمدنی ژوند نه محروم کړی - او دا د انسانیت په مقابله کښے تفریط دے- او کوم وخت چه مونږ ته تاریخ د داسے افرادو په حقله د موجودګیے ثبوت راکوی نو اے ومرو به د ملکیت په وجود قائل کیږو - د دے ډول افرادو، د حق تعالے په محبت کښے ځپل سر د نه په داؤ ایښی دی - په هر مذهب کښے د داسے افرادو مثالونه موجود دی - په مسلمانانو کښے حلاج موجود دے - چه یو تاریخی حقیقت دے -

په پورته بیان شوی دریو عناصرو کښے د انسانی انا ذاتی عنصر انسانیت دے او دا دوه نور عناصر ورسته د استفادے کولو دپاره عارض شوی دی - نه خو حیوانی عنصر او نه ملکی عنصر د انسان سره ذاتی تعلق لری - دا دواړه د بدرقے په طور ورکړی شوی دی - د دے دپاره چه انسان د حیوانیت په ذریعه د مادی عالم د شیانو علم حاصل کړی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځکه چې ترڅو د شیانو علم حاصل نهٔ کړي ـ د شیانو د خپل مقصد په مطابق کار نهٔ شي اخستی ـ د هغه کار د مادي کائناتو تسخیر او د هغه نظم او ضبط دئ ـ خو ښکاره ده چې نظم او ضبط د تسخیر نه پس عملي کېدی شي ـ او د تسخیر د پاره د شیانو علم ضروري دئ ـ ځکه خو صوفیاء وائي چه

اَللّٰهم ارنا الاشیاء کما هِیَ

"یعنې اے خدایه مونږ ته اشیاء هم هغه شان څرګند کړے څرنګه چه په حقیقت کښې دي ـ"

او س ښکاره خبره ده چه حیوانیت او ملکیت د انساني عنصر ذاتي اجزاء نهٔ دي ـ او چه نهٔ دي نو د انسانیت تابع هم نهٔ دي ـ ځکه چه هېڅ څیز د خپلو وجودي صفاتو تغیر او تبدل نهٔ زغمي ـ ترڅو چه ورسره جبر او نهٔ شي ـ او دده نه به څوک انکار او کړي چه اکیجن او هائیټروجن په خپله خو بېه نهٔ دي سره یو ځائے شوي ـ کوم چه د اوبو په صورت کښې څرګند شوي دي ـ هېڅ عقل دے قائل نهٔ شي کېدئ چه یو څیز به د خپل طبیعت او فطرت نه خلاف تغیر قبول کړي ـ نو معلومه شوه چه اکیجن او هائیټروجن هم د یو دانا حکیم دے جابر ذات په اراده د یو بل سره یو ځائے شوي دي ـ او هم د غه شان د نړۍ هر شئ د موجوده سائنسي تحقیق سره سم د کیسوتو پیدا وار دئ ـ خو دده مقدمے د لاندے چه مونږ غور او کړو نو پوهه به شو چه حیوانیت او ملکیت د یو دانا او جابر ذات په اراده د انساني انا سره یو ځائے شوي دي ـ او د ا د دا ړه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

طبعاً او فطرتاً په هر چا ول خپله آزادي او خپلواکي قائمه ساتل غواړي. او هم د غه وجه ده چه کوم وخت ديو الهامي مذهب د متابعت په وجه انساني عنصر په حيواني او ملکي عنصر غلبه اومومي . نو د هغه په ماحول کښې محبت پيرزوينه او امن پيدا شي . نو حيوانيت او ملکيت هميشه پړدے تکل وي چه خپلواکي واپس حاصله کړي . خصوصاً حيوانيت خو هيچرے مبارزه نهٔ ترک کوي — ان ترمرګه دخپلے آزادئ جنګ جاري ساتي . او که چرے ضابطه پسند انسانيت ئې په يو کار کښے هم دخپلے منشاء په مطابق روان کړئ شو . نو بيا دوباره غلبه حاصله کړي او انسانيت چه ورسره بيا مجاهده شروع کړي . نو ډيره ګرانه ورته پيښه شي . ډير کم مسلمانان داسے شته چه يوه يا دوه روژے قصداً اوخوري او هغه باقي پاتے روژے اوساتلې شي . بيائې اراده کمزورے شوے وي . او بړله پسے ټولے اوخوري.

اوس د غور ځائ دئ چه دا درے مختلف عناصر دخپلو وجودي صفاتو او مقتضيا تو سره په يو داسے نظام کښے راتلل غواړي . چه ترمينځه ئې اختلاف او شخړه پاتے نهٔ شي . او ښکاره ده چه ترڅو شخړه موجوده وي . تعلقات اعتدال ته نهٔ شي راتلئ . او حال دا دئ چه د حيوانيت په غلبه کښے انسان مجبور وي چه د حيوانيت په ښود نه کار اوکړي . ځکه چه انساني عنصر هم مغلوب وي او هيڅ نهٔ شي کولئ . نو بس حيوانيت دخپلے خوښے سره سم د عقل نه کار اخلي . ځکه چه عقل خو فعال نهٔ دئ او په قول د اقبال.

" دلارے چراغ دئ رهبر نهٔ دئ "

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

داچراغ که د قاتل په لاس کښے وی او که دیو نیک انسان په لاس کښے هم - ځکه نو مذهب خصوصاً اسلام، چه د ټولو ښوا نو مذاهبـو اجتماعی شکل دیٔ - په دغو دیٔ یو عناصرو کښے دا اعتدال پیدا کونو او دهغویٔ د انسانیت د مرکز دلانده د راوستلو د پاره څه ضابطے مقرر کړے دی - چه که چرے په هغو پوره پوره عمل اوکړیٔ شی نو یقیناً به د انسان په باهمی تعلقاتو کښے اعتدال پیدا شی - استحصال به ختم شی - انسان به د انسان په قدر پوهه شی - په زړونو به امن او امان به پیدا شی - او د دے ثبوت حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم په خپل ژوند کښے نړی ته وړاندے کړیٔ وه - بیا د هغویٔ خلورو ښځو جانشینانو عمل پرکړیٔ وه - او دا حقیقت ئے ثابت کړیٔ ده - چه د ژوند حقیقی نظریه او ضابطه هم دغه ده - خو باید د هغه سوال جواب دلته اوشی چه نو بیا انسانانو ولے د ے ته شا اوګرزوله - جواب ئے دادیٔ چه څرنګه چه مونږ وئیلی دی چه حیوانیت د ځان د آزادیٔ او خپلواکیٔ کوشش هیڅ رے نه پریږدی - نو کوم وخت چه په قول د علامه اقبال چه عام عرب چه د مسلمانانو د فتوحاتو او پر له پسے کامیابیو نه متاثر شول - نو په دے غلبه کښے ئے اسلام قبول کړ - تو د صحیح اسلام درے اجزاء دی - ایمان، فکر او معرفت باید چه دا ایمان راوړو نو بیا به ورته معرفت حاصل شی - خو ښکاره ده چه نه هغویٔ فکر اوکړو او نه ئے معرفت حاصل شو - د غنیمت مالونو غنیان کړل - وینځے غلامان او جاشدادونه ورته حاصل شول - په نتیجه کښے یو ازے د نامے مسلمانان پاتے شول - چه د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حیوانیت په لاس کښې کمزورې وو - او چه کوم حقیقی مسلمانان وو هغوئ
وړو وړو بله دنیا ته رخصت شول -

د دے دویم جواب نفسیاتی دی - او هغه داچه دا خو بنکاره ده
چه د انسانانو په تحت الشعور کښې د هغوئ د پلرونو نیکونو اخلاق
او عادات شامل راځی - او بیا د سوونو کلونو په تیریدو دا اخلاق
او عادات د انسانانو لاشعور ته کوزشی - او هم دد غو نه انسانی
شخصیت جوړیږی - نو ښکاره ده چه د عربو په تحت الشعور او
لاشعور کښې د سوونو کالونو راسے بت پرستی او توهمات د توارث د
قانون په مطابق منتقل شوی وو - هغوئ یوازے په فوق الشعوری
طور د اسلام نه متاثر شوی او مسلمانان شوی وو - خو د هغوی تحت الشعور
او لاشعور خو مسلمان نهٔ وه - نو ځکه حیوانیت پرې بیرته زر غلبه
اوکړه او د خپل مقصد په مطابق ئے روان کړل -

اسلامی اصول به هله د نړۍ د اکثریت مذهب شی چه انسانیت
ارتقا اوکړی - او څومره څومره چه هغه د مادیت د قید نه آزادیږی
او د انسانی عنصر په تحریک انسانی اخلاق اختیاروی - هومره هومره
به د اسلامی اصولو دا فادیت تصور پیدا کیږی -

او ځکه د یورپ مشهور ادیب برنارډ شا ویلی وو چه
"په مستقبل کښې به عالم بشر د اسلامی اصولو دافادیت قایل شی."
اوس دلته یو بل سوال پیدا کیدئ شی - او هغه دا چه
کوم وخت د عربو لاشعور د بت پرستی او توهماتو هندارہ وه -
او هم د غه ئے د شخصیت اجزاء وو - نو بیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او د هغوئ هغه دوستان چه څۀ موده ئے اسلامی نظام په برخه
کامیابۍ سره چلولی وه - ولے د حیوانیت د غلبے لاندے رانۀ غلل.
ځکه چه انسان خو د خپل ماحول پیداوار دئ - خو هغوئ بیخی
د خپل ماحول محکوم نه - بلکه حاکمان وو - او دا ثبوت دئ د دے
خبرے چه یو دانا بینا او قادر مطلق ذات موجود دئ چه هغه
داسے افراد هم پیدا کولئ شی چه وی خو د خپل ماحول پیداوار
خو خپل ماحول د خپلو اصولو په قالب کښے راولی - نۀ دا چه هغوئ
د خپل ماحول په قالب کښے راشی - ښکاره ده چه د هر ملک نابغه
افراد د خپل ماحول پیداوار وی - لیکن د خپل ماحول نه متاثر نه
بلکه په هغه موثر وی - او د حضرت محمد صَلی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمْ
ملګری او دوستان داسے افراد وو چه د سرونو زړګونو دښمنانو
په مینځ کښے به هم مطمئن او بے خوفه وو - په محفلونو به ئے
د جلال او مېرانے رنړا وه - خو چه کله به ئے یو مظلوم اولیدو
نو بے واکه به ئے سترګو ته اوښکے راغلے - حیوانیت ئے داسے مغلوب
کړئ وو چه د انسانی اخلاقو نه سوا تر نورو څه هډو ظاهریدل
نه ــ حضرت محمد صَلی اللهُ عَلَیْهِ وسلم د عربو بادشاه وه
خو حالت ئے دا وه چه کله کله به دوه دوه درے درے ورځ فاقه
وه خو چه څه به راغله نو هم په هغه وخت به ئے تقسیم کړل.
حضرت علی کرم الله وجهه په یو جنګ کښے یو کافر راوپرزولو
او چاړه ئے ورته راوویسته چه کار ئے خلاص کړي - هغه کافر د حضرت علی
کرم الله وجهه په مخ اوتوکل - حضرت علیؓ چاړه واپس په تیکی کښے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

واچول او هغه ئې پرینبود - او د هغه د سینې نه اوچت شو - هغه په حیرانتیا حیرانتیا ورته اوکتل او وے ویل -

"اوس خو زما مرگ ډیر آسان وو نو ته دِ ولے ژوندئ پرینبودم - حضرت علی کرم الله وجهه جواب ورکو چه " مونږ چه ستاسو سره جنگ کوو نو صرف د فتنې د ختم کولو دپاره د حق تعالے د بندگانو د حقوقو د تحفظ دپاره — خو چه تا زما په مخ اوتوکل نو ما ته غصه راغله - په خپل تومین هر چا ته غصه ورځي - خو که ددے غصې په حالت کښے ته قتل کړې وې - نو دا به د خدائے دپاره نه بلکه زما د خپل نفس دپاره وو - او مونږ د خپل نفسي خواهش او ذاتي فائدے دپاره انسانان نه قتل کوو ."

هغه کافر چه ددے ډول د اخلاقو هیرو تصور نه شو کولے، مسلمان شو - خو سوال دا دے چه په داسے هنګامی حالاتو کښے حضرت علی دا فیصله فورًا څنګه اوکړے شوه - چه ددے سړي قتل کول په دے وخت کښے جائز نه دی -

ښکاره ده چه د حضرت علی کرم الله وجهه خپل حیوانیت مغلوب او انساني عنصر ئے غیلوائي ده - او چه غیلوائي وه نو عقل او فکر ئے هم د انساني عنصر په اشاره کار فرما وو - او بیا د حضرت عمر رضی الله تعالے عنه هغه واقعه هم د غور وړ ده چه کوم وخت د عیسایانو سره د صلحې د تصدیق دپاره شام ته تلے وه — نو په یو اوښ به هغه او د هغه غلام وار په وار سوریدل -

آن تر دے چې په قلعه کښې ګیر و عیسایانو سته ور مخامخ شو - په دا ت
حال کښې چې غلام ئې په اوښ سور وه او حضرت عمر رضی الله تعالی عنه
ئې مهار نیولې وه - اے د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه حیوانی عنصر
به د دے مخالف نۀ وه ؟ ضرور به وه - خو د هغۀ د انسانیت ضابطه
داسے وه چې حیوانی هڅې نه شول کولې - د مذهب د افادیت به د دے
نه لوئې ثبوت څۀ کېدې شي -

څرنګه چې وړاندې شول —

اسلام د انساني عنصر د غلبې او خپلو اکې د پاره یوه ضابطه مقرر
کړے ده - او هغه مشتمل ده په عباداتو او معاملاتو - په عباداتو
کښې پنځه وخته نمونځ دې - چې ډېر ګران کار دې - په ورځ کښې پنځه
کرته اودس کول او بیا نمونځ کول - حیواني عنصر هیڅرے نۀ خوښوی
او هر ځل نمونځ کول ورته ګران ښکاری - او که دا پنځه وخته نمونځ
د عادت شکل اختیار کړي نو هم ئې په ادا کولو کښې نفسیاتي تکلیف
وی - او بیا د دے نه علاوه د یوے پورے میاشتے روژه ساتل دی
چې په عادت ماتولو کښې مهم رول ادا کوی - ورپسے حج او زکوة دی.
چې د مالي عبادت په یو حقله د جسماني عبادت نه هم ګران دې - ځکه
چې د مال دولت سره محبت ډېر زیات وی - خو چې په صحیح معنو کښې
د مذهب پابند وی هغه حج هم کوی او زکوة هم ورکوی - ګویا د
حیواني عنصر د تحریک په خلاف روان وی او بیا په معاملاتو کښې
دیانت، عفت، رحم او انساني پیرزوینه هم په عباداتو کښې شامل
دی او هم په معاملاتو کښې - ګویا د مذهب د صحیح پابند انسان هر یو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کاں عبادت وی - او په دے سره حیوانی عنصر پورہ پورہ مغلوب وی - او هم دغه حالات په نړۍ کښے د امن ضمانت کوی - قرآن هم د مجاهدے لاره د نفسانی خواهشاتو مخالفت کول ښودلی دی. او اسلام چه دینِ فطرت دۓ - نو هغه د مجاهدے لار هم داسے ښودلے ده چه د فطرت په مطابق ده - خو په بده مت، هندومت او عیسائیت کښے د حیوانیت د مغلوب کولو طریقے غیر فطری دی - په هندو یا ویدک دهرم کښے یا په بده مذهب کښے د حیوانیت د خواهشې مغلوب کولو دپاره د انسانی جسم اندامونه بےکاره کیږی - د ترک دنیا په وجه د مادی دنیا نه هیڅ استفاده نهٔ شی کولے خو اسلام د دنیا ترک کولو ته حرام ویلی دی - ځکه چه اسلامی ضابطهٔ حیات د فطرت په مطابق ده - هغه د اعتدال داعی دۓ - او اعتدال د ژوند ضامن هغه د دنیا او آخرت یا په نورو الفاظو د مادیت او روحانیت د امتزاج هدایت کوی - او انسان په صحیح معنو کښے جلال او جمال ته رسوی -

ځکه چه د یو کامل انسان دپاره د دے دواړو ضرورت دۓ - او افلاطون هم د تربیت مقصد هم د دے دوؤ (جلال او جمال) تکمیل بولی - جمال ئۓ د رحم نېکۍ او انسانی پیرزوینے عنصر دۓ - او جلال ئۓ د سیاست او عدل - او هم د دے سره د عالم په نظام کښے بنګلا او باقاعدګی پیدا کیږی - او ښکاره ده چه د مغرب خلقو ځکه عیسائیت عملاً ترک کړو چه هغه د انسانی فطرت تږو غوښتنو ته جواب نهٔ شو ورکولے - هغوئ پوهه شول چه که مونږ په دے اصول

عمل اوکړو چه .

" که څوک په یو مخ تتوړه درکړي نو هغه بل طرف هم وروړاندے کړئ . اوکه څوک مو د بیګار دپاره یو میل بیائی تاسو ورسره دوه میله لاړ شئ "

او په ایشیا کښے چه بدھ ازم پاتے راغئ . وجه ئے څه وه چه په هغه کښے د مادیت نه داستفاده کولو هیڅ سوال نه شو پیدا کیدئ . او هم په دے وجه د نن صبا په هندوانو کښے هم یوه داسے ډله پیدا شوه چه د ویدک دهرم نه ئے آریا دهرم جوړ کړو . په پخوانی دهرم کښے ئے ترمیم اوکړو او ترڅه حده ئے د عقل سره مطابق کړو . که څه هم ځنے عقیدے لکه پنرجنم یا تناسخ په خپل ځائے پریښول . دکونډو ښځو نکاح ئے شروع کړو . حالانکه دا په ویدک دهرم کښے منع وه . د ستی رسم ئے موقوف کړو . او داسے نور ترمیمونه ئے هم پکښے اوکړل . خو سره د دے هم په بدھ او ویدک دهرم کښے اوس هم په زرګونو انسانان داسے موجود دی چه د خپل مذهب پابندی کوی . په عیسایانو کښے هم څهٔ لږ ډیر خلق داسے شته چه د ترک دنیا سره محبت لری . او د دے ترک دنیا دا وجه ده چه هغوئ د حیوانیت نه ځان خلاصول غواړی .

په ځائے د دے چه د مادی جهان د شیانو علم حاصل کړی هغوئ د مادیت نه تښتنه اوکړه . او چه تښتنه ئے اوکړه نو علم به ئے څهٔ حاصل شی ؟ د حیوانیت د مغلوب کولو او د خواهشاتو د طوفان نه د ځان خلاصولو طریقه دا نهٔ ده چه د هغو نه فرار اختیار

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړې شي - بلکه ښهٔ طریقه ئې داده چه په هغې غلبه پیدا کړی - او چه کوم وخت حیوانیت مغلوب شي - د خواهشاتو غلبه ختمه ورکه شي - او هم دغه هغه راز وه چه اسلام دنیا ته څرګند کړو - او تبلیغ ئې د اسلام صوفیاؤ په ډېره ښهٔ طریقه اوکړو - ځکه چه تاریخ مونږ ته ښئ چه په هند کښې د مسلمانانو کثرت یوازې د صوفیاء د تبلیغ په وجه دی - نهٔ د بادشاهانو او علماء په وجه - ځکه چه د بادشاهانو کار د خپل اقتدار ساتل وو - او علماء همیشه په خپلو کښې مشت او ګریوان وی - دا هم چه د هند خلق فطرتاً تصوف ته مائل وو - او یوازې صوفیاؤ متاثر کولې شول - او ښکاره ده چه حضرت خواجه معین الدینؒ چشتی او حضرت خواجه نظام الدین اولیاء په خپل وخت کښې لکونه هندوان مسلمانان کړی وو - او د هغوئ نه پس که څه هم شیخ احمد سرهندی هم څهٔ نه څهٔ کار کړې دې - خو د هغهٔ کوشش د ظاهری علماؤ په څېر وه - هغه صوفی کم او عالم زیات وه - ځکه ئې په هندوانو هیڅ اغېزه اونهٔ کړې شو، هغه صرف د اهلسنت والجماعت تائید کولو او چه څوک اهلسنت مسلمان نهٔ وه هغه ئې ګمراه ګڼلو - د هغهٔ د تحریک مخه ټوله شیعه مسلمانانو ته وه او د هغو په تردید کښې ئې ډېر زیات زور لګولے وه البته د شهنشاه اکبر او جهانګیر د هغه خلافِ شرع امورو مخالفت ئې هم کړې وه - او په دې سلسله کښې ئې حاکمانو ته تبلیغی مکتوبونه هم لیږلی وو -

کوم قام چه په الهامی مذهب عقیده لری او د هغه مذهب په اصولو عمل هم کوی - په هغه قام کښې اتحاد، د فکر وحدت او محبت وی ——

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او هم په دے وجه د هغه استحکام د هر مخالف قوت په مقابل کښے د بنیان مرصوص حکم لری ۔ لیکن په کوم قام کښے چه ډیر مذاهب وی ۔ په هغو کښے اختلاف بغض او حسد او نفاق موجود وی ۔ او همیشه د مخالف طاقت نه ماتے موی ۔ او هم دغه حال د هندوستان وه ۔ چه همیشه به ئے د بهرنی طاقت نه ملئے خوړه ۔ لیکن صدرِ اول مسلمانان ډیر کم ؤ ۔ خو د دے اتحاد او مرکزیت په وجه ئے ماتے نه خوړه ۔ او د داسے مثالونو نه د الهامی مذاهبو افادیت څرګند دی ۔ او که د الهامی مذاهبو مخالفان او وائی چه مذهب د انسانی ذهن پیداوار دی ۔ او د څه هنګامی جذبے د لاندے پرخلق عمل کوی ۔ خو چه جذبه ئے سړه شی نو بیا ئے هم د څه افادیت نه متصور کوی ۔ او ترک ئے کړی ۔ ځکه چه د انسانی ذهن پیدا کړے هره نظریه څه وخت پس خپل اثر ختم کری ۔ او د زړه د قبول د معیار نه پریوزی ۔ نو مونږ به ورته او وایو چه کیدی شی چه د انسانی ذهن تخلیق کړے نظریه څه وخت خپل افادیت ختم کری ۔ خو د حق تعالے له خوا الهام شوے نظریه بیخی د زړه نه وی وته پریوزی ۔ او بیا ئے ختم کول ناممکن دی ۔ او تاریخ هم مونږ ته داسے واقعات ښئ چه د الهامی مذهب منونکی ترمرګه په هغو نظریاتو قائم وو ۔ کوم چه ورته الهامی مذهب ورکړی وو ۔ او هغه نظریات هیچرے د افادیت نه نه خالی کیږی ۔ مونږ ته تاریخ ښئ چه په مسلمانانو کښے داسے افراد هم تیر شوی دی ۔ چه ګناه به تر صادره شوه نو د خپل ضمیر په آواز به راغلل او د خپلے ګناه د سزا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اختو دپاره ئے درخواست اوکړو -

چنانچه بخاري شريف کښې چه

يوسړي د زنا ارتکاب کړئ وه - راغلو او په مسجد نبوي کښې انحضرت صلي الله عليه وسلم ته ورمخکښې شو او عرض ئے اوکړو چه " يارسول الله - ما د زنا ارتکاب کړئ دئ - ما پاک کړه - انحضرت صلي الله عليه وسلم ترے مخ ستون کړو دبل سړي سره ئے خبرے شروع کړے - خو هغه سړئ ورته دبل طرف نه راغلو او بيا ئے هغه خبره اوکړه - انحضرت صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل چه دا کار ډير مشکل دئ - هسے کوتے موتے به ږ دهلے وی. نو هغه ئے جواب درکړو چه " سم دم ے هم هغه کار کړئ دئ " گويا انحضرت صلي الله عليه وسلم ئے پرده پوشي کوله نو هغه نيک بخت دخپل ضمير کرورے دا سے په هغه اختئ وه چه په خپل اقرار کلک ولاړ وه - او غوښتل ئے چه دداے فعل د سزا خوړلو نه پس پاک او صاف خپل خدا ئے ته حاضر شي -

انحضرت صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل " بنه ده - خدائے دِ په تا رحم اوکړي - ورشئ سنګسار ئے کړئ."

ددويم خليفه په زوئ يو ښځے شکايت اوکړو چه هغه ئے عصمت لوټلي دئ - عمر کورته لاړ - زوئ ئے د دوئ خوړله - زوئ ته ئے اووئيل چه -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زدیه ا تا واقعی د فلانکی ښځې عصمت
لوټلی دی۔ د خدائے نه او ویرېږه چه دی وغ اونه وئے
د هغه نرې هم د وېرے ډیرے په مری کښې ونښته۔
جواب ئے ورکړو چه " هو پلاره ۔ خدائے دِ زما توبه
قبوله کړی ۔" عمرؓ ورته اووئیل چه ۔ بهررا اوزه۔
زوئ ورته اووئیل چه ۔ بابا ۔ ولے ع خلقو ته
شرموے هم دلته سزا راکړه ۔" عمرؓ جواب ورکړو چه ۔
دالله تعالے داحکم دی چه زناکار ته سزا ورکوی نو د
مومنانو یو ټولے دِ موجود وی ۔ چه خلق عبرت واخلی"
نو هغه ده چه زوئ بهرته را اووېست او لا یو څو دُرّوصل
باقی وو چه ساه ئے ورکړه ۔"

ددے نه علاوه چه په حضرت بلال او نورو
اصحابو ملے د مشرکانو کوم ظلمونه کړی وو هغه په تاریخ کښې
موجود دی ۔ خو هغو هډول تکلیفونه اوزغل خو اسلام ئے ترک
نهٔ کړو ۔

داسے تکالیف د نورو مذاهبو په منونکو هم تېر شوی دی ۔ او
دا ثبوت دی ددے حقیقت چه د الهامی مذهب عقیدے په زړونو
کښې داسے ځائ نیسی او د یقین داسے دیها پیدا کوی ۔ چه بیا ئے
هیڅ ظلم او ستم د هغ لارے نه نهٔ شی اړولے ۔ او هم دغه د
مذهب د افادیت روښانه ثبوت دی ۔ د محکم یقین سره په
انسانی اراده کښې هم استحکام پیدا کېږی ۔ لیکن د لامذهبی په

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

حال کښې انسان مجبوره وی چه د مادی خواهشاتو په تحریک روان شی او چه د سر خطره ئې یقینی شی نو بیا د نجات دپاره د هرې ذریعې نه کار اخلی. که چرې د مادیینو دا خیال صحیح وی چه د کائنات هیڅ خالق نشته بلکه دا هر څهٔ هر څهٔ د مادې نه په اتفاق پیدا شوی دی [حالانکه د عقل او شعور په دنیا کښې مادیین پخپله د دې اصول مخالف دی. چه د مادې نه دیو څیز پخپله پیدا شی] نو د نړۍ په شیانو کښې به یو تر بله ربط او توازن نهٔ وهٔ۔

په اتفاق سره دیوې واقعې ظاهریدل که مونږ د عقل په رڼا کښې څیړ کړو۔ نو مثال به دا ئے ورکړو چه۔

"زید د معمول سره سم د ماښام نه پس ډګر ته ورغلو. په زید ئې حمله اوکړه او مړ ئې کړو۔ که څه هم دغه بیا په دې وخت کښې یو لیوهٔ په ځنګله کښې ورغلو. په زید ئې حمله اوکړه او مړ ئې کړو۔ که څه هم دزید نه پخوا لیوهٔ په دې لاړ آبادۍ ته نهٔ وهٔ راغلی۔ خو نن راغلو.

نو دا مادیین به دې ته اتفاق اووائی۔ خو اوس سوال دا دی۔ چه په دې واقعه کښې دوهٔ امکانات دی۔ یو امکان د زید بهرته وتل۔ او دویم د لیوهٔ هم په هغه وخت کښې راتلل۔"

که چرې دا دواړه امکانات "اتفاق" پیدا کړی وی. نو اتفاق فعال ثابت شو۔ او هم دغه اتفاق ته که خدائې اووائې نو څه حرج دی؟ او که نه۔ د دې دوؤ امکاناتو اتفاق پیدا کړی وی۔ نو بیا د دواړو امکانات فعال ثابت شول۔ او دا هیچرې ممکنه نهٔ ده چه "امکان" فعال ثابت شی۔ ځکه چه د هغه د ظاهریدو دپاره وجود ته ضرورت دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځکه چه امکان د عدم او وجود ترمنځه وی - او چه "امکان" یعنی فعال نهٔ دیٔ - نو د امکان ظاهرونکی وجود شو - او وجود عین د خدائے ذات دیٔ.

کائنات چه د اِلٰهی یو ارادے مظهر دیٔ نو ځکه د کائنات ټول اشیا په یو وحدت کښے شامل دی - او چه شامل دی نو یو هم طبعًا د بل مخالف نهٔ دیٔ - لکه چه سید قطب شهید په خپل کتاب "العدل" کښے لیکلی دی -

ګویا طبعًا ټول اشیاء د یو بل سره متحد دی - ګویا د یو مشین د پرزو غوندے دی - چه هره پرزه د یو بل نه مختلفه او جدا کار کوی - خو اجتماعی فعلیت ئے یو دیٔ - او ثبوت ئے د شعوری حیوانی او طبیعی کائنات نظام دیٔ چه زمونږ په مخکښے دیٔ -

نمر په واخلو چه ځان ته یو نظام لری - او څه ستوری د هغه تابع او په دے نظام کښے شامل دی - تر اوسه پکښے هیڅ خلل نهٔ دیٔ راغلیٔ د غه شان په طبیعی توګه کښے لاندے باندے چه څومره اجرام ښکاری ټول په یو معتدل نظام کښے مربوط دی - او هیڅ فتوی پکښے نهٔ پیدا کیږی - په حیواناتو او خزندو کښے صرف د خپل ژوند قائم ساتلو شعوری دیٔ - او همیشه ئے په نظام کښے باقاعده ګی ده - خو چه کوم وخت ارتقا انسانی وجود ته را ورسیده نو ورسره په توګه کښے فساد غزوونے وکړه، د چ ئے هم هغه وه کوم چه مونږ ښودلے ده - یعنی د انسان په دی یو عناصر د کښے اعتدال نه وه - حیوانیت پرِ غالب وه - او چه څه ئے کول هم د دے عنصر په تحریک ئے کول - نو ښکاره ده چه مذهب هم د دے حیوانی تحریک د مغلوب کولو د پاره خپل هدایات جاری کول - او هم په دے کښے د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

امن او امان ضمانت موجود وه - او صرف امن هغه نعمت دئ چه انسان پکښې په آزادئ سره خپل بالقوه صلاحیتونه عملي کولئ شي -

د مادیینو دا خیال چه کوم څیز چه دیو عکس په حیث زمونږ ذهن ته نهٔ شي راتلئ - یا ئې مونږ په حواسو نهٔ شو محسوس کولئ. د هغه هیڅ وجود ممکن نهٔ دئ - تو ترڅو چه د ذهني عکاسۍ تعلق دئ. هغه تصورات کوم چه ما فوق الحواس دي - او په خیال کښې د اتلو جوګه نهٔ وي - نو هغه یو څیز چه د هغه عکس یا تصویر زمونږ خیال ته نهٔ شي راتلئ - بې معني وي - نو دلته دا سوال پیدا کیږي چه ائے د خدائے وجود هم شته که نه ؟ ځکه چه د خدائے وجود چه په تخیل کښې د راتلو قابل نهٔ دی - نو ځکه هیڅ معنیٰ نهٔ لري خو فلسفي سړے په دے خبره پوهیږي چه په تخیل کښې د نهٔ راتلونکو شیانو هم یو مفهوم ضرور وي - خو په دے شرط چه د هغو پېښ کویانو تصدیق او شي کوے چه په هغو نا قابل تخیل تصورا تو بنا لري.

مثلاً زمونږ تخیل د بجلۍ د ماهیت د تصور نه عاجز دئ - او ځکه ئې ذهن هیڅ صورت نهٔ شي نیو دئ - خو مونږ حساب او لګو او معلوم ئې کړو چه د بجلۍ کوم عمل شوئ وي - یا ئې څهٔ عمل کړئ وي -

د ایجاد بنیاد ته چه فکر او کړو نو پوهیږو چه که څه هم د یو ایجاد د پاره زمونږ حواس کار کوي - خو د هغه څیز د ایجاد تحریک یو غائي علت غواړي - او بغیر د دے نه زمونږ محسوسات هم مونږ د هغه څیز ایجاد کولو ته نهٔ چمتو کولئ - نو ګویا د ایجاد د غه غائي علت محرک شي - خو ښکاره ده چه د کوم څیز د پاره د اتحریک شروع شي - د هغه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څیز هیئت یا ماهیت زمونږ په ذهن کښې موجود نهٔ وی . بلکې ملهم
ئې ذهن ته راشي - او دا حقیقت ثابت کړی چه د انسان د ذهن نه مخکښې
یو دانا او بینا ذات کوی .

شاه ولی الله لیکی -

" د هر مجعول نخچې دادې چه د جاعل (خالق) یو
حیثیت د هغه په ظاهر کښې د راتلو سبب وی ځکه نو په عام
فعلیت کښې که د هغه د ولی تحقیق وی - د هغه څیز ظاهریدل
ممتنع او ناممکن دی چه د هغه د ایجاد حیثیت د واجب الوجود
په ذات کښې نهٔ دی ."

د دے په ثبوت کښې مونږ د ټوپک ایجاد ته اشاره کولی
شو - او هغه داچه کوم ټوپک چه د ټولو نه اول جوړ کړې شوی وه
د هغه هیڅ نمونه په ظاهر کښې موجوده نهٔ وه - البته انسان چه
د ځیلو ګنهو ضرورتیاتو احساس اوکړو نو غشی ئې ناکافی اوګڼلو او ذهن
ئې تحریک اوکړو چه یوه داسې وسله پکار ده چه د غشی نه لرے
ګوزار کولې شي - او بارود ورته معلوم وو چه په دے سلسله کښې
پکاریدې شی - خو د ټوپک ترکیبی هیئت ورته معلوم نهٔ ده - او
نه ئې په ذهن کښې وه - ځکه چه داسې وسله په ظاهر کښې موجود
نهٔ وه - چه د هغې د مشاهدے په وجه ئې ذهن د ټوپک ترکیبی
هیئت ته متوجه شوې دې - نو صفا معلومه شوه چه د ټوپک
ترکیبی هیئت خالص د الهام مرهون دې - ځکه چه دا یو روښانه
حقیقت دې چه هیئت د څیز نه جدا نهٔ وی - مثلاً د انسان تصویر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دانسان نه جدا نهٔ دئ - دانسان باطن دانسان هیئت دی. او چه هیئت معلوم نهٔ شي - هغه څیز هم هیڅرے نهٔ شي معلومېدئ - ګویا دواړه لازم ملزوم دی -

الهامی مذهب هم انسان ته یو قانون وړاندے کوی او یو دانشوړ یا سربراهِ مملکت هم انسانی معاشرے ته د ژوند یو قانون وړاندے کوی - نو ظاهره ده چه کوم قانون یو دانشوړ صدرِ مملکت یا یو بادشاه انسانانو ته وړاندے کړئ وي - انسانان د هغه مقنن په وجود یقین لری - هغه دانشوړ یا بادشاه په یقینی ډول پېژنی - چه یا خو به ئے په خپلو سترګو لیدلئ دی - او یا به ئے په بله واسطه یقین شوئ وی - لکه چه په مونږ کښے زیاتره خلقو لندن نهٔ دی لیدلئ لیکن د هغه د موجودګئ مکمل یقین لرو - خو دد ے په مقابله کښے د الهامی قانون مقنن په ظاهری ډول مونږ ته نهٔ ښکاری - او تر څو چه د هغه په موجودګئ زمونږ مکمل یقین پیدا نهٔ شی د هغه په قانون نو د یقین پیدا کیدو هډو سوال نهٔ شی پیدا کیدئ - عمل پرِ کول خو لرے خبره ده -

اوس به دا دواړه قوانین په نظر کښے او ساتو او د انسان جوړکړی قانون ته به فکر اوکړو - څرنګه چه اوویل شول دد ے قانون د مقنن وجود د معاشرے دپاره یقینی وی - او د قانون د حفاظت او په هغه د عمل کولو دپاره محافظان پولیس او ماتحت حاکمان هم موجود وی - او چه څوک ئے خلاف ورزی اوکړی نو سزا هم ورکوی - خو که دد ے قانون په خلاف یو انسان د جرم مرتکب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شی او د قانون د محافظانو په نظر کښې رانهٔ شی - نو د سزا نه بچ پاتې شی - او د مقنن یا د قانون د محافظانو د پاره دا ممکنه نهٔ وی چه د قانون د احترام په لړ کښې هغهٔ ته سزا ورکړې شی - او مونږ ګورو چه د انسان په جاری کړی قانون ډیر کم عمل کیږی. او مجرمان کوشش کوی چه د هغوئ جرم په پرده کښې پاتې شی او اکثر او بیشتر په پرده کښې پاتې کیږی هم -

او س به راشو د الهامی قانون حیثیت ته - نو ښکاره ده چه ترڅو د الهامی قانون د مقنن د وجود پوره پوره یقین نهٔ وی - نو او مرو به د دے خلاف ورزی هم کیږی - لیکن په دویم صورت کښې چرے د دے مقنن په وجود د چا یقین وی - نو دا به ئے هم پوره یقین وی چه که د هغه خلاف ورزی ئے اوکړه نو هیچرے د سزا نه بچ نهٔ شی پاتې کیدئ - ځکه چه د انسانی قانون - د مقنن نظر دا سے نهٔ دئ چه د هر هغه جرم مشاهده اوکړې شی کوم چه په پرده کښې کیږی لیکن د الهامی مقنن د نظر نه هیڅ فعل پټ نهٔ شی پاتې کیدئ - او هم دا وجه ده چه کوم خلقو د حق تعالےٰ وجود علیم او خبیر ګڼلو هغه هیچرے د ګناه تکل نهٔ کولو - بیا په دے سلسله کښې د هغو انسانانو حیوانیت او د هر اصول نه د آزادۍ میلان خو ظاهر دئ - کوم چه له سره د حق تعالےٰ د وجود قایل نهٔ دی - هغوی به نهٔ یوازے دا چه د خپل مقصد، مسرت او آرام د پاره هر هغه کار کوی کوم ئے چه حیوانیت او اماره نفس مطالبه کوی - د الهامی مقنن د لوری خو هډو ورته څه خطره نهٔ وی - البته د انسانی قانون

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د مقتن نه ئې خطره وي - خو د هغه نه د خپل حفاظت دپاره ډول ډول تدبيرونه جوړ وي - او هم دغه هغه انسانان دي چه د انسانی معاشرے دپاره د ماراو لړم نه کم نهٔ دي - سره د دے چه هم دا ډول انسانان د هر چا نه زيات دانسان د همدرديه او پېرزوينې دعوېدار دي - او هميشه انسان انسان نعرې وهي. او واني چه زمونږ مذهب انسانيت دی -

خو د مذهب په منونکو کښې نن هم داسے خلق موجود دي چه که په لاره کښې ئے مال دولت او موي مالک نه ئے رسوي - په خلوت کښې هم سره د طاقته گناه نهٔ کوي - خو د دے په مقابله کښې لامذهبه انسانان هم واني چه په مونږ کښې هم داسے خلق شته چه د جرم او گناه نه ځان ساتي - په دے وجه نه چه د مرګ نه پس به ورته د دے سزا ورکړې کېږي - بلکه دانسانيت داتقاضا ده چه د جرم او گناه نه ځان اوساتي - خو د هغوی دا عذر محل نظر دی - ځکه چه دا د انسان فطرت دی چه هغه هيڅ داسے عمل کول غوړه نهٔ گڼي چه په هغهٔ کښې ئے څه ذاتي منفعت نهٔ وي - ځکه چه که د مذهب منونکی نيکی کوي - نو د دے دپاره چه پس له مرګه ورته حق تعالٰے د دے جزا ورکړي - او گناه ځکه نهٔ کوي چه عذاب به ورکړې شي - ليکن يو داسے انسان چه هغه نهٔ خو د خدائے په وجو يقين لري او نهٔ د مرګ نه پس د څه بل ژوند او د عمل د نتيجے قابل وي - هغه به هيڅرے د هغه عمل نه منع نهٔ شي کوم چه د هغه دپاره د مسرت او آرام ضمانت اولري - صرف دا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وئیل چه .

" زما انسانیت د دے عمل مانع دیٔ "

هیڅ معنیٰ نهٔ لري . ځکه چه مونږ دا پښتوس ترکولیٔ شو . چه ستا انسانیت ولے د دے عمل مانع دیٔ ؟ ځکه چه که دا حقیقت وی (چه انسانیت د ځنو عملونو مانع وی) نو په نړۍ کښے به په سلو کښے یو کم سل مجرمان موجود نهٔ وۓ . مونږ ګورو چه د انسانانو اکثریت د ګناه او معاصي په چقړو ککړ دیٔ . آخر دا ټول انسانان ولے دا خیال نهٔ کوی چه په چا ظلم کول ، د چا استحصال کول د انسانیت نه خلاف دی ؟

دا خو انسان دیٔ کنه چه ایټم او هائیډروجن بمے جوړ کړو — د څهٔ د پاره ؟ د انسانانو د تباه کولو د پاره — او دا عذرے د ګناه نه هم بتر دیٔ چه او وائی چه د ځپل حفاظت د پاره — د چانه د حفاظت د پاره ؟ — د انسان نه د حفاظت د پاره ؟ بیا نو بیا ستا هغه دعویٰ څهٔ شوه چه زمونږ مذهب انسانیت او د انسان سره ښیګړه کول دی — ښیګړه دے ته وائی ؟ — او دا انسانیت دا تصور دیٔ ؟ — هیڅ رے نه — دا خو د حیوانیت مظاهره ده .

او که څوک په انصاف سره غور اوکړی نو د دنیا ټول انساني قانونه د حیوانیت په چپو کښے بهیږی . انسانیت خو یوازے د مذهب په پیروی کښے تکمیل ته رسی . بیا په مذاهبو کښے هم یوازے اسلام د انساني وحدت او مساوات داعی دیٔ . اسلام د یو مذهب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د منونکو د پاره جدا جدا عبادت خانے نه جوړوی ۔ او نهٔ د نسل او رنګ او قومیت د اختلاف په وجه یو انسان د بل انسان نه کم ګڼي ۔ بلکه وائي چه ۔

" تاسو ټول د آدم اولادیئ او آدم له خاوری و
پیدا وه ۔ نو ځکه هیڅ عرب په عجم او هیڅ سپین په توری
فضیلت نهٔ لری ۔ د فضیلت معیار نیک عمل دے او بس ۔"

ترڅو چه زما د معلوماتو تعلق دیٔ ۔ هیڅ مذهب د اسلام نه سوا د انسانی وحدت مساوات او اخوت اعلان نهٔ دی کړی ۔ نو هغه لامذهبه انسانان چه نیکی صرف د انسانیت د پاره د کولو دعویٰ لری که چرے خپل نفسیاتی حالت ته غور اوکړی د تحت الشعور او لاشعور د حقائقو نه خبر وی ۔ نو پوهه به شی چه د نیکیٔ کولو د اعادت د هغهٔ په لاشعوری کښے راغلیٔ دیٔ ۔ ځکه چه د هر انسان لاشعور د حق تعالےٰ د وجود ادراک لری ۔ صرف د فوق الشعور ملحدانه خیالاتو او د بے لارے شوے معاشرے اثراتو تت کړیٔ وی ۔ او خپله هم نهٔ پوهیږی چه زهٔ سره د الحاد د نیکیٔ کولو اراده ولے کوم ۔ او چه د دیر فکر نه پس ئے هم ورته سبب معلوم نهٔ شی نو په دے ځان ته تسلی ورکړی چه ۔

" زهٔ نیکی د انسانیت د پاره کوم ۔"

په دے حقله زما د اشعر د لوستو وړ دیٔ ۔

دیٔ فطرت د وہم عادت زمانو هیرے
ستا کوځے ته شی زما قدم غلط

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دډې خلقو داخبره هم په یو حقله صحیح ده چه اصل مذهب انسانیت دې - خو انسانیت ته رسیدل هم څهٔ آسان کار نهٔ دې - او هم دغه مذهب صفه داسې مسے چه انسانیت ته د رسیده دپاره ګڼلانده هدایات لری - او دا حقیقت دې چه په انسانی وجود کښې د نېکۍ تصور د مذهب له خوا راغلې دې - ځکه چه انسان د ابتدا نه د حیوانیت د چغ د لاندې دې - او وخت په وخت انبیاؤ او پېغمبرانو ورته د دې چغ د کوزاوولو تلقین کړې دې - او که داپاک نفسه خلق نهٔ وی - انسان به تراوسه کښې هم وحشی او حیوان وه - او د تاریخ نه ثابته ده چه د الهامی مذهب نه بغیر هیڅ فلسفې یا نظرئې د انسانیت په تکمیل ذوې نهٔ دې ورکړې - مختلفو فلسفو او نظریو د انسانیت د تکمیل هڅې و لارې نهٔ دی ښودلې - او چه څه نه څه ئې ښودلې دی - هغه دومره ناقصې دی چه په هغو باندې د عمل کولو سره حیوانیت هم دومره قوی کیږی څومره چه انسانیت طاقت موی - نو ګویا بیا هم خبره په خپل ځائې پاتې دی - ځکه نو ترڅو چه حیوانیت مغلوب نهٔ شی انسانیت تکمیل او خپل اوکی ته نهٔ شی رسیدې -

* * *

بکتابت لطف الله سوریزئی پایان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پته

-------

دادمحمد دلسوز لنډی ارباب

پېښور ښار

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)